د افغانستان اسلامي جمهوریت

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# فقه

## اتم ټولگی

## د ديني مدارسو لپاره




۱۳۹۸ ه.ش

شرح مختصر القدوري-۲

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل يې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# فقـــه

## (قدوري- د معاملاتو برخه)

## اتم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

**مؤلفان**:

- محمد عارف لودين
- سيد فاضل شاه

**علمي ایډیټ**

- دكتور شير علي ظريفي
- حبيب الله فوزي
- مولوي عين النعيم فيضي

**د ژبې ایډیټ**

- فروزان خاموش

**ديني، سياسي او فرهنگي كميټه**:

- پوهندوی عبدالله حاتم
- فضل الله نيازى

**إشراف**

- دكتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې رئيس.

بسم الله الرحمن الرحيم



دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د اسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه اسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزير پيغام

الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على نبيه و رسوله محمد و على أله و اصحابه اجمعين

اما بعد:

د پوهنې تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هيواد د اوسنيو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختيا کې بنسټيز او ارزښتمن رول لري.

تعليمي نصاب بايد د وخت په تيريدو او د ژوندانه په بيلابيلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتياوو سره سم هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې بدلون او پراختيا ومومي.

د تعليمي نصاب په ډګر کې، چې د بيا کتلو لپاره ورته ډېره اړتيا موجوده ده، يو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی؛ ځکه په اسلامي زده کړو کې عقايد او د اسلام د سپېڅلي دين احکام او لارښوونې شاملې دي، چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پروردګار د وروستني پيغام په توګه به د قيامت تر ورځې پورې د بشريت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاريخ په اوږدو کې د اسلامي معارف، د اسلامي تعليماتو د سيستم په رامنځته کولو، پراختيا او بډاينه او همدارنګه په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او موسساتو د تعليمي نصاب په تدريجي انکشاف کې خپله دنده سرته رسولې ده.

په اسلامي معارف او اسلامي علومو کې دقيقه مطالعه دا څرګندوي چې زموږ د تعليمي مدرسو او مرکزونو نصاب د ټولنې د اړتياوو او د اسلام د دين له ثوابتو او طبيعت سره سم د ټولو انسانانو لپاره هر وخت او هر ځای پراختيا موندلې ده.

زموږ ګران هيواد افغانستان د علمي ځلند تاريخ په درلودلو سره يو وخت د علم او زده کړې يو

لوی مرکز و چې د اسلامي لوی تمدن په جوړښت کې يې ستر رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ساحو او په ځانګړې توګه په شرعي علومو، لکه عقايد، تفسير، حديث، فقه، د فقهي اصولو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون زموږ ددې وينا پخلې کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ځپو له ډېرېدو او لوړېدو سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي تعليماتو د څومره والي او څرنګوالي له مخې زيات بدلون موندلی او د هېواد کوچنيانو او ځوانانو په ډېره مينه او ليوالتيا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کړې ده.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت د اسلامي زده کړو د کيفي او کمي پراختيا او په هغې کې د اسلامي زده کړو نصاب په اړه د پام وړ ګامونه پورته کړي دي.

دې وزارت د هيواد د ډاډ وړ عالمانو، استادانو او نامتو ماهرينو ته بلنه ورکړې چې د تعليمي نصاب لا ښه کولو ته متې ونغاړي او د ښې او زياتې ګټې اخيستنې په موخه په اسلامي زده کړو کې د دود تعليمي نصاب د موجودو مضمونونو او کتابونه له کمولو او زياتولو پرته موجود کتابونه په درسي چوکاټ کې واچوي، متنونه يې لا واضح او څرګند کړي او د فعاليتونو، ارزونو او مناسبو تمرينونو په زياتولو يې نور هم پسې بډاى کړي.

هيله لرم چې د پوهنې وزارت دا کوچنی خدمت او د هيواد د عالمانو، پوهانو او ماهرانو د ستايني وړ زيار د الله تعالی د منلو وړ او زموږ په ګران هېواد کې د اسلامي تعليماتو په ودې او پراختيا کې ګټور پای ته ورسيږي.

وباالله توفيق

دکتور محمد ميرويس بلخی

د پوهنې وزير

# مقدمه

## ښاغلو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!

د هېواد اوسنیو حالاتو او د دیني مدرسو اړتیاوو ته په پاملرنه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د معارف وزارت د ښوونیز نصاب عمومي ریاست دا ویتیله چې د مدرسو د متوسطه دورې د فقهې په مضمون کې د قدوري کتاب بنسټ وګرځول شي، په ملي ژبو د هغه ژباړه ترسره، د کتاب محتوا په لوستونو وویشل شي او د بغلي مناسبو عناوینو په ترڅ کې په لنډ ډول شرحه شي، څو له یو لوري هېوادوا ل باوري شي چې بچیان یې د حنفي فقهې یو معتمد متن لولي او له بل لوري زده کوونکو ته د حنفي فقهې مطالب د هغوی په خپله ژبه وړاندې شي، نو په دې توګه، به "اصالت" او "نوښت" دواړه په پام کې نیول شوي وي.

د مدارسو په متوسطه دوره کې د فقهې د مضمون له لوستلو څخه عمده هدف زده کوونکو ته د فقهې د اصطلاحاتو ورپېژندل، د فقهې له مهمو مسألو سره د هغوی آشنا کول او د فقهې د علم د عمومي جوړښت ورمعرفي کول دي، څو زده کوونکي د طهارت له باب څخه په پیل، د عباداتو، معاملاتو، شخصي احوالو، جنایاتو او مرافعاتو په بابونو باندې مرور وکړي، د فقهې په هر باب کې د ضروري زده کړو په تر لاسه کولو یې د مضمون مبادي په ذهن کې پاخه او په راتلونکې کې د پراخې مطالعې لپاره جوګه شي.

نو ځکه د شرحې په مهال کوښښ شوی څو یوازې د قدوري د متن خدمت وشي او د اړتیا په وخت په لنډه توګه د مسایلو دلیلونه بیان شي. نور مذاهب، د هغوی دلیلونه او بیا یې له حنفي مذهب سره پرتله د مدارسو د دې دورې له اهدافو څخه نه وو، نو د درسونو له اوږدوالي څخه د مخنیوي لپاره، دا څیزونه نه دي راوړل شوي.

د لیکنې په مهال د قدوري له مختلفو نسخو څخه کار اخیستل شوی، په لږو مواردو کې چې د نسخو تر منځ توپیر وو، د قدوري د شروحو لکه "الجوهرة" او "اللباب" په مرسته غوره نسخه انتخاب او شرحه شوې.

دا کتاب نه یوازې دا چې په مدرسو کې به د درسي نصاب په توګه لوستل کېږي بلکه- ان شاء الله- په کورونو او نورو علمي مرکزونو کې به د حنفي مذهب د باوري متن په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کېږي، ځکه زموږ په ملي ژبو دا کار یو بې ساری نوښت دی.

**يادونه**: څرنګه چې له ډېره وخته را پدې خوا په نړۍ کې مريونه او وينځې شتون نه لري، نو د قدوري هغه متن چې په دې مسايلو راڅرخېږي، موږ له نصاب څخه حذف کړی، ځکه د هغو مسايلو په راوړلو، نور هغه موضوعات چې لومړی توب لري، له لوستلو څخه پاته کېږي.

درانه علماء اوګران لوستونکي که په کتاب کې له کومې علمي او يا فني خطا سره مخ کېږي، نو له موږ سره دې خپل وړانديزونه او مشورې هرومرو شريکې کړي.

**د کتاب د تدريس لاره**: څرنګه چې د کتاب حجم هغه ته د ټاکلي وخت په پرتله زيات دی نو ښاغلي ښوونکي به له پوره چمتو والي وروسته د ژباړې په مرسته د قدوري متن زده کوونکو ته ترجمه کوي.

کله چې زده کوونکو د کلماتو ژباړه زده کړه نو د درس واړه عنوانونه به په تخته ليکي او د شرحې مطابق به يې له کتاب څخه د باندې زده کوونکو ته بيانوي.

دکتاب پښتو برخه يوازې د مأخذ په توګه کارول کيږي، په تدريس کې ځانګړی وخت نه لري.

الله تعالی دې د دې کتاب مؤلفينو، مدرسينو او لوستونکو ته ستر اجر او د عمل توفيق ورپه برخه کړي.

وباالله توفيق

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| لومړی لوست | د بیعې پېژندنه | ۱ |
| دویم لوست | دپلورلو احکام(۱) | ۵ |
| دریم لوست | دپلورلو احکام(۲) | ۹ |
| څلورم لوست | د شرط خیار | ۱۳ |
| پنځم لوست | د رویت (لیدلو) خیار | ۱۷ |
| شپږم لوست | د عیب خیار | ۲۱ |
| او وم لوست | فاسده بیعه | ۲۵ |
| اتم لوست | د فاسدې او مکروهې بیعې حکم | ۲۹ |
| نهم لوست | اقاله | ۳۳ |
| لسم لوست | مرابحه او تولیه | ۳۵ |
| یو ولسم لوست | د سود احکام | ۳۹ |
| دولسم لوست | د سلم احکام | ۴۳ |
| دیار لسم لوست | د صرف بیعه | ۴۹ |
| څوار لسم لوست | گروي(۱) | ۵۵ |
| پنځلسم لوست | گروي(۲) | ۵۹ |
| شپارلسم لوست | گروي(۳) | ۶۳ |
| او ولسم لوست | حجر(۱) | ۶۷ |
| اتلسم لوست | حجر(۲) | ۷۱ |
| نولسم لوست | حجر(۳) | ۷۵ |
| شلم لوست | اقرار(۱) | ۸۱ |
| یو ویشتم لوست | اقرار(۲) | ۸۵ |
| دوه ویشتم لوست | اقرار (۳) | ۸۹ |

| | | |
|---|---|---|
| درويشتم لوست | اقرار(٤) | ٩٣ |
| څلورويشم لوست | اقرار (٥) | ٩٧ |
| پنځه ويشتم لوست | اجاره (١) | ١٠١ |
| شپږويشتم لوست | اجاره(٢) | ١٠٧ |
| او ويشتم لوست | اجاره(٣ د اجيرانو ډولونه | ١١١ |
| اته ويشتم لوست | اجاره (٤) د اجورې حكمونه | ١١٥ |
| نهه ويشتم لوست | اجاره(٥) د اجورې حكمونه | ١١٩ |
| ديرشتم لوست | اجاره(٦) د اجارې فسخه كيدل | ١٢٣ |
| يو ديرشم لوست | شفعه(١) | ١٢٧ |
| دوه ديرشم لوست | شفعه(٢) د شفعې غوښتلو حكمونه | ١٣٣ |
| دوې ديرشم لوست | شفعه(٣) د شفعې قيمت وركول | ١٣٧ |
| څلورديرشم لوست | شفعه(٤) د شفعې له ګټلو وروسته حكمونه | ١٤٣ |
| پنځه ديرشم لوست | شركت(١) د مفاوضې شركت | ١٤٧ |
| شپږديرشم لوست | شركت(٢) د عنان شركت | ١٥٣ |
| او ديرشم لوست | مضاربت(١) | ١٦١ |
| اته ديرشم لوست | مضاربت(٢) | ١٦٧ |
| نهه ديرشم لوست | وكالت(١) | ١٧١ |
| څلويښتم لوست | وكالت(٢) | ١٧٩ |
| يوڅلويښتم لوست | كفالت | ١٨٥ |
| دوه څلويښتم لوست | حواله | ١٩٣ |
| درې څلويشتم لوست | صلحه(١) | ١٩٧ |
| څلورڅلويښتم لوست | صلحه(٢) | ٢٠٣ |
| پنځه څلويښتم لوست | هبه (بخشش) | ٢٠٩ |
| شپږڅلويښتم لوست | وقف | ٢١٧ |
| او وه څلويښتم لوست | غصب | ٢٢٣ |
| اته څلويښتم لوست | وديعت | ٢٣١ |
| نه څلويښتم لوست | عاريت | ٢٣٧ |
| پنځوسم لوست | لقيط | ٢٤١ |
| يو پنځوسم لوست | لقطه | ٢٤٥ |
| دوه پنځوسم لوست | خنثي | ٢٤٩ |
| درې پنځوسم لوست | د مفقود(ورك شوي) احكام | ٢٥٣ |

| | | |
|---|---|---|
| څلور پنځوسم لوست | د شارو څمکو ابادول | ۲۵۵ |
| پنځه پنځوسم لوست | دهقاني او باغواني | ۲۵۹ |
| شپږ پنځوسم لوست | نکاح | ۲٦٥ |
| اووه پنځوسم لوست | د نکاح محرمات | ۲٦۹ |
| اته پنځوسم لوست | له کتابي ښځوسره نکاح او د ښځو په نکاح .... | ۲۷۳ |
| نهه پنځوسم لوست | ولايت | ۲۷۷ |
| شپيتم لوست | کفاءت | ۲۸۱ |
| يو شپيتم لوست | مهر(۱) | ۲۸٥ |
| دوه شپيتم لوست | مهر(۲) | ۲۸۹ |
| دري شپيتم لوست | د زوجاتو تعدد | ۲۹٥ |
| څلورشپيتم لوست | په نکاح د ارتداد اغيز او د قسم حکم | ۲۹۹ |
| پنځه شپيتم لوست | رضاع(۱) | ۳۰۳ |
| شپږشپيتم لوست | رضاع(۲) | ۳۰٥ |
| اووه شپيتم لوست | طلاق(۱) | ۳۰۹ |
| اته وه شپيتم لوست | طلاق (۲) | ۳۱۳ |
| نهه شپيتم لوست | طلاق (۳) | ۳۱۹ |
| اويايم لوست | طلاق(٤) | ۳۲۳ |
| يواويايم لوست | رجعت | ۳۲۷ |
| دوه اويايم لوست | درجعي طلاق اړوند احکام | ۳۳۱ |
| دريي اويايم لوست | ايلاء | ۳۳٥ |
| څلوراويايم لوست | خلع | ۳۳۹ |
| پنځه اويايم لوست | ظهار | ۳٤۳ |
| شپږاويايم لوست | لعان | ۳٥۱ |
| اووه اويايم لوست | عدت | ۳٥۷ |
| اته اويايم لوست | احداد او دعدت ځيني نور احکام | ۳٦۳ |
| نهه اويايم لوست | نفقه(۱) | ۳٦۹ |
| اتيايم لوست | نفقه(۲) | ۳۷۳ |
| يو اتيايم لوست | حضانت | ۳۷۹ |

# د بيعې پېژندنه

انسان د ژوندانه په چارو کې ډېرو شيانو ته اړتيا لري چې په يوازې ځان نشي کولای دا ټول خپله چمتو کړي. له همدې امله د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره په بيعه د توکو رانيولو ته اړ دی. اسلامي شريعت د انسانانو دغه اړتيا په پام کې نيولې، پلورل او پېرودل يې ورته روا کړي. د پلورلو، پېرودلو او نور له دې سره اړوند احکام به په دې برخه کې ولولو چې پيل يې له بيعې څخه کوو:

(١) الْبَيْعُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ إِذَا كَانَا بِلَفْظِي الْمَاضِي.
(٢) وَإِذَا أَوْجَبَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ الْبَيْعَ فَالْآخَرُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ قَبِلَهُ فِي الْمَجْلِسِ وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ وَأَيُّهُمَا قَامَ مِنَ الْمَجْلِسِ قَبْلَ الْقَبُولِ بَطَلَ الْإِيجَابُ.
(٣) وَإِذَا حَصَلَ الْإِيجَابُ وَالْقَبُولُ لَزِمَ الْبَيْعُ وَلَا خِيَارَ لِوَاحِدٍ مِنْهُمَا إِلَّا مِنْ عَيْبٍ أَوْ عَدَمِ رُؤْيَةٍ.
(٤) وَالْأَعْوَاضُ الْمُشَارُ إِلَيْهَا لَا يُحْتَاجُ إِلَى مَعْرِفَةِ مِقْدَارِهَا فِي جَوَازِ الْبَيْعِ.
(٥) وَالْأَثْمَانُ الْمُطْلَقَةُ لَا تَصِحُّ إِلَّا أَنْ تَكُونَ مَعْرُوفَةَ الْقَدْرِ وَالصِّفَةِ.

**ژباړه:**

(١) بيعه د ايجاب او قبول په الفاظو چې د ماضي په صيغو سره وي، رامنځته کيږي.

(٢) کله چې د بيعې يو لوری د خرڅولو يا اخيستلو وړانديز (ايجاب) وکړي، نو مقابل لوری واک لري، که يې خوښه شوه، په همدې مجلس کې به يې ومني او که يې خوښه وه، رد به يې کړي. که د بيعې هر لوری د وړانديز له قبلولو مخکې له مجلسه ووت، ايجاب له منځه ولاړ.

(٣) کله چې ايجاب او قبول تر سره شي نو بيعه وشوه، يو لوری هم (د بيعې د ماتولو) اختيار

نه لري، خو د عيب يا (د مبيعې) د نه ليدلو له امله.

(٤) هغه عوضونه چې اشاره ورته وشي، د پلورلو په رواوالي کې يې اندازې معلومولو ته اړتيا نشته.

(٥) په مطلقو پيسو (بيعه) صحيح نه ده، خو دا چې د پيسو اندازه او ډول معلوم وي.

**شرحه:**

**د بيعې تعريف**: بيعه په لغت کې مطلقې مبادلې ته ويل کيږي او په اصطلاح کې په رضا د يوه مال په بل مال بدلولو ته وايي.

**د بيعې مشروعيت**: الله (جل جلاله) فرمايي: {وَأَحَلَّ اللّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا}(البقرة: ٢٧٥)

ژباړه: الله پاک بيع روا او سود ناروا کړی دی.

**د بيعې رکن**: ايجاب او قبول د بيعې رکن دی.

**ايجاب**: د اخيستلو يا خرڅولو لومړنی وراندېز چې له هر لوري وشي، ايجاب بلل کيږي. د بېلګې په ډول اخيستونکی ووايي: دا کتابچه مې په شل افغانی درڅخه واخيسته. يا پلورونکی ووايي: دا کتابچه مې په شل افغانی درباندې وپلورله.

**قبول**: د بيعې د دويم لوري منلو او موافقې ته قبول وايي. د بېلګې په توګه په پورتني لومړي مثال کې مقابل لوری ووايي: ما وپلورله.

د ايجاب او قبول لپاره شرط دی چې د ماضي په صيغو ترسره شي. د مستقبل او امر په صيغو ايجاب او قبول نه صحيح کيږي، لکه: پر تا به يې وپلورم، يا دا قلم په لس افغانی واخله!

**د قبول خيار**: کله چې د بيعې يو لوری د بيعې وړانديز (ايجاب) وکړي، د بېلګې په ډول پلورونکی ووايي: دا قلم مې پر تا په لسو افغانيو وپلورلو. اخيستونکی واک لري چې بيعه قبلوي او که يې ردوي. که د بيعې يو لوری تر قبول وړاندې له مجلسه ووځي يا په بل کار پيل وکړي، ايجاب له منځه ځي. ځکه د ايجاب او قبول لپاره دا شرط دی چې دواړه بايد په يوه مجلس کې تر سره شي.

**د عيب تعريف**: هره هغه نيمګړتيا چې د سوداګرو په وړاندې عادتا په قيمت کې نقصان راولي، عيب ګڼل کيږي.

**د عيب خيار**: که يو د متعاقدينو په مبيعه يا ثمن کې داسې عيب وومومي چې د عقد پر

مهال په هغه پوه نه وي، نو هر يو يې په ټاکل شوي ثمن د اخيستلو او ردولو واک لري، مثلا پلورونکی ووايي: دا کتاب مې په پنځه سوه افغانيو پرتا وپلورلو او اخيستونکی يې ومني خو وروسته څرګنده شي چې د نوموړي کتاب لړې يا ډېرې پاڼې د ګټې اخيستلو وړ نه دي، اخيستونکی حق لري چې په ټاکل شوي ثمن نوموړی کتاب واخلي او يا يې رد کړي.

**د رؤيت (ليدلو) خيار**: دې ته وايي چې څوک داسې مال واخلي چې هغه يې ليدلی نه وي. هر کله چې نوموړی مال ووينې، د بيعې د قبلولو او ردولو اختيار لري.

**د ثمن او قيمت پېژندل**: ثمن د بيعې پر مهال د مبيعې لپاره ټاکل شوي بدل ته ويل کيږي، که هغه د مبيعې له حقيقي ارزښت څخه لږ وي او که ډېر.

**قيمت**: له لږوالي او ډېروالي پرته د شيانو واقعي ارزښت ته قيمت ويل کيږي چې د نوموړو شيانو لپاره معيار ګرځي او بدلون پکې نه راځي، چې د څيزونو په هکله د کار پوهو اشخاصو له خوا ټاکل کيږي. له ثمن سره د قيمت توپير دا دی چې ثمن د اخيستونکي او پلورونکي له خوا ټاکل کيږي او کېدای شي چې د مبيعې له اصلي او واقعي ارزښت څخه ډېر يا لږ وي، خو قيمت د مبيعې له واقعي ارزښت څخه نه کميږي او نه ډېريږي.

ډېر ځله د (ثمن) ټکی د سرو زرو، سپينو زرو او نورو هغو شيانو لپاره کارول کيږي چې د دوی په ځای استعماليږي، لکه کاغذي نوټونه او فلزي پيسې.

(الأعواض المشار اليها) څخه مقصد د راکړې ورکړې هغه بدلونه (ثمن او مبيعه) دي چې حاضر وي، بايع او مشتري يې ويني او د بيعې پر مهال ورته اشاره وشي. د داسې شيانو پلورل او اخيستل د اندازې او ډول له معلومولو پرته هم روا دي، ځکه په اشارې سره شيان ښه معلوميږي او د شخړې ځای پکې نه پاتې کيږي، دې ډول بيعې ته اټکلي بيعه هم وايي، د بېلګې په ډول که څوک يوې ډېرۍ غنمو ته اشاره وکړي او اخيستونکي ته ووايي: دا ډېری غنم مې په دوه زره افغانيو پر تا وپلورل او اخيستونکی يې قبول کړي، بيعه صحيح ده.

همدا راز که اخيستونکی په خپل لاس کې شتو پيسو ته اشاره وکړي او د غنمو پلورونکي ته ووايي: په دې پيسو مې له تا څخه لس منه غنم واخيستل او هغه بيعه قبوله کړي، بيعه صحيح ده.

**مطلق ثمن**: ومو ويل چې که حاضرو پيسو ته اشاره وشي، د صفت او نوعې له څرګندولو

پرته وربانديې بيعه صحيح ده، خو که د بيعې په مهال پيسو ته اشاره ونه شي او په مطلق ډول پيسې يادې شي، بيعه صحيح نه ده، د بېلګې په ډول اخيستونکی ووايي: له تا څخه مې په پيسو غنم واخيستل.

په پورتني صورت کې د پيسو اندازه او صفت معلومول ضروري دي، څو په ثمن کې جهالت رانشي. مثلا داسې به وايي: يو من غنم مې درڅخه په سلو افغانيو واخيستل. په دې مثال کې (سل) اندازه او (افغانۍ) صفت دی.

## فعاليت

زده کوونکي دې د عيب بېلابېل داسې مثالونه ووايي چې مبيعه پرې ردېدای شي.

## پوښتنې

١- بيعه تعريف کړئ.

٢- د بيعې رکن بيان کړئ.

٣- د مثال په ترڅ کې ايجاب او قبول روښانه کړئ.

٤- اټکلي بيعه د يوه مثال په بيانولو سره روښانه کړئ.

٥- په متن کې له (الْأَثْمَانُ الْمُطْلَقَةُ) څخه مقصد څه دی؟ د مثال په ترڅ کې يې روښانه کړئ.

# د پلورلو احکام (۱)

په بيعه کې د ثمن او مبيعې معلومول خورا ضروري دي چې په دې لوست کې به يې په اړه معلومات درکړو:

(۱) وَيَجُوزُ الْبَيْعُ بِثَمَنٍ حَالٍّ أَوْ مُؤَجَّلٍ إِذَا كَانَ الْأَجَلُ مَعْلُومًا.

(۲) وَمَنْ أَطْلَقَ الثَّمَنَ فِي الْبَيْعِ كَانَ عَلَى غَالِبِ نَقْدِ الْبَلَدِ فَإِنْ كَانَتِ النُّقُودُ مُخْتَلِفَةً فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ إِلَّا أَنْ يُبَيِّنَ أَحَدَهَا.

(۳) وَيَجُوزُ بَيْعُ الطَّعَامِ وَالْحُبُوبِ مُكَايَلَةً وَمُجَازَفَةً وَبِإِنَاءٍ بِعَيْنِهِ لَا يُعْرَفُ مِقْدَارُهُ وَبِوَزْنِ حَجَرٍ بِعَيْنِهِ لَا يُعْرَفُ مِقْدَارُهُ.

(٤) وَمَنْ بَاعَ صُبْرَةَ طَعَامٍ كُلَّ قَفِيزٍ بِدِرْهَمٍ جَازَ الْبَيْعُ فِي قَفِيزٍ وَاحِدٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يُسَمِّيَ جُمْلَةَ قُفْزَانِهَا، وَقَالَا: يَجُوزُ فِي الْوَجْهَيْنِ.

(٥) وَمَنْ بَاعَ قَطِيعَ غَنَمٍ كُلَّ شَاةٍ بِدِرْهَمٍ فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ فِي جَمِيعِهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَكَذَلِكَ مَنْ بَاعَ ثَوْبًا مُذَارَعَةً كُلَّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ، وَلَمْ يُسَمِّ جُمْلَةَ الذُّرْعَانِ.

(٦) وَمَنْ ابْتَاعَ صُبْرَةَ طَعَامٍ عَلَى أَنَّهَا مِائَةُ قَفِيزٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ، فَوَجَدَهَا أَقَلَّ، فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْمَوْجُودَ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ، وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ، وَإِنْ وَجَدَهَا أَكْثَرَ فَالزِّيَادَةُ لِلْبَائِعِ.

(۷) وَمَنِ اشْتَرَى ثَوْبًا عَلَى أَنَّهُ عَشَرَةُ أَذْرُعٍ بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ، أَوْ أَرْضًا عَلَى أَنَّهَا مِائَةُ ذِرَاعٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ، فَوَجَدَهُمَا أَقَلَّ فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِجُمْلَةِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهَا، وَإِنْ وَجَدَهَا أَكْثَرَ مِنَ الذِّرَاعِ الَّذِي سَمَّاهُ فَهِيَ لِلْمُشْتَرِي وَلَا خِيَارَ لِلْبَائِعِ.

(۸) وَإِنْ قَالَ: بِعْتُكَهَا عَلَى أَنَّهَا مِائَةُ ذِرَاعٍ بِمِائَةِ دِرْهَمٍ، كُلَّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ فَوَجَدَهَا نَاقِصَةً فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِحِصَّتِهَا مِنَ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهَا، وَإِنْ وَجَدَهَا زَائِدَةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْجَمِيعَ كُلَّ ذِرَاعٍ بِدِرْهَمٍ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ.

**ژباړه:**

(۱) په نغدو پیسو پلورل او اخیستل روا دي، په نېټه هم پلورل روا دي خو چې د (پیسو) د ورکړې تاریخ معلوم وي.

(۲) که چا په بیعه کې (د وصف) له قید پرته پیسې یادې کړې، په هغه ډول پیسو حمل کیږي چې په ښار کې زیاتې دود وي، که په ښار کې دود پیسو په مالي ارزښت کې توپیر درلود، نو په مطلقو پیسو بیعه فاسده ده مګر دا چې وصف (ډول) یې وټاکي.

(۳) د خوراکي توکو، غنمو او غلو دانو پلورل په پیمانه، اټکل او په داسې معین لوښي چې اندازه یې معلومه نه وي، روا دي. همدا راز په داسې معین کاڼي یې هم پلورل روا دي چې وزن یې معلوم نه وي.

(٤) که څوک د غنمو یوه ډېرۍ، هره پیمانه په یوه درهم وپلوري، بیعه یې د امام ابوحنیفه په نزد یوازې په یوه پیمانه کې صحیح ده مګر دا چې د ډېرۍ د ټولو پیمانو شمېر معلوم کړي. صاحبین وایي: په دواړو حالاتو کې (یې پلورل) روا دي.

(٥) که څوک د پسونو یوه رمه، هر پسه په یوه درهم وپلوري (او د ټولو پسونو شمېر ونه ټاکي)، د امام ابوحنیفه په نظر د ټولو بیعه فاسده ده. همدا رنګه که څوک د یوې جامې، هر ګز په یوه درهم وپلوري (او د ټولو ګزونو یادونه ونه کړي، د ده په نزد یې بیعه فاسده ده.)

(٦) که څوک د غنمو یوه ډېرۍ په سل درهمه په دې شرط واخلي چې سل پیمانې ده او وروسته معلومه شي چې له سلو پیمانو کمه ده، نو اخیستونکی اختیار لري چې د شتو پیمانو په برخه پیسو یې واخلي او یا بیعه فسخه کړي، خو که معلومه شي چې د غنمو ډېرۍ له سلو پیمانو ډېره ده نو زیاتوالی د پلورونکي حق دی.

(۷) که څوک یوه جامه په لس درهمه (پدې شرط) واخلي چې لس ګزه ده، یا څمکه (پدې شرط) په سل درهمه واخلي چې سل ګزه ده، خو وروسته څرګنده شي چې جامه او څمکه له ټاکلې اندازې لږه ده، نو اخیستونکی اختیار لري چې په ټول قیمت یې واخلي او یا یې رد کړي، خو که معلومه شوه چې له یادې شوې اندازې زیاته ده، نو زیاتوالی د اخیستونکي دی او پلورونکي ته اختیار نشته.

(۸) که پلورونکی ووایي: دا جامه چې سل ګزه ده، پر تا مې په سل درهمه، هر یو ګز په یوه درهم وپلورله او وروسته معلومه شي چې جامه له یادې شوې اندازې لږه ده، نو په دې صورت کې اخیستونکی اختیار لري چې د کموالي په اندازه یې په لږو درهمو واخلي او یا یې رد کړي، همدا راز که جامه له ټومورې اندازې زیاته راووځي، اخیستونکی اختیار لري چې ټوله جامه (ګز په یوه درهم) واخلي او یا بیعه فسخه کړي.

**شرحه**: د شرحې په پیل کې د لاندې اصطلاحاتو په معنا پوهېدل ضروري دي:

**مبیعه**: هغه عین او سامان ته ویل کیږي چې د ټاکلو پیسو په مقابل کې وپلورل شي او په بیعه کې اصل مبیعه ده.

**ثمن حال**: نغدي بدل.

**ثمن مؤجل**: هغه پیسې دي چې په بیعه کې یوه لوري ته له څه مودې وروسته په ټاکلې نېټه ورکول کیږي.

**نغدي**: سرو زرو، سپینو زرو او نورو هغو نغدو پیسو ته ویل کیږي چې په سیمه کې دود وي. نوټونه او فلزې پیسې په بیعه کې د سرو زرو او سپینو زرو حکم لري.

**مکایله**: په پیمانې سره خرڅولو ته د مکایلې بیعه وایي، مثلا سل پیمانې غنم، هره پیمانه په لس افغانۍ وپلورې.

**مجازفه**: په اټکلي بڼه پلورلو ته بیع مجازفه وایي، د بېلګې په ډول داسې ووایي: دا ډېرۍ غنم مې په سل افغانۍ پر تا وپلورل.

## د پیسو ډول معلومول:

که د بیعې پر مهال پیسې مطلقې یادې شي او ډول یې معلوم نه شي، د بېلګې په توګه اخیستونکی ووایي: دا کتاب مې په سلو روپو پر تا وپلوره، او له روپو سره د افغانیو، کلدارو یا ریال صفت ونه ویل شي، په دې صورت کې به د روپو ټکی په هغو پیسو حمل کیږي چې په سیمه کې زیاتې دود وي. که په سیمه کې کارېدونکې روپۍ په دود او مالي ارزښت کې سره برابرې وې، تر هغې وربادې بیع صحیح نه ده چې ډول یې معلوم شوی نه وي، ځکه د روپو د ډول له معلومولو پرته ثمن مجهول پاتې کیږي.

که پلورونکی او اخیستونکی په خپلو کې د بیعې لپاره داسې کاسې یا پیمانه وټاکي چې د کیلو یا چارک په حساب یې اندازه معلومه نه وي، بیعه وربادې روا ده.

## د هرې پیمانې په یو درهم پلورل:

که څوک د غلې یوه ډېرۍ، هره پیمانه په یو درهم وپلوري او ټولې پیمانې معلومې نه کړي، د امام ابوحنیفه په نظر ځکه بیعه یوازې په یوه پیمانه کې صحیح ده چې د ټولو پیمانو شمېر نه دی معلوم، په دې بنسټ د ثمن اندازه مجهوله پاتې ده، خو دا چې د یوې پیمانې او ثمنو اندازه معلومه ده، بیعه یې صحیح ده. البته که د ټولو پیمانو شمېر معلوم کړي، د مبیعې او ثمن جهالت له منځه ځي او بیعه په ټولو کې صحیح ګرځي.

د یارانو (امام ابویوسف او امام محمد) په نظر د ټولو پیمانو د شمېر د نه څرګندوالي په صورت کې هم ځکه بیعه صحیح ده چې د ډېرۍ په لیدلو په تقریبي ډول د هغې اندازه معلومیږي، بله دا چې د مبیعې دا مجهولتیا ډېر ژر په تللو سره له منځه ځي او شخړه ترې نه پیدا کیږي.

**رمه، هر پسه په یو درهم پلورل:**

که څوك د پسونو يوه رمه، هر پسه په يوه درهم وپلوري، د امام ابوحنيفه په نظر- د غلې د پيمانو پر خلاف- د ټولو پسونو بيعه فاسده ده، ځکه د مبيعې او ثمن اندازه معلومه نه ده. بله خوا د رمې پسونه په غټوالي او کوچنيوالي کې سره توپير لري، نو د يو پسه بيعه هم صحيح نه ده، خو دا چې د غلې د ډېرې ټولې پيمانې په يوه اندازه وې او توپير يې سره نه درلود، د يوې پيمانې بيعه صحيح وه.

همدا راز که څوك يوه جامه، هر گز په يو درهم وپلوري، د يو گز بيعه هم صحيح نه ده، ځکه د ټولو گزونو شمېر معلوم نه دی او د يو گز په غوڅولو سره جامه زيانمنه کيږي.

**سل کيلو غله په دوه زره افغانۍ:**

که څوك د غنمو ډېرۍ په دوه زره افغانيو واخلي چې سل کيلو ده، خو وروسته نومړې ډېرۍ نوي کيلو وخيژي، اخيستونکی اختيار لري چې په ۱۸۰۰ افغانيو يې واخلي، ځکه په وزني شيانو کې ثمن په مبيعه وېشل کيږي نو د نوي کيلو ۱۸۰۰ افغانۍ کيږي. همدا راز اخيستونکی د بيعې د فسخ کولو اختيار هم لري، ځکه مبيعه له هغې اندازې کمه ختلې چې اخيستونکي ته ويل شوې وه او د اخيستونکي اړتيا نه پوره کوي.

که چيرې ډېرۍ له سلو کيلو زياته وخيژي، زياتوالی د پلورونکي دی، ځکه د پلورل شوې مبيعې اندازه معلومه ده چې سل کيلو دي او له هغې نه زياتيږي.

**لس متره جامه په زر افغانۍ:**

که څوك لس متره جامه په زر افغانۍ يا لس متره مربع ځمکه په يو لك افغانۍ واخلي، خو وروسته له لسو مترو لږه وخيژي، اخيستونکی اختيار لري چې جامه په زرو افغانيو او ځمکه په يو لك افغانيو اخلي او که يې ردوي.

## فعاليت

زده کوونکي دې د مبيعې د اندازې معلومولو بيلابيلې لارې په گوته کړي او مثالونه دې ورته ووايي.

## پوښتني

١ـ د مثال په ترڅ کې مؤجل ثمن روښانه کړئ!

٢ـ د نقودو مفهوم بيان کړئ!

٣ـ مکايله د مثال په ترڅ کې روښانه کړئ!

٤ـ که څوك د جامو ټوټه متر په پنځوس افغانۍ، په دې شرط واخلي چې لس متره ده، او وروسته لږه وخيژي، څه حکم لري؟ له دليل سره يې بيان کړئ!

# د پلورلو احکام (۲)

(۱) وَمَنْ بَاعَ دَارًا دَخَلَ بِنَاؤُهَا فِي الْبَيْعِ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ، وَمَنْ بَاعَ أَرْضا دَخَلَ ما فِيْهَا وإِنْ لَمْ يُسَمِّهِ.

(۲) وَلَا يَدْخُلُ الزَّرْعُ فِي بَيْعِ الْأَرْضِ إِلَّا بِالتَّسْمِيَةِ، وَمَنْ بَاعَ نَخْلًا أَوْ شَجَرًا فِيهِ ثَمَرَةٌ فَثَمَرَتُهُ لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَهَا الْمُبْتَاعُ وَيُقَالُ لَهُ: اقْطَعْهَا وَسَلِّمْ الْمَبِيعَ.

(۳) و مَنْ بَاعَ ثَمَرَةً لَمْ يَبْدُ صَلَاحُهَا أَوْ قَدْ بَدَا، جَازَ الْبَيْعُ وَوَجَبَ عَلَى الْمُشْتَرِي قَطْعُهَا فِي الْحَالِ فَإِنْ شَرَطَ تَرْكَهَا عَلَى النَّخْلِ فَسَدَ الْبَيْعُ.

(٤) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَبِيعَ الثَّمَرَةَ وَيَسْتَثْنِي مِنْهَا أَرْطَالًا مَعْلُومَةً. وَيَجُوزُ بَيْعُ الْحِنْطَةِ فِي سُنْبُلِهَا وَالْبَاقِلَاءِ فِي قِشْرِهَا، وَمَنْ بَاعَ الدَّارَ دَخَلَ فِي الْبَيْعِ مَفَاتِيحُ أَغْلَاقِهَا.

(٥) وَأُجْرَةُ الْكَيَّالِ وَنَاقِدِ الثَّمَنِ عَلَى الْبَائِعِ، وَأُجْرَةُ وَزَّانِ الثَّمَنِ عَلَى الْمُشْتَرِي.

(٦) وَمَنْ بَاعَ سِلْعَةً بِثَمَنٍ قِيلَ لِلْمُشْتَرِي: سَلِّمْ الثَّمَنَ أَوَّلًا، فَإِذَا دَفَعَ الثَّمَنَ قِيلَ لِلْبَائِعِ: سَلِّمْ الْمَبِيعَ.

(۷) وَمَنْ بَاعَ سِلْعَةً بِسِلْعَةٍ أَوْ ثَمَنًا بِثَمَنٍ: قِيلَ لَهُمَا: سَلِّمَا مَعًا.

**ژباړه :**

(۱) که څوک کور وپلوري، ودانۍ یې داخلیږي که یاده یې هم نه کړي. که څوک ځمکه وپلوري نو څه چې په کې دي له یادولو پرته په کې داخلیږي.

(۲) کښت له یادولو پرته د ځمکې په بیعه کې نه شاملیږي. څوک چې خرما یا بله میوه لرونکې ونه چې میوه پرې بار وي وپلوري، میوه یې د پلورونکي ده مګر دا چې اخیستونکي د ځان لپاره شرط کړې وي، او (په لومړي صورت کې به) پلورونکي ته ویل کیږي: میوه وشکوه او مبیعه تسلیم کړه.

(۳) په ونه کې د خامې او پخې دواړو ډولو مېوو پلورل روا دي، خو په اخیستونکي واجب دي چې سمدستي يې وشکوي. که چېرې په ونه کې د مېوې پاتې کېدل شرط کړي نو بیعه فاسده ده.

(٤) روا نه ده چې مېوه (په ونه کې) وپلوري او څو معلومې پیمانې ورڅخه استثنا کړي. په وړو کې د غنمو او په پوستکو کې د چنو خرڅول روا دي. څوک چې کور خرڅ کړي د کلپونو کونجیانې يې په بیعه کې راځي.

(٥) د پیمانه کوونکي او د ثمن د کره کتونکي (صیرفي) مزدوري په پلورونکي ده او د ثمن تلونکي مزدوري پر اخیستونکي ده.

(٦) که څوک مال په پیسو خرڅ کړي نو اخیستونکي ته به وویل شي: لومړی پیسې ورکړه! کله چې هغه پیسې ورکړې نو پلورونکي ته به وویل شي: مبیعه وسپاره!

(۷) که څوک سامان په سامان یا پیسې په پیسو وپلوري نو دواړو ته به ویل کیږي: یو بل ته يې وسپارئ.

## شرحه

**د کور او ځمکې پلورل**: که څوک کور وپلوري او د ودانۍ له نوم اخیستلو پرته داسې ووایي: دا کور مې پر تا وپلورلو. ودانۍ په بیعه کې داخليږي، په دې دلیل چې د عرف له مخې د (دار) ټکی حویلۍ او ودانۍ دواړو ته شاملیږي. له بل پلوه ودانۍ په کور پورې په دوامدار ډول نښتې وي چې فقها ورڅخه د (اتصال قرار) په ټکي تعبیر کوي. د همدې دلیل (اتصال قرار) په بنسټ هغه ونې چې په کور کې دي له یادولو پرته په بیعه کې داخليږي. خو که څوک داسې ځمکه وپلوري چې کښت پکې وي، کښت په بیعه کې نه داخليږي ځکه کښت په ځمکې پورې په دائمي ډول نښتی نه وي، بلکې د لږې او معلومې مودې لپاره په ځمکه کې وي.
که څوک کور وپلوري، د کلپونو کونجیانې ځکه په بیعه کې داخلې دي چې کلپونه په ودانۍ پورې په دائمي توګه نښتي دي او کونجیانې د کلپ جز (برخه) ده چې له کونجیانو پرته له کلپ څخه ګټه اخیستل شونې نه دي.

**د میوه لرونکې ونې پلورل**: په ونه کې د مېوې شتون، په ځمکه کې د کښت په څېر دی، یعنې که چا له میوې ډکه ونه وپلورله، مېوه په ونه کې نه داخليږي او میوه د پلورونکي حق دی.

د دې لپاره چې د اخيستونکي حق (ونه) د پلورونکي په حق (مېوه) مشغول نه شي، پلورونکي ته به ويل کيږي: خپله مېوه وشکوه او مبيعه تسليم کړه. البته که اخيستونکی د ځمکې او ونې د اخيستلو پر مهال ونه او مېوه د ځان لپاره شرط کړي، په بيعه کې داخليږي.

**په ونه کې د مېوې پلورل**: که ميوه خامه وي او که پخه، په ونه کې يې پلورل روا دي، ځکه له خامې مېوې هم ګټه اخيستل کېدای شي او متقوم (ارزښت لرونکی) مال ګڼل کيږي خو که پلورونکی د مېوې د شکولو غوښتنه وکړي، يا په بيعه کې د مېوې شکول شرط شوي وي، اخيستونکی بايد مېوه وشکوي، څو پردی ملکيت (ونې) په خپل ملکيت (مېوې) مشغول نه کړي.

که په ونه کې د ميوې پاتې کېدل شرط شي، بيعه فاسده ده، ځکه اخيستونکي پردی ملکيت په خپل ملکيت مشغول کړی دی. البته که له شرط کولو پرته يې د ونو څښتن په ونو کې پرېږدي، څو پخه شي پروا نه لري.

داسې بيعه هم فاسده ده چې په ونه کې ميوه وپلورل شي، خو څو ټاکلې پيمانې ورڅخه استثنا کړي، ځکه له استثنا وروسته د مبيعې اندازه مجهوله پاتې کيږي.

**په وږو کې د غلې دانې پلورل**: په وږو کې په مخالف جنس د غلو دانو- لکه د غنمو پر وربشو- پلورل روا دي. دا د اټکلي بيعې يو ډول دی. د دې بيعې لپاره د جنسونو مخالفت شرط دی، که څوک غلې دانې په وږو کې په خپل جنس وپلوري، د بېلګې په ډول غنم په غنمو يا جوار په جوارو وپلوري، بيعه روا نه ده، ځکه د سود احتمال پکې راځي.

## د تلونکي او د پيسو د شمېرونکي مزدوري پر چا ده؟

که داسې مبيعه وپلورل شي چې تلونکي، پيمانه کوونکي يا شمېرونکي ته اړتيا ولري، د تلونکي، پيمانه کوونکي او شمېرونکي مزدوري پر پلورونکي ده، ځکه له تللو، پيمانه کولو او شمېرلو وړاندې پلورونکی نه شي کولای چې اخيستونکي ته مبيعه وسپاري. په همدې دليل د پيسو د شمېرونکي مزدوري پر اخيستونکي ده.

د پيسو د کره کتونکي (هغه څوک چې د پيسو کره او کوټه معلوموي) مزدوري پر پلورونکي ده، ځکه اخيستونکي په خپل ګمان کره پيسې ورکړي، که بائع خپل ډاډ غواړي نو د کره کتونکي مزدوري بايد ورکړي.

## کوم لوری به لومړی پيسې او يا مال سپاري؟

په دې مسئله کې تفصيل دی:

که حاضر مال د پیسو په مقابل کې وپلورل شي نو لومړی به اخیستونکی ثمن ورکړي، ځکه په مبیعه کې د اخیستونکي حق تعیین شوی. د دې لپاره چې د پلورونکي حق هم په پیسو کې تعیین شي او برابري منځته راشي، باید اخیستونکی لومړی پیسې وروسپاري. په پورتني صورت کې په پیسو کې د پلورونکي حق له قبضولو وړاندې نه ټاکل کیږي.

که جنس د جنس یا پیسې د پیسو په مقابل کې وپلورل شي، نو دواړو ته به ویل کیږي چې مالونه مو یو بل ته وسپارئ!، ځکه د پورتني دلیل له مخې دواړه سره برابر دي.

## ؟ پوښتني

١- کوم شیان د کور په بیعه کې داخلیږي؟

٢- میوه څه مهال د پلورلو وړ گرځي؟

٣- په وړو کې د غلو په یو بل پلورل په کوم شرط روا دي او شرط ولې کېښودل شوی؟

٤- د تلونکي او د پیسو د شمېرونکي مزدوري پر چا ده؟

# د شرط خيار

د دې لپاره چې خلك په راكړه وركړه كې دوكه نه شي او د اخيستل شوي جنس له ښه والي څخه ډاډه شي، روا ده چې خيار كيږدي. روان لوست د خيار د حكمونو په اړه دی.

(١) خِيارُ الشَّرْطِ جائِزٌ فِي الْبَيْعِ لِلْبَائِعِ وَالْمُشْتَرِي، وَلَهُمَا الْخِيَارُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ فَمَا دُونَهَا، وَلَا يَجُوزُ أَكْثَرُ مِنْ ذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَة، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوزُ إِذَا سَمَّيَا مُدَّةً مَعْلُومَةً.

(٢) وَخِيَارُ الْبَائِعِ يَمْنَعُ خُرُوجَ الْمَبِيعِ مِنْ مِلْكِهِ، فَإِنْ قَبَضَهُ الْمُشْتَرِي وَهَلَكَ فِي يَدِهِ فِي مُدَّةِ الْخِيَارِ ضَمِنَهُ بِالْقِيمَةِ.

(٣) وَخِيَارُ الْمُشْتَرِي لَا يَمْنَعُ خُرُوجَ الْمَبِيعِ مِنْ مِلْكِ الْبَائِعِ إِلَّا أَنَّ الْمُشْتَرِي لايَمْلِكُهُ عند أبي حنيفة، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَمْلِكُهُ فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ هَلَكَ بِالثَّمَنِ وَكَذَلِكَ إِنْ دَخَلَهُ عَيْبٌ .

(٤) وَمَنْ شُرِطَ لَهُ الْخِيَارُ فَلَهُ أَنْ يَفْسَخَ فِي مُدَّةِ الْخِيَارِ وَلَهُ أَنْ يُجِيزَهُ، فَإِنْ أَجَازَه بِغَيْرِ حَضْرَةِ صَاحِبِهِ جَازَ وَإِنْ فَسَخَ لَمْ يَجُزْ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْآخَرُ حاضِرًا.

(٥) وَإِذَا مَاتَ مَنْ لَهُ الْخِيَارُ بَطَلَ خِيَارُهُ وَلَمْ يَنْتَقِلْ إِلَى وَرَثَتِهِ.

وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا عَلَى أَنَّهُ خَبَّازٌ أَوْ كَاتِبٌ فَكَانَ بِخِلَافِ ذَلِكَ، فَالْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ.

### ژباړه

(١) په بيعه كې د شرط خيار د اخيستونكي او پلورونكي دواړو لپاره روا دی. د دواړو لپاره درې ورځې او يا له درو ورځو لږه (موده) خيار دي. د امام ابوحنيفه په نزد له درو ورځو زيات

روا نه دی. امام ابویوسف او امام محمد ویلي: روا دی خو چې معلومه موده وټاکي.

(۲) د پلورونکي خیار، د هغه له ملکیت څخه د مبیعې د وتلو مانع کیږي، که اخیستونکي مبیعه قبض کړه او د هغه په لاس کې د خیار په موده کې له منځه لاړه، د قیمت ضامن دی.

(۳) د اخیستونکي خیار د پلورونکي له ملکیت څخه د مبیعې د وتلو مانع نه ګرځي، مګر د امام ابوحنیفه په نزد د اخیستونکي په ملکیت کې هم نه داخلیږي، امام ابویوسف او امام محمد ویلي: د اخیستونکي په ملکیت کې داخلیږي. که د اخیستونکي په لاس کې له منځه لاړه شي او یا عیبجنه شي، ثمن به یې ورکوي.

(٤) د خیار څښتن واک لري چې د خیار په موده کې بیعه مني او که یې فسخه کوي. که د مقابل لوري په غیاب کې یې د بیعې اجازه وکړه، صحیح ده، خو د هغه له حضور پرته یې ردولای نه شي. که د خیار څښتن مړ شي، خیار له منځه ځي او وارثانو ته نه انتقالیږي.

(٥) که چا غلام په دې نامه خرڅ کړ چې نانوای یا لیکونکی دی او وروسته معلومه شوه چې نوموړی صفت نه لري، اخیستونکی اختیار لري چې په پوره ثمن یې اخلي او که یې پرېږدي.

**شرحه**

**خیار**: د اختیار په معنا دی. د شرط خیار دې ته وایي چې اخیستونکی یا پلورونکی د بیعې د لزوم لپاره څه موده وټاکي.

**د شرط خیار حکم**: د شرط خیار اخیستونکي او پلورونکي دواړو ته روا دی. د دارقطني د روایت له مخې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یو صحابي ته چې په بیعه کې دوکه کېدلو، د دري ورځو د خیار کېښودلو اجازه ورکړې وه.

**د خیار ګټه**: د خیار ګټه داده چې اخیستونکي او خرڅوونکي ته د فکر کولو او له بل چا سره د سلا کولو فرصت په لاس ورځي، څو له دوکه کېدو وژغورل شي.

**د شرط د خیار موده**: د امام ابوحنیفه په نزد یې د پورتني حدیث له مخې ډېره موده درې ورځې ده. امام ابویوسف او امام محمد وایي: که متعاقدین راضي وي تر درو ورځو ډېر هم صحیح دی.

**د پلورونکي د شرط خیار**: که خیار پلورونکي درلود، مبیعه د ده له ملکیت څخه نه باسي. دا بیعه موقوفه ده، که پلورل شوی مال له اخیستونکي سره د خیار په موده کې هلاک شي، د بیعې محل (مبیعه) له منځه ځي، بیعه فسخه کیږي او پر اخیستونکي قیمت (ارزښت) لازمیږي، که مال له مثلي شیانو څخه وي، د هغه مثل به ورکوي او که له قیمیاتوڅخه وي، قیمت به یې ورکوي.

**د اخیستونکي د شرط خیار**: که اخیستونکي خیاردرلود، د مبیعې د حالت په هکله د امام ابوحنیفه او یارانو ترمنځ اختلاف دی:

**الف: د امام ابوحنیفه نظر**: مبیعه د بایع له ملکیته وځي، خو د مشتري په ملکیت کې نه داخلیږي، ځکه که د مشتري په ملکیت کې داخله شي، نو مبیعه او ثمن دواړه له مشتري سره جمع کیږي او دا په شریعت کې ځای نه لري.

**ب: د یارانو نظر**: مبیعه د بایع له ملکیته وځي او د مشتري په ملکیت کې داخلیږي، ځکه که د پلورونکي له ملکیت څخه ووځي او د مشتري په ملکیت کې داخله نه شي، نو مبیعه بې څښتنه پاتې کیږي چې دا هم په شریعت کې ځای نه لري.

که پلورل شوی مال د اخیستونکي په لاس کې د ده د خیار په موده کې دائمي عیبجن یا له منځه لاړ شي، ثمن به یې ورکوي، ځکه د مبیعې بېرته ورکول ممکن نه دي، نو ثمن یې چې د دواړو له خواو ټاکل شوی لازمیږي.

**د خیار په موده کې د بیعې منل یا ردول**: د خیار څښتن کولای شي د مقابل لوري په موجودیت کې بیعه ومني یا یې رد کړي. د هغه په غیاب کې هم کولای شي چې بیعه ومني، ځکه خیار د همدغو موخو لپاره کېښودل شوی، خو د مقابل لوري د غیابت په صورت کې بیعه ردولای نه شي، ځکه په دې کې د بل چا په هکله د هغه له خبرولو پرته تصرف کول دي او په دې سره هغه ته زیان رسیږي.

**د خیار د څښتن مړینه**: که د خیار څښتن د بیعې د تنفیذ او د خیار د مودې له پای ته رسېدو وړاندې مړ شي، خیار باطلیږي او وارثانو ته نه انتقالیږي. په دې دلیل چې په میراث یوازې هغه شیان وړل کیږي چې د انتقال وړ وي، خو خیار له ارادې څخه عبارت او اراده د انتقال وړ نه ده.

**که په مبیعه کې یاد شوي صفتونه نه وي؟**

که چا غلام په دې نامه وپلوره چې لیکونکی یا نانوای دی او وروسته معلومه شوه چې نوموړی

صفت نه لري، اخیستونکی اختیار لري چې په ټول ثمن یې اخلي او که ردوي یې. څرنګه چې په بیعه کې د اوصافو په مقابل کې پیسې نه راځي، نو د وصف په کمېدو پیسې (ثمن) نه کمیږي او ټول ثمن لازمیږي، خو دا چې د اخیستونکي د پام وړ صفت پکې موجود نه دی، د ردولو اختیار یې لري.

## پوښتنې

١- خیار تعریف کړئ.

٢- د شرط د خیار موده څومره ده؟

٣- د خیار ګټه څه ده؟

٤- آیا د خیار د څښتن په مړینه خیار له منځه ځي؟

٥- که په مبیعه کې یاد شوی صفت نه وي، په مقابل کې یې ثمن ولې نه کمیږي او خیار ولې ثابتیږي؟

# د رؤيت (ليدلو) خيار

په بيعه کې څو ډوله خيارونه دي، له دې جملې څخه يو هم د رؤيت خيار دی چې په ننني لوست کې به وربانديې ځان پوه کړو.

(١) وَمَنْ اشْتَرَى مَا لَمْ يَرَهُ فَالْبَيْعُ جَائِزٌ وَلَهُ الْخِيَارُ إِذَا رَآهُ: إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَهُ. وَمَنْ بَاعَ مَا لَمْ يَرَهُ فَلَا خِيَارَ لَهُ.

(٢) وَمَنْ نَظَرَ إِلَى وَجْهِ الصُّبْرَةِ أَوْ إِلَى ظَاهِرِ الثَّوْبِ مَطْوِيًّا أَوْ إِلَى وَجْهِ الدَّابَّةِ وَكِفْلِهَا فَلَا خِيَارَ لَهُ، وَإِنْ رَأَى صَحْنَ الدَّارِ فَلَا خِيَارَ لَهُ وَإِنْ لَمْ يُشَاهِدْ بُيُوتَهَا .

(٣) وَبَيْعُ الْأَعْمَى وَشِرَاؤُهُ جَائِزٌ وَلَهُ الْخِيَارُ إِذَا اشْتَرَى، وَيَسْقُطُ خِيَارُهُ بِجَسِّ الْمَبِيعِ إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالْجَسِّ، وَ بِشَمِّهِ إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالشَّمِّ، وَ بِذَوْقِهِ إِذَا كَانَ يُعْرَفُ بِالذَّوْقِ. وَلَا يَسْقُطُ خِيَارُهُ فِي الْعَقَارِ حَتَّى يُوصَفَ لَهُ.

(٤) وَمَنْ بَاعَ مِلْكَ غَيْرِهِ بِغَيْرِ أَمْرِهِ فَالْمَالِكُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَجَازَ الْبَيْعَ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ، وَلَهُ الْإِجَازَةُ إِذَا كَانَ الْمَعْقُودُ عَلَيْهِ بَاقِيًا وَالْمُتَعَاقِدَانِ بِحَالِهِمَا.

(٥) وَمَنْ رَأَى أَحَدَ الثَّوْبَيْنِ فَاشْتَرَاهُمَا مَعًا ثُمَّ رَأَى الْآخَرَ جَازَ لَهُ أَنْ يَرُدَّهُمَا.

(٦) وَمَنْ مَاتَ وَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ بَطَلَ خِيَارُهُ.

(٧) وَمَنْ رَأَى شَيْئًا ثُمَّ اشْتَرَاهُ بَعْدَ مُدَّةٍ، فَإِنْ كَانَ عَلَى الصِّفَةِ الَّتِي رَآهُ فَلَا خِيَارَ لَهُ، وَإِنْ وَجَدَهُ مُتَغَيِّرًا فَلَهُ الْخِيَارُ.

### ژباړه

(١) که چا ناليدلی شی واخيست، بيعه روا ده، کله چې مبيعه وويني خيار لري، که يې خوښه وه، اخلي يې او که يې خوښه شوه، ردوي يې. که چا ناليدلی شی وپلورلو خيار نه لري.

(۲) که څوك د غلې د ډېرې مخ ويني، يا د تاوې شوې جامې مخ ويني، يا هم د څاروي مخ او شا ويني خيار يې له منځه ځي. که څوك د کور انګړ ويني خيار يې له منځه ځي که څه هم کوټې يې نه وي ليدلي.

(۳) د ړانده خرڅول او اخيستل روا دي او د اخيستلو په مهال خيار لري. د ړانده د ليدلو خيار په هغو شيانو کې چې په لمس معلومېږي په لمس کولو، په هغو شيانو کې چې په بوی کولو معلومېږي په بوی کولو او په هغو شيانو کې چې په څکلو معلومېږي په څکلو سره له منځه ځي. په عقار کې يې تر هغې خيار نه ساقطيږي چې صفت يې ورته نه وي بيان شوی.

(٤) چا چې پردی مال د څښتن له اجازې پرته خرڅ کړ نو څښتن اختيار لري چې بيعه منې او که يې فسخه کوي. څښتن تر هغې د بيعې اجازه ورکولای شي چې متعاقدين او مبيعه په خپل حال وي.

(٥) که څوك له دوه جوړه جامو څخه يوه ويني او دواړه يو ځای واخلي، وروسته دويمه هم ويني، کولای شي چې دواړه رد کړي.

(٦) که د ليدلو د خيار څښتن مړ شي نو خيار له منځه ځي.

(۷) که څوك يو مال ويني او څه موده وروسته يې واخلي، که چيرې مال په خپل پخواني حالت پاتې و نو د ليدلو خيار نه لري، خو که په مال کې بدلون راغلی و د ليدلو خيار لري.

## شرحه

**د رؤيت (ليدلو) خيار**: دې ته وايي چې شخص ناليدلی مال واخلي او د بيعې منل او ردول تر ليدلو پورې وځنډېږي.

**د ناليدلي مال اخيستل**: د ناليدلي مال اخيستل روا دي. هر کله چې اخيستونکي مال وليدلو د هغه د اخيستلو او پرېښودلو اختيار لري، ځکه د دارقطني په سنن کې له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه راغلي: مَنِ اشْتَرَى شَيْئًا لَمْ يَرَهُ فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِذَا رَآهُ.

**ژباړه**: ((چا چې ناليدلی شی واخيست، هغه ته خيار دی کله يې چې وليد.))

خو پلورونکي ته د ليدلو خيار نشته، ځکه په حديث کې خيار يوازې اخيستونکي ته ثابت دی نه پلورونکي ته، نو که څوك خپل ناليدلی مال وپلوري بيعه د ده په حق کې لازمه شمېرل کيږي.

**د مال یوه خوا لیدل**: د لیدلو په خیار کې د ټول مال لیدل شرط نه دي، بلکې د مال دومره اندازه لیدل معتبر دي چې په مبیعه باندې د اخیستونکي علم راولي او جهالت له منځه یوسي. په دې بنسټ که اخیستونکی د غنمو د ډېرۍ مخ، د تاوې شوې جامې څرګنده برخه، د څاروي مخ یا وروستۍ برخه یا د کور حویلۍ وویني، نو د لیدلو اختیار یې له منځه ځي.

خو د حویلۍ په لیدلو په هغه زمانه کې خیار له منځه تللو چې په داخل د کور کې کوټو زیات توپیر سره نه درلود. په اوسني وخت کې چې د کورونو کوټې یو له بله زیات توپیر لري، د کوټو له لیدلو پرته یې د حویلۍ په لیدلو خیار له منځه نه ځي.

**د ړانده له خوا اخیستل او خرڅول**: د ړانده له خوا اخیستل او خرڅول صحیح دي. د مال لمس کول، څکل او بوی کول د لیدلو ځای نیسي، ځکه په دغو کارونو سره په مبیعه علم تر لاسه کیږي او جهالت له منځه ځي. همدا راز د ځمکې مواصفات بیانول ورته د لیدلو ځای نیسي او خیار یې پرې له منځه ځي.

**له اجازې پرته د بل چا مال پلورل**: که څوک (فضولي) پردی مال د خاوند له اجازې پرته وپلوري، دا بیعه منعقدیږي خو د څښتن تر اجازې پورې موقوفه ده، بیعه ځکه منعقدیږي چې په دې بیعه کې اخیستونکي او پلورونکي دواړو ته ګټې شته، خو د مال د څښتن اجازه په کې ځکه شرط ده چې هغه ته زیان ونه رسیږي. اجازه هغه وخت صحیح ده چې مبیعه، څښتن، اخیستونکی او د بل چا مال پلورونکی (فضولي) په خپل حال پاتې وي.

**د مال ځینې برخې لیدل**: که چا په یوه بیعه دوه جوړه جامې واخیستې، یوه یې لیدلې وه او بله یې له اخیستلو وروسته ولیده. که د جامو تر منځ توپیر و، د خیار رؤیت په بنسټ د دواړو د ردولو اختیار لري. یوازې یوه یې ځکه نه شي رد ولای چې په دې سره د یوې معاملې بېلوالی (چې د فقهاؤو په اصطلاح ورته (تفریق الصفقة) وايي، رامنځته کیږي. که جامې یا نور پلورل شوي شیان د مثلیاتو له جملې څخه وو، نو د ځینو په لیدلو یې په نورو کې د لیدلو خیار ساقطیږي.

**له مړینې وروسته د لیدلو د خیار حکم**: د خیار د څښتن په مړینه بیعه بشپړیږي او د شرط د خیار په څېر د رؤیت خیار هم په میراث نه ورل کیږي.

## فعالیت

احمد غواړي موټر واخلي. آیا له ورایه د موټر په لیدلو یې خیار له منځه ځي او که نه؟ زده کوونکي دې د محترم ښوونکي تر څارنې لاندې په دې موضوع بحث وکړي.

## پوښتنې

١- د لیدلو خیار څه ته وایي؟
٢- د نالیدلي مال اخیستل څه حکم لري؟ تشریح یې کړئ.
٣- کوم شیان د رانده په حق کې د لیدلو د خیار ځای نیسي؟
٤- له اجازې پرته د بل چا مال پلورل څه حکم لري؟

# د عیب خیار

د عیب خیار د خیارونو یو مهم ډول دی چې پوهېدنې ته يې زیاته اړتیا لیدل کیږي. دلته به د همدې خیار حکمونه ولولو:

(١) إذا اطَّلعَ الْمُشْتَرِي عَلَى عَيْبٍ فِي الْمَبِيعِ فَهُوَ بِالْخِيَارِ: إنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُمْسِكَهُ وَيَأْخُذَ النُّقْصَانَ.
(٢) وَكُلُّ مَا أَوْجَبَ نُقْصَانَ الثَّمَنِ فِي عَادَةِ التُّجَّارِ فَهُوَ عَيْبٌ.
(٣) وَإِذَا حَدَثَ عِنْدَ الْمُشْتَرِي عَيْبٌ، ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ كَانَ عِنْدَ الْبَائِعِ فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ بِالنُّقْصَانِ وَلَا يَرُدُّ الْمَبِيعَ إلَّا أَنْ يَرْضَى الْبَائِعُ أَنْ يَأْخُذَهُ بِعَيْبِهِ.
(٤) وَإِنْ قَطَعَ الْمُشْتَرِي الثَّوْبَ وَخَاطَهُ أَوْ صَبَغَهُ، أَوْ لَتَّ السَّوِيقَ بِسَمْنٍ، ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ رَجَعَ بِنُقْصَانِهِ وَلَيْسَ لِلْبَائِعِ أَنْ يَأْخُذَهُ.
(٥) وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا فَبَاعَهُ الْمُشْتَرِي، ثُمَّ رُدَّ عَلَيْهِ بِعَيْبٍ، فَإِنْ قَبِلَهُ بِقَضَاءِ الْقَاضِي فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى الْبَائِعِ الْأَوَّلِ وَإِنْ قَبِلَهُ بِغَيْرِ قَضَاءِ الْقَاضِي فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرُدَّهُ عَلَى الْبَائِعِ الْأَوَّلِ.
(٦) وَمَنْ اشْتَرَى عَبْدًا وَشَرَطَ الْبَرَاءَةَ مِنْ كُلِّ عَيْبٍ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرُدَّهُ بِعَيْبٍ، وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ جُمْلَةَ الْعُيُوبِ وَلَمْ يَعُدَّهَا.

### ژباړه

(١) که اخیستونکی په مبیعه کې کوم عیب ومومي، نو اختیار لري چې په پوره ثمن يې اخلي او که يې ردوي، اخیستونکي ته روا نه دي چې مبیعه له ځان سره ایساره کړي او د عیب تاوان له پلورونکي څخه واخلي.

(۲) هر شی چې د سوداګرو په عرف کې د مبیعې په قیمت کې نقصان راولي، عیب ګڼل کیږي.

(۳) که مبیعه له اخیستونکي سره عیبجنه شي، بیا اخیستونکی په مبیعه کې په بل عیب چې له بائع سره یې درلود، خبر شي، نو کولای شي چې د عیب تاوان له پلورونکي څخه واخلي. مبیعه به نه ردوي مګر دا چې بائع یې له عیب سره په اخیستلو موافقه وکړي.

(٤) که اخیستونکی ټوکر غوڅ کړي او ویې ګنډي یا یې رنګ کړي، یا ستوان له غوړو سره ګډ کړي او بیا د مبیعې پر عیب پوه شي، نو کولای شي چې د عیب تاوان واخلي خو پلورونکی یې د بېرته اخیستلو حق نه لري.

(٥) که څوک مریی وپلوري، بیا یې اخیستونکی هم په بل چا وپلوري، بیا د عیب له امله په ده تاوان شي، که د قاضي په حکم پرې تاوان شوی و، کولای شي چې لومړي پلورونکي ته یې رد کړي، خو که د قاضي له حکم پرته یې قبول کړو، نو لومړي پلورونکي ته یې نشي ردولای.

(٦) که څوک مریی واخلي او پلورونکی له هر عیبه بېزاري اعلان کړي، نو اخیستونکي یې د هیڅ عیب له امله په پلورونکي نشي تاوان کولای، که څه هم پلورونکي د ټولو عیبونو نومونه اخیستي او شمېرلي نه وي.

**شرحه**

**د عیب خیار**: هغه اختیار ته ویل کیږي چې له امله یې عیبجن مال بېرته ښتن ته رد یدلای شي.

**په مبیعه کې د عیب موندل**: که اخیستونکی په مبیعه کې داسې عیب ومومي چې له پلورونکي سره په مبیعه کې موجود و، او اخیستونکي د بیعې او قبض پر مهال نه و لیدلی، کولای شي چې مال پلورونکي ته رد کړي، ځکه د مطلق عقد غوښتنه دا ده چې مبیعه له عیب څخه پاکه وي، نو د عیب په صورت کې اخیستونکي ته د ردولو خیار شته، څو د معیوب مال په اخیستلو زیانمن نه شي.

که اخیستونکي مبیعه له عیب سره ومنله، پوره ثمن به ورکوي. خرنګه چې د اوصافو په مقابل کې ثمن نه راځي، اخیستونکی نه شي کولای چې د عیب په مقابل کې له ثمن څخه څه کم کړي. له بل پلوه د کم ثمن په اخیستلو د پلورونکي مجبورول، پلورونکي ته زیان دی.

**په مبیعه کې په زاړه عیب سربېره د نوي عیب پیدا کېدل**: که له اخیستونکي سره په مبیعه کې عیب پیدا شي او بل عیب داسې وي چې له پلورونکي سره هم پکې وي، په دې صورت کې اخیستونکی نه شي کولای چې د پخواني عیب له امله مبیعه پلورونکي ته رد کړي، ځکه په مبیعه کې نوی عیب رامنځته شوی او له نوي عیب سره پلورونکي ته د مبیعې په ردولو زیان رسیږي. په دې صورت کې یوازې یوه لار پاتې کیږي او هغه دا چې اخیستونکی له پلورونکي څخه د عیب تاوان واخلي.

که پلورونکی له خپله حقه تېر شي او له نوي عیب سره سره مبیعه قبوله کړي، صحیح ده.

**د اخیستونکي (دویم پلورونکي) له خوا د عیب له امله د مبیعې ردول**: که څوک کوم مال واخلي او په بل چا یې وپلوري، بیا د عیب له امله په ده تاوان شي، که د قاضي په حکم پرې تاوان شوی و، نو کولای شي چې لومړي څښتن ته یې رد کړي. ځکه د قاضي حکم د بیعې فسخه کول دي او داسې دي لکه له سره چې بیعه نه وي رامنځته شوې، خو که د محکمې له حکم پرته یې قبول کړی و، نو لومړي څښتن ته یې نشي رد ولای، ځکه دا د دریم ګړي په حق کې نوې بیعه ده.

**له ټولو عیبونو څخه بې زاري اعلانول**: که څوک موټر یا بل مال واخلي او پلورونکی ووایي: زه د هیڅ عیب ذمه وار نه یم. وروسته په مبیعه کې عیب راښکاره شي، نو اخیستونکی یې د عیب له امله په پلورونکي نشي تاوانولای، که څه هم پلورونکي د بېزارۍ پر مهال د ټولو عیبونو نومونه نه وي اخیستي، ځکه له مجهولو عیبونو څخه د بې زارۍ اعلانول صحیح دي.

## فعالیت

که څوک غوا واخلي او کور ته له رسولو وروسته څرګنده شي چې د غولانځې دوه تیونه یې وچ دي، نو څه به کوي؟ مختلف احتمالونه یې په هکله بیان کړئ.

## پوښتنې

۱- د عیب خیار تعریف کړئ.

۲- د سوداګرو په عرف کې عیب څه ته ویل کیږي؟

۳- آیا اخیستونکی کولای شي د هغه عیب له امله چې د بیعې پر مهال یې نه وي لیدلی، مبیعه رد کړي؟

٤- که اخیستونکی د خوراکي توکو له خوړلو وروسته د هغې په عیب خبرشي څه حکم لري؟

٥- که پلورونکی له ټولو عیبونو بېزاري اعلان کړي، آیا اخیستونکی د عیب له امله د مبیعې د ردولو حق لري؟

# فاسده بيعه

په اسلام کې معاملات د ګټو د خوندي کولو او د زيانونو او لانجو د له منځه وړلو پر بنسټ تنظيم شوي دي. له دې کبله که په بيعه کې څه زيانونه او يا لانجې وي، هغه بيعه ناروا ده، فاسده ګڼل کيږي او بايد فسخه شي، چې په دې لوست کې د فاسدې بيعې احکام لولو:

(١) إِذَا كَانَ أَحَدُ الْعِوضَيْنِ أَوْ كِلَاهُمَا مُحَرَّمًا فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ، كَالْبَيْعِ بِالْمَيْتَةِ، أَوْ بِالدَّمِ، أَوْ بِالْخَمْرِ، أَوْ بِالْخِنْزِيرِ، وَكَذَلِكَ إِذَا كَانَ غَيْرَ مَمْلُوكٍ، كَالْحُرِّ، وَبَيْعُ أُمِّ الْوَلَدِ، وَالْمُدَبَّرِ، وَالْمُكَاتَبِ فَاسِدٌ.

(٢) وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ السَّمَكِ فِي الْمَاءِ قَبْلَ أَنْ يَصْطَادَهُ، وَلَا بَيْعُ الطَّيْرِ فِي الْهَوَاءِ، وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْحَمْلِ وَلَا النِّتَاجِ وَلَا بَيْعُ اللَّبَنِ فِي الضَّرْعِ وَلَا الصُّوفِ عَلَى ظَهْرِ الْغَنَمِ.

(٣) وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ ذِرَاعٍ مِنْ ثَوْبٍ وَجِذْعٍ فِي سَقْفٍ وَضَرْبَةِ الْقَانِصِ، وَلَا بَيْعُ الْمُزَابَنَةِ - وَهُوَ بَيْعُ التَّمْرِ عَلَى النَّخْلِ بِتَمْرٍ مَجْذُوذٍ مِثْلَ كَيْلِهِ خَرْصا -، وَلَا يَجُوزُ الْبَيْعُ بِإِلْقَاءِ الْحَجَرِ وَالْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ، وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ ثَوْبٍ مِنْ ثَوْبَيْنِ.

(٤) وَكَذَلِكَ لَوْ بَاعَ عَبْدًا عَلَى أَنْ يَسْتَخْدِمَهُ الْبَائِعُ شَهْرًا، أَوْ دَارًا عَلَى أَنْ يَسْكُنَهَا مُدَّةً مَعْلُومَةً، أَوْ عَلَى أَنْ يُقْرِضَهُ الْمُشْتَرِي دَرَاهِمَ، أَوْ عَلَى أَنْ يُهْدِيَ لَهُ هَدِيَّةً.

(٥) وَمَنْ بَاعَ عَيْنًا عَلَى أَنْ لَا يُسَلِّمَهَا إِلَى رَأْسِ الشَّهْرِ، فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ.

(٦) وَمَنْ بَاعَ دَابَّةً إِلَّا حَمْلَهَا فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ.

(٧) وَمَنْ اشْتَرَى ثَوْبًا عَلَى أَنْ يَقْطَعَهُ الْبَائِعُ وَيَخِيطَهُ قَمِيصًا، أَوْ قَبَاءً، أَوْ نَعْلًا عَلَى أَنْ يَحْذُوَهَا، أَوْ يُشْرِكَهَا فَالْبَيْعُ فَاسِدٌ.

(٨) وَالْبَيْعُ إِلَى النَّيْرُوزِ وَالْمِهْرَجَانِ وَصَوْمِ النَّصَارَى وَفِطْرِ الْيَهُودِ - إِذَا لَمْ يَعْرِفِ الْمُتَبَايِعَانِ ذَلِكَ - فَاسِدٌ.

(۹) وَلَا يَجُوزُ الْبَيْعُ إِلَى الْحَصَادِ وَالدِّيَاسِ وَالْقِطَافِ وَقُدُومِ الْحَاجِّ فَإِنْ تَرَاضَيَا بِإِسْقَاطِ الْأَجَلِ قَبْلَ أَنْ يَأْخُذَ النَّاسُ فِي الْحَصَادِ وَالدِّيَاسِ، وَالْقِطَافِ وَ قَبلَ قُدُومِ الْحَاجِّ جَازَ الْبَيْعُ.

**ژباړه:**

(۱) که یو عوض یا دواړه عوضونه (مبیعه او ثمن) حرام وي، بیعه باطله ده، لکه د مردارې، وینې، شرابو او خوګ پلورل. همدا راز که مبیعه مملوکه نه وي، لکه آزاد انسان او د ام الولد، مدبر او مکاتب بیعه باطله ده.

(۲) له ښکار څخه وړاندې په اوبو کې د کب پلورل او په هوا کې د مرغانو پلورل روا نه دي. همدا راز د حمل نتاج، په غولانځه کې د شیدو او د پسونو په شا د وړیو بیعه فاسده ده.

(۳) له جامې څخه یو ګز ټوکر پلورل، له چت څخه تیر پلورل او د ضربة القانص (د ښکاري د یو ځل دام په اچولو رانیول شوی ښکار) پلورل روا نه دي، او نه مزابنه (په اټکلي ډول په ونه کې د شتو خرماوو پلورل په شکول شوو خرماوو باندې). د کاڼي په ګوزارولو سره بیعه، ملامسه، منابذه او له دوو جوړه جامو څخه یوه ناټاکلې جوړه پلورل روا نه دي.

(٤) که په دې شرط یې مریی وپلورلو چې یوه میاشت به د پلورونکي خدمت کوي، یا یې کور په دې شرط وپلورلو چې پلورونکی به په کې تر معلومې مودې اوسیږي، یا دا چې اخیستونکی به پلورونکي ته څو درهمه پور ورکوي، یا به ورته ډالۍ ورکوي، بیعه فاسده ده.

(۵) چا چې په دې شرط مال وپلورلو چې د میاشتې تر ختلو پورې به یې اخیستونکي ته نه سپاري، بیعه فاسده ده.

(٦) چا چې څاروی له حمل پرته وپلورلو، بیعه فاسده ده.

(۷) چا چې په دې شرط ټوکر واخیست چې پلورونکی به ترې د اخیستونکي لپاره جامې یا چپن ګنډي، یا یې څپلۍ په دې شرط واخیستې چې پلورونکی به یې برابروي یا به ورته تانګنی اچوي نو بیعه فاسده ده.

(۸) د نوروز، مهرجان، د نصاراوو تر روژې او د یهودو تر اختره نېټه ټاکل په هغه صورت کې بیعه فاسدوي چې اخیستونکي او پلورونکي ته دا نېټې معلومې نه وي.

(۹) د لو، درمند، مېوې شکولو او د حاجیانو د راتګ په نېټه بیعه روا نه ده، که د بیعې دواړه لوري په لو، درمند او مېوې شکولو د خلکو له بوختېدو او د حاجیانو له راتګ وړاندې د نېټې په لغوه کولو راضي شول، بیعه روا ده.

**شرحه**:

**د بیعې ډولونه**: بیعه په څلور ډوله ده: صحېحه بیعه، فاسده بیعه، باطله بیعه او موقوفه بیعه.

صحیحه بیعه سملاسي ملکیت انتقالوي چې خیار په کې نه وي. فاسده بیعه د مبیعې د قبضولو په صورت کې له بائع څخه مشتري ته ملکیت انتقالوي. باطله بیعه هیڅکله ملکیت نه انتقالوي او موقوفه بیعه (لکه چې څوک د بل چا مال وپلوري) د مالك تر اجازې پخوا څه اغېز نه لري، خو کله چې مالك اجازه وکړي، صحېحه بیعه ګرځي. امام قدوري صحېحه بیعه مخکې بیان کړه، باطلې او فاسدې بیعې یې په دې متن کې بیان کړې:

**د فاسدې او باطلې بیعې تعریف**: فاسده بیعه هغه ده چې د اصل په اعتبار روا او د وصف په اعتبار ناروا وي، یعنې عقد له اهلیت لرونکي شخص (عاقل او بالغ انسان) څخه صادر او محل (مال) ته مضاف شوی وي، خو له یو ناوړه وصف سره تړل شوې وي، لکه فاسد شرط.

باطله بیعه: هغه ده چې عاقد یې اهلیت ونه لري لکه د لېوني بیعه، او یا هم د بیعې محل (مبیعه) مال نه وي لکه د مردارې پلورل.

**د فاسدې او باطلې بیعې حکم**: په فاسده بیعه کې د قبض په صورت کې اخیستونکی د مبیعې څښتن ګرځي. په باطلې بیعې کې اخیستونکی په هېڅ صورت د مال څښتن نه ګرځي.

**د نامعلوم شي پلورل**: له دې څخه مقصد د هغو شیانو پلورل دي چې معدوم یا نامعلوم وي لکه د ناښکار شوي کب پلورل، په هوا کې د مرغانو پلورل، په غولانځه کې د شیدو پلورل، د پسونو په شا د وړیو پلورل او د څارویو په خېټه کې د حمل پلورل. په دغو ټولو صورتونو کې بیعه فاسده ده.

**ضربة القانص**: که څوک د ښکار لپاره دام یا جال کېږدي او بل ته ووایي چې که په دې دام کې هر څومره ښکار ونښت، د سلو افغانیو په مقابل کې ستا دی. دې ته ضربة القانص ویل کېږي او دا بیعه ځکه فاسده ده چې مبیعه په کې نامعلومه ده.

**مزابنه**: دې ته وایي چې د ونې په څانګو کې موجودې خرما په شکول شوو خرماوو په اټکلي ډول وپلورل شي. دا بیعه ځکه فاسده ده چې د سود احتمال په کې شته.

**البیع بإلقاء الحجر**: هغه بیعه ده چې په یو ځای کې څو جوړه جامې جلا پرتې وي، اخیستونکی هغه لور ته کاڼی وغورځوي او په هرې جوړې چې وغورځېږي، اخیستل یې له لیدلو پرته لازم شي او اخیستونکی په کې خیار ونه لري. په دې بیعه کې مخکې له مخکې د

جوړې قيمت ټاکل شوی وي.

**الملامسة**: دې ته وايي چې د بيعې د يو لوري له خوا د بل لوري د جامې په لمس کولو سره له فکر کولو پرته بيعه لازمه وګرځي او د ليدلو خيار له منځه لاړ شي.

**المنابذة**: دې ته ويل کيږي چې متعاقدين يو بل ته خپلې جامې له ليدلو او فکر کولو پرته ګوزارې کړي او په دې سره بيعه لازمه وګرځي.

**هغه شرطونه چې بيعه فاسدوي**: د مريي خرڅول په دې شرط چې څه وخت به د پلورونکي خدمت کوي. او دی ته ورته نور شرطونه چې په متن کې يې يادونه شوی، ټول هغه ډول شرطونه دي چې بيعه فاسدوي. د اوسپنلو، پور او ډالۍ اخيستلو په شرط د کور پلورل.

**نامعلوم وخت ته د عوض ځنډول**:

دوو کسانو په خپل منځ کې راکړه ورکړه وکړه، اخيستونکي د قيمت ورکول نوروز (د حمل د مياشتې لومړۍ ورځ)، مهرجان (د منې د موسم لومړۍ ورځ) د لو کولو وخت او يا د فصل ټولولو وخت ته وځنډول، که چيرې متعاقدين په دې نېټو پوهېدل، نو بيعه صحيح ده او که نه پوهيدل، بيعه فاسده ده.

د لو، درمند، ميوو شکولو او د حاجيانو د راتګ وخت د عوض ورکولو لپاره نېټه ټاکل هم بيعه فاسدوي، ځکه دا نېټې ثابتې نه دي او بدلون مومي چې په نتيجه کې د شخړې لامل کيږي. که يې د نومورو نېټو له رارسېدو څخه وړاندې دا نېټې لغوه کړې، بيعه صحيح ده.

## فعاليت

زده کوونکي دې څو هغه شرطونه بيان کړي چې بيعه فاسدوي.

## پوښتنې

١_ فاسده بيعه تعريف کړئ.

٢_ د فاسدې بيعې حکم څه دی؟

٣_ د فاسدې بيعې څو مثالونه ووایاست.

٤_ که پلورونکي کور په دې شرط وپلوره چې اخيستونکی به ورته ډالۍ ورکوي او يا به يې ده ته د يوې مياشتې د اوسيدو لپاره پرېږدي، حکم يې څه دی؟

# د فاسدې او مکروهې بيعې حکم

په دې لوست کې د فاسدې بيعې حکم او د مکروهې بيعې څو مثالونه تاسو ته بيانوو.

(١) وَإِذَا قَبَضَ الْمُشْتَرِي الْمَبِيعَ فِي الْبَيْعِ الْفَاسِدِ بِإِذْنِ الْبَائِعِ - وَفِي الْعَقْدِ عِوَضَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مَالٌ - مَلَكَ الْمَبِيعَ وَلَزِمَتْهُ قِيمَتُهُ، وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَعَاقِدَيْنِ فَسْخُهُ، فَإِنْ بَاعَهُ الْمُشْتَرِي نَفَذَ بَيْعُهُ.

(٢) وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَ حُرٍّ وَعَبْدٍ، أَوْ بَيْنَ شَاةٍ ذَكِيَّةٍ وَمَيِّتَةٍ بَطَلَ الْبَيْعُ فِيهِمَا، وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَ عَبْدٍ وَمُدَبَّرٍ، أَوْ بَيْنَ عَبْدِهِ وَعَبْدِ غَيْرِهِ صَحَّ الْعَقْدُ فِي الْعَبْدِ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ.

(٣) وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ النَّجْشِ وَعَنِ السَّوْمِ عَلَى سَوْمِ غَيْرِهِ، وَعَنْ تَلَقِّي الْجَلَبِ وَعَنْ بَيْعِ الْحَاضِرِ لِلْبَادِي، وَعَنِ الْبَيْعِ عِنْدَ أَذَانِ الْجُمُعَةِ، وَكُلُّ ذَلِكَ يُكْرَهُ وَلَا يَفْسُدُ بِهِ الْبَيْعُ.

**ژباړه**

(١) کله چې اخيستونکی په فاسده بيعه کې د پلورونکي په اجازه مبيعه قبض کړي او د بيعې دواړه عوضونه مال وي، اخيستونکی د مال خښتن ګرځي او قيمت ورکول يې پرې لازم دي. د تړون دواړه لورې دا ډول بيعه فسخه کولای شي. که اخيستونکی نوموړی مال وپلوري، بيعه يې نافذه ده.

(٢) چا چې ازاد انسان او مريی يا حلال شوی پسه او مرداره دواړه په يوه عقد وپلورل، د دواړو بيعه باطله ده. که يې مريی او مدبر يا خپل مريی او پردی مريی په يو عقد وپلورل، بيعه يوازې د پلورونکي په مريي کې د هغه د ثمن په برخه کې صحيح ده.

(٣) رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د (نجش)، د بل چا پر بيعې بيعه کولو، تلقي الجلب (د قافلې مخې ته له ورتللو)، د باندې چې لپاره د ښاري (شخص) دلال کېدلو او د جمعې د اذان

پر مهال له اخيستلو او خرڅولو څخه منعه کړې. دا بيعې مکروه دي او فاسدې نه دي.

### شرحه

### په فاسده بيعه مال اخيستل:

که اخيستونکی په فاسدې بيعې سره مال واخلي، د بېلګې په ډول په دوه سوه افغانۍ، په دې شرط توکر واخلي چې پلورونکی به څادر ترې ګنډي، چې دلته دواړه بدلين مالونه دي. په دې صورت کې اخيستونکی هلته د مبيعې څښتن ګرځي چې مبيعه قبض کړي او د شرط (د څادر ګنډل) لېرې کول ورباندې لازم دي، څو فساد له منځه لاړ شي، ځکه دا شرط ناروا او له منځه وړل يې واجب دي.

### جايز او حرام يو ځای کول:

که څوک خپل مريی او بل آزاد انسان سره يو ځای کړي او هغه په يوه بيعه په بل چا وپلوري، بيعه په مريي او آزاد دواړو کې باطله ده، ځکه چې د مبيعې يوه برخه (ازاد انسان) اصلا د پلورلو وړ نه دی او بيعه له اساس څخه باطله ده، خو که د مطلق مريي سره مدبر مريی يو ځای کړي او په يوه بيعه يې وپلوري، يعنې د هر يوه قيمت جلا جلا معلوم نه کړي، مطلق مريی په خپله برخه ثمن کې پلورل کېږي.

### د مکروهې بيعې تعريف:

مکروه په لغت کې ناخوښه ته وايي او په اصطلاح کې هغې بيعې ته ويل کېږي چې له بدلينو پرته د بل بهرني لامل له کبله ورڅخه منع شوې وي لکه د جمعې د اذان په مهال اخيستل او خرڅول. د جمعې په ورځ اخيستل او خرڅول ناروا کار نه دی، خو لمانځه ته له اذان وروسته پلورل او اخيستل ځکه روا نه دي چې سړی له لمانځه څخه باسي، يعنې په بيعه باندې بوختيا د لمانځه څخه خارجي لامل دی او له بدلينو سره کوم تړاو نه لري.

### د نجش بيعه:

نجش د نون او جيم په زور سره د جال لورې ته د مرغانو هڅولو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې دې ته وايي چې څوک د اخيستلو لپاره نه بلکې د خلکو د هڅولو په موخه د مشتري په توګه مال لوړ بيعه کړي او خلک وغولوي او يا په درواغو د مال په ښه صفت کولو سره غواړي

هغه ته بازار پیدا کړي.

**بیع السوم:**

د بل چا په بیعه باندې بیعه کولو ته وایي چې په حدیث کې ورڅخه منع شوې. پیغمبر علیه السلام فرمایي: ( لا یستام الرجل علی سوم اخیه ولایخطب علی خطبة اخیه) ژباړه: یو مسلمان دې د بل مسلمان په بیعه باندې بیعه نه کوي او نه دې د بل مسلمان په خطبه (مرکه) باندې مرکه کوي، ځکه په دې کار سره نور مسلمانان زیانمن کیږي، البته دا په هغه صورت کې چې دواړو لورو لا یو بل ته د (نه) ځواب نه وي ورکړی. که دواړو لورو ترون ته رغبت نه درلود بیا وربandې بیعه کول روا دي.

**تلقي الجلب:**

په صحیحینو کې د ابن عباس (رضی الله عنه) څخه روایت دی: ( نهی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ان تتلقی الرکبان وأن یبیع حاضر لباد.) ژباړه: پیغمبر (علیه السلام) د سپرو مخې ته د ورتګ او د ښاري خلکو د باندېنه چیانو لپاره د بیعې کولو څخه منع کړې. د (تلقي الرکبان) لغوي معنا (د سپرو مخې ته ورتلل دي). په حدیث کې د منعه شوي صورت تفصیل دا دی چې ښاري شخص د کلیو څخه د راتلونکو هغو سپرو مخې ته ورشي چې له ځانه سره یې د خرڅ لپاره خوراکي توکي راوړي وي، په ښار کې هم د نوموړو توکو لپاره اړتیا زیاته وي او ښاري شخص غواړي چې توکي په ارزانه بیعه واخلي او بیا یې د ښار په خلکو په ګرانه بیعه وپلوري.

**بیع الحاضر للبادي:**

د باندېنه چې لپاره د ښاري د بیعې مقصد دا دی چې باندېنه چې ښار ته توکي راوړي، ښاري (دلال) یې پرې نږدي چې هغه یې پخپله وپلوري بلکې د بیعې چاره پخپل لاس کې ونیسي، څو یې په ښاریانو په لوړ قیمت وپلوري. په دې صورت کې دلال پر ښاریانو د قیمت لوړولو کوښښ کوي، دا ډول بیعه مکروه ده.

## فعالیت

د (تلقي الجلب) او (بیع الحاضر للبادی) بیعې په کوم حالت کې صحیح دي؟
زده کوونکي دې په پورتنی موضوع د دلایلو په رڼا کې بحث وکړي.

## پوښتنې

۱- مکروهه بیعه تعریف کړئ.
۲- د مکروهې بیعې دوه مثالونه بیان کړئ.
۳- د بل چا په بیعه باندې د بیعې کولو په اړه حدیث بیان کړئ.
٤- د تلقي الجلب صورت بیان کړئ.

# اقاله

کله کله بایع او مشتري دې ته راضي کيږي چې د بيعې تړل شوى عقد له منځه يوسي، دې ته په فقه کې اقاله وايي چې دلته يې اړوند احکام لولو.

(۱) الْإِقَالَةُ جَائِزَةٌ فِي الْبَيْعِ بِمِثْلِ الثَّمَنِ الْأَوَّلِ، فَإِنْ شَرَطَ أَقَلَّ مِنْهُ، أَوْ أَكْثَرَ مِنْهُ، فَالشَّرْطُ بَاطِلٌ، وَ يُرَدُّ مِثْلَ الثَّمَنِ الأَوَّلِ.

(۲) وَهِيَ فَسْخٌ فِي حَقِّ الْمُتَعَاقِدَيْنِ، بَيْعٌ جَدِيدٌ فِي حَقِّ غَيْرِهِمَا فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ.

(۳) وَهَلَاكُ الثَّمَنِ لَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الْإِقَالَةِ وَهَلَاكُ الْمَبِيعِ يَمْنَعُهَا. وَإِنْ هَلَكَ بَعْضُ الْمَبِيعِ جَازَتْ الْإِقَالَةُ فِي بَاقِيهِ.

### ژباړه

(۱) اقاله په بيعه کې د لومړي ثمن په مثل روا ده. که اخيستونکی يا خرخوونکی له لومړي ثمن څخه زيات يا کم شرط کړي، نو شرط باطل دی او د لومړي ثمن مثل به ورکوي.

(۲) اقاله د متعاقدينو په حق کې فسخه او د نورو په حق کې د امام ابوحنيفه په نظر نوې بيعه ده.

(۳) د ثمن له منځه تلل د اقالې مانع نه ګرځي، خو د مبيعې له منځه تلل د اقالې مانع ګرځي. که د مبيعې ځينې برخې له منځه لاړې شي، په پاتې برخې کې اقاله صحيح ده.

### شرحه

**د اقالې تعريف**: اقاله د هغه عقد له منځه وړلو ته وايي چې اخيستونکي او پلورونکي په خپلو منځونو کې تړلی وي.

**د اقالې حکم**: اقاله د متعاقدينو د رضايت په صورت کې په لومړي ثمن روا ده.

اقاله نوې بيعه ده که فسخه؟ اقاله د متعاقدينو په حق کې فسخه ده، خو د بل چا په حق کې د

امام ابوحنیفه په نظر نوې بیعه ده.

**مثال**: پلورونکي خپله ځمکه خرڅه کړه او شفیع د شفعې د حق له غوښتلو تېر شو. وروسته متعاقدینو اقاله وکړه او ځمکه بېرته پلورونکي ته وسپارل شوه. په دې صورت کې شفیع کولای شي چې د شفعې د حق غوښتنه وکړي، ځکه چې اقاله له متعاقدینو پرته د نورو خلکو په حق کې نوې بیعه ده.

**هغه شیان چې اقاله باطلوي**: کله چې مبیعه له منځه لاړه شي، اقاله باطلیږي، ځکه اقاله د عقد له منځه وړلو ته وایي چې محل یې مبیعه ده، خو که ثمن له منځه لاړ شي، اقاله نه باطلیږي.

که څوك دوه کتابونه وپلوري او وروسته یو کتاب له منځه ولاړ شي، په پاتې یو کتاب کې اقاله صحیح ده.

**په اقاله کې باطل شرطونه**: که پلورونکی یا اخیستونکی په اقاله کې شرط کړي چې له پخواني ثمن څخه به زیات یا کم ورکوي، داسې شرط باطل دی او هماغه لومړی ثمن لازمیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د اقالې صورت بیان کړي.

## پوښتنې

١- اقاله تعریف کړئ.

٢- د اقالې حکم څه دی؟

٣- اقاله د متعاقدینو په حق کې بیعه ده که د نورو په حق کې؟

٤- که ثمن له منځه ولاړ شي اقاله څه حکم لري؟

# مرابحه او تولیه

بیعه ډېر ډولونه لري، مرابحه او تولیه هم د بیعې له ډولونو څخه دي او دا لوست مو د همدغو بیعو د حکمونو په اړه دی:

(١) الْمُرَابَحَةُ نَقْلُ مَا مَلَكَهُ بِالْعَقْدِ الْأَوَّلِ بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ مَعَ زِيَادَةِ رِبْحٍ. وَالتَّوْلِيَةُ نَقْلُ مَا مَلَكَهُ بِالْعَقْدِ الْأَوَّلِ بِالثَّمَنِ الْأَوَّلِ مِنْ غَيْرِ زِيَادَةِ رِبْحٍ.

(٢) وَلَا تَصِحُّ الْمُرَابَحَةُ وَلَا التَّوْلِيَةُ حَتَّى يَكُونَ الْعِوَضُ مِمَّا لَهُ مِثْلٌ كَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ.

(٣) وَيَجُوزُ أَنْ يُضِيفَ إِلَى رَأْسِ الْمَالِ أُجْرَةَ الْقَصَّارِ وَالصَّبَّاغِ وَالطِّرَازِ، وَالْفَتَّالِ وَأُجْرَةَ حَمْلِ الطَّعَامِ، وَيَقُولُ: قَامَ عَلَيَّ بِكَذَا، وَلَا يَقُولُ: اشْتَرَيْته بِكَذَا.

(٤) وَإِذَا اطَّلَعَ الْمُشْتَرِي عَلَى خِيَانَةٍ فِي الْمُرَابَحَةِ فَهُوَ بِالْخِيَارِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ.

(٥) وَإِنْ اطَّلَعَ عَلَى خِيَانَةٍ فِي التَّوْلِيَةِ أَسْقَطَهَا مِنَ الثَّمَنِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَحُطُّ فِيهِمَا، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَحُطُّ فِيهِمَا وَلَهُ الْخِيَارُ.

(٦) وَمَنْ اشْتَرَى شَيْئًا مِمَّا يُنْقَلُ، لَمْ يَجُزْ لَهُ بَيْعُهُ حَتَّى يَقْبِضَهُ، وَيَجُوزُ بَيْعُ الْعَقَارِ قَبْلَ الْقَبْضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَجُوزُ.

(٧) وَمَنْ اشْتَرَى مَكِيلًا مُكَايَلَةً، أَوْ مَوْزُونًا مُوَازَنَةً فَاكْتَالَهُ، أَوْ اتَّزَنَهُ، ثُمَّ بَاعَهُ مُكَايَلَةً، أَوْ مُوَازَنَةً لَمْ يَجُزْ لِلْمُشْتَرِي مِنْهُ أَنْ يَبِيعَهُ وَلَا يَأْكُلَهُ حَتَّى يُعِيدَ الْكَيْلَ وَالْوَزْنَ.

(٨) وَالتَّصَرُّفُ فِي الثَّمَنِ قَبْلَ الْقَبْضِ جَائِزٌ. وَيَجُوزُ لِلْمُشْتَرِي أَنْ يَزِيدَ الْبَائِعَ فِي الثَّمَنِ، وَيَجُوزُ لِلْبَائِعِ أَنْ يَزِيدَ فِي الْمَبِيعِ، وَيَجُوزُ أَنْ يَحُطَّ مِنَ الثَّمَنِ، وَيَتَعَلَّقُ الِاسْتِحْقَاقُ بِجَمِيعِ ذَلِكَ.

(۹) وَمَنْ بَاعَ بِثَمَنٍ حَالٍّ ثُمَّ أَجَّلَهُ أَجَلًا مَعْلُومًا صَارَ مُؤَجَّلًا، وَكُلُّ دَيْنٍ حَالٍّ إِذَا أَجَّلَهُ صَاحِبُهُ صَارَ مُؤَجَّلًا إِلَّا الْقَرْضَ فَإِنَّ تَأْجِيلَهُ لَا يَصِحُّ .

**ژباړه**

(۱) په لومړي عقد لاس ته راغلی شی له خپل اول ثمن نه په ګټه پلورل مرابحه بلل کیږي. په لومړي عقد لاس ته راغلی شی پخپل اول ثمن پلورل تولیه بلل کیږي.

(۲) مرابحه او تولیه یوازې هغه مهال صحیح ده چې عوض یې له مثلي شیانوڅخه وي، لکه پیمانه کېدونکي او تلل کېدونکي شیان.

(۳) له راس المال سره د وینځونکي (دوبي)، رنګریز، طراز، اوبدونکي او باروونکي مزدوري یو ځای کول روا دي، خو داسې به وایي: په دومره راته تمام شوی، داسې به نه وایي چې په دومره مې اخیستی دی.

(٤) کله چې د مرابحې په بیعه کې اخیستونکی د پلورونکي په ټګۍ خبر شي، نو د امام ابوحنیفه په نظر اختیار لري چې په ټولو پیسو مبیعه اخلي او که یې ردوي.

(٥) که اخیستونکی د تولیې په بیعه کې د پلورونکي په ټګۍ خبر شي، نو د ټګۍ په اندازه به له ثمن څخه کموي. امام ابویوسف وایي: په دواړو بیعو (تولیه او مرابحه) کې یې کمولای شي او امام محمد وایي: په دواړو بیعو کې یې نشي کمولای او اختیار لري (چې یې اخلي او که یې ردوي).

(٦) چاچې منقول شی واخیست، پلورل یې ورته تر هغې روا نه دي چې قبض کړی یې نه وي. د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نظر د ځمکې خرڅول له قبض کولو مخکې روا دي خو امام محمد وایي چې روا نه دي.

(۷) څوک چې په پیمانه خرڅېدونکي شیان په پیمانه واخلي یا په تول خرڅېدونکي شیان په تول واخلي، بیا یې تول او پیمانه کړي، بیا یې په تول او پیمانه خرڅ کړي، دویم اخیستونکي ته روا نه دي چې له تول او پیمانې وړاندې یې وخوري او یا یې وپلوري.

(۸) له قبض نه وړاندې په ثمن کې تصرف روا دی. اخیستونکي ته روا دي چې بائع ته ثمن زیات کړي. پلورونکي ته روا دي چې په مبیعه کې زیاتوالی وکړي، او روا دي چې ثمن کم کړي، دا (زیاتوالی) ټول (په عقد کې عوض ګرځي او د مقابل لوري) حق ګرځي.

(۹) چا چې په نغدو مال وپلورلو، خو بیا یې د پیسو لپاره نېټه وټاکله، (بیعه) په نېټه ګرځي. هر مالي معجل پور چې څښتن یې ځنډمن وګرځوي، ځنډمن ګرځي، پرته له قرضه چې ځنډمن

کول يې صحيح نه دي.

**شرحه**

## د مرابحې او توليې تعريف

**مرابحه**: په څرګنده ګټه د اخيستل شوي شي پلورلو ته وايي.

**توليه**: په هماغه ثمن د مال پلورل چې پرې اخيستي يې وي.

**د مرابحې او توليې حکم**: مرابحه او توليه د شريعت له مخې روا ده.

**د مرابحې او توليې د صحت شرط**: مرابحه او توليه هغه وخت صحيح ده چې د مبيعې عوض پيسې يا مثلي شيان وي، لکه په تول او پيمانه پلورل کېدونکي شيان او هغه عددي شيان چې په اندازه کې سره نږدې وي.

**په مرابحه او توليه کې ټګي**: که د پلورونکي په اقرار يا په کوم بل دليل، اخيستونکي ته معلومه شي چې پلورونکي په بيعه کې ټګي کړې، د امام ابوحنيفه په نظر په مرابحه کې اخيستونکی اختيار لري چې په ټول ثمن يې اخلي او که يې ردوي. د ردولو اختيار ځکه لري چې د ټګۍ په صورت کې د اخيستونکي رضا نه شته، کومه چې د بيعې لپاره شرط ده.که اخيستونکی د توليې په بيعه کې په ټګۍ خبر شي، د ټګۍ په اندازه به له ثمن څخه کموي، ځکه که د ټګۍ اندازه له ثمن څخه کمه نه کړي، د توليې بيعه په حقيقت کې توليه نه پاتې کيږي.

امام ابويوسف وايي: په دواړو بيعو کې خيار نه لري خو د ټګۍ مقدار به ترې کموي، ځکه اصل په دې عقد کې مرابحه والی او توليه والی دی چې په لومړي عقد ولاړ دی، پيسې هم په لومړي عقد پورې تعلق نيسي او د هغوی په بنسټ ورڅخه کميږي.

د امام محمد په مذهب به هېڅ شی ترې نه کموي ځکه مرابحه والی او توليه والی په دې عقد کې وصف دی، چې په مقابل کې يې ثمن نه راځي او په له منځه تلو سره يې اخيستونکی ته يوازې خيار ثابتيږي.

**له قبضولو وړاندې د مبيعې پلورل**: له قبضولو وړاندې د منقولو شيانو پلورل روا نه دي، ځکه د هلاکېدو له امله د عقد د فسخه کېدو وېره شته. خو ځمکه او کور چې د له منځه تلو لاملونه يې کم دي. د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نزد يې له قبضولو وړاندې پلورل روا دي. امام محمد وايي: ځمکه او کور هم د منقولو شيانو په څېر له قبضولو وړاندې نشي پلورل کېدای.

**د مبيعې تول او پيمانه کول**: څوک چې په پيمانه خرڅېدونکي شيان په پيمانه واخلي،

يا په تول پلورل کېدونکي شيان په تول واخلي او بيا يې خرڅ کړي، دويم اخيستونکي ته روا نه دي چې له تول او پيمانې ورانديې وخوري او يا يې وپلوري، څکه د ابن ماجه په حديث کې راغلي: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الطَّعَامِ حَتَّى يَجْرِيَ فِيهِ الصَّاعَانِ، صَاعُ الْبَائِعِ، وَصَاعُ الْمُشْتَرِي. ژباړه: پيغمبر (عليه السلام) د خوراکي توکو له پلورلو منعه کړې مگر دا چې دوې پيمانې په کې جاري شي (دوه ځلې وتلل شي) د پلورونکي (لپاره) پيمانه او د اخيستونکي (لپاره) پيمانه.

دا ځکه چې احتمال لري نومورې توکي له يادې شوې اندازې څخه ډېر يا لږ وي چې په دې صورت کې پردی حق خوړل کيږي او هم دا چې خلک په نه پيمانه کولو روږدي (عادت) کيږي.

**د اخيستونکي او پلورونکي تصرفات**: د بيعې له بشپړېدو وروسته په مال او قيمت کې د اخيستونکي او پلورونکي د کمولو يا زياتولو تصرف صحيح دی. اخيستونکی کولای شي پلورونکي ته زياتې پيسې ورکړي همدا راز پلورونکی کولای شي چې اخيستونکي ته ډېر مال ورکړي، يا ثمن کم کړي.

د پلورونکي له خوا د مال وروستی زياتوالی او د اخيستونکي له خوا د ثمن وروستی زياتوالی د عقد په اصل پورې ملحق کيږي او پر زياتوونکو داسې لازم گرځي، لکه په لومړي سر کې چې يې په ځان منلي وي.

## فعاليت

زده کوونکي دې د مرابحې او توليې مثالونه خپلو ټولگيوالو ته ووايي.

## پوښتنې

١- مرابحه او توليه تعريف کړئ.

٢- آيا د مرابحې او توليې د صحت لپاره کوم شرط شته؟

٣- که اخيستونکی په توليه کې د پلورونکي له ټگۍ خبر شي څه کولای شي؟

٤- آيا بائع اخيستونکي ته په مال کې زياتوالی کولای شي؟

# د سود احکام

ربا (سود) یوه لويه ګناه ده چې الله (جل جلاله) ورڅخه مسلمانان منعه کړي دي. په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې د سود خوړونکي لپاره د سختو سزاګانو يادونه شوې ده، په همدې بنسټ د هر مسلمان لپاره ضروري ده چې د سودي معاملاتو په اړه معلومات ولري او ځان ترې وساتي.

(١) الرِّبَا مُحَرَّمٌ فِي كُلِّ مَكِيلٍ وَمَوْزُونٍ إِذَا بِيعَ بِجِنْسِهِ مُتَفَاضِلًا.

(٢) فَالْعِلَّةُ فِيهِ الْكَيْلُ مَعَ الْجِنْسِ، أَوْ الْوَزْنُ مَعَ الْجِنْسِ، فَإِذَا بِيعَ الْمَكِيلُ أَوْ الْمَوْزُونُ بِجِنْسِهِ مِثْلًا بِمِثْلٍ جَازَ الْبَيْعُ، وَإِنْ تَفَاضَلَا لَمْ يَجُزْ.

(٣) وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْجَيِّدِ بِالرَّدِيءِ مِمَّا فِيهِ الرِّبَا إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ.

(٤) فَإِذَا عُدِمَ الْوَصْفَانِ: الْجِنْسُ وَالْمَعْنَى الْمَضْمُومُ إِلَيْهِ، حَلَّ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ، وَإِذَا وُجِدَا حَرُمَ التَّفَاضُلُ وَالنَّسَاءُ، وَإِذَا وُجِدَ أَحَدُهُمَا وَعُدِمَ الْآخَرُ حَلَّ التَّفَاضُلُ وَحَرُمَ النَّسَاءُ.

(٥) وَكُلُّ شَيْءٍ نَصَّ رَسُولُ اللَّهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) عَلَى تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ فِيهِ كَيْلًا فَهُوَ مَكِيلٌ أَبَدًا، وَإِنْ تَرَكَ النَّاسُ الْكَيْلَ فِيهِ مِثْلُ الْحِنْطَةِ وَالشَّعِيرِ وَالتَّمْرِ وَالْمِلْحِ، وَكُلُّ شَيْءٍ نَصَّ عَلَى تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ فِيهِ وَزْنًا فَهُوَ مَوْزُونٌ أَبَدًا، وَإِنْ تَرَكَ النَّاسُ الْوَزْنَ فِيهِ مِثْلُ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَمَا لَمْ يَنُصَّ عَلَيْهِ فَهُوَ مَحْمُولٌ عَلَى عَادَاتِ النَّاسِ.

(٦) وَعَقْدُ الصَّرْفِ مَا وَقَعَ عَلَى جِنْسِ الْأَثْمَانِ، يُعْتَبَرُ قَبْضُ عِوَضَيْهِ فِي الْمَجْلِسِ، وَمَا سِوَاهُ مِمَّا فِيهِ الرِّبَا يُعْتَبَرُ فِيهِ التَّعْيِينُ وَلَا يُعْتَبَرُ فِيهِ التَّقَابُضُ.

(٧) وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْحِنْطَةِ بِالدَّقِيقِ وَلَا بِالسَّوِيقِ، وَكَذَلِكَ الدَّقِيقُ بِالسَّوِيقِ.

(٨) وَيَجُوزُ بَيْعُ اللَّحْمِ بِالْحَيَوَانِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَجُوزُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ اللَّحْمُ أَكْثَرَ مِمَّا فِي الْحَيْوَانِ فَيَكُونُ اللَّحْمُ بِمِثْلِهِ وَالزِّيَادَةُ بِالسَّقَطِ.

(٩) وَيَجُوزُ بَيْعُ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ مِثْلًا بِمِثْلٍ وَالْعِنَبِ بِالزَّبِيبِ.

(١٠) وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الزَّيْتُونِ بِالزَّيْتِ وَالسِّمْسِمِ بِالشَّيْرَجِ حَتَّى يَكُونَ الزَّيْتُ وَالشَّيْرَجُ أَكْثَرَ مِمَّا فِي الزَّيْتُونِ وَالسِّمْسِمِ فَيَكُونُ الدُّهْنُ بِمِثْلِهِ وَالزِّيَادَةُ بِالشَّيْرَجِ.

(١١) وَيَجُوزُ بَيْعُ اللُّحْمَانِ الْمُخْتَلِفَةِ بَعْضِهَا بِبَعْضٍ مُتَفَاضِلًا، وَكَذَلِكَ أَلْبَانُ الْبَقَرِ، وَالْغَنَمِ وَخَلُّ الدَّقَلِ بِخَلِّ الْعِنَبِ، وَيَجُوزُ بَيْعُ الْخُبْزِ بِالْحِنْطَةِ وَالدَّقِيقِ مُتَفَاضِلًا.

(١٢) وَلَا رِبَا بَيْنَ الْمَوْلَى وَعَبْدِهِ وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْحَرْبِيِّ فِي دَارِ الْحَرْبِ.

**ژباړه**

(١) هغه شيان چې په تول يا پيمانه پلورل کيږي، کله چې د خپل جنس په مقابل کې په زياتوالي وپلورل شي، سود بلل کيږي او ناروا دی.

(٢) د سود علت پيمانه او جنس، يا وزن او جنس دی، نو د تول يا پيمانې وړ شيان که په خپل جنس يو برابر وپلورل شي، روا او که يو له بله زيات وو، روا نه ده.

(٣) د سودي شيانو د ښه او خراب جنس يو پر بل پلورل روا نه دي مګر په برابره توګه.

(٤) که د سود علتونه ( اندازه او د جنس يووالی) په کې نه وو، زياتوالی او نسيه دواړه روا دي. که دواړه (علتونه) موجود شول، زياتوالی او نسيه دواړه حرام دي. که د سود يو علت موجود و نو زياتوالی روا او نسيه ناروا ده.

(٥) هر جنس چې پيغمبر (عليه السلام) د کيل پر بنسټ په هغې کې زياتوالی حرام بللی هغه کيلي دی که څه هم خلک يې په تول پلوري لکه غنم، وربشې، خرما او مالګه او هر جنس چې پيغمبر (عليه السلام) د وزن پر بنسټ په هغې کې زياتوالی حرام بللی. هغه به تل وزني ګڼل کيږي که څه هم خلک يې په پيمانه خرڅ کړي، لکه سره او سپين زر. هغه جنسونه چې پيغمبر(عليه السلام) نه دي ټاکلي د خلکو دود په کې معتبر دی.

(٦) د پيسو پر پيسو خرڅولو ته صرف وايي. د صرف په بيعه کې په مجلس کې د عوضينو قبضول معتبر دي، د صرف پرته په نورو بيعو کې چې ربا پکې راځي، يوازې د عوضينو ټاکل معتبر دي نه قبضول.

(٧) د غنمو، په اوړو او په ستوانو بانديې پلورل روا نه دي. د اوړو په ستوانو بانديې پلورل هم روا نه دي.

(٨) د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نزد په غوښه بانديې د څاروي پلورل روا دي. امام محمد وايي: روا نه دي مګر دا چې غوښه په څاروي کې له (موجودې) غوښې څخه زياته

وي، تر څو چې غوښه د غوښې په مقابل کې راشي او پاتې د څاروي د (سر، پښو، پوستکي او نورو) په مقابل کې.

**(۹)** تازه خرما په وچو خرماوو پلورل روا دي چې سره برابرې وي، همدا راز د انګورو پلورل په مميزو.

**(۱۰)** د زيتونو دانې د زيتونو په تېلو او د کنځلو دانې د کنځلو په تېلو پلورل روا نه دي مګر (په هغه صورت کې) چې تېل په دانو کې له شتو تېلو څخه زيات وي، نو تېل به د تېلو په مقابل کې او زيات تېل به د دانو د بوسو په مقابل کې حساب شي.

**(۱۱)** مختلفې غوښې يو پر بل د زياتوالي سره پلورل روا دي، همدا راز د غواګانو او مېږو شيدې (يو پر بل د زياتوالي سره روا دي)، په همدې ډول د خرابو خرماوو د سرکې پلورل د انګورو په سرکه په زياتوالي سره روا دي. د ډوډيو پلورل په غنمو او اوړو، د زياتوالي سره روا دي.

**(۱۲)** د مريي او څښتن تر منځه سود نشته، همدا راز په دارالحرب کې د مسلمان او حربي تر منځ هم سود نشته.

**شرحه**

**د ربا (سود) تعريف**: ربا په لغت کې زياتوالي ته وايي او په شريعت کې هغه زياتوالي ته وايي چې په مالي مبادله کې له عوض پرته د متعاقدينو د يو تن لپاره شرط وګرځول شي.

د سود د حرمت دليل د الله جل جلاله دا وينا ده: **(وَأَحَلَّ اللّٰهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا) (البقرة ۲۷۵)** ژباړه: الله پاک بيعه روا او سود يې حرام ګرځولی.

همدا راز د امام مسلم په صحيح کې له جابربن عبدالله څخه روايت دی چې پيغمبر(عليه السلام) پر سود اخيستونکي، سود ورکوونکي، د سودي تړون پر ليکونکي او شاهد باندې لعنت ويلی.

**د سود علتونه**: سود دوه علتونه لري چې جنس او اندازه (تول او پيمانه) بنودل شوي. د تول او پيمانې وړ شيان چې له يو جنس څخه وي، يو پر بل يې په زياتوالي خرڅول ناروا دي، د بېلګې په ډول دوې پيمانې غنم په څلورو پيمانو غنمو پلورل سود دی.

**د سود ډولونه**: سود دوه ډولونه لري چې يو يې د زياتوالي سود او دويم يې د نسيه (پور) سود دی.

**د زياتوالي سود**: دې ته ويل کيږي چې د تول يا پيمانې وړ مال په خپل جنس باندې په زياتوالي سره وپلورل شي چې مثال يې ذکر شو.

**د نسیه (پور) سود**: دې ته وايي چې د يو جنس شيان يو پر بل په نېټه ويلورل شي. يا د تول او پيمانې وړ شيان پر مخالف جنس په نېټه ويلورل شي. د بېلګې په ډول دوې پيمانې جوار په دوو پيمانو جوارو په نېټه ويلورل شي يا لس ګرامه سره زر په شلو ګرامو سپينو زرو په نېټه ويلورل شي.

**د سود د علتونو اغېز**: که په بدلينوکې د سود دواړه علتونه (اندازه او د جنس يووالی) وو، نو د سود دواړه ډولونه (تفاضل او نسيه) حراموي او که د سود يو علت پکې وو، نو بيا نسيه حرامه او تفاضل روا دی.

**مسائل**: غنم او اوړه له يو جنس څخه دي او دواړه په پيمانه پلورل کيږي، څرنګه چې غنم کم ځای نيسي او د اوړو اجزا خپاره شوي نو زيات ځای نيسي، په دې بنسټ د پيمانې له لارې د دواړو برابروالی ممکن نه دی، له همدې امله يې يو پر بل پلورل روا نه دي.

د امام ابوحنيفه په نزد په غوښې د څاروي پلورل ځکه روا دي چې د سود يو شرط (قدر: اندازه) موجود نه دی، يعني وزن کېدونکی شی په نه وزن کېدونکي شي پلورل شوی. البته جنس بايد تعيين شي او نسيه هم په کې ناروا ده.

د وچو خرماوو په تازه خرماوو برابر پلورل ځکه روا دي چې په پيمانه کولو سره يې اندازه معلوميږي.

**د مريي او څښتن ترمنځ سود**: د مريي او څښتن تر منځ سود تر شرعي حرمت لاندې نه راځي، ځکه مريی او مال يې ټول د څښتن ملکيت دی او ګټه يې په پای کې بيا هم څښتن ته رسيږي.

## فعاليت

د زياتوالي او نسيه سود مثالونه وړاندې کړئ.

## پوښتنې

١- د سود لغوي او شرعي تعريف وکړئ.

٢- د سود د حرمت دليلونه ووایاست.

٣- د سود علتونه کوم کوم دي؟

٤- سود په څو ډوله دی؟ روښانه يې کړئ.

# د سلم احکام

ګرانو زده کوونکو! په راکړه ورکړه کې کله کله موږ د داسې شیانو اخیستلو یا خرڅولو ته اړ کیږو چې له پلورونکي سره نه وي. د بېلګې په ډول پلورونکي ته اوس دوه زره افغانۍ ورکوو او له هغه څخه په راتلونکې کې په ټاکلې نېټه پنځوس کیلو غنم تر لاسه کوو. دې بیعې ته سلم وايي او په نني لوست کې به يې په احکامو پوه شو.

(١) السَّلَمُ جَائِزٌ فِي الْمَكِيلَاتِ، وَالْمَوْزُونَاتِ، وَالْمَعْدُودَاتِ الَّتِي لَا تَتَفَاوَتُ كَالْجَوْزِ وَالْبَيْضِ وَفِي الْمَذْرُوعَاتِ.

(٢) وَلَا يَجُوزُ السَّلَمُ فِي الْحَيَوَانِ وَلَا فِي أَطْرَافِهِ وَلَا فِي جُلُودِهِ عَدَدًا، وَلَا فِي الْحَطَبِ حُزَمًا، وَلَا فِي الرَّطْبَةِ جُرُزًا.

(٣) وَلَا يَجُوزُ السَّلَمُ حَتَّى يَكُونَ الْمُسْلَمُ فِيهِ مَوْجُودًا مِنْ حِينِ الْعَقْدِ إِلَى حِينِ الْمَحِلِّ.

(٤) وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ إِلَّا مُؤَجَّلًا، وَلَا يَجُوزُ إِلَّا بِأَجَلٍ مَعْلُومٍ، وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ بِمِكْيَالِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ، وَلَا بِذِرَاعِ رَجُلٍ بِعَيْنِهِ وَلَا فِي طَعَامِ قَرْيَةٍ بِعَيْنِهَا، وَلَا فِي ثَمَرِ نَخْلَةٍ بِعَيْنِهَا.

(٥) وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا بِسَبْعِ شَرَائِطَ تُذْكَرُ فِي الْعَقْدِ:

ا- جِنْسٌ مَعْلُومٌ

ب- وَنَوْعٌ مَعْلُومٌ

ج- وَصِفَةٌ مَعْلُومَةٌ

د- وَمِقْدَارٌ مَعْلُومٌ

هـ- وَأَجَلٌ مَعْلُومٌ

و- وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِ رَأْسِ الْمَالِ إِذَا كَانَ مِمَّا يَتَعَلَّقُ الْعَقْدُ عَلَى قَدْرِهِ كَالْمَكِيلِ، وَالْمَوْزُونِ،

وَالْمَعْدُودِ

ز- وَتَسْمِيَةُ الْمَكَانِ الَّذِي يُوفِيهِ فِيهِ إِذَا كَانَ لَهُ حَمْلٌ وَمُؤْنَةٌ.

(٦) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَا يُحْتَاجُ إِلَى تَسْمِيَةِ رَأْسِ الْمَالِ إِذَا كَانَ مُعَيَّنًا، وَلَا إِلَى مَكَانِ التَّسْلِيمِ، وَيُسَلِّمُهُ فِي مَكَانِ الْعَقْدِ.

(٧) وَلَا يَصِحُّ السَّلَمُ حَتَّى يَقْبِضَ رَأْسَ الْمَالِ قَبْلَ أَنْ يُفَارِقَهُ. وَلَا يَجُوزُ التَّصَرُّفُ فِي رَأْسِ الْمَالِ وَلَا فِي الْمُسْلَمِ فِيهِ قَبْلَ قَبْضِهِ، وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَلَا التَّوْلِيَةُ فِي الْمُسْلَمِ فِيهِ قَبْلَ القَبْضِ.

(٨) وَيَجُوزُ السَّلَمُ فِي الثِّيَابِ إِذَا سَمَّى طُولًا وَعَرْضًا وَرُقْعَةً، وَلَا يَجُوزُ السَّلَمُ فِي الْجَوَاهِرِ وَلَا فِي الْخَرَزِ. وَلَا بَأْسَ بِالسَّلَمِ فِي اللَّبِنِ، وَالْآجُرِّ إِذَا سَمَّى مِلْبَنًا مَعْلُومًا.

(٩) وَكُلُّ مَا أَمْكَنَ ضَبْطُ صِفَتِهِ وَمَعْرِفَةُ مِقْدَارِهِ جَازَ السَّلَمُ فِيهِ، وَمَا لَا يُمْكِنُ ضَبْطُ صِفَتِهِ وَلَا يُعْرَفُ مِقْدَارُهُ لَا يَجُوزُ السَّلَمُ فِيهِ.

(١٠) وَيَجُوزُ بَيْعُ الْكَلْبِ وَالْفَهْدِ وَالسِّبَاعِ، وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ، وَلَا يَجُوزُ بَيْعُ دُودِ الْقَزِّ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعَ الْقَزِّ وَلَا النَّحْلِ إِلَّا مَعَ الْكُوَّارَاتِ.

(١١) وَأَهْلُ الذِّمَّةِ فِي الْبِيَاعَاتِ كَالْمُسْلِمِينَ إِلَّا فِي الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ خَاصَّةً، فَإِنَّ عَقْدَهُمْ عَلَى الْخِنْزِيرِ كَعَقْدِ الْمُسْلِمِ عَلَى الشَّاةِ، وَعَقْدَهُمْ عَلَى الْخَمْرِ كَعَقْدِ الْمُسْلِمِ عَلَى الْعَصِيرِ.

**ژباړه**

(١) د تول، پیمانې او گز وړ شیانو کې سلم جایز دی، په هغو عددي شیانو کې هم جایز دی چې اندازې یې سره ډېر توپیر ونه لري لکه چارمغز او هگۍ او هغه شیان چې په گز اندازه کېږي.

(٢) په څاروي او د هغه په غړو او پوستکي کې په شمېر سره سلم روا نه دی. همدا راز په خسو او وښو کې په گېډیو هم سلم روا نه دی.

(٣) سلم په دې شرط روا دی چې مسلم فیه به د سلم د عقد له مهاله د تسلیمېدو تر مهاله موندل کیږي.

(٤) سلم له نېټې پرته صحيح نه دی. له معلومې نېټې پرته هم صحیح نه دی. د ځانگړي سرې

په پيمانه او گز سلم صحيح نه دی، د ځانگړي کلي په خوړو، لکه غنم او د ځانگړې ونې په مېوو کې هم سلم روا نه دی.

(٥) د امام ابوحنيفه په آند د عقد پر مهال د لاندې اوو شرطونو له ذکر پرته سلم صحيح نه دی.

الف- د مسلم فيه جنس معلومول.

ب- د نوعې معلومول.

ج- د صفت معلومول.

د- د اندازې معلومول.

هـ- د سپارلو نېټه معلومول.

و- د راس المال د اندازې پېژندنه که چېرې بيعه د تول، پيمانې او شمېر وړ شيانو کې وه.

ز- د هغه ځای ټاکل چې مال به پکې اخيستونکي ته سپاري، په دې شرط چې د مال نقلول مزدور ته اړتيا ولري.

(٦) امام ابويوسف او امام محمد وايي: که راس المال معين و، نو زياتې پېژندنې ته يې اړتيا نشته، د سپارلو د ځای ټاکلو ته هم اړتيا نشته او مال به په همغه ځای کې اخيستونکي ته سپاري چې عقد شوی وي.

(٧) د سلم بيعه تر هغې صحيح نه ده چې پلورونکی له جلا کېدو وړاندې راس المال (ثمن) قبض نه کړي. په مسلم فيه او راس المال کې تر قبض وړاندې تصرف روا نه دی، همدا راز شرکت او د توليې بيعه په مسلم فيه کې له قبضه مخکې ناروا دي.

(٨) په جامو (ټوکر) کې هغه وخت سلم روا دی چې اوږدوالی، بر او نوعه يې وټاکل شي. په گاڼه او قيمتي کاڼو کې سلم روا نه دی. په پخو او خامو خښتو کې هغه مهال سلم جايز دی چې د خښتو قالب معلوم وي.

(٩) (لنډه دا چې) هر هغه شی چې صفت او اندازه يې معلومېدای شي سلم په کې روا او هغه چې صفت او اندازه يې معلومېدای نه شي، سلم په کې صحيح نه دی.

(١٠) د سپي، پړانگ او نورو څېرونکو ځناورو پلورل روا دي. د شرابو او خوگ پلورل ناروا دي. د وربښمو د چينجي پلورل له وربښمو پرته روا نه دي، همدا راز د شاتو د مچيو پلورل هم له چک (صندوق) پرته روا نه دي.

(۱۱) ذمیان له شرابو او خوږ پرته په نورو راکړو ورکړو کې د مسلمانانو په څېر دي. د ذمیانو له خوا د خوګ پلورل داسې مثال لري لکه مسلمان چې پسونه پلوري او د شرابو پلورل یې داسې دي لکه مسلمان چې د مېوو اوبه پلوري.

**شرحه:**

**د سلم تعریف:** سلم په لغت کې ورکړې، پرېښودلو او قرض ته وايي او د فقهې په اصطلاح کې په نغد ثمن باندې په نېټې سره د مال اخیستلو ته سلم وايي.

مسلم فیه: د سلم مبیعه.

مسلم الیه: پلورونکی.

مسلم یا رب السلم: اخیستونکی.

راس مال السلم: ثمن یا پیسې.

**د سلم مثال:** احمد توريالي ته پنځه سوه افغانۍ ورکړې چې تورياله به پوره درې میاشتې وروسته څلور منه اعلیٰ درجه للمي غنم په کابل کې احمد ته ورکوي او تورياله هم ومنله.

## سلم په کومو شیانو کې روا دی؟

سلم په هغو شیانو کې روا دی چې د صفت تعیین او د اندازې پېژندل یې ممکن وي، په دې بنسټ د تول، پیمانې او ګز ورو شیانو کې سلم روا دی لکه غنم، مالګه، ټوکر او داسې نور. همدا راز د شمار وړ هغو شیانو کې هم سلم روا دی چې اندازې یې سره ډېر توپیر ونه لري لکه هګۍ.

هغه شیان چې د صفت تعیین او د اندازې پېژندل یې ممکن نه وي، سلم پکې صحیح نه دی لکه څاروي، د څارویو پوستکي او نور ورته شیان. له یوې خوا که د څارویو او د څارویو د پوستکو د ځرنګوالي (صفت) ټاکل مخکې له مخکې ممکن نه دي، نو له بل پلوه دوی په اندازه کې هم سره ډېر توپیر لري چې په دې بنسټ په مبیعه کې جهالت راځي او د مجهول شي اخیستل روا نه دي.

**مسائل:** په اندازه کې د ډېر توپیر له امله د خسو او وښو په ګېډیو کې هم سلم روا نه دی.
سلم له نېټې پرته روا نه دی، ځکه سلم د تش لاسو خلکو د اړتیا لپاره روا شوی، همدا راز نېټه باید معلومه وي، څو د نېټې د نه معلومېدو له امله شخړه رامنځته نه شي.
د ټاکلي سړي په پیمانه او ګز ځکه سلم صحیح نه دی چې دا دواړه له منځه تلونکي دي او

د شخړې لامل کيږي. د ټاکلي ونې په مېوې او د ټاکلي، کلي په خوراکي شيانو کې هم په دې دليل سلم روا نه دی چې نوموړي شيان له منځه تلونکي دي او سپارل يې د مسلم اليه په توان کې نه دي.

## د سلم شرطونه:

د امام ابوحنيفه په نظر د دې لپاره چې د سلم له عقد څخه شخړه رامنځته نه شي، د سلم د جواز لپاره اووه شرطونه دي:

١ـ د مسلم فيه جنس بايد معلوم وي، مثلا غنم دي يا جوار.

٢ - نوعه يې بايد معلومه وي، مثلا للمي دی که آبي.

٣ـ صفت يې بايد معلوم چې ښه دي که ردي.

٤ـ اندازه يې معلومه وي چې څو منه او يا څو کيلو دي او داسې نور.

٥ـ د سپارلو نېټه يې معلومه لکه د (١٣٩٠) لمريز کال د سرطان لومړۍ نېټه.

٦ـ د راس المال (ثمن) د اندازې پېژندنه.

٧ـ د مسلم فيه د سپارلو ځای معلومول.

## په مسلم فيه کې له قبض وړاندې تصرف:

څرنګه چې مسلم فيه د مبيعې په څېر دی، له قبض وړاندې په کې تصرف کول روا نه دي، شرکت او توليه هم يو ډول تصرف دی، پر دې بنسټ په مسلم فيه کې له قبض وړاندې نوموړي عقدونه روا نه دي.

## په ګاڼه کې سلم:

په ګاڼه او قيمتي کاڼو کې ځکه سلم روا نه دی چې افراد يې سره ډېر توپير لري او د شخړې لامل کيږي.

## د پلورلو وړ شيان:

هر هغه شی چې مال وي او مشروعه ګټه ورڅخه اخيستل کيږي، پلورل يې روا دي. له سپي څخه د ښارنې کار اخيستل کيږي او د څيروونکو حيواناتو له پوستکو څخه ګټه اخيستل کيږي، خو د ورېښمو چينجي او د شاتو مچۍ په خپل ذات کې د ګټې اخيستلو وړتيا نه لري، نو له همدې کبله دوی د ورېښمو او صندوق په تبعيت پلورل کيږي او له هغوی پرته يې پلورل روا نه دي.

## فعالیت

د سلم لپاره دومره ګڼ شرطونه ولې ټاکل شوي؟
زده کوونکي دې په دې اړه پخپلو کې بحث وکړي.

## پوښتني

۱- سلم تعریف کړئ.
۲- مسلم فیه، مسلم الیه او رب السلم چا ته ویل کیږي؟
۳- سلم په کومو شیانو کې روا دی؟ په لنډ ډول یې وواياست.
٤- د امام ابوحنیفه په نظر د سلم شرطونه بیان کړئ.
٥- په قیمتي کاڼو کې ولې سلم روا نه دی؟

# د صرف بیعه

په راکړه ورکړه کې د پیسو بدلولو ته زیاته اړتیا پیښیږي. مثلاً که غواړو چې په کابل ښار کې شیان راونیسو او له موږ سره د افغانیو په ځای نورې پیسې وي، نو دې ته اړ کیږو چې لومړی هغه پیسې په افغانیو بدلې کړو او بیا شیان وپېرو. د پیسو په پیسو بدلولو ته د صرف بیعه ویل کیږي چې په دې لوست کې به یې احکام ولولو:

(١) الصَّرْفُ هُوَ الْبَيْعُ إِذَا كَانَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ عِوَضَيْهِ مِنْ جِنْسِ الْأَثْمَانِ فَإِنْ بَاعَ فِضَّةً بِفِضَّةٍ، أَوْ ذَهَبًا بِذَهَبٍ لَمْ يَجُزْ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَإِنْ اخْتَلَفَا فِي الْجَوْدَةِ وَالصِّيَاغَةِ.

(٢) وَلَا بُدَّ مِنْ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ قَبْلَ الِافْتِرَاقِ.

(٣) وَإِذَا بَاعَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ جَازَ التَّفَاضُلُ وَوَجَبَ التَّقَابُضُ وَحَرُمَ النَّسَأُ، وَإِنْ افْتَرَقَا فِي الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِ الْعِوَضَيْنِ أَوْ أَحَدِهِمَا بَطَلَ الْعَقْدُ.

(٤) وَلَا يَجُوزُ التَّصَرُّفُ فِي ثَمَنِ الصَّرْفِ قَبْلَ قَبْضِهِ.

(٥) وَيَجُوزُ بَيْعُ الذَّهَبِ بِالْفِضَّةِ مُجَازَفَةً.

(٦) وَمَنْ بَاعَ سَيْفًا مُحَلًّى بِمِائَةِ دِرْهَمٍ وَحِلْيَتُهُ خَمْسُونَ دِرْهَمًا فَدَفَعَ مِنْ ثَمَنِهِ خَمْسِينَ دِرْهَمًا جَازَ الْبَيْعُ وَكَانَ الْمَقْبُوضُ حِصَّةَ الْفِضَّةِ وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ ذَلِكَ. وَكَذَلِكَ إِنْ قَالَ: خُذْ هَذِهِ الْخَمْسِينَ مِنْ ثَمَنِهِمَا، فَإِنْ لَمْ يَتَقَابَضَا حَتَّى افْتَرَقَا بَطَلَ الْعَقْدُ فِي الْحِلْيَةِ وَالسَّيفِ إِنْ كَانَ لَا يَتَخَلَّصُ إِلَّا بِضَرَرٍ، وَإِنْ كَانَ يَتَخَلَّصُ بِغَيْرِ ضَرَرٍ جَازَ الْبَيْعُ فِي السَّيْفِ وَبَطَلَ فِي الْحِلْيَةِ.

(٧) وَمَنْ بَاعَ إِنَاءَ فِضَّةٍ، ثُمَّ افْتَرَقَا وَقَدْ قَبَضَ بَعْضَ ثَمَنِهِ بَطَلَ الْعَقْدُ فِيمَا لَمْ يَقْبِضْ وَصَحَّ فِيمَا قَبَضَ وَكَانَ الْإِنَاءُ شَرِكَةً بَيْنَهُمَا، وَإِنْ اُسْتُحِقَّ بَعْضُ الْإِنَاءِ كَانَ الْمُشْتَرِي بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَخَذَ الْبَاقِيَ بِحِصَّتِهِ مِنَ الثَّمَنِ، وَإِنْ شَاءَ رَدَّهُ. وَمَنْ بَاعَ قِطْعَةَ فِضَّةٍ فَاسْتُحِقَّ بَعْضُهَا

أَخذَ ما بَقِيَ بِحِصَّتِهِ وَلَا خِيَارَ لَهُ.

(٨) وَمَنْ بَاعَ دِرْهَمَيْنِ وَدِينَارًا بِدِينَارَيْنِ وَدِرْهَمٍ جَازَ الْبَيْعُ وَجُعِلَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْ الْجِنْسَيْنِ بَدَلاً مِنَ الجِنْسِ الْآخرِ. وَمَنْ بَاعَ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ وَدِينَارٍ جَازَ الْبَيْعُ وَكَانَتْ الْعَشَرَةُ بِمِثْلِهَا وَالدِّينَارُ بِالدِّرْهَمِ.

(٩) وَيَجُوزُ بَيْعُ دِرْهَمَيْنِ صَحِيحَيْنِ وَدِرْهَمٍ غَلَّةٍ بِدِرْهَمٍ صَحِيحٍ وَدِرْهَمَيْنِ غَلَّةٍ.

(١٠) وَإِذَا كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّرَاهِمَ الْفِضَّةَ فَهِيَ فِضَّةٌ، وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَى الدَّنَانِيرِ الذَّهَبُ فَهِيَ فِي حُكْمِ الذَّهَبِ، وَيُعْتَبَرُ فِيهِمَا مِنْ تَحْرِيمِ التَّفَاضُلِ مَا يُعْتَبَرُ فِي الجِيَادِ، وَإِنْ كَانَ الْغَالِبُ عَلَيْهِمَا الْغِشَّ فَلَيْسَا فِي حُكْمِ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَكَانَا فِي حُكْمِ الْعُرُوضِ، فَإِذَا بِيعَتْ بِجِنْسِهَا مُتَفَاضِلًا جَازَ.

(١١) وَإِذَا اشْتَرَى بِهَا سِلْعَةً ثُمَّ كَسَدَتْ وَتَرَكَ النَّاسُ الْمُعَامَلَةَ بِهَا قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَهَا إِلَى الْبَائِعِ بَطَلَ الْبَيْعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: عَلَيْهِ قِيمَتُهَا يَوْمَ الْبَيْعِ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: عَلَيْهِ قِيمَتُها آخرَ ما تعامَلَ النَّاسُ بها.

(١٢) وَيَجُوزُ الْبَيْعُ بِالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ وَإِنْ لَمْ تُعَيَّنْ وَإِنْ كَانَتْ كَاسِدَةً لَمْ يَجُزْ الْبَيْعُ بِهَا حَتَّى يُعَيِّنَهَا، وَإِذَا بَاعَ بِالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ ثُمَّ كَسَدَتْ قَبْلَ الْقَبْضِ بَطَلَ الْبَيْعُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(١٣) وَمَنْ اشْتَرَى شَيْئًا بِنِصْفِ دِرْهَمٍ فُلُوسًا جَازَ الْبَيْعُ وَعَلَيْهِ مَا يُبَاعُ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ مِنْ الْفُلُوسِ.

(١٤) وَمَنْ أَعْطَى الصَّيْرَفِيَّ دِرْهَمًا فَقَالَ أَعْطِنِي بِنِصْفِهِ فُلُوسًا وَبِنِصْفِهِ نِصْفًا إِلَّا حَبَّةً، فَسَدَ الْبَيْعُ فِي الْجَمِيعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أبويوسف ومحمد: جَازَ الْبَيْعُ فِي الْفُلُوسِ وَبَطَلَ فِيمَا بَقِيَ، وَلَوْ قَالَ: أَعْطِنِي نِصْفَ دِرْهَمٍ فُلُوسًا وَنِصْفًا إِلَّا حَبَّةً جَازَ الْبَيْعُ، وَلَوْ قَالَ: أَعْطِنِي دِرْهَما صَغِيرًا وَزْنُهُ نِصْفُ دِرْهَمٍ إِلَّا حَبَّةً وَالْبَاقِي فُلُوسًا، جَازَ الْبَيْعُ وَكَانَ النِّصْفُ إِلَّا حَبَّةً بِإِزَاءِ الدِّرْهَمِ الصَّغِيرِ وَالْبَاقِي بِإِزَاءِ الْفُلُوسِ.

**ژباړه**

(١) صرف هغې بيعې ته وايي چې دواړه عوضونه يې ثمن وي. كه چا سپين زر په سپينو زرو

يا سره زر په سرو زرو وپلورل، بيعه نه صحيح کيږي مګر دا چې لاس په لاس او مساوي وي. که څه هم زر په ښه والي او جوړښت کې سره توپير ولري.

(٢) (په دې بيعه کې) بايد عوضونه له جلا کېدو وړاندې يو له بل څخه قبض کړي.

(٣) که سره زر په سپينو زرو وپلوري، نو زياتوالى روا، قبض واجب او نسيه (نېټه کېښودل) ناروا دي (يعني دا بيعه به لاس په لاس وي). که (عاقدين) د صرف په بيعه کې د عوضينو يا يو عوض له قبض څخه مخکې سره جلا شول نو بيعه باطله ده.

(٤) له قبض څخه وړاندې د صرف په ثمن کې تصرف کول جايز نه دي.

(٥) په اټکلي ډول د سرو زرو په سپينو زرو پلورل روا دي.

(٦) که چا داسې زرينه توره په سل درهمه وپلورله چې زر يې پنځوس درهمه وو او اخيستونکي له ټول قيمت څخه پنځوس درهمه ورکړل (او پاتې نور يې پور وګرځول)، بيعه صحيح ده او قبض شوى قيمت د زرو په مقابل کې ګرځي که څه هم هغه دا روښانه نه کړي او يا داسې ووايي: د دواړو له قيمت څخه دا پنځوس درواخله. که (اخيستونکي او پلورونکي ثمن او توره) يو بل ته ونه سپارل او سره جلا شول، نو که توره له زرو څخه له زيان پرته جلا کېداى شوه، بيعه په توره کې صحيح او په زرو کې باطله ده، خو که (زر له تورې څخه) له زيان پرته نه جلا کېدل، بيعه په توره او زرو دواړو کې باطله ده.

(٧) که چا د سپينو زرو لوښى وپلوره او له جلا کېدو وړاندې يې د ثمن ځينې برخه قبض کړه، بيعه په هماغه اندازه کې صحيح ده چې ثمن يې قبض شوى او په پاتې برخه کې باطله ده، په دې حالت کې به لوښى د دواړو تر منځ شريک وي، که د همدې لوښي ځينې برخې د بل چا حق وګرځي، اخيستونکى اختيار لري چې پاتې برخې په خپله برخه ثمن اخلي او که بيعه ردوي. که چا د (خامو) سپينو زرو ټوټه واخيسته، خو د هغې په ځينو برخو کې بل حقدار پيدا شو نو پاتې برخه به اخلي او د ردولو اختيار نه لري.

(٨) که چا دوه درهمه او يو دينار په دوو دينارو او يو درهم وپلورل، بيعه روا ده او هر جنس به د مخالف جنس په مقابل کې واقع کيږي. که چا يوولس درهمه په لسو درهمو او يو دينار وپلورل بيعه صحيح ده، لس درهمه به د لسو درهمو په مقابل کې وي او يو درهم به د دينار په مقابل کې.

(٩) د دوو سمو درهمو او يو ناکاره درهم پلورل په يو سم درهم او دوو ناکارو درهمو سره روا دي.

(۱۰) که په درهمو کې سپین زر زيات وو د سپينو زرو په حکم کې دي، همدا راز که په دينارو کې سره زر ډېر وو، د سرو زرو په حکم کې دي او د سوچه زرو په څېر د بيعې پر مهال زياتوالی پکې روا نه دی. که په درهمو او ديناروکې ګډوالی زيات و، د درهمو او دينارو په حکم کې نه دي بلکې دا دواړه د تجارتي توکو په حکم کې دي او پخپل جنس باندې يې له زياتوالي سره پلورل روا دي.

(۱۱) که په پورتنيو (ګډو شوو) پيسو باندې (په نېټه) مال واخلي او بايع ته له تسليمولو مخکې هغه پيسې کوټه او له راکړې ورکړې وغورځېدې، د امام ابوحنيفه په آند بيعه باطلېږي، خو امام ابويوسف وايي چې د بيعې د ورځې قيمت پرې لازميږي او امام محمد وايي: د کوټه پيسو د راکړې ورکړې د وروستيو ورځو د ارزښت په اندازه بدل به ورکوي.

(۱۲) د چلن وړ پيسو باندې بيعه روا ده که څه هم ځانګړې پيسې ونه ټاکل شي، که پيسې له چلن څخه غورځېدلې وې، تر هغې پرې راکړه ورکړه صحيح نه ده چې ځانګړې پيسې ونه ټاکل شي. که د چلن وړ پر پيسو يې بيعه وکړه او له سپارلو وړاندې هغه کوټه شوې، د امام ابوحنيفه په نظر بيعه باطله ده.

(۱۳) که چا مال په داسې پيسو واخيست چې ارزښت يې له نيم درهم سره برابر و، بيعه صحيح ده او د نيم درهم په اندازه مال به ورکوي.

(۱٤) که څوک صراف ته يو درهم ورکړي او ورته ووايي: د نيم درهم پيسې راکړه او په نيم درهم حبه کم نيم درهم راکړه، نو بيعه په ټولو کې فاسده ده. امام ابويوسف او امام محمد وايي: په پيسو کې بيعه صحيح او په پاتې کې باطله ده، او که داسې ووايي: د نيم درهم پيسې او حبه کم نيم درهم راکړه نو بيعه روا ده. که ورته ووايي: داسې وړوکی درهم راکړه چې وزن يې دانه کم نيم درهم وي او پاتې پيسې راکړه، نو دا بيعه هم صحيح ده، حبه کم درهم به د وړوکي درهم په مقابل کې شي او پاتې به د پيسو په مقابل کې شي.

## شرحه

**د صرف بيعې تعريف**: د صرف بيعه لکه چې په متن کې تعريف شوې، دې ته وايي چې د بيعې دواړه عوضونه ثمن وي. د زيات وضاحت لپاره بايد وويل شي چې د نغدو په نغدو باندې پلورل د صرف بيعه بلل کېږي، لکه سره زر په سرو زرو، سپين زر په سپينو زرو او يا يو په بل سره، همدا رنګه بانک نوټونه يا فلزي روپۍ لکه افغانۍ په افغانيو يا افغانۍ په کلدارو پلورل.

**د صرف بیعې شرط**: د صرف د بیعې شرط دا دی چې دواړه عوضونه به پیسې وي او پیسې له سرو زرو، سپینو زرو او نورو هغو شیانو څخه عبارت دی چې د دوی په ځای کارول کیږي لکه کاغذي نوټونه او فلزي سکې.

**په صرف بیعه کې زیاتوالی او نسیه**:

که د صرف په بیعه کې د دواړو لورو پیسې له یوه جنس څخه وي، یعنې دواړو لورو ته سره زر یا سپین زر وو، نو زیاتوالی او نسیه دواړه ناروا دي. که دواړه عوضونه له یوه جنس څخه نه وو، زیاتوالی روا او نسیه ناروا ده. د بېلګې په ډول پلورونکی سره زر او اخیستونکی سپین زر یا کاغذي پیسې ورکړي.

**د ثمن قبضول**:

د صرف بیعه به په هر حالت کې لاس په لاس وي، که ثمن او مبیعه د بیعې په مجلس کې قبض نه شي، نو ملکیت نه ثابتیږي، له همدې امله له قبض وړاندې په ثمن کې تصرف روا نه دی.

**مسئله**:

که څوک د سپینو زرو لوښی وپلوري او ځینې ثمن قبض کړي او ځینې پاتې شي، بیا دواړه سره جلا شي لوښی د دواړو تر منځ شریک دی، خو که بائع نوموړی لوښی وپلوري او وروسته په استحقاق یوړل شي، مشتري یې د ردولو اختیار لري، ځکه شرکت په مال کې عیب ګڼل کیږي، په لومړي صورت کې اخیستونکي ځکه اختیار نه درلود چې د عیب (شرکت) لامل اخیستونکی و خو د استحقاق په صورت کې د عیب (شرکت) لامل اخیستونکی نه دی، نو ځکه د ردولو اختیار لري.

که څوک د سپینو زرو ټوټې واخلي او وروسته د نوموړو ټوټو ځینې برخې په استحقاق یووړل شي، څرنګه چې ټوټې په جلا کولو سره نه زیانمنې کیږي، اخیستونکی د پاتې برخې د ردولو خیار نه لري.

**په زرو کې ګډ شیان**:

که په زرو کې نور شیان ګډ شوي وو، خو د زرو اندازه غالبه وه نو د زرو په حکم کې راځي.

که چیرې د زرو اندازه کمه او د ګډو شوو شیانو اندازه زیاته وه، نو دا ډول شیان د زرو په حکم کې نه راځي او پلورل یې د صرف بیعه نه ګڼل کیږي.

که بیعه داسې وي چې له یوه لوري فاسده او له بل لوري صحیحه وي، نو د صحت لوری معتبر

ګڼل کیږي. په همدې بنسټ که چا دوه درهمه او یو دینار په دوو دینارو او یو درهم وپلورل، بیعه روا ده او هر جنس به د مخالف جنس په مقابل کې واقع کیږي.

**د پیسو عین ټاکل**: په مروجو پیسو باندې په راکړه ورکړه کې کومې بعینه پیسې ټاکل ضروري نه دي، بلکې د پیسو اندازه او جنس ټاکل ضروري دي. که پیسې له رواجه وغورځیږي او د سامان (سوداګریزو توکو) حیثیت غوره کړي، په دې صورت کې د بیعې پر مهال د بعینه پیسو ټاکل ضروري دي.

## پوښتنې

١- د صرف بیعه تعریف کړئ.
٢- د صرف په بیعه کې زیاتوالی څه وخت روا دی؟
٣- په زرو کې د ګډو شیانو حکم ووایاست.
٤- آیا د صرف په بیعه کې د معینو پیسو تعینول ضروري دي؟

# ګروي (۱)

د پور د خونديتوب لپاره کولای شو چې د پورورړي څخه کوم شی د ګرو په توګه واخلو. دې ډول راکړې ورکړې ته (رهن) ویل کیږي. په دې لوست کې به د رهن (ګروی) د احکامو په اړه خبرې وکړو:

(١) الرَّهْنُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ وَيَتِمُّ بِالْقَبْضِ، فَإِذَا قَبَضَ الْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ مَحُوْزًا مُفْرَغًا مُمَيَّزًا تَمَّ الْعَقْدُ فِيهِ، وَمَا لَمْ يَقْبِضْهُ فَالرَّاهِنُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ سَلَّمَهُ، وَإِنْ شَاءَ رَجَعَ عَنْ الرَّهْنِ، فَإِذَا سَلَّمَهُ إِلَيْهِ وَقَبَضَهُ دَخَلَ فِي ضَمَانِهِ.

(٢) وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ إِلَّا بِدَيْنٍ مَضْمُونٍ، وَهُوَ مَضْمُونٌ بِالْأَقَلِّ مِنْ قِيمَتِهِ وَمِنْ الدَّيْنِ، فَإِذَا هَلَكَ فِي يَدِ الْمُرْتَهِنِ وَقِيمَته وَالدَّيْنُ سَوَاءٌ صَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيًا لِدَيْنِهِ حُكْمًا، وَإِنْ كَانَتْ قِيمَةُ الرَّهْنِ أَكْثَرَ مِنْ الدَّيْنِ فَالْفَاضِلُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ، وَإِنْ كَانَتْ أَقَلَّ سَقَطَ مِنْ الدَّيْنِ بِقَدْرِهَا وَرَجَعَ الْمُرْتَهِنُ بِالْفَضْلِ.

(٣) وَلَا يَجُوزُ رَهْنُ الْمُشَاعِ وَلَا رَهْنُ ثَمَرَةٍ عَلَى رُءُوسِ النَّخْلِ دُونَ النَّخْلِ، وَلَا زَرْعٍ فِي الْأَرْضِ دُونَ الْأَرْضِ وَلَا يَجُوزُ رَهْنُ الْأَرْضِ دُونَهُمَا.

(٤) وَلَا يَصِحُّ الرَّهْنُ بِالْأَمَانَاتِ كَالْوَدَائِعِ وَالْمُضَارَبَاتِ وَمَالِ الشَّرِكَةِ.

(٥) وَيَصِحُّ الرَّهْنُ بِرَأْسِ مَالِ السَّلَمِ وَثَمَنِ الصَّرْفِ وَالْمُسْلَمِ فِيهِ، فَإِنْ هَلَكَ فِي مَجْلِسِ الْعَقْدِ تَمَّ الصَّرْفُ وَالسَّلَمُ وَصَارَ الْمُرْتَهِنُ مُسْتَوْفِيا لِدَيْنِهِ.

(٦) وَإِذَا اتَّفَقَا عَلَى وَضْعِ الرَّهْنِ عَلَى يَدَيْ عَدْلٍ جَازَ وَلَيْسَ لِلْمُرْتَهِنِ وَلَا لِلرَّاهِنِ أَخْذُهُ مِنْ يَدِهِ، فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِهِ، هَلَكَ مِنْ ضَمَانِ الْمُرْتَهِنِ.

(٧) وَيَجُوزُ رَهْنُ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ، وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ، فَإِنْ رُهِنَتْ بِجِنْسِهَا وَهَلَكَتْ، هَلَكَتْ بِمِثْلِهَا مِنَ الدَّيْنِ وَإِنِ اخْتَلَفَا فِي الْجَوْدَةِ وَالصِّيَاغَةِ.

(٨) وَمَنْ كَانَ لَهُ دَيْنٌ عَلَى غَيْرِهِ فَأَخَذَ مِنْهُ مِثْلَ دَيْنِهِ فَأَنْفَقَهُ، ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ كَانَ زُيُوفًا فَلَا شَيْءَ لَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَرُدُّ مِثْلَ الزُّيُوفِ وَيَرْجِعُ بِالْجِيَادِ.

(٩) وَمَنْ رَهَنَ عَبْدَيْنِ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ فَقَضَى حِصَّةَ أَحَدِهِمَا لَمْ يَكُنْ لَهُ أَنْ يَقْبِضَهُ حَتَّى يُؤَدِّيَ بَاقِيَ الدَّيْنِ.

**ژباړه**

(١) گروي په ايجاب او قبول سره منځته راځي او (د گرو شوي شي) په قبض کولو سره بشپړېږي، کله چې گرو اخيستونکی محوز (د راهن په حق کې مشغول نه وي) مفرغ (تقسيم شوی مال) مميز (له نورو مالونو سره متصل نه وي) مال قبض کړ، گروي بشپړه شوه. تر څو چې گرو اخيستونکي گرو شی نه وي قبض کړي، گرو ورکوونکی اختيار لري، که يې خوښه شوه تسليم به يې کړي او که يې خوښه شوه له گروی به وگرځي. کله يې چې گروي هغه ته تسليم کړه او گرو اخيستونکي قبض کړه، په ضمانت کې يې داخله شوه.

(٢) گروي يوازې په هغو پورونو کې صحيح ده چې مضمون (اداکول يې لازم) وي. گرو شوی مال د پور او قيمت -هر يو چې کم و- په مقابل کې مضمون دی. که گرو شوی مال د گرو اخيستونکي په لاس کې هلاک شي او د پور او گرو شوي مال قيمت سره برابر وي، نو د گرو اخيستونکي پور حکماً ادا شوی گڼل کيږي، خو که د گرو شوي مال قيمت له پور څخه زيات و، نو زياتوالی د گرو اخيستونکي په لاس کې د امانت حکم لري. که د گرو شوي مال قيمت له پور څخه کم و، نو د گرو اخيستونکي پور د هغه د قيمت په اندازه کميږي او پاتې پور به له گرو ورکوونکي څخه اخلي.

(٣) د مشاع (په نورو مالونو کې تيت او پراگنده) مال گرو کول روا نه دي، همدا راز له ونو پرته په ونو کې موجودې ميوې گرو کول، له ځمکې پرته کښت گرو کول او له کښت او ميوې پرته ځمکه او ونې گرو کول روا نه دي.

(٤) په امانتي مالونو کې گرو صحيح نه دی، لکه د چا سره د ساتلو په موخه ايښودل شوی مال يا د مضاربت او شرکت مال.

(٥) د سلم په راس المال، د صرف په ثمن او په مسلم فيه گروي صحيح ده. که (نوموړي شيان) د (گروی) د عقد په مجلس کې هلاک شي، د صرف او سلم عقد بشپړيږي او مرتهن د خپل حق اخيستونکی گڼل کيږي.

(٦) د (گرو اخيستونکي او گرو ورکوونکي) د رضايت په صورت کې روا ده چې گروي د

درېیم عادل شخص سره کېښودل شي، خو یو لوری یې هم د بل له اجازې پرته ورڅخه نه شي اخیستلای. که مرهونه د درېیم شخص په لاس کې هلاکه شي، د ګرو اخیستونکي مال له منځه ولاړ.

(۷) د درهمو، دینارو او د تول او پیمانې وړ شیانو ګرو کول روا دي، که د خپل جنس په مقابل کې ګرو وي او هلاک شي، د هلاک شوي مال په اندازه پور له منځه ځي. که څه هم دواړه جنسونه په ښه والي او جوړښت کې سره توپیر ولري.

(۸) که څوك پر چا پور ولري، د پور په اندازه پیسې ورڅخه واخلي او مصرف یې کړي خو وروسته ورته معلومه شي چې مصرف شوې پیسې کوټه (ناچلې) وې. د امام ابوحنیفه په نزد د هیڅ شي د غوښتلو حق نه لري خو امام ابویوسف او امام محمد وایي: ناچلې پیسې به ورسپاري او روغې به ورڅخه اخلي.

(۹) چا چې دوه مریان په زرو روپیو کې ګرو کړل، بیا یې د یوه مریي په اندازه پور وسپاره، تر څو یې چې پاتې پور نه وي سپارلی، د مریي د اخیستلو حق نه لري.

**شرحه**

**د رهن تعریف**: رهن په لغت کې بندولو ته وایي او په اصطلاح کې د پور په مقابل کې د داسې شیانو ایسارولو ته وایي چې پور ترې پوره کېدای شي.

**د رهن مشروعیت**: د رهن د مشروعیت دلیل د الله پاك دا قول دی چې فرمایي: ﴿وَإِن كُنتُمْ عَلَى سَفَرٍ وَلَمْ تَجِدُواْ كَاتِبًا فَرِهَانٌ مقبوضَةٌ﴾ (البقرة: ۲۸۳) ژباړه: که تاسې د سفر په حال کې یئ او (د سند لیکلو له پاره) موکوم لیکونکی پیدا نکړ، نو د شیانو په ګرو اخیستلو معامله وکړئ.)

د بخاري په روایت د عائشې (رضي الله عنها) په حدیث کې داسې راغلي: اشْتَرَى رَسُولُ اللهِ (صلى الله علیه وسلم) مِنْ يَهُودِيٍّ طَعَامًا وَرَهَنَهُ دِرْعَهُ. ژباړه: پیغمبر (علیه السلام) له یو یهودي څخه خوراکي توکي (په پور) واخیستل او خپله زغره یې د هغه سره ګرو کړه.

**راهن**: ګروي ورکوونکي او مرتهن ګروي اخیستونکي ته ویل کیږي. ګرو شوی مال د رهن او مرهونې په نامه یادیږي.

**ګرو مال به څنګه وي**؟ د راهن هغه مالونه چې په ګروی کې ورکول کیږي، باید لاندې شرطونه ولري:

**مفرغ به وي**: ګرو کېدونکی مال به د راهن په حق کې مشغول نه وي، د بېلګې په ډول د داسې کور ګرو کول چې په هغې کې د راهن سامان وي روا نه دی.

**محوز به وي**: يعني داسې مال چې جلا شوی او وېشل شوی وي، په دې بنسټ د مشاع مال گرو کول روا نه دي.
**مميز به وي**: مقصد دا دی چې د گروۍ مال به خلقتاً د بل شي سره متصل نه وي، لکه د مېوې گروي په ونو کې، نو دا هم لکه د شايع په شان شوه او گرو کول يې ناروا دي. له دې امله که ځوك په مريي کې له بل چا سره نيم په نيمه شريك وي ، نه شي کولای چې خپله برخه مريی په گرو ورکړي. د گروۍ د مال لپاره پورتني شرطونه ځکه ضروري دي چې د دغو شرطونو له پوره کېدو پرته مرتهن نه شي کولای رهن قبض کړي.
د گرو مال له قبض کولو وړاندې د گروۍ عقد نه بشپړېږي او دواړه لوري کولای شي چې د عقد له ترلو څخه تېر شي. کله چې مرتهن گروي قبض کړي، د قبض شوي مال ضامن گرځي.
**د گروۍ د ضمانت اندازه**: که خالد فريد ته سل افغانۍ پور ورکړي او فريد د پور په مقابل کې له خالد سره يو ساعت د گرو په توگه کېږدي، وروسته نوموړی ساعت د خالد سره له منځه ولاړ شي، په دې صورت کې که د ساعت قيمت سل افغانۍ وي نو د خالد پور ادا شوی گڼل کېږي، که د ساعت قيمت اتيا افغانۍ وي د خالد له پور څخه اتيا افغانۍ ادا شوې گڼل کېږي او شل افغانۍ پور يې په فريد پاتې دي. خو که د ساعت قيمت يوسلوشل افغانۍ وي نو د خالد پور ادا شوی گڼل کېږي او شل افغانۍ د خالد سره د امانت په توگه دي او په امانت کې چې هلاك شي ضمان نشته.

## فعاليت

زده کوونکي دې د گروۍ په عقد کې د راهن او مرتهن لپاره په شتو گټو وغږېږي.

## پوښتنې

١- رهن تعريف کړئ.
٢- د مرهونې شرطونه روښانه کړئ.
٣- که مرهونه د مرتهن په لاس کې هلاکه شي څه حکم لري؟ تفصيلي ځواب ووایاست.
٤- مشاع مال د يوه مثال په ترڅ کې روښانه کړئ.

## ګروي (۲)

په تېر لوست کې مو د ګروي په اړه یو لړ احکام ولوستل، دغه لوست مو هم د ګروي پر موضوع راڅرخي او د همدې موضوع په یو شمېر نورو مسئلو به ځانونه پوه کړو.

(١) وَإذَا وَكَّلَ الرَّاهِنُ الْمُرْتَهِنَ أَوْ الْعَدْلَ أَوْ غَيْرَهُمَا بِبَيْعِ الرَّهْنِ عِنْدَ حُلُولِ الْأَجَلِ فَالْوَكَالَةُ جَائِزَةٌ، فَإِنْ شَرَطَ الْوَكَالَةَ فِي عَقْدِ الرَّهْنِ فَلَيْسَ لِلرَّاهِنِ عَزْلُهُ عَنْهَا فَإِنْ عَزَلَهُ لَمْ يَنْعَزِلْ وَإِنْ مَاتَ الرَّاهِنُ لَمْ يَنْعَزِلْ أَيْضاً.

(٢) وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يُطَالِبَ الرَّاهِنَ بِدَيْنِهِ وَيَحْبِسَهُ بِهِ، وَإِنْ كَانَ الرَّهْنُ فِي يَدِهِ فَلَيْسَ عَلَيْهِ أَنْ يُمَكِّنَهُ مِنْ بَيْعِهِ حَتَّى يَقْضِيَهُ الدَّيْنَ مِنْ ثَمَنِهِ فَإِذَا قَضَاهُ الدَّيْنَ قِيلَ لَهُ سَلِّمْ الرَّهْنَ إلَيْهِ.

(٣) وَإِذَا بَاعَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ بِغَيْرِ إذْنِ الْمُرْتَهِنِ فَالْبَيْعُ مَوْقُوفٌ، فَإِنْ أَجَازَهُ الْمُرْتَهِنُ جَازَ وَإِنْ قَضَاهُ الرَّاهِنُ دَيْنَهُ جَازَ الْبَيْعُ.

(٤) وَإِنْ أَعْتَقَ الرَّاهِنُ عَبْدَ الرَّهْنِ بِغَيْرِ إذْنِ الْمُرْتَهِنِ نَفَذَ عِتْقُهُ، فَإِنْ كَانَ الدَّيْنُ حَالًّا طُولِبَ بِأَدَاءِ الدَّيْنِ وَإِنْ كَانَ مُؤَجَّلًا أُخِذَ مِنْهُ قِيمَةُ الْعَبْدِ فَجُعِلَتْ رَهْنًا مَكَانَهُ حَتَّى يَحِلَّ الدَّيْنُ، وَإِنْ كَانَ الرَّاهِنُ مُعْسِرًا سَعَى الْعَبْدُ فِي قِيمَتِهِ فَقَضَى بِهَا دَيْنَهُ، وَكَذَلِكَ إذَا اسْتَهْلَكَ الرَّاهِنُ الرَّهْنَ، وَإِنْ اسْتَهْلَكَهُ أَجْنَبِيٌّ فَالْمُرْتَهِنُ هُوَ الْخَصْمُ فِي تَضْمِينِهِ وَيَأْخُذُ الْقِيمَةَ فَتَكُونُ رَهْنًا فِي يَدِهِ.

(٥) وَجِنَايَةُ الرَّاهِنِ عَلَى الرَّهْنِ مَضْمُونَةٌ وَجِنَايَةُ الْمُرْتَهِنِ عَلَيْهِ تُسْقِطُ مِنْ دَيْنِهِ بِقَدْرِهَا وَجِنَايَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ، وَالْمُرْتَهِنِ وَعَلَى أَمْوَالِهِمَا هَدَرٌ.

(٦) وَأُجْرَةُ الْبَيْتِ الَّذِي يُحْفَظُ فِيهِ الرَّهْنُ عَلَى الْمُرْتَهِنِ، وَأُجْرَةُ الرَّاعِي وَنَفَقَةُ الرَّهْنِ عَلَى الرَّاهِنِ، وَنَمَاؤُهُ لِلرَّاهِنِ فَيَكُونُ رَهْنًا مَعَ الْأَصْلِ، فَإِنْ هَلَكَ هَلَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ، وَإِنْ

هَلَكَ الْأَصْلُ وَبَقِيَ النَّمَاءُ افْتَكَّهُ الرَّاهِنُ بِحِصَّتِهِ وَيُقْسَمُ الدَّيْنُ عَلَى قِيمَةِ الرَّهْنِ يَوْمَ الْقَبْضِ وَقِيمَةِ النَّمَاءِ يَوْمَ الْفِكَاكِ، فَمَا أَصَابَ الْأَصْلَ سَقَطَ مِنْ الدَّيْنِ وَمَا أَصَابَ النَّمَاءَ افْتَكَّهُ الرَّاهِنُ بِهِ.

**ژباړه**

(١) کله چې د پور د نېټې د پوره کېدو پر مهال راهن، مرتهن يا درېمګړی د رهن په پلورلو وکيل کړي، نو وکالت صحيح دی. که مرتهن د عقد په مهال وکالت شرط کړ نو راهن د وکالت څخه د هغه د لرې کولو حق نه لري، که يې ګوښه هم کړي نه ګوښه کيږي. همدا راز د راهن په مړينه هم نه عزل کيږي.

(٢) مرتهن حق لري چې له راهن څخه خپل پور وغواړي او (د نه ورکولو په صورت کې يې په قاضي) بندي کړي. که مرهونه د مرتهن په لاس کې وي، په مرتهن لازمه نه ده چې راهن ته د ګروی د پلورلو واک ورکړي، څو هغه ته د رهن له ثمن څخه پور ورکړي. کله چې راهن پور ادا کړي نو مرتهن ته به ووېل شي: ګروي ورسپاره!

(٣) که راهن د مرتهن له اجازې پرته مرهونه وپلوري نو بيعه موقوفه ده. که مرتهن اجازه وکړه بيعه صحيح ده. که راهن پور تسليم کړ هم بيعه جايزه ده.

(٤) که راهن د مرتهن له اجازې پرته ګرو شوی مريی ازاد کړي، نو ازادي يې نافذه ده، که د پور نېټه پوره وه، له راهن څخه به د پور سپارلو غوښتنه وکړي او که د پور نېټه لا نه وه پوره، نو له راهن څخه به د پلورل شوي مريي قيمت د پور د نېټې تر پوره کېدو پورې د رهن په توګه واخلي، څو که راهن تنګ لاسی و نو مريی به د خپل قيمت د ګټلو لپاره په کار وګمارل شي تر څو د مرتهن پور ادا کړي. که راهن ګروي قصدا هلاکه کړي نو هم (پورتنی حکم لري)، څو که بل څوک ګروي له منځه يوسي نو مرتهن به يې په ضامن ګرځولو کې خصم وي، قيمت به يې (له هلاکوونکي څخه) اخلي او د رهن په توګه به ورسره وي.

(٥) که راهن د ګروی مال ته زيان ورسوي نو ضامن ګڼل کيږي څو که مرتهن ګروی ته زيان ورسوي نو د زيان په اندازه يې له پور څخه کميږي. که د ګروی مال راهن، مرتهن يا د هغوی مال ته زيان ورسوي نو تاوان يې په هيڅا نشته.

(٦) د هغه کور کرايه چې ګروي پکې ساتل کيږي، د مرتهن په غاړه ده څو د شپانه مزدوري او د مرهونې نفقه په راهن ده. د ګروی د مال زياتېدنه د راهن ده او د اصل سره به د رهن په توګه

مل وي، که له منځه لاړه شي، نو تاوان نه لري. که اصل له منځه لاړ او نماء پاتې شوه، راهن به نماء په هومره پیسو راخلاصوي چې څومره ده ته رسیږي، نو د دې لپاره به داسې وکړې چې دین به د اصل رهن او نماء په قیمت وویشل شي، اصل ته به هغه قیمت ورکړل شي، کوم چې ده د قبض په ورځ درلود او نماء به د خلاصون د ورځې په قیمت حساب شي، څومره چې اصل ته ورسېده هغه به د مرتهن له دین څخه کم او څومره چې نماء ته ورسېد، هغه به راهن مرتهن ته وسپاري او نماء به ترې خلاصه کړي.

**شرحه**

**د ګرو شوي مال خرڅلاو**: ګرو ورکوونکی کولای شي چې ګرو اخیستونکی یا دریمګړی د ګرو مال د خرڅ لپاره وکیل وګرځوي. که ګرو اخیستونکی د ځان لپاره وکالت شرط کړي، نو بیا یې راهن له دغه وکالت څخه د عزل حق نه لري او نه هم د راهن په مړینه معزولیږي.

ګرو اخیستونکی د پور نه سپارلو په صورت کې د ګروی د ایسارولو حق لري، ځکه چې پور یې نه دی تسلیم کړی، خو راهن د مال په پلورلو نه شي مجبورولای. همدا راز د ګرو اخیستونکي له اجازې پرته راهن خپل مال نه شي پلورلای، ځکه د ګرو اخیستونکي له اجازې پرته یې مشتري ته تسلیمول ممکن نه دي.

**د ګروی د مال هلاکت**: که راهن ګروي هلاکه کړي، د مرتهن په وړاندې ضامن دی، مرتهن ورڅخه د بلې ګروی د غوښتلو حق لري.

که مرتهن ګروي هلاکه کړي، ضامن یې ګڼل کیږي، ځکه پردی مال یې هلاک کړی دی.

که ګروي د راهن یا مرتهن پر مال یا پر هغوی داسې جنایت (تیری) وکړ چې مال یې لازمولو، د بېلګې په ډول ګرو شوی اوښ په راهن، مرتهن یا د هغوی په مال تیری وکړ او هغه یې داسې زیانمن کړ چې په مقابل کې یې د مال ورکول لازم وو، په دې صورتونو کې دا جنایت هېڅ تاوان نه لري.

**د ګرو مال ساتنه**: د ګرو شوي مال لپاره ځای برابرول او ساتنه یې کول د ګرواخیستونکي پر غاړه دي، ځکه چې دا دواړه د ګرواخیستونکي اړتیا ده، خو د ګرو شوي مال خوراک او تغذیه په ګرو ورکوونکي ده، ځکه چې دا د راهن ملکیت دی او کوم زیاتوالی چې پکې راځي هم په ده پورې اړه نیسي.

**په ګرو شوي مال کې زیاتوالی راتلل**: که چېرې څوک چا ته غوا ګرو ورکړي او غوا بچی وزیږوي، بچی د راهن حق دی ځکه د هغه له ملکیت څخه پیدا شوی، که چیرې

نوموړی بچی هلاک شي، تاوان نه لري ځکه رهن د اصل په مقابل کې دی او بچی تابع دی کوم چې په عقد کې مقصود نه و.

که چیرې اصل (غوا) هلاکه او بچی پاتې شي، په جلاوالي سره په عقد کې مقصود گرځي او د خپلې برخې پور په ورکولو به له مرتهن څخه خلاصیږي.

د بېلگې په ډول که د شپږو زرو افغانیو غوا د دولسو زرو افغانیو پور په مقابل کې گرو شي، بیا غوا بچی وزېږوي او وروسته غوا مره او بچی یې پاتې شي چې درې زره افغانۍ قیمت لري. په دې صورت کې پور (دولس زره افغانۍ) د غوا په شپږو زرو او د خوسي په درې زرو وېشل کیږي. په دولسو زرو کې د غوا د شپږو زرو برخه اته زره افغانۍ کیږي او له منځه ځي، په دولسو زرو کې د خوسي برخه څلور زره افغانۍ کیږي. راهن به مرتهن ته څلور زره افغانۍ ورکړي او خوسی به راخلاص کړي.

## فعالیت

د گرو شوي مال د لېږدولو لگښت د چا په غاړه دی؟

زده کوونکي دې په دې اړه د دلیل په بنسټ نظرونه تبادله کړي.

## پوښتنې

۱- د مرتهن له اجازې پرته راهن ولې د گروي مال نه شي پلورلای؟

۲- آیا د مرتهن له موافقې پرته گرو شوی مریی ازادیږي؟

۳- د گروی د مال ساتنه او تغذیه د چا پر غاړه ده؟

# ګروي (۳)

په تېرو لوستونو کې مو د ګروی په بېلابېلو اړخونو رڼا واچوله. نن به هم د ګروی پر پاتې احکامو ځانونه خبر کړو.

(۱) وَتَجُوزُ الزِّيَادَةُ فِي الرَّهْنِ وَلَا تَجُوزُ فِي الدَّيْنِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَلاَ يَصِيرُ الرَّهْنُ رَهْناً بِهما، وَقَالَ أبويوسف: تَجُوْزُ الزِّيادَةُ فِي الدَّيْنِ أيْضا.

(۲) وَإِذَا رَهَنَ عَيْنًا وَاحِدَةً عِنْدَ رَجُلَيْنِ بِدَيْنٍ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا جَازَ وَجَمِيعُهَا رَهْنٌ عِنْدَ كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا، وَالْمَضْمُونُ عَلَى كُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا حِصَّةُ دَيْنِهِ مِنْهَا، فَإِنْ قَضَى أَحَدُهُمَا دَيْنَهُ كَانَتْ كُلُّهَا رَهْنًا فِي يَدِ الْآخَرِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ دَيْنَهُ.

(۳) وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا عَلَى أَنْ يَرْهَنَهُ الْمُشْتَرِي بِالثَّمَنِ شَيْئًا بِعَيْنِه، فَامْتَنَعَ الْمُشْتَرِي مِنْ تَسْلِيمِ الرَّهْنِ لَمْ يُجْبَرْ عَلَيْهِ وَكَانَ الْبَائِعُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ رَضِيَ بِتَرْكِ الرَّهْنِ، وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ الْبَيْعَ إلَّا أَنْ يَدْفَعَ الْمُشْتَرِي الثَّمَنَ حَالًّا، أَوْ يَدْفَعَ قِيمَةَ الرَّهْنِ رَهْنًا مَكَانَهُ.

(٤) وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَحْفَظَ الرَّهْنَ بِنَفْسِهِ وَزَوْجَتِهِ وَوَلَدِهِ وَخَادِمِهِ الَّذِي فِي عِيَالِهِ، وَإِنْ حَفِظَهُ بِغَيْرِ مَنْ فِي عِيَالِهِ أَوْ أَوْدَعَهُ ضَمِنَ.

(٥) وَإِذَا تَعَدَّى الْمُرْتَهِنُ فِي الرَّهْنِ ضَمَّنَهُ ضَمَانَ الْغَصْبِ بِجَمِيعِ قِيمَتِهِ.

(٦) وَإِذَا أَعَارَ الْمُرْتَهِنُ الرَّهْنَ لِلرَّاهِنِ فَقَبَضَهُ خَرَجَ مِنْ ضَمَانِهِ، فَإِنْ هَلَكَ فِي يَدِ الرَّاهِنِ هَلَكَ بِغَيْرِ شَيْءٍ وَلِلْمُرْتَهِنِ أَنْ يَسْتَرْجِعَهُ إِلَى يَدِهِ فَإِذَا أَخَذَهُ عَادَ الضَّمانُ.

(٧) وَإِذَا مَاتَ الرَّاهِنُ بَاعَ وَصِيُّهُ الرَّهْنَ وَقَضَى الدَّيْنَ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَصِيٌّ نَصَبَ الْقَاضِي لَهُ وَصِيًّا وَأَمَرَهُ بِبَيْعِهِ.

## ژباړه

(۱) د امام ابوحنیفه او امام محمد په نزد په رهن کې زیاتوالی روا او په پور کې ناروا دی. (که په پور کې زیاتوالی راشي نو) رهن د (پخواني او نوي پور) دواړو په مقابل کې نه راځي. امام ابویوسف وايي: په پور کې هم زیاتوالی جایز دی.

(۲) که څوك یوه ګروي (مال) د دوو کسانو د پور په مقابل کې د دواړو سره ګرو کړي، روا ده او د ګروی ټول مال د هر یوه سره ګرو ګڼل کیږي، دواړه ګرو اخیستونکي به د خپل پور په اندازه ضامنان ګڼل کیږي. که یوه یې پور وسپاره نو ټوله ګروي به له بل سره ګرو وي تر څو چې خپل پور قبض کړي.

(۳) که څوك مریی په دې شرط وپلوري چې اخیستونکی به د مریي په ثمن کې یو معین شی د پلورونکي سره ګرو ږدي او اخیستونکي د ګرو له تسلیمولو انکار وکړ، په ګرو کولو مجبور کېدای نه شي، خو پلورونکی اختیار لري چې د ګروی شرط پرېږدي او که بیعه فسخه کوي، مګر دا چې اخیستونکی ثمن ادا کړي یا د مرهونې قیمت ګرو کېږدي (نو بیعه بشپړه ده).

(٤) مرتهن کولای شي چې د ګرو مال په خپله وساتي یا یې په خپلې مېرمنې، زوی، او هغه خادم وساتي چې د ده په ساتنه او کور کې وي، که له دې کسانو پرته یې کم په بل چا وساته او یا یې په ودیعت ورکړ، ضامن ګڼل کیږي.

(٥) که مرتهن په ګرو شوي مال تېری وکړ نو د غصب په څېر به د ټول قیمت تاوان ورکوي.

(٦) که مرتهن مرهونه بېرته راهن ته د استعارې په توګه ورکړه او هغه قبض کړه نو د مرتهن له ضمان څخه وځي، په دې صورت کې که د راهن په لاس کې هلاکه شوه، مرتهن یې ضامن نه دی، مرتهن کولای شي چې بېرته یې ورڅخه واخلي. کله یې چې ورڅخه واخیسته ضمانت (ده ته) راوګرځېد.

(۷) که راهن مړ شي نو وصي به یې رهن وپلوري او پور به پرې ادا کړي، که وصي یې نه درلود قاضي به ورته وصي وټاکي او د پلورلو امر به ورته وکړي.

## شرحه

**په رهن کې زیاتوالی:** د راهن له خوا په رهن کې زیاتوالی روا دی او مرتهن یې ضامن ګڼل کیږي، ددې مسئلې صورت داسې دی چې احمد له توریالي څخه شل زره افغانۍ پور واخیست او په مقابل کې یې خپل موټرسایکل له هغه سره د ګرو په توګه کېښوود. وروسته یې

د همدغه پور په مقابل کې ګروي زیاته کړه او خپل سایکل یې هم ورسره ګرو کړ.

**په پور کې زیاتوالی**: د بېلګې په ډول احمد له توریالي څخه زر افغانۍ پور واخیست او په مقابل کې یې خپل موبایل چې دوه زره افغانۍ قیمت لري له توریالي سره ګرو کړ، بیا یې له توریالي څخه زر افغانۍ نورې هم په پور واخیستې او ورته یې وویل: زما موبایل به د دوو زرو افغانیو په مقابل کې له تاسره ګرو وي.

د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر په پورتني مثال کې موبایل د دوو زرو افغانیو په مقابل کې ګرو نه ګڼل کیږي بلکې یوازې د زرو افغانیو په مقابل کې ګرو دی. په دې صورت کې که موبایل له منځه لاړ شي نو یوازې د لومړیو زرو افغانیو په مقابل کې له منځه ځي او پاتې زر افغانۍ په احمد پور پاتې کیږي.

څرنګه چې د امام ابویوسف په نزد په پور کې هم زیاتوالی روا دی، موبایل د دوو زرو افغانیو په مقابل کې ګرو ګڼل کیږي.

**یو مال د دوو کسانو سره ګرو کول**: که څوک له دوو کسانو پور واخلي او دواړو ته یو مال په ګرو ورکړي، جایزه ده، ځکه د ګرو ورکولو مقصد د پور ساتنه او د هغې د ضایع کېدو مخه نیول دي او دا مقصد دوو کسانو ته د یوه مال د ګرو ورکولو په صورت کې هم پوره کېدای شي.

**په بیعه کې د ګروی شرط**: که سعید پر منصور خپل کمپیوټر په دې شرط وپلوري چې منصور به د قیمت په ځای سعید سره خپل سایکل د ګرو په توګه ږدي، د دې شرط کېښودل روا دي، خو که منصور د دې شرط له منلو وروسته د سایکل له تسلیمولو څخه ډډه وکړي، نو په دې کار مجبور کېدای نشي، ځکه ګروي د راهن په حق کې یو تبرعي عقد دی او په تبرعاتو کې اجبار نشته.

پلورونکی (سعید) د بیعې د فسخه کولو اختیار لري، مګر که اخیستونکی (منصور) پیسې سملاسي ورکړي او یا د یاد شوي سایکل قیمت د ده په ځای ورکړي.

**مسئله**: که مرتهن د ګروی په ساتلو کې زیاتی وکړ نو د غصب په څیر به د ټول قیمت ضامن وي. دا مسئله د یو مثال په ترڅ کې داسې روښانوو:

حامد، ګل خان ته د څلور زرو افغانیو پور په مقابل کې خپل سایکل چې پنځه زره افغانۍ قیمت لري په ګرو ورکړ، وروسته د ګل خان له پاملرنې او ساتنې سره سره ګرو شوی سایکل د کوم آفت په سبب له منځه لاړ. په دې صورت کې د سایکل په مقابل کې د ګل خان څلور

زره افغانۍ پور له منځه لاړ او د سایکل د قیمت پاتې زر افغانۍ چې له ګل خان سره امانت ګڼل کیږي، تاوان نه لري.
خو که چېرې ګرو شوی سایکل د ګل خان د تېري له امله له منځه لاړ شي، د ګل خان څلور زره افغانۍ له منځه ځي او هم لازمه ده چې د سایکل د قیمت پاتې زر افغانۍ هم حامد ته تسلیم کړي، ځکه چې د تېري په صورت کې مرتهن د ټول قیمت ضامن دی.
په ګرو شوي مال تېری په ډېرو بڼو راتلای شي، د بېلګې په ډول که څوک ګروي د راهن له اجازې پرته بل چا ته په کرایه، عاریت یا مضاربت ورکړي، نو مرتهن تېری کوونکی ګڼل کیږي، همدا راز که مرتهن د ګرو شوي څاروي په ساتنه کې سستي وکړي او هغه ته خوراک ورنکړي او له لوږې مړ شي، دا په ګرو شوي مال تېری ګڼل کیږي او مرتهن یې ضامن دی.
**وصي**: هغه شخص ته ویل کیږي چې څوک یې د ځان له خوا له مرګه وروسته د چارو د تدبیر لپاره ټاکي.

## فعالیت

زده کوونکي دې دوديزه ګروي له شرعي ګروۍ سره پرتله کړي.

## پوښتنې

١- آیا په رهن او پور کې زیاتوالی روا دی؟
٢- له دوو کسانو سره یو مال ګرو کول څه حکم لري؟
٣- ودیعت څه ته وایي؟
٤- وصي تعریف کړئ.

# حجر (۱)

ځينې انسانان د عقل د نه موجوديت يا نيمګړتيا له امله نشي کولای داسې راکړې ورکړې تر سره کړي چې د دوی په ګټه وي، بلکې په اخيستلو او خرڅولو کې دوکه کېږي او تل تاوان کوي. اسلامي شريعت د داسې کسانو د مالونو د ساتنې په موخه د هغوی په راکړه ورکړه کې بنديزونه لګولي چې په فقه کې د حجر په نامه يادېږي.

(١) الْأَسْبَابُ الْمُوجِبَةُ لِلْحَجْرِ ثَلَاثَةٌ: الصِّغَرُ وَالرِّقُّ وَالْجُنُونُ، وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُ الصَّبِيِّ إِلَّا بِإِذْنِ وَلِيِّه، وَلَا تَصَرُّفُ الْعَبْدِ إِلَّا بِإِذْنِ سَيِّدِهِ، وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُ الْمَجْنُونِ الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ بِحَالٍ.

(٢) وَمَنْ بَاعَ مِنْ هَؤُلَاءِ شَيْئًا أَوْ اشْتَرَاهُ وَهُوَ يَعْقِلُ الْعَقْدَ وَيَقْصِدُهُ فَالْوَلِيُّ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَجَازَهُ إِذَا كَانَ فِيهِ مَصْلَحَةٌ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَهُ.

(٣) وَهَذِهِ الْمَعَانِي الثَّلَاثَةُ تُوجِبُ الْحَجْرَ فِي الْأَقْوَالِ دُونَ الْأَفْعَالِ، فَالصَّبِيُّ وَالْمَجْنُونُ لَا تَصِحُّ عُقُودُهُمَا وَلَا إِقْرَارُهُمَا وَلَا يَقَعُ طَلَاقُهُمَا وَلَا اعْتَاقُهُمَا، وَإِنْ أَتْلَفَا شَيْئًا لَزِمَهُمَا ضَمَانُهُ.

(٤) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا أَحْجُرُ عَلَى السَّفِيهِ إِذَا كَانَ حُرًّا بَالِغًا عَاقِلًا، وَتَصَرُّفُهُ فِي مَالِهِ جَائِزٌ وَإِنْ كَانَ مُبَذِّرًا مُفْسِدًا يُتْلِفُ مَالَهُ فِيمَا لَا غَرَضَ لَهُ فِيهِ وَلَا مَصْلَحَةَ مِثْلَ أَنْ يُتْلِفَهُ فِي الْبَحْرِ أَو يَحْرِقَهُ فِي النَّارِ، إِلَّا أَنَّهُ إِذَا بَلَغَ الْغُلَامُ غَيْرَ رَشِيدٍ لَمْ يُسَلَّمْ إِلَيْهِ مَالُهُ حَتَّى يَبْلُغَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ سَنَةً، فَإِنْ تَصَرَّفَ قَبْلَ ذَلِكَ نَفَذَ تَصَرُّفُهُ، فَإِذَا بَلَغَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ سَنَةً سُلِّمَ إِلَيْهِ مَالُهُ وَإِنْ لَمْ يُؤْنَسْ مِنْهُ الرُّشْدُ.

(٥) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُحْجَرُ عَلَى السَّفِيهِ وَيُمْنَعُ مِنَ التَّصَرُّفِ فِي مَالِهِ، فَإِنْ بَاعَ لَمْ يَنْفُذْ بَيْعُهُ، فَإِنْ كَانَ فِيهِ مَصْلَحَةٌ أَجَازَهُ الْحَاكِمُ، وَإِنْ تَزَوَّجَ امْرَأَةً جَازَ نِكَاحُهُ، فَإِنْ سَمَّى

لَهَا مَهْرًا جَازَ مِنْهُ مِقْدَارُ مَهْرِ مِثْلِهَا وَبَطَلَ الْفَاضِلُ.

**ژباړه**

(۱) د حجر لاملونه درې شيان دي: کوچنيوالی، مرييتوب او ليونتوب. د صغيرانو (کوچنيانو) تصرف د هغوی د ولي له اجازې پرته صحيح نه دی. همدا راز د مريي تصرف هم د بادار له اجازې پرته صحيح نه دی. د هغه ليوني تصرف هم هيڅکله صحيح نه دی چې تل بې حاله وي.

(۲) که له دوی څخه يو چا په داسې حال کې راکړه ورکړه وکړه چې په بيعه پوهيده او د بيعې نيت يې درلود، نو ولي يې اختيار لري. که يې خوښه وه اجازه به وکړي که د دوی په ګټه وه، او که يې خوښه شوه بيعه به فسخه کړي.

(۳) د حجر دا (پورتني) درې لاملونه په ويناوو بنديز لګوي نه په افعالو، نو د کوچني او لېوني عقدونه، او اقرار صحيح نه دي او نه يې طلاق او عتاق (مريی أزادول) واقع کيږي. که دوی يو شي هلاک کړ، نو تاوان ورباندې لازم دی.

(٤) امام ابوحنيفه ويلي: که سفيه (کم عقل انسان)، بالغ عاقل او آزاد و، بنديز پرې نه لګوم او په خپل مال کې يې تصرف جايز دی که څه هم بې ځايه لګښت کوونکی وي او خپل مال په بې ګټې او بې مقصده ځايونو کې لګوي، د بېلګې په ډول خپل مال په سيند لاهو کوي او يا يې په اور سيزي، البته که هلک داسې بالغ شي چې ناپوهه وي نو تر پنځه ويشت کلنی به ورته مال نه سپارل کيږي، که چېرې يې په خپل مال کې تصرف وکړو، نو تصرف يې نافذ دی، کله چې پنځه ويشت کلنی ته ورسيد نو مال به يې ورته سپارل کيږي که څه هم له بې عقلی او سادګۍ راوتلی نه وي.

(٥) خو امام ابويوسف او امام محمد ويلي: پر سفيه به بنديز لګول کيږي او په خپل مال کې به له تصرف کولو څخه منع کيږي، که مال يې خرڅ کړ، نو بيعه يې نافذه نه ده، خو که ګټه يې په کې وه نو حاکم (قاضي) به اجازه ورکوي. که ښځه يې په نکاح کړه جايزه ده، خو که مهر يې له مهرمثل څخه زيات ټاکلی و نو زياتوالی باطل دی.

**شرحه**

**د حجر تعريف**: حجر په لغت کې بنديز ته وايي.

د فقهې په اصطلاح کې ټاکل شوي اشخاص له مالي تصرفاتو څخه منعه کول حجر بلل

کېږي.

**د حجر لاملونه**: درې شیان د حجر لامل کیږي چې عبارت دي له: کوچنیوالي، لیونتوب او مریتوب څخه. په دې بنسټ کوچنی او مریی نه شي کولای چې په خپلو مالونو کې د ولي له اجازې پرته تصرف وکړي. دا هم باید ووایو چې لیونی هیڅکله تصرف نه شي کولای.

**د ولي تعریف**: ولي هغه چا ته ویل کیږي چې د شریعت په حکم د بل شخص چارې سمبالوي لکه پلار چې د زوی په چارو کې تصرف کوي.

هغه لېونی چې تل بې حاله وي، هیڅ راز مالي تصرف نه شي کولای. خو که داسې کوچنی چې په بیعه پوهیږي له چا سره مالي معامله وکړي، د معاملې بشپړتیا یې د ولي په اجازې پورې موقوفه ده. ولي به هم د دوی ګټې په نظر کې نیسي.

**د حجر (بندیز) ډولونه**: بندیز په دوه ډوله دی:

۱- په ویناوو بندیز.

۲- په افعالو بندیز.

دلته له بندیز څخه مقصد په مالي ویناوو بندیز دی، نه پر افعالو، نو که له دوی څخه د ضرر کارونه ترسره شي، تاوان به پرې ګالي، لکه د یو شي د هلاکولو په صورت کې تاوان ترې اخیستل کېږي.

څرنګه چې حجر په ویناوو کېښودل شوی، نو د کوچني او لیوني طلاق، او د نورو خلکو لپاره پر ځان د پیسو اقرار کول صحیح نه دي، خو که دوی په خپل فعل سره د چا مال هلاک کړي، نو ضامن ګڼل کیږي او تاوان به ورکوي.

**د سفیه احکام**: سفاهت په لغت کې کم عقلۍ ته ویل کیږي. د فقهې په اصطلاح کې سفیه هغه څوک دی چې د کم عقلۍ له مخې خپل مال بې ځایه د شریعت او عقل مخالف لګوي او اسراف کوي.

**د سفیه په اړه د امام ابوحنیفه نظر**: پر سفیه بندیز نه لګول کیږي او د هغه ټولې راکړې ورکړې نافذې دي، ځکه هغه بالغ عاقل انسان او په شرعي احکامو مکلف او مخاطب دی. که د مال د ساتنې په خاطر د هغه راکړې ورکړې صحیح ونه بولو، نو دا د هغه د سړیتوب سپکاوی دی. البته که هلك په داسې توګه بالغ شو چې سفیه و، نو ولي به یې مال ورته نه سپاري، خو که معاملې یې تر سره کړې نو نافذې او صحیح دي. د امام ابوحنیفه په نظر له پنځه ویشت کلنۍ وروسته د هغه مال ورته سپارل کیږي او په بشپړه آزادۍ خپلې معاملې ترسره

کولای شي.

**د امام ابویوسف او امام محمد نظر**: پر سفیه به تر هغې بندیز لګېدلی وي چې عقلمند شي. د بندیز د پای ته رسېدو لپاره عمر شرط نه دی، بلکې عقلمندي یې شرط ده. د سفاهت په دوره کې نه هغه ته مال سپارل کیږي او نه د هغه معاملې نافذې دي. که یې عقدونه ګټور وو، حاکم به یې نافذوي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د مالي بندیزونو په لاملونو او ګټو وغږیږي.

## پوښتني

١- حجر تعریف کړئ.
٢- د حجر لاملونه څو دي؟
٣- د کوچني او لیوني تر منځ په حجر کې څه توپیر دی؟
٤- سفیه چا ته ویل کیږي؟
٥- پر سفیه د بندیز په اړه د امام ابوحنیفه نظر څه دی؟
٦- د سفیه په اړه د یارانو نظر بیان کړئ.

# حجر (۲)
# د سفیه احکام

په تېر لوست کې د حجر د لاملونو په اړه وغږېدو. دا مو هم ولوستل چې د امام ابوحنیفه په نظر هغه شخص چې د بلوغ سن ته ورسیږي او عقل یې نیمګړی وي، په خپل مال کې یې تصرف صحیح دی، خو یاران وایي چې نه یې په خپل مال کې تصرف صحیح دی او نه ورته مال سپارل کیږي. په نننی لوست کې به ددې موضوع پاتې احکام ولولو:

(١) وَقَالَا فِيمَنْ بَلَغَ غَيْرَ رَشِيدٍ: لَمْ يُدْفَعْ إِلَيْهِ مَالُهُ أَبَدًا حَتَّى يُؤْنَسَ مِنْهُ الرُّشْدُ وَلَا يَجُوزُ تَصَرُّفُهُ فِيهِ.

(٢) وَتُخْرَجُ الزَّكَاةُ مِنْ مَالِ السَّفِيهِ، وَيُنْفَقُ عَلَى أَوْلَادِهِ وَزَوْجَتِهِ وَمَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ نَفَقَتُهُ مِنْ ذَوِي أَرْحَامِهِ، فَإِنْ أَرَادَ حَجَّةَ الْإِسْلَامِ لَمْ يُمْنَعْ مِنْهَا، وَلَا يُسَلِّمُ الْقَاضِي النَّفَقَةَ إِلَيْهِ وَيُسَلِّمُهَا إِلَى ثِقَةٍ مِنَ الْحَاجِّ يُنْفِقُهَا عَلَيْهِ فِي طَرِيقِ الْحَجِّ، فَإِنْ مَرِضَ وَأَوْصَى بِوَصَايَا مِنَ الْقُرَبِ وَأَبْوَابِ الْخَيْرِ جَازَ ذَلِكَ فِي ثُلُثِ مَالِهِ.

(٣) وَبُلُوغُ الْغُلَامِ بِالِاحْتِلَامِ، وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ إِذَا وَطِئَ فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فَحَتَّى يَتِمَّ لَهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٤) وَبُلُوغُ الْجَارِيَةِ بِالْحَيْضِ وَالِاحْتِلَامِ وَالْحَبَلِ فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فَحَتَّى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً.

(٥) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: إِذَا تَمَّ لِلْغُلَامِ وَالْجَارِيَةِ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَقَدْ بَلَغَا. وَإِذَا رَاهَقَ الْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ وَأَشْكَلَ أَمْرُهُمَا فِي الْبُلُوغِ فَقَالَا: قَدْ بَلَغْنَا، فَالْقَوْلُ قَوْلُهُمَا وَأَحْكَامُهُمَا أَحْكَامُ الْبَالِغِينَ.

## ژباړه

(۱) امام ابویوسف او امام محمد د هغه شخص په اړه چې د بلوغ سن ته ورسیږي او عقل یې نیمګړی وي، ویلي: تر څو چې د عقلمندۍ او پوهې حالت ته ونه رسیږي، هېڅکله ورته نه مال سپارل کیږي او نه یې تصرف صحیح دی.

(۲) د سفیه له مال څخه به زکات ایستل کیږي، له مال څخه به یې د اولاد، مېرمنې او نورو هغو خپلوانو نفقه هم ورکول کیږي چې په ده یې نفقه واجبه ده، که د (فرضي) حج اراده یې درلوده، ورڅخه نه منعه کیږي، خو قاضي به یې نفقه ده ته په لاس نه ورکوي، بلکې د حج د لارې یوه باوري ملګرې ته به یې ورکوي چې پرې مصرف یې کړي. که سفیه ناروغه شو او الله ته د نږدېوالي او ښېګڼې په لاره کې یې د مال لګولو وصیت وکړ، نو وصیت یې د مال په درېیمه برخه کې صحیح دی.

(۳) د امام ابوحنیفه په نزد هلک په شیطان تېر ایستلو، د ښځې په حامله کولو او د کوروالي په مهال د منې په وتلو سره بالغ کیږي. که د بلوغ دا نښې په کې ونه موندل شوې نو د اتلس کلنۍ په بشپړېدو بالغ ګرځي.

(٤) همدا راز نجلۍ په حیض راتلو، شیطان تېر ایستلو او حمل اخیستلو سره بالغه کیږي، که د بلوغ دا نښې په کې ونه مېندل شوې نو د اوولسو کلو په بشپړېدو بالغه ګرځي.

(٥) امام ابویوسف او امام محمد وایي: که هلک او نجلۍ پنځلس کاله عمر پوره کړي، بالغان دي. کله چې هلک او نجلۍ مراهق او د بلوغ پېژندل یې ستونزمن شي او ووایي: موږ بالغان شوي یو، خبره یې منل کیږي او د بالغانو احکام پرې جاري کیږي.

## شرحه

که څه هم سفیه ته د امام ابو یوسف او امام محمد په قول د هغه مال نه سپارل کیږي او ولي به د هغه مال سمبالوي، خو دا خبره ددې لامل کېدای نه شي چې هغه له یو لړ فرضي حکمونو څخه معاف شي. د دغو حکمونو څو بېلګې په لاندې ډول دي:

۱- د سفیه په مال کې زکات شته، ځکه چې زکات یو مالي حق دی او په شتمنی پورې اړه لري په دې بنسټ به د هغه له مال څخه زکات ایستل کیږي.

۲- د سفیه له مال څخه به د هغه د اولاد، مېرمنې او هغو اقاربو نفقه اخیستل کیږي چې په ده یې نفقه ورکول لازم دي، ځکه چې دا شیان د خلکو حقونه دي چې پر ده واجب دي.

**د سفيه حج او وصيت**: که سفيه د فرضي حج د اداکولو هوډ وکړ، نو څوک يې مخه نه شي نيولای، ځکه چې سفاهت د حج د فريضې د اداکولو مانع نه ګرځي او نه يې وجوب له منځه وړي، البته دده لګښت به د لارې يوه امانت ساتونکي ملګري حاجي ته ورکول کيږي تر څو يې دی بېځايه ونه لګوي. په همدې ډول که سفيه د ښېګڼو په کارونو کې د خپل مال د لګولو وصيت وکړي، نو وصيت يې د مال په درېيمه برخه کې نافذ دی، ځکه د داسې وصيتونو نافذول د سفيه د اخرت په ګټه دي او الله جل جلاله ته يې نږدې کيږي.

**د بلوغ نښې**: ومو لوستل چې صغر (کوچنيوالی) د حجر يو سبب دی، اوس بايد په دې پوه شو چې کوچنيوالی کله پای ته رسيږي او انسان کله بالغ شمېرل کيږي.

د هلکانو د بلوغ نښې څلور دي:

۱ـ احتلام (شيطان تېر ايستل.)

۲ـ د ښځې سره په يو ځای کېدو هغه حامله ګرځول.

۳ـ د مني وتل.

٤ـ که چېرې دا درې نښې په چاکې ونه موندل شوې، نو د اتلس کلنۍ د سن په بشپړولو سره بالغ شمېرل کيږي.

## د نجونو د بلوغ نښې هم څلور دي:

۱ـ احتلام.

۲ـ حامله کېدل.

۳ـ د حيض راتګ.

٤ـ که دا نښې په نجلۍ کې ونه موندل شوې نو د اوولسو کلو په بشپړولو بالغه شمېرل کېږي.

## فعاليت

زده کوونکي دې په متن کې له يادو شوو حقونو پرته د نورو هغو مالي حقونو يادونه وکړي چې اداکول يې د سفيه له مال څخه ضروري دي.

## پوښتني

۱- هغه کوم مالي حقونه دي چې د سفيه له مال څخه به ادا کيږي؟

۲- آيا د سفيه حج صحيح دی؟

۳- آيا د سفيه وصيت نافذ دی؟

٤- د هلکانو د بلوغ نښې بيان کړئ.

٥- که په نجونو کې د بلوغ نښې ښکاره نه شي، څه وخت بالغې ګڼل کيږي؟

# حجر (٣)
# د پوروړي او مفلس حجر

ګرانو زده کوونکو! د تېر لوست په زده کولو سره تاسو په سفيه (کم عقل) باندې د مالي بنديزونو په اړه معلومات تر لاسه کړل. اوس غواړو پر پوروړي او مفلس باندې د مالي بنديزونو د لګولو په اړه هم خپل معلومات بشپړ کړئ.

(١) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا أَحْجُرُ فِي الدَّيْنِ عَلى الْمُفْلِسِ. وَإِذَا وَجَبَتْ الدُّيُونُ عَلَى رَجُلٍ وَطَلَبَ غُرَمَاؤُهُ حَبْسَهُ وَالْحِجْرَ عَلَيْهِ لَمْ أَحْجُرْ عَلَيْهِ.

(٢) وَإِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ لَمْ يَتَصَرَّفْ فِيهِ الْحَاكِمُ وَلَكِنْ يَحْبِسُهُ أَبَدًا حَتَّى يَبِيعَهُ فِي دَيْنِهِ، فَإِنْ كَانَ لَهُ دَرَاهِمُ وَدَيْنُهُ دَرَاهِمُ قَضَاهَا الْقَاضِي بِغَيْرِ أَمْرِهِ. وَإِنْ كَانَ دَيْنُهُ دَرَاهِمَ وَلَهُ دَنَانِيرُ بَاعَهَا الْقَاضِي فِي دَيْنِهِ.

(٣) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: إِذَا طَلَبَ غُرَمَاءُ الْمُفْلِسِ الْحِجْرَ عَلَيْهِ، حَجَرَ الْقَاضِي عَلَيْهِ وَمَنَعَهُ مِنْ التَّصَرُّفِ، وَالْبَيْعِ، وَالْإِقْرَارِ حَتَّى لَا يَضُرَّ بِالْغُرَمَاءِ وَبَاعَ مَالَهُ إِنْ امْتَنَعَ مِنْ بَيْعِهِ وَقَسَمَهُ بَيْنَ غُرَمَائِهِ بِالْحِصَصِ، فَإِنْ أَقَرَّ فِي حَالِ الْحِجْرِ بِإِقْرَارٍ لَزِمَهُ ذَلِكَ بَعْدَ قَضَاءِ الدَّيْنِ.

(٤) وَيُنْفَقُ عَلَى الْمُفْلِسِ مِنْ مَالِهِ وَعَلَى زَوْجَتِهِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَذَوِي أَرْحَامِهِ.

(٥) فَإِنْ لَمْ يُعْرَفْ لِلْمُفْلِسِ مَالٌ وَطَلَبَ غُرَمَاؤُهُ حَبْسَهُ وَهُوَ يَقُولُ: لَا مَالَ لِي، حَبَسَهُ الْحَاكِمُ فِي كُلِّ دَيْنٍ الْتَزَمَهُ بَدَلًا عَنْ مَالٍ حَصَلَ فِي يَدِهِ كَثَمَنِ الْمَبِيعِ وَبَدَلِ الْقَرْضِ، وَفِي كُلِّ دَيْنٍ الْتَزَمَهُ بِعَقْدٍ كَالْمَهْرِ وَالْكَفَالَةِ وَلَمْ يَحْبِسْهُ فِيمَا سِوَى ذَلِكَ، كَعِوَضِ الْمَغْصُوبِ وَأَرْشِ الْجِنَايَاتِ إِلَّا أَنْ تَقُومَ الْبَيِّنَةُ أَنَّ لَهُ مَالًا.

(٦) فَإِذَا حَبَسَهُ الْقَاضِي شَهْرَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً سَأَلَ عَنْ حَالِهِ، فَإِنْ لَمْ يَنْكَشِفْ لَهُ مَالٌ خَلَّى

سَبِيلَهُ وَكَذَلِكَ إِذَا أَقَامَ الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ لَا مَالَ لَهُ. وَلَا يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ بَعْدَ خُرُوجِهِ مِنْ السِّجْنِ وَيُلَازِمُونَهُ وَلَا يَمْنَعُونَهُ مِنْ التَّصَرُّفِ وَالسَّفَرِ، وَيَأْخُذُونَ فَضْلَ كَسْبِهِ فَيُقْسَمُ بَيْنَهُمْ بِالْحِصَصِ.

(٧) وَقَالَ أَبُو يُوسُف وَمُحَمَّدٌ: إِذَا فَلَّسَهُ الْحَاكِمُ حَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ غُرَمَائِهِ إِلَّا أَنْ يُقِيمُوا الْبَيِّنَةَ أَنَّهُ قَدْ حَصَلَ لَهُ مَالٌ.

(٨) وَلَا يُحْجَرُ عَلَى الْفَاسِقِ إِذَا كَانَ مُصْلِحًا لِمَالِهِ وَالْفِسْقُ الْأَصْلِيُّ وَالطَّارِئُ سَوَاءٌ.

(٩) وَمَنْ أَفْلَسَ وَعِنْدَهُ مَتَاعٌ لِرَجُلٍ بِعَيْنِهِ ابْتَاعَهُ مِنْهُ، فَصَاحِبُ الْمَتَاعِ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ فِيهِ.

## ژباړه

(١) امام ابوحنيفه وايي: زه په پور کې پر مفلس حجر نه لګوم. که په چا پورونه واوړي او د پور خاوند د هغه د بند او د حجر لګولو غوښتنه وکړي، نو زه پرې حجر نه لګوم.

(٢) که يې مال درلود، نو حاکم په کې تصرف نه شي کولای، خو بندي کوي به يې تر څو مال وپلوري او په پور کې يې ورکړي. که يې دراهم درلودل او پور هم دراهم وو، نو قاضي به يې، د ده له اجازې پرته په پور کې ورکړي او که پور يې دراهم وو، خو ده دينار درلودل، قاضي به يې دينار په پور کې وپلوري.

(٣) امام ابويوسف او امام محمد وايي: که د پور خاوند د مفلس پوره وړي د حجر غوښتنه وکړه، قاضي به پرې حجر ولګوي او له بيعې، تصرف او اقرار کولو به يې منع کړي، څو پور ورکوونکو ته زيان ونه رسيږي، که يې د مال له پلورلو څخه انکار وکړ، قاضي به يې وپلوري او په پور ورکوونکو باندې به يې (د دوی د پورونو) په برخو وويشي. که مفلس د حجر په حالت کې چا ته په مال اقرار وکړ، اقرار يې د شته پور له ورکولو وروسته پرې لازميږي.

(٤) د مفلس له مال څخه به د ده، د ده د ښځې، کوچنيانو اولادونو او خپلوانو نفقه ورکول کيږي.

(٥) که مفلس ښکاره مال نه درلود او د پور خاوند يې د بندي کېدو غوښتنه وکړه، په داسې حال کې چې مفلس وايي: مال نه لرم - نو قاضي به يې په هر داسې دين کې بندي کوي چې د مال لاس ته راتللو په بدل کې پر ده لازم شوی وي، لکه د مبيعې ثمن او د قرض بدل، او

په هر دين کې چې د عقد له امله پرې لازم شوی وي، لکه مهر او کفالت، له دې پرته په نورو شیانو لکه د غصب شوي مال په ضمانت او د جنایت په تاوان کې به يې نه بندي کوي، مګر دا چې په شهادت سره د مفلس مال ثابت شي.

(٦) کله چې قاضي مفلس دوه یا درې میاشتې بندي کړي، نو قاضي به د ده د حال پوښتنه وکړي، که يې مال پیدا نه شو، خوشې به يې کړي. همدا راز که يې شاهدان تېر کړل چې مال نه لري، له زندان څخه له وتلو وروسته به د ده او د پور ورکوونکو تر منځ خنډ نه واقع کېږي او ورسره به وي، له سفر او تصرف نه به يې نه منع کوي. د کسب زیاتې پیسې به يې اخلي او د دوی تر منځ به (د دوی د پورونو) په برخو وېشل کېږي.

(٧) امام ابویوسف او امام محمد وايي: که حاکم پرې د مفلسی حکم وکړي، پور ورکوونکي د خارنې په خاطر ورسره مل کېدای نه شي مګر دا چې په شاهدانو سره يې د مال لاس ته راوړل ثابت کړي.

(٨) که فاسق په خپل مال کې په سم ډول تصرف کولو، حجر پرې نه شي لګېدای. اصلي او عارضي فسق دواړه (په حکم کې) برابر دي.

(٩) څوک چې مفلس شو او له ده سره د يو معلوم شخص داسې توکي وو چې ورڅخه يې پېرودلي وو، نو د توکو څښتن په دې توکو کې له نورو پورورکوونکو سره يو شان دی.

## شرحه

### پر پوروړي حجر:

مفلس هغه چاته ویل کېږي چې هیڅ مال ونه لري د امام ابوحنیفه په نظر پر مفلس پوروړي باندې د پورونو د نه ادا کولو په صورت کې حجر نه شي لګول کېدای، بلکې د هغه ټول تصرفات او راکړې ورکړې سمې او نافذې دي، ځکه د حجر په لګولو کې د سړي اهلیت له منځه ځي او د پورورکوونکي د پور لپاره - چې یو وړوکی مصلحت دی، د چا اهلیت له منځه وړل روا نه دي. همدا راز قاضي هم نه شي کولای چې د پوروړي له اجازې پرته د هغه مالونه وپلوري او پور ورکوونکو ته يې په پور کې ورکړي، ځکه د مال د څښتن له رضا پرته د هغه په مال معامله کول روا نه دي. البته که پر چا دراهم یا د نانیر پور وي او دی دراهم او د نانیر ولري،

قاضي يې له اجازې پرته د هغه پورورکوونکو ته ورکولای شي، څکه پورورکوونکی چې له پوروړي سره د خپل حق جنس ويني، د پوروړي له اجازې پرته يې ورڅخه اخيستلی شي.
قاضي کولای شي پوروړی چې پورونه نه اداکوي، بندي کړي او د بند له لارې زور پرې راوړي تر څو خپل مالونه وپلوري او د خلکو پورونه وسپاري.

## د يارانو نظر:

د پورونو په مسئله کې د امام ابويوسف او امام محمد نظر داسې دی: که چېرې پوروړي د پور له اداکولو څخه (پور لږ وي که ډېر) منع راوړی قاضي کولای شي چې د پور ورکوونکو په غوښتنه په نوموړي باندې حجر ولګوي، له اخيستلو او خرڅولو، چا ته په مال اقرارکولو او په خپل مال کې له تصرف کولو څخه يې منعه کړي، څو دده پور ورکوونکي زيانمن نه شي.
که پوروړي په پور کې د خپلو مالونو له ورکولو انکار وکړ، قاضي کولای شي چې د پور ورکوونکو په غوښتنه د پوروړي مالونه او سامان وپلوري او د هغوی پورونه پرې اداکړي. د مالونو په پلورلو کې به د هغه په سامانونو پيل کيږي او بيا به ځمکه خرځيږي. له ضروري شيانو پرته به د پوروړي ټول مالونه پلورل کيږي او د پور ورکوونکو تر منځ به د هغوی د پورونو په تناسب وېشل کيږي.
که پوروړی د حجر په حالت کې چا ته په مال اقرار وکړي، د پخوانيو پورونو له اداکولو مخکې يې نه شي ورکولای، بلکې د پورونو له اداکولو وروسته به نوموړی اقرار سر ته رسوي.

## د مفلس نفقه:

د مفلس له مال څخه به د مفلس، د مفلس د مېرمنې، کوچنيو اولادونو او نورو هغو خپلوانو نفقه ورکول کيږي چې پر مفلس يې نفقه ورکول لازم دي، څکه دا د مفلس اصلي حاجتونه دي او پر نورو حقونو وړاندې دي.

## کوم پورونه د بند لامل کېدای شي؟

يوازې په هغو پورونو کې پوروړی د بندي کېدو وړ دی چې د عقد په نتيجه کې منځته راغلي

وي لکه د بیعې عقد، د نکاح عقد، کفالت او داسې نور. هغه پوروونه چې د عقد په نتیجه کې منځ ته نه وي راغلي لکه د غصب او جنایت په نتیجه کې رامنځته شوي پوروونه، نو په داسې واردو کې پوروړی بندي کېدلای نه شي، مگر دا چې د پور خاوند د پوره وړي په شتمنۍ درلودلو شاهدان تېر کړي.

که څوک له مفلس سره خپل مال بعینه ووینې، نه شي کولای چې د نورو پور خاوندانو پرته یې د ځان لپاره واخلي، بلکې په دې مال کې دی له نورو پور ورکوونکو سره یو شان حق لري، ځکه د پوروړي پر غاړه د ده حق د نورو له حقونو سره برابر دی او کوم لومړیتوب نه لري.

### د فاسق حجر:

فسق په دوه ډوله دی: لومړی دا چې انسان د فسق په حالت کې بالغ شي او همداسې دوام وکړي چې دې ته اصلي فسق ویل کیږي. دویم هغه فسق دی چې له بلوغ وروسته په عارضي ډول راپیدا شي. اصلي او عارضي دواړه فسقونه د فاسق پر تصرفاتو د بندیز سبب کېدای نه شي.

## فعالیت

د پور په مقابل کې د پوروړي بندي کېدل په څه شي دلالت کوي؟
زده کوونکي دې په اسلامي شریعت کې د مال په ارزښت وغږیږي.



## پوښتني

۱- آيا د امام ابوحنيفه په نظر د پور په مقابل کې په پوروړي باندې حجر لګول روا دي؟

۲- د پورتنۍ موضوع په اړه د يارانو نظر بيان کړئ.

۳- مفلس تعريف کړئ.

٤- له مفلس څخه خپل پورونه څنګه بېرته لاس ته راوړلای شو؟

٥- آيا فسق پر تصرفاتو د حجر سبب کېدای شي؟



# اقرار (۱)

اسلامي شريعت او عقل دواړو د انسان وينا او اقرار ته ارزښت ورکړی او هر انسان په خپل اقرار نيول کيږي. د اقرار په اړه موجود احکام بېلابېل اړخونه لري چې نن به موږ په اسلامي شريعت کې د اقرار کوونکي په شرطونو او د اقرار په جملو وغږېږو.

(١) إذَا أَقرَّ الْحُرُّ الْبَالِغُ الْعَاقِلُ عَلَى نَفْسِهِ بِحَقٍّ لَزِمَهُ إقْرَارُهُ مَجْهُولًا كَانَ مَا أَقرَّ بِهِ أَوْ مَعْلُومًا، وَيُقَالُ لَهُ: بَيِّنْ الْمَجْهُولَ. فَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلى الْبَيَانِ.

(٢) فَإِنْ قَالَ: لِفُلَانٍ عَلَيَّ شَيْءٌ. لَزِمَهُ أَنْ يُبَيِّنَ مَا لَهُ قِيمَةٌ، وَالْقَوْلُ فِيهِ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ إنْ ادَّعَى الْمُقَرُّ لَهُ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ.

(٣) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مَالٌ. فَالْمَرْجِعُ فِي بَيَانِهِ إلَيْهِ وَيُقْبَلُ قَوْلُهُ فِي الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ، فَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مَالٌ عَظِيمٌ. لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ مِائَتَيْ دِرْهَمٍ، وَإِنْ قَالَ: دَرَاهِمُ كَثِيرَةٌ. لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ، وَإِنْ قَالَ: دَرَاهِمُ. فَهِيَ ثَلَاثَةٌ إلَّا أَنْ يُبَيِّنَ أَكْثَرَ مِنْهَا.

(٤) وَإِنْ قَالَ كَذَا كَذَا دِرْهَمًا لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدَ عَشَرَ دِرْهَمًا، وَإِنْ قَالَ كَذَا وَكَذَا دِرْهَمًا. لَمْ يُصَدَّقْ فِي أَقَلَّ مِنْ أَحَدٍ وَعِشْرِينَ دِرْهَمًا. وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَوْ قِبَلِي فَقَدْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ.

(٥) وَإِنْ قَالَ: عِنْدِي أَوْ مَعِي. فَهُوَ إقْرَارٌ بِأَمَانَةٍ فِي يَدِهِ.

وَإِنْ قَالَ لَهُ رَجُلٌ: لِي عَلَيْك أَلْفٌ. فَقَالَ: اتَّزِنْهَا أَوْ انْتَقِدْهَا أَوْ أَجِّلْنِيهَا أَوْ قَدْ قَضَيْتُكَهَا. فَهُوَ إقْرَارٌ.

(٦) وَمَنْ أَقَرَّ بِدَيْنٍ مُؤَجَّلٍ فَصَدَّقَهُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي الدَّيْنِ وَكَذَّبَهُ فِي الْأَجَلِ لَزِمَهُ الدَّيْنُ حَالًّا وَيُسْتَحْلَفُ الْمُقَرُّ لَهُ فِي الْأَجَلِ.

## ژباړه

(١) که ازاد، بالغ او عاقل انسان په معلوم یا مجهول حق باندې اقرار وکړي، ادا کول یې ورباندې لازم دي او ورته به ویل کیږي چې د مجهول وضاحت وکړه! که یې وضاحت ونه کړ، حاکم به یې په وضاحت کولو مجبوروي.

(٢) که یې وویل: د فلاني پر ما باندې یو شی دی، نو پرې لازم دي چې ارزښت لرونکی شی وښیي، که مقرله له ښودل شوې اندازې څخه د ډېر شي دعوه کوله، خبره د اقرار کوونکي معتبره ده له قسم سره.

(٣) که یې وویل: د هغه پر ما مال دی. نو د وضاحت لپاره به ده ته مراجعه کیږي او په لږ او ډېر کې یې خبره منل کیږي. که یې وویل: د هغه پر ما ستر مال دی، له دوه سوو درهمو څخه په کمو یې خبره نه منل کیږي او که یې وویل: ډېرې پیسې دي. له لسو څخه په لږو درهمو کې یې خبره نه قبلیږي. که یې وویل: درهمونه دي. نو درې درهمه دي مګر دا چې د ډېرو بیان وکړي.

(٤) که یې وویل: دومره، دومره درهمه دي. له یوولسو څخه په لږو کې یې خبره نه منل کیږي. او که یې وویل: دومره او دومره درهمه دي. له یو ویشتو څخه په لږو کې یې خبره نه منل کیږي. که یې وویل: د هغه پر ما باندې دي یا د هغه زما لورې ته دي، نو په پور یې اقرار وکړ، خو که ویې ویل: زما سره دي، نو دا په امانت اقرار دی.

(٥) که یوه شخص ورته وویل: زما پر تا زر دي او ده (ورته په ځواب کې) وویل: ویې تله، یا کره یې معلومه کړه، یا نېټه یې راکړه، او یا درمې کړې، نو دا اقرار دی.

(٦) که چا د نېټې په پور اقرار وکړ، مقرله په پور کې رښتینی وباله، خو په نېټه کې یې دروغجن وباله، نو سملاسي دین ورباندې لازم دی او په نېټه کې به مقرله ته قسم ورکول کیږي.

## شرحه

**د اقرار تعریف**: اقرار په لغت کې اثبات ته وایي. او په اصطلاح کې پر خپل ځان د بل چا د حق له ثبوت څخه خبر ورکولو ته ویل کیږي.

**مقر**: هغه څوک دی چې په خپل ځان باندې د بل چا له حق څخه خبر ورکوي.

**مقرله**: هغه چا ته ویل کیږي چې مقر یې حق په ځان باندې مني.

**مقربه**: هغه حق چې مقر ورباندې اقرار کړی وي.

**د مقر شرطونه**: د مقر لپاره دا شرط دی چې هغه به ازاد انسان وي، په مالي مسایلو کې چې زیان یې بادار ته اوړي، د مریي اقرار صحیح نه دی، خو که مریی ماذون و اقرار یې منل کیږي، همدا راز که مریی د چا پر حق اقرار وکړي نو له ازادۍ وروسته به یې اداکوي. د کوچني اقرار هم صحیح نه دی، مګر دا چې اجازه ورته شوې وي. همدا راز د لیوني اقرار هم د منلو وړ نه دی.
مقر، به مجهول حقونه روښانوي او که یې انکار وکړ قاضي به یې دې ته اړباسي چې روښانه یې کړي. په اقرار کې دا هم شرط ده چې مقرله، د مقر اقرار ومني. د مجهول اقرار د روښانولو لپاره ضروري ده چې داسې شی وښيي چې ارزښت ولري. که د مقر او مقرله تر منځ د مقربه په اندازه کې اختلاف و، نو د مقر خبره له قسم سره معتبره ده.

**د اقرار ټکي**: ځینې داسې ټکي شته چې کچه یې پوره معلومه نه ده. د فقهي علماوو د داسې ټکو اندازې ټاکلي، د بېلګې په ډول که مقر په (ستر مال) اقرار وکړي، نو له دوو سوو درهمو به لږ نه وي، ځکه دوه سوه درهمه هغه اندازه ده چې شخص پرې غني ګرځي. په همدې دلیل که څوک ووایي چې پر ما د فلاني ډېرې پیسې دي، د یارانو په نظر لږ تر لږه دوه سوه درهمه پرې لازمیږي، خو امام صاحب وایي: لس درهمه پرې لازمېږي، ځکه چې د دراهمو ټکی یوازې د لسو پورې، د عدد تمییز راځي. له (کذا، کذا درهما: دومره، دومره درهمه) څخه به کم تر کمه یوولس اخیستل کیږي ځکه دوه داسې مجهول عددونه یې ذکر کړي چې په منځ کې یې د عطف حرف نشته، او د دې تمیز لږ تر لږه یوولس راځي. همدا راز له (کذا و کذا درهما: دومره او دومره درهمه) څخه به لږ تر لږه یوویشت اخیستل کیږي، ځکه دوه داسې عددونه یې ذکر کړي چې په منځ کې یې د عطف حرف دی، او د دې تمییز لږ تر لږه یوویشت راځي.
د (علي: پر ما باندې) ټکی په عربي کې د لازمولو لپاره کارول کیږي، که په اقرار کې وکارول شي، نو د پور په معنا به وي، خو که په اقرار کې د (عندي او معي: زما سره) ټکی وکارول شي چې د لازمولو لپاره نه دی، نو د امانت معنا افاده کوي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په عملي ډول د اقرار یو لړ صورتونه په خپلو منځونو کې تطبیق کړي.

## پوښتنې

۱- اقرار تعریف کړئ.

۲- مقر، مقرله او مقر به تعریف کړئ.

۳- د مقر شرطونه روښانه کړئ.

٤- آیا په مجهول شي اقرار صحیح دی؟ دلیل یې وواياست.

٥- په اقرار کې د (پر ما باندې) ټکی څه معنا ورکوي؟

# اقرار (٢)
# د اقرار ټکي

پوهيږو چې اقرار په ډول ډول جملو رامنځه کېدای شي. جملې او ټکي د اقرار په ثبوت کې مهم رول لري، له همدې امله علماوو د اقرار جملو ته پاملرنه کړې چې يوه برخه به يې دلته ولولو.

(١) وَمَنْ أَقَرَّ وَاسْتَثْنَى مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهِ صَحَّ الِاسْتِثْنَاءُ وَلَزِمَهُ الْبَاقِي سَوَاءٌ اسْتَثْنَى الْأَقَلَّ أَوْ الْأَكْثَرَ، فَإِنْ اسْتَثْنَى الْجَمِيعَ لَزِمَهُ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَ الِاسْتِثْنَاءُ.

(٢) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا دِينَارًا، أَوْ إِلَّا قَفِيزَ حِنْطَةٍ. لَزِمَهُ مِائَةُ دِرْهَمٍ إِلَّا قِيمَةَ الدِّينَارِ أَوْ الْقَفِيزِ.

(٣) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِائَةٌ وَدِرْهَمٌ. فَالْمِائَةُ كُلُّها دَراهِمُ، وَإِنْ قَالَ: مِائَةٌ وَثَوْبٌ. لَزِمَهُ ثَوْبٌ وَاحِدٌ وَالْمَرْجِعُ فِي تَفْسِيرِ الْمِائَةِ إِلَيْهِ.

(٤) وَمَنْ أَقَرَّ بِحَقٍّ وَقَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ مُتَّصِلًا بِإِقْرَارِهِ لَمْ يَلْزَمْهُ الْإِقْرَارُ.

(٥) وَمَنْ أَقَرَّ وَشَرَطَ الْخِيَارَ لِنَفْسِهِ لَزِمَهُ الْإِقْرَارُ وَبَطَلَ الْخِيَارُ.

(٦) وَمَنْ أَقَرَّ بِدَارٍ وَاسْتَثْنَى بِنَاءَهَا لِنَفْسِهِ فَلِلْمُقَرِّ لَهُ الدَّارُ وَالْبِنَاءُ، وَإِنْ قَالَ: بِنَاءُ هَذِهِ الدَّارِ لِي وَالْعَرْصَةُ لِفُلَانٍ. فَهُوَ كَمَا قَالَ.

(٧) وَمَنْ أَقَرَّ بِتَمْرٍ فِي قَوْصَرَّةٍ لَزِمَهُ التَّمْرُ وَالْقَوْصَرَّةُ. وَمَنْ أَقَرَّ بِدَابَّةٍ فِي إِصْطَبْلٍ لَزِمَهُ الدَّابَّةُ خَاصَّةً.

(٨) وَإِنْ قَالَ: غَصَبْتُ ثَوْبًا فِي مِنْدِيلٍ لَزِمَاهُ جَمِيعًا، وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ ثَوْبٌ فِي ثَوْبٍ لَزِمَاهُ. وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ ثَوْبٌ فِي عَشَرَةِ أَثْوَابٍ لَمْ يَلْزَمْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ إِلَّا ثَوْبٌ وَاحِدٌ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَلْزَمُهُ أَحَدَ عَشَرَ ثَوْبًا .

(٩) وَمَنْ أَقَرَّ بِغَصْبِ ثَوْبٍ وَجاءَ بِثَوْبٍ مَعِيبٍ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ مَعَ يَمِينِهِ، وَكَذا لَوْ أَقَرَّ بِدَراهِمَ وَقالَ: هِيَ زُيُوفٌ. وَإِنْ قالَ لَهُ عَلَيَّ خَمْسَةٌ فِي خَمْسَةٍ - يُرِيدُ الضَّرْبَ وَالْحِسابَ - لَزِمَهُ خَمْسَةٌ، وَإِنْ قالَ: أَرَدْت خَمْسَةً مَعَ خَمْسَةٍ لَزِمَهُ عَشَرَةٌ.

### ژباړه

(١) که چا اقرار وکړ او په متصله استثنا يې لږ يا ډېر څه ورڅخه استثنا کړل، نو استثنا يې صحېح او پاتې به ورکوي، خو که ټول يې استثنا کړل، نو اقرار يې صحيح او استثنا يې باطله ده.

(٢) که يې وويل: د هغه پر ما سل درهمه دي، مګر يو دينار نه، يا يوه پيمانه غنم نه. دا به د يو دينار يا يوې پيمانې غنمو د قيمت په اندازه له سلو درهمو څخه لږ ورکوي.

(٣) که چا وويل: د هغه پر ما سل او يو درهم دی، نو سل ټول درهم دي. که يې وويل: سل او يوه جوړه جامې دي، نو پر ده يوه جوړه جامې دي او د سلو د وضاحت لپاره به له هغه پوښتنه کيږي.

(٤) که چا پر يو حق د اقرار کولو پسې متصل (ان شاء الله) وويل، اقرار پرې نه لازميږي.

(٥) که چا اقرار وکړ، خو خيار يې ځان ته ثابت کړ، نو اقرار يې صحېح او خيار يې باطل دی.

(٦) که چا په کور اقرار وکړ، خو ودانۍ يې د ځان لپاره استثنا کړه، نو کور او ودانۍ دواړه د مقرله حق دی. که داسې يې وويل: د دې کور ودانۍ زما او انګړ (حويلۍ) يې د فلاني ده، نو خبره يې منل کيږي.

(٧) که چا په ټوکرۍ کې په خرما باندې د (غصب) اقرار وکړ، خرما او ټوکرۍ دواړه پرې لازميږي. که چا په غوجل کې په غواوو اقرار وکړ، نو يوازې غواوې پرې لازميږي.

(٨) که يې داسې وويل: په دستمال کې مې جامې غصب کړې نو دواړه پرې لازميږي او که يې وويل: له هغه مې جامه په جامه کې غصب کړې، دواړه جامې پرې لازميږي، او که داسې يې وويل: د هغه پر ما باندې يوه جوړه جامې په لسو جوړو کې دي. د امام ابوحنيفه او امام ابويوسف په نزد يوه جوړه جامې ورباندې دي، خو امام محمد وايي: يوولس جوړه جامې

وربانديږي دي.

**(۹)** چا چې د جامو په غصب کولو اقرار وکړ او عيبجنه جامه يې د سپارلو لپاره راوړه، نو خبره يې له قسم سره معتبره ده. همدا راز که په دراهمو يې اقرار وکړ او ويې ويل: هغه کوټه (ناچلې) دي.

که يې وويل: پر ما پنځه په پنځو کې دي او مقصد يې ضرب او حساب وو، نو يوازې پنځه پرې لازميږي او که يې وويل: زما مقصد پنځه جمع پنځه وو، لس پرې لازميږي.

## شرحه

**په اقرار کې د استثناء بيان**: استثنا په دوو ډولو ده، يوې ته تعطيلي (ځنډوونکې) او بلې ته تحصيلي (حاصلوونکې) استثناء وايي. دا دواړه استثناګانې هغه مهال صحيح دي چې له خبرې سره متصلې ذکر شي.

**تعطيلي استثناء**: د بېلګې په ډول يو څوک ووايي: ستا پر ما سل افغانۍ دي إن شاءالله. په دې مثال کې د (إن شاءالله) له جملې سره ټول اقرار وځنډېده او داسې دی لکه چې له سره اقرار نه وي شوی، ځکه هغه اقرار چې تعطيلي استثنا پکې وي په مقر هيڅ شی نه لازموي.

**تحصيلي استثناء**: دې ته وايي چې د ويل شوې جملې له حکم څخه د استثنا په ټکو (الا، غير او سوی) ځنې شيان وايستل شي، لکه (له علي مائة درهم إلا درهما) د هغه پر ما سل درهمه دي، خو يو درهم نه. د دې استثنا په نتيجه کې که تر حکم لاندې ډېر شيان پاتې شي او که لږ، استثنا صحيح بلل کيږي، البته که د ويل شوې جملې ټول شيان بېرته استثنا شي لکه (د هغه پر ما سل افغانۍ دي مګر سل نه) نو دا استثنا باطله ده او په مقر باندې ټول شيان لازميږي ځکه چې دا استثنا نه، بلکې رجوع (له اقرار څخه ګرځېدل) بلل کيږي او له اقرار څخه ګرځېدل شرعا باطل دي.

**اقرار او خيار**: که څوک د يو مال په اخيستلو اقرار وکړي او ورسره دا هم ووايي چې ما ته پکې خيار هم شته نو اقرار يې صحيح او خيار يې باطل دی، ځکه چې خيار د فسخې لپاره وي او اقرار نه فسخه کيږي.

**مسئله**: که څوک د چا لپاره په کور اقرار وکړي، نو ودانۍ ورځخه نه شي استثنا کولای، ځکه چې ودانۍ په طبيعي ډول په کور کې شامله وي، البته که چا ته په ودانۍ اقرار وکړي او انګړ

ورڅخه استثنا کړي، صحیح ده، یعني ودانۍ او تر ودانۍ لاندې ځمکه د مقرله حق ګرځي او انګړ د مقر په ملکیت کې پاتې کیږي.

**مسئله**: که څوک په یو شي کې د بل شي د غصب اقرار وکړي او لومړی شی د دویم لپاره ظرف وي، نو دواړه پرې لازمیږي، خو که له یوه شي څخه د بل شي د غلا کولو اقرار وکړي نو یوازې دویم شی پرې لازمیږي، که څه هم لومړی ظرف وي، ځکه د (من) کلمه د رابېلولو معنا لري. په دې اړه په متن کې راغلې مسئلې په همدې بنسټ ولاړې دي، البته په غوجل کې د څارویو په غصب کولو باندې په اقرار کولو ځکه یوازې څاروي لازمیږي چې غوجل له ځمکې څخه عبارت ده او غصب یې ممکن نه دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې د محترم ښوونکي په مرسته په اقرار کې د استثنا لپاره بېلابېلې جملې جوړې او حکم دې روښانه کړي.

## پوښتنې

١- په اقرار کې استثنا په کوم شرط صحیح ګڼل کیږي؟
٢- تعطیلي استثنا څه ته وایي؟
٣- د استثنا ټکي کوم کوم دي؟
٤- په اقرار کې ځانته خیار ثابتول څه حکم لري؟
٥- په غوجل کې د څارویو په غصب ولې دواړه نه لازمیږي؟

# اقرار (۳)
# د اقرار جملې

خوږو زده کوونکو! تېر لوست مو په اقرار کې د کارول کېدونکو ټکو او جملو په اړه وو، څرنګه چې دا موضوع پای ته نه ده رسېدلې، غواړو چې نن هم ورسره تم شو او په بېلابېلو اړخونو يې ځانونه ښه پوه کړو.

(۱) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ مِنْ دِرْهَمٍ إِلَى عَشَرَةٍ، لَزِمَهُ تِسْعَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، يَلْزَمُهُ الِابْتِدَاءُ وَمَا بَعْدَهُ وَتَسْقُطُ الْغَايَةُ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يَلْزَمُهُ الْعَشَرَةُ كُلُّهَا.

(۲) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ اشْتَرَيْته مِنْهُ وَلَمْ أَقْبِضْهُ، فَإِنْ ذَكَرَ عَبْدًا بِعَيْنِهِ قِيلَ لِلْمُقَرِّ لَهُ: إِنْ شِئْتَ فَسَلِّمِ الْعَبْدَ وَخُذِ الْأَلْفَ، وَإِلَّا فَلَا شَيْءَ لَك.

(۳) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ عَبْدٍ وَلَمْ يُعَيِّنْهُ لَزِمَهُ الْأَلْفُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ. وَلَوْ قَالَ: لَهُ علي أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ هذا الْعَبْدِ لَمْ يَلْزَمْهُ حَتَّى يُسَلِّمَ الْعَبْدَ، فَإِنْ سَلَّمَ الْعَبْدَ لَزِمَهُ الْأَلْفُ وَإِنْ لَمْ يُسَلِّمْهُ لَمْ تَلْزَمْهُ.

(٤) وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ مِنْ ثَمَنِ خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ، لَزِمَهُ الْأَلْفُ وَلَمْ يُقْبَلْ تَفْسِيرُهُ، وَإِنْ قَالَ: لَهُ عَلَيَّ أَلْفٌ مِنْ ثَمَنِ مَتَاعٍ وَهِيَ زُيُوفٌ، وَقَالَ الْمُقَرُّ لَهُ: هِيَ جِيَادٌ، لَزِمَهُ الْجِيَادُ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٥) وَمَنْ أَقَرَّ لِغَيْرِهِ بِخَاتَمٍ فَلَهُ الْحَلْقَةُ وَالْفَصُّ، وَإِنْ أَقَرَّ لَهُ بِسَيْفٍ فَلَهُ النَّصْلُ وَالْجَفْنُ وَالْحَمَائِلُ، وَمَنْ أَقَرَّ بِحَجَلَةٍ فَلَهُ الْعِيدَانُ وَالْكِسْوَةُ.

## ژباړه

(۱) که (مقر) وويل: د هغه پر ما له يوه درهم څخه تر لسو پورې دي نو د امام ابوحنيفه په نزد

نهه درهمه پرې لازمیږي (یعنې) له ابتدا (یوه) څخه تر نهو شمېرې پکې داخلې دي او غایه (لسمه) پکې داخله نه ده. امام ابویوسف او امام محمد وایي: لس پوره پرې لازمیږي.

(۲) که (مقر) وویل: د هغه پر ما د هغه مریي له درکه چې ورڅخه مې اخیستی، خو قبض کړی مې نه دی، زر درهمه دي. که یې مریي تعیین کړ، نو مقرله ته به وویل شي: که دې خوښه وي نو مریی وسپاره او زر درهمه واخله او که مریی نه سپارې، نو د هیڅ شي حقدار نه یې.

(۳) که مقر وویل: د هغه پر ما د مریي د قیمت له درکه زر دي او مریی یې تعیین نه کړ، نو د امام ابوحنیفه په نظر زر درهمه پرې لازم دي، خو که داسې یې وویل: د هغه پر ما د دغه مریی د قیمت له درکه زر دي، نو زر تر هغې نه لازمیږي چې مریی تر لاسه نه کړي. که یې مریی ورتسلیم کړ، نو زر پرې لازمېږي او که یې مریی تسلیم نه کړ نو نه لازمیږي.

(٤) که یې وویل: د هغه پر ما زر دي، د شرابو یا د خوګ د قیمت له درکه. په دې اقرار کې زر درهمه پرې لازمیږي او د شرابو او خوګ تفسیر یې نه منل کیږي. که مقر وویل: د هغه پر ما د مال د قیمت له درکه زر درهمه کوټه پیسې دي، خو مقرله وویل چې روغې پیسې دي. په دې صورت کې د امام ابوحنیفه په نظر روغې پیسې پرې لازمیږي.

(٥) که مقر د چا لپاره په ګوته اقرار وکړ نو حلقه او غمی دواړه پرې لازمیږي. که چا په توره اقرار وکړ نو تیغ، تیکی او غاړه کی ټول پرې لازم دي. که پر ډولۍ یې اقرار وکړ، نو لرګی او ټوکر دواړه پرې لازمیږي.

## شرحه

که اقرارکوونکی ووایي: د هغه پر ما د هغه مریي له درکه چې ورڅخه مې اخیستی، خو قبض کړی مې نه دی، زر درهمه دي. په دې مسئله کې دوه صورتونه دي:

۱- که مقر مریی تعین کړ، نو خوښه د مقرله ده چې مریی سپاري او زر درهمه اخلي او که انکار کوي او د مریي له سپارلو ډډه کوي، یعنې په دې صورت کې د مریي له سپارلو پرته پر مقر زر درهمه نه لازمیږي.

۲- که مقر مریی تعین نه کړ، نو په دې صورت کې که مقرله د مریي له سپارلو انکار وکړي هم پر مقر زر درهمه لازمیږي، ځکه د مقر د اقرار له مخې پر هغه زر درهمه لازم شول، له دې وروسته دا خبره چې (ما غلام قبض کړی نه دی)، له اقرار څخه رجوع ګڼل کیږي او له اقرار

ځخه رجوع کول شرعا باطل دي، البته د امام ابویوسف او امام محمد په نظر که د نه قبض کېدلو خبره يې متصله وکړه، نو د مريي له تړلاسه کولو پرته پرې زر درهمه نه لازمېږي خو که د نه قبض کېدو خبره يې متصله ونه کړه، نو زر درهمه پرې لازم دي.

**مسئله**:

په دې اقرار کې (چې پر ما د هغه زر درهمه دي د خوګ یا د شرابو د قيمت له درکه) هم پر مقر زر درهمه لازم دي. که څه هم خوګ او شراب په شريعت کې هېڅ مالي ارزښت نه لري او له دې درکه پر چا مال نه لازمېږي خو ځرنګه چې مقر لومړی په دې اقرار( پر ما د هغه زر درهمه دي) پر خپل ځان زر درهمه لازم کړي او وروسته د خوګ او شرابو خبره څکه د منلو وړ نه ده چې دا وينا په حقيقت کې له اقرار ځخه د رجوع په معنا ده او له اقرار ځخه رجوع کول شرعا باطل دي.

په همدې ډول که د مال د قيمت له درکه په زرو درهمو اقرار وکړي او وروسته ووايي چې زر درهمه کوټه دي، خو مقر له ووايي چې روغې پيسې دي. په دې صورت کې هم ځکه روغې پيسې لازمېږي چې عموما راکړه ورکړه په روغو پيسو کيږي، کله چې څوک په پيسو اقرار وکړي او بيا وايي چې کوټه پيسې دي، نو دا هم له اقرار ځخه یو ډول رجوع ده چې شرعا د منلو وړ نه ده.

## په ګوته اقرار کول:

که څوک د چا لپاره په ګوته اقرار وکړي، نو حلقه او غمی دواړه پرې لازمېږي، ځکه په عرف او دود کې ګوته حلقې او غمي دواړو ته ويل کيږي، لنډه دا چې دې مثال ته ورته هغه شيان چې د کوم نوم لاندې راځي، د هغه نوم د اخيستلو په مهال په اقرار کې داخليږي، لکه د تيکی (پوښ) او غاړه کی داخلېدل په توره کې او د لرګو او ټوکر داخلېدل په ډولۍ کې.

## فعاليت

زده کوونکي دې د اقرار داسې مثالونه وړاندې کړي چې د يوه نوم لاندې څو شيان داخل وي.

## پوښتنې

۱- (د هغه پر ما د هغه پسه له درکه چې ورځخه مې اخیستی خو قبض کړی مې نه دی، زر درهمه دي) د دې مسئلې دوه صورتونه بیان کړئ.

۲- په پورتنۍ مسئله کې که پسه تعیین نه شي، ولې په هر حال زر درهمه لازمیږي؟

۳- په دې صورت کې (پر ما باندې د هغه زر درهمه دي د شرابو د قیمت له درکه) د شرابو تفسیر ولې نه منل کیږي؟

٤- د (ګوتې) تر نامه لاندې کوم شیان داخلیږي؟

# اقرار (۴)
# حمل ته اقرار او په مرض کې اقرار

د مرګوني ناروغۍ په حالت کې په کوم شي باندې د چا لپاره اقرار کول په شريعت کې ځانګړي حکمونه لري، همدا راز حمل ته اقرار کول هم يوه مهمه موضوع ده. راځئ چې په احکامو يې ځانونه پوه کړو.

(١) وَإِنْ قَالَ: لِحَمْلِ فُلَانَةَ عَلَيَّ أَلْفُ دِرْهَمٍ، فَإِنْ قَالَ أَوْصَى بِهَا فُلَانٌ أَوْ مَاتَ أَبُوهُ فَوَرِثَهُ فَالْإِقْرَارُ صَحِيحٌ، وَإِنْ أَبْهَمَ الْإِقْرَارَ لَمْ يَصِحَّ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ.

(٢) وَإِنْ أَقَرَّ بِحَمْلِ شَاةٍ لِرَجُلٍ صَحَّ الْإِقْرَارُ وَلَزِمَهُ.

(٣) وَإِذَا أَقَرَّ الرَّجُلُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ بِدُيُونٍ وَعَلَيْهِ دُيُونٌ لَزِمَتْهُ فِي صِحَّتِهِ وَدُيُونٌ لَزِمَتْهُ فِي مَرَضِهِ بِأَسْبَابٍ مَعْلُومَةٍ، فَدَيْنُ الصِّحَّةِ وَالدَّيْنُ الْمَعْرُوفُ بِالْأَسْبَابِ مُقَدَّمٌ عَلى غَيْرِهِ، فَإِذَا قُضِيَتْ وَفَضُلَ شَيْءٌ كَانَ فِيمَا أَقَرَّ بِهِ فِي حَالِ الْمَرَضِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهِ دُيُونٌ لَزِمَتْهُ فِي صِحَّتِهِ جَازَ إِقْرَارُهُ وَكَانَ الْمُقَرُّ لَهُ أَوْلَى مِنَ الْوَرَثَةِ.

(٤) وَإِقْرَارُ الْمَرِيضِ لِوَارِثِهِ بَاطِلٌ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهُ بَقِيَّةُ الْوَرَثَةِ.

(٥) وَمَنْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيٍّ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ ثُمَّ قَالَ: هُوَ ابْنِي، ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَبَطَلَ إِقْرَارُهُ لَهُ. وَلَوْ أَقَرَّ لِأَجْنَبِيَّةٍ ثُمَّ تَزَوَّجَهَا لَمْ يَبْطُلْ إِقْرَارُهُ لَهَا.

(٦) وَمَنْ طَلَّقَ زَوْجَتَهُ ثَلَاثًا فِي مَرَضِهِ، ثُمَّ أَقَرَّ لَهَا بِدَيْنٍ فَمَاتَ، فَلَهَا الْأَقَلُّ مِنَ الدَّيْنِ وَمِنْ مِيرَاثِهَا مِنْهُ.

## ژباړه

(١) که (مقر) ووېل: د فلانۍ ښځې د حمل پر ما باندې زر روپۍ دي. که داسې يې ووېل چې

فلاني ورته وصيت کړی یا یې پلار مړ شوی، د پلار میراث یې دی نو اقرار یې صحیح دی، خو که اقرار یې مبهم (ګونګ) و، نو د امام ابویوسف په نزد صحیح نه دی.

(۲) که د مېږې په حمل یې د چا لپاره اقرار وکړ نو اقرار یې صحیح او ادا کول یې ورباندې لازم دي.

(۳) که چا په مرض موت کې په پوروونو اقرار وکړ او پر هغه د روغتیا د مهال پوروونه هم وو او د مرض موت د مهال نور پوروونه هم وو چې سبب یې معلوم و، په دې حالت کې د روغتیا د مهال پوروونه او د معلومو سببونو پوروونه پر نورو وړاندې دي. کله چې دا پوروونه ادا شي او څه ترې پاتې شي، نو دا به په هغه څه کې (ورکول کیږي) چې په مرض کې یې ورباندې اقرار کړی. خو که د روغتیا د مهال پوروونه ورباندې نه وو، نو اقرار یې صحیح او د مقرله حق په ورثه وو مقدم دی.

(٤) وارث ته د ناروغ اقرار باطل دی، دا چې نور وارثان یې تصدیق وکړي.

(٥) چا چې پردي سړي ته په مرض موت کې اقرار وکړ او بیا یې وویل: هغه زما زوی دی، نو نسب یې ثابت او اقرار یې باطل دی. که پردی ښځې ته یې اقرار وکړ، بیا یې هغه په نکاح کړه نو اقرار یې نه باطلیږي.

(٦) که چا خپله ښځه په مرض موت کې په دریو طلاقو، طلاقه کړه، بیا یې ورته په پور اقرار وکړ او مړ شو، دې ښځې ته به له پور او میراث څخه هر یو چې کم و ورکول کیږي.

**شرحه**

**حمل ته اقرار**: حمل ته اقرار کول صحیح دي، په دې شرط چې په اقرار کې داسې معقول سبب ذکر وي چې په هغه سره حمل ته مال انتقالېدای شي، د بېلګې په ډول مقر ووایي چې د دغه حمل په ما د حامد د وصیت له درکه چې دې حمل ته یې کړی و، زر افغانۍ دي یا داسې ووایي: د دغه حمل پر ما د ده د مړ شوي پلار د پور له درکه زر افغانۍ دي چې هغه افغانۍ ده په میراث وړې دي.

که پر مال د اقرار سبب معلوم نه وي، لکه د دې حمل پر ما زر افغانۍ دي، یا داسې سبب وښیي چې معقول نه وي، د بېلګې په ډول مقر ووایي: د دې حمل پر ما د پور له درکه زر افغانۍ دي، یا د دې حمل پر ما د موټر له درکه چې ورڅخه مې په بیعه اخیستی زر افغانۍ

دي، نو اقرار باطل دی.

د مېږې، غوا او داسې نورو په حمل باندې د بل چا لپاره اقرار صحیح دی، که څه هم حمل مجهول دی، خو لکه چې پخوا مو ویلي وو، په مجهول حق باندې هم اقرار صحیح دی. یاده دې وي چې حمل ته هغه مهال اقرار صحیح دی چې حمل موجود وي، که د اقرار پر مهال حمل موجود نه و، نو اقرار باطل دی.

**مرګونې ناروغي** (مرض موت):

هغې ناروغتیا ته ویل کیږي چې د مرګ وېره پکې غالبه وي که څه هم ناروغ پکې بستري نه وي.

**په مرض موت کې په پورونو اقرار:**

که څوك په مرګونې ناروغۍ کې په پور اقرار وکړي، نو اقرار یې صحیح او د پورونو اداکول ورباندې لازم دي، البته د دوو ډولو پورونو اداکول په دې اقرار باندې مقدم دي چې په لاندې ډول دي:

١- د روغتیا پر مهال اخیستل شوي پورونه.

٢- د مرګونې ناروغۍ د مهال هغه پورونه چې سبب یې معلوم وي، د بېلګې په ډول د درملو لپاره اخیستل شوي پورونه چې شاهدان پرې هم شتون ولري او حق یې د مقر له اقرار پرته هم معلوم او ثابت دی.

که د پورتنیو پورونو له اداکولو وروسته مال پاتې و، نو د ناروغۍ د مهال په اقرار کې یې ورکول د وارثانو په حق مقدم دي.

په مرګونې ناروغۍ کې وارث ته پر مال اقرار باطل دی، مګر چې وارثان یې تصدیق وکړي. په همدې بنسټ که څوك پردي سړي ته اقرار وکړي او وروسته د هغه د زوی والي دعوه وکړي، نو نسب یې ثابت او د وارث ګرځېدو له امله یې اقرار باطل دی، خو که چا پردۍ ښځې ته په مال اقرار وکړ او وروسته یې هغه په نکاح کړه، د وارث ګرځېدو له امله یې د پورتني مثال په څېر اقرار نه باطلیږي، ځکه مېرمن یې د اقرار پر مهال پردۍ او زوی یې د اقرار پر مهال هم وارث و، پردي ته اقرار صحیح او وارث ته اقرار باطل دی.

د پورتنیو احکامو سبب دا دی چې په مرګونې ناروغۍ کې په خپل مال کې د انسان واك راکمیږي او هغه تصرفات چې په روغتیا کې یې په خپل مال کې کولای شول په مرګونې ناروغۍ کې یې نه شي کولای.

**مسئله**: که سړی خپلې ښځې ته په مرګوني ناروغۍ کې مغلظ طلاق ورکړي، بیا ورته په پور اقرار وکړي او د ښځې د عدت په حال کې مړ شي، څرنګه چې په دې صورت کې په سړي ګومان کیږي چې د خپلې ښځې د حق زیاتولو په خاطر یې لومړی هغه طلاقه او بیا یې ورته په پور اقرار کړی، نو په دې بنسټ چې د مرګ په ناروغۍ کې د انسان واک راکمیږي، ښځې ته به له میراث یا پور څخه هغه حق ورکول کیږي چې کم وي تر څو نور وارثان زیانمن نه شي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په مرض موت کې د ناروغ د تصرفاتو د محدودیدو په لاملونو بحث وکړي.

## پوښتنې

١- حمل ته د اقرار کولو شرطونه ووایاست.

٢- آیا په حمل اقرار صحیح دی؟

٣- د مرض موت پر مهال د پور په اقرار باندې کوم پوروونه مقدم دي؟

٤- د هغې ښځې حق بیان کړئ چې میړه په مرض موت کې په دریو طلاقو، طلاقه کړې وي او په پور یې ورته اقرار کړی وي.

# اقرار (۵)
# په نسب اقرار

د اقرار له ډولونو څخه يو هم په نسب اقرار کول دي. دا ډول اقرار د فقهي له نظره ځکه مهم دی چې د دغه اقرار په ثبوت سره يو شخص د بل په ميراث کې حقدار ګرځي. لاندنی لوست د همدغو مسائلو څخه بحث کوي.

(۱) وَمَنْ أَقَرَّ بِغُلَامٍ ـ يُولَدُ مِثْلُهُ لِمِثْلِهِ وَلَيْسَ لَهُ نَسَبٌ مَعْرُوفٌ ـ أَنَّهُ ابْنُهُ وَصَدَّقَهُ الْغُلَامُ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَإِنْ كَانَ مَرِيضًا، وَيُشَارِكُ الْوَرَثَةَ فِي الْمِيرَاثِ.

(۲) وَيَجُوزُ إِقْرَارُ الرَّجُلِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالْوَلَدِ وَالزَّوْجَةِ وَالْمَوْلَى، وَيُقْبَلُ إِقْرَارُ الْمَرْأَةِ بِالْوَالِدَيْنِ وَالزَّوْجِ وَالْمَوْلَى وَلَا يُقْبَلُ إِقْرَارُهَا بِالْوَلَدِ إِلَّا أَنْ يُصَدِّقَهَا الزَّوْجُ أَوْ تَشْهَدَ بِوِلَادَتِهَا قَابِلَةٌ.

(۳) وَمَنْ أَقَرَّ بِنَسَبٍ مِنْ غَيْرِ الْوَالِدَيْنِ وَالْوَلَدِ وَالزَّوْجِ وَالزَّوْجَةِ وَالْمَوْلَى -مِثْلُ الْأَخِ وَالْعَمِّ- لَمْ يُقْبَلْ إِقْرَارُهُ فِي النَّسَبِ، فَإِنْ كَانَ لَهُ وَارِثٌ مَعْرُوفٌ قَرِيبٌ أَوْ بَعِيدٌ فَهُوَ أَوْلَى بِالْمِيرَاثِ مِنْ الْمُقَرِّ لَهُ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَارِثٌ اسْتَحَقَّ الْمُقَرُّ لَهُ مِيرَاثَهُ.

(٤) وَمَنْ مَاتَ أَبُوهُ فَأَقَرَّ بِأَخٍ لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُ أَخِيهِ وَيُشَارِكُهُ فِي الْمِيرَاثِ.

**ژباړه**

(۱) چا چې د داسې شخص په زوی ولۍ اقرار وکړ چې نسب يې معلوم نه و او د هغه په څېر شخص د ده په څېر سړي څخه زېږېدای شو او هغه يې هم تصديق وکړ، نو نسب له ده څخه ثابت او له وارثانو سره په ميراث کې شريک دی که څه هم مقر دا اقرار په مرض موت کې کړی وي.

(۲) د سړي اقرار پر مور، پلار، زوی، مېرمنې او بادار باندې صحیح دی. د ښځې اقرار په مور، پلار، مېړه او بادار باندې صحیح دی، پر زوی یې اقرار صحیح نه دی، مګر دا چې مېړه یې تصدیق وکړي او یا یې دایه په ولادت شاهدي ورکړي.

(۳) چا چې له پلار، مور، زوی، مېړه، مېرمنې او بادار پرته په بل چا لکه ورور او تره د نسب اقرار وکړ، په (دې) نسب یې اقرار نه منل کیږي. که یې نږدې یا لیرې معلوم خپلوان درلود، له مقرله څخه هغه په میراث کې مقدم دی، خو که وارث یې نه درلود، مقرله یې د میراث حقدار دی.

(٤) د چا چې پلار مړ شو او د ورور په نسب یې اقرار وکړ، د ورور نسب یې نه ثابتیږي، خو په میراث کې ورسره شریکیږي.

## شرحه

### د نسب تعریف:

نسب داسې قرابت ته ویل کیږي چې دوه تنه په پلار یا نږدې او لرې نیکه کې یو ځای کړي.

په زوی والي اقرار: که څوک د چا په زوی والي اقرار وکړي، نو د زوی د نسب د ثبوت لپاره لاندې شرطونه باید بشپړ شي:

۱- مقرله به معلوم نسب نه لري.

۲- مقرله به له مقر څخه په عمر کې دومره کشر وي چې عقلاً د هغه زوی کېدای شي، یعنې که مقر سړی وي، نو مقرله به ورڅخه کم تر کمه دولس نیم کاله کشر وي او که مقر ښځه وي، نو مقرله به ورڅخه کم تر کمه نهه کاله کشر وي. ځکه چې سړی له دولس نیمو کلو وړاندې او ښځه له نهو کلو وړاندې پلار او مور کېدای نه شي.

۳- مقرله به د مقر دعوه ریښتینې وګڼي. دا خبره هغه وخت شرط ده چې مقرله بالغ وي، که مقرله صغیر وي، نو بیا یې تصدیق ته اړتیا نشته.

کله چې دا شرطونه بشپړ شي، نو نسب ثابتیږي او په میراث کې شریک ګرځي. که د نسب اقرار د مرګوني ناروغی په حالت کې وشي هم صحیح دی او د میراث سبب کیږي، ځکه د

نسب ثبوت ډېر پخواني وخت ته ورگرځي چې هغه مهال لا مقر روغ او تصرفات يې بشپړ نافذ وو.

## د نسب اقرار چا ته صحيح دی؟

د سړي له خوا لاندې کسانو ته د نسب اقرار صحيح دی:

۱- مور او پلار.

۲- اولادونه.

۳- ښځه.

٤- بادار.

په پورتنيو کسانو باندې اقرار ځکه صحيح دی چې دوی ته په اقرار کې له مقر پرته پر بل چا د نسب تحميل نه راځي.

همدا راز د ښځې اقرار په مور او پلار، مېړه او بادار باندې صحيح دی، ځکه په اقرار کې يې له خپل ځان پرته په بل چا باندې د نسب تحميلول نشته. د چا پر زوی ولی يې اقرار صحيح نه دی، ځکه په دې صورت کې پر مېړه د نسب تحميلول راځي. که يې مېړه تصديق وکړي او يا يې دايه (قابله) پر ولادت شاهدي ووايي، نو اقرار يې صحيح دی.

که چا د داسې شخص په نسب اقرار وکړ چې نسب يې شرعا نه ثابتېده، نو د مړينې پر مهال يې که وارثان نه وو، نوموړی شخص يې په ميراث کې حقدار دی، ځکه په دغو صورتونو کې د مقر په اقرار کې دوه شيان دي، يو د نسب ثبوت او بل د مال انتقال. څرنگه چې د نسب ثبوت دده په واک کې نه دی، په دې بنسټ نسب نه ثابتيږي، خو د مال انتقال د مقر په واک کې دی نو ځکه مقرله په ميراث کې ورسره شريک شمېرل کيږي.

## فعالیت

پر بل چا د نسب تحمیل څه معنا؟ دا عبارت وڅېړئ او اهمیت يې بیان کړئ.

## پوښتني

۱- نسب تعریف کړئ.
۲- د زوی والي په اقرار کې د نسب د ثبوت شرطونه بیان کړئ.
۳- سړي کومو کسانو ته په نسب اقرار کولای شي؟
٤- ښځه کومو کسانو ته په نسب اقرار کولای شي؟
٥- د نسب د نه ثبوت په صورت کې ولې مقرله د میراث حقدار ګڼل کیږي؟

# اجاره (۱)
## د اجارې پېژندنه

په فقه کې تمليك په دوه ډوله دی: د عين تمليك او د منافعو تمليك. د عين تمليك كه د عوض په مقابل کې وي، نو بيعه ده او كه د عوض په مقابل کې نه وي، نو هبه ده. همدا راز د منافعو تمليك كه له عوض پرته وي، عاريت ګڼل كيږي، خو كه د عوض په مقابل کې وي، نو اجاره ده چې په دغو راتلونكو لوستونو كې به يې تفصيلات ولولو.

(١) الْإِجَارَةُ عَقْدٌ عَلَى الْمَنَافِعِ بِعِوَضٍ، وَلَا تَصِحُّ حَتَّى تَكُونَ الْمَنَافِعُ مَعْلُومَةً وَالْأُجْرَةُ مَعْلُومَةً.

(٢) وَمَا جَازَ أَنْ يَكُونَ ثَمَنًا فِي الْبَيْعِ، جَازَ أَنْ يَكُونَ أُجْرَةً فِي الْإِجَارَةِ .

(٣) وَالْمَنَافِعُ تَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالْمُدَّةِ كَاسْتِئْجَارِ الدُّورِ لِلسُّكْنَى وَالْأَرَضِينَ لِلزِّرَاعَةِ، فَيَصِحُّ الْعَقْدُ عَلَى مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ أَيَّ مُدَّةٍ كَانَتْ. وَتَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالْعَمَلِ وَالتَّسْمِيَةِ كَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا عَلَى صَبْغِ ثَوْبٍ أَوْ خِيَاطَتِهِ أَوْ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا مِقْدَارًا مَعْلُومًا إِلَى مَوْضِعٍ مَعْلُومٍ أَوْ يَرْكَبَهَا مَسَافَةً سَمَّاهَا.

(٤) وَتَارَةً تَصِيرُ مَعْلُومَةً بِالتَّعْيِينِ وَالْإِشَارَةِ ،كَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا لِيَنْقُلَ لَهُ هَذَا الطَّعَامَ إِلَى مَوْضِعٍ مَعْلُومٍ.

(٥) وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الدُّورِ وَالْحَوَانِيتِ لِلسُّكْنَى، وَإِنْ لَمْ يُبَيِّنْ مَا يَعْمَلُ فِيهَا، وَلَهُ أَنْ يَعْمَلَ فِيهَا كُلَّ شَيْءٍ إِلَّا الْحِدَادَةَ وَالْقِصَارَةَ وَالطَّحْنَ.

(٦) وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الْأَرَاضِي لِلزِّرَاعَةِ، وَلَا يَجُوزُ الْعَقْدُ حَتَّى يُبَيِّنَ مَا يَزْرَعُ فِيهَا أَوْ يَقُولَ: عَلَى أَنْ أَزْرَعَ فِيهَا مَا أَشَاءُ.

(٧) وَيَجُوزُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ السَّاحَةَ لِيَبْنِيَ فِيهَا أَوْ يَغْرِسَ فِيهَا نَخْلًا أَوْ شَجَرًا، فَإِذَا انْقَضَتْ

الْمُدَّةُ لَزِمَهُ قَلْعُ ذَلِكَ وَيُسَلِّمُهَا فَارِغَةً إِلَّا أَنْ يَخْتَارَ صَاحِبُ الْأَرْضِ أَنْ يَغْرَمَ لَهُ قِيمَةَ ذَلِكَ مَقْلُوعًا، فَيَمْلِكَهُ أَوْ يَرْضَى بِتَرْكِهِ عَلَى حَالِهِ فَيَكُونَ الْبِنَاءُ لِهَذَا، وَالْأَرْضُ لِهَذَا.

**ژباړه**

(۱) د عوض په مقابل کې د منافعو پلورل اجاره بلل کيږي. د اجارې عقد تر هغې صحيح نه دی چې منافع او مزدوري معلومه شوې نه وي.

(۲) هغه شيان چې په بيعه کې يې د ثمن په توګه ورکول صحيح دي، په اجاره کې د مزدورۍ په توګه ورکول کېدای شي.

(۳) منافع کله د مودې پر بنسټ ټاکل کيږي لکه د اوسېدو لپاره کورونه او د زراعت لپاره ځمکه په اجاره اخيستل، نو د ټاکلې مودې لپاره –چې هر څومره وي – د اجارې عقد صحيح دی. کله بيا منافع په کار کولو او نوم اخيستلو سره ټاکل کيږي لکه چا چې د جامو رنګولو يا جامو ګنډلو لپاره څوک په اجاره نيولی وي، يا يې سپرلی په اجاره نيولې وي، څو ټاکلي ځاي ته پرې معلوم بار ولېږدوي او يا ټاکلې مسافه پرې سفر وکړي.

(٤) کله کله منافع په تعيينولو او اشارې سره ټاکل کيږي، لکه څوک چې د دې لپاره سړی په اجاره ونيسي چې دا غله (پرتې غلې ته اشاره وکړي) به فلاني ځاي ته لېږدوي.

(٥) د استوګنې د کورونو او دکانونو په اجاره نيول روا دي که څه هم دا روښانه نه کړي چې څه کار به پکې کوي، اجاره نيوونکی له پښتوب، دوبي توب او ژرندې کولو پرته ټول کارونه پکې کولای شي.

(٦) د بزګرۍ لپاره د ځمکې په اجاره نيول روا دي، خو عقد به هله صحيح وي چې بزګر دا روښانه کړي چې په ځمکه کې به څه شی کري او يا داسې ووايي: څه مې چې خوښ شو هغه به پکې کرم.

(۷) د آبادۍ او ونو بوټو کرلو لپاره هم ځمکه په اجاره نيول روا دي، خو کله چې د اجارې موده پوره شي، نو په اجاره نيوونکي لازم دي چې ودانۍ او ونې بوټي ليرې کړي او ځمکه اجاره ورکوونکي ته تشه تسليم کړي مګر دا چې د ځمکې څښتن يې د نړېدلې ودانۍ او ايستل شوو ونو په توګه قيمت ورکولو ته راضي شي، يا يې په ځمکه کې پرېښودلو ته راضي

شي چې په دې صورت کې به ودانۍ او ونې د اجاره نیوونکي او ځمکه د اجاره ورکوونکي ملکیت وي.

## شرحه

**د اجارې تعریف**: د لغت له مخې اجاره له (اجر) څخه اخیستل شوې چې د مزد په معنا دی. په اصطلاح کې د عوض په مقابل کې د منافعو عقد ته اجاره وایي.

**مؤجر**: هغه چا ته ویل کیږي چې مال په اجاره ورکوي.

**مستاجر**: هغه څوك دی چې مال په اجاره اخلي او په مقابل کې اجوره ورکوي.

**د اجارې مشروعیت**:

که څه هم په اجاره کې د منافعو پلورل چې لا تراوسه موجود نه دي، د قیاس له مخې روا نه دي، خو څرنګه چې دې عقد ته زیاته اړتیا ده، د قرآن او احادیثو له مخې روا دی. الله پاك فرمايي: (فإن أرضعن لكم فآتوهن أجورهن) (الطلاق: ٦) ژباړه: که یې ستاسو بچیانو ته شیدې ورکړې نو د هغوی مزدوري ورکړئ. همدا راز په السنن الصغری للبیهقي کې راغلي، چې پیغمبر (علیه السلام) فرمایي: أَعْطِ الْأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ. یعنې مزدور ته د خولې له وچېدو وړاندې د هغه مزدوري ورکړه.

**د اجورې (مزدورۍ) ټاکل**:

د اجارې د عقد د صحت لپاره دا شرط دي چې منافع او مزدوري دواړه باید د عقد پر مهال وټاکل شي، څو وروسته د عاقدینو تر منځ شخړه پېښه نه شي. پر دې بنسټ باید په اجوره کې د ورکول کېدونکو وزني شیانو د وزن کچه او د کیلي شیانو د پیمانو اندازه د عقد پر مهال وټاکل شي، همدا راز د عددي شیانو صفت او شمېر معلوم کړای شي.

کوم شیان چې په بیعه کې ثمن ګرځېدای شي، په اجاره کې هم د اجورې په توګه ورکول کېدای شي، یعنې اجوره به متقوم مال وي، پر دې سربېره ځینې نور داسې شیان هم شته چې په بیعه کې ثمن نه شي کېدای، خو په اجاره کې د اجورې په توګه منل کیږي، لکه د منفعت په مقابل کې منفعت ورکول، د بېلګې په ډول د ځمکې د اجارې په عوض کې اوښان په اجاره ورکول، البته دا منافع به سره مختلفې وي، څو سود منځ ته رانشي.

**د منافعو ټاکل:**

د عقد پر مهال د اجورې په خبر د منافعو ټاکل هم ضروري دي، ترڅو د اختلاف او شخړې مخه ونیول شي. په اجاره کې منافع په لاندې طریقو ټاکل کېدای شي:

**۱ - د مودې په بنسټ:**

د بېلګې په ډول حامد خیل کور اسد ته د شپږو میاشتو لپاره په شپږو زرو افغانیو په اجاره ورکوي یا خالد ته خپله دوه جریبه ځمکه د یو کال لپاره په لسو زرو افغانیو په اجاره ورکوي.

په دې مثالونو کې د اجارې منافع د مودې په بنسټ ټاکل شوي. په اجاره کې د لږې یا ډېرې مودې ټاکل د عاقدینو په رضایت پورې اړه لري، البته د اوقافو په ملکیتونو کې له دریو کلو ډېره موده ټاکل روا نه دي ځکه چې پر وقفي ملکیتونو د دعوې کولو وېره زیاته وي.

**۲ - د کار د ټاکلو له لارې:**

د بېلګې په ډول احمد درزي ته ټوکر ورکوي چې د سلو افغانیو په اجوره ورځخه جامې وګنډي. په دې صورت کې منفعت کار دی چې د جامو ګنډلو په بڼه ټاکل شوی. همدا راز نجیب په زرو افغانیو له رنګمال سره خیل کور اجاره کوي چې سپین رنګ ورکړي، په دې صورت کې د اجارې منفعت د کار یعنې کور رنګولو په توګه ټاکل شوی. په دې دواړو صورتونو کې منفعت د کار د نوم په اخیستلو سره روښانه شوی.

**۳** - د اجارې د منفعت ټاکل کله له مودې او نوم اخیستلو پرته په اشارې سره هم ټاکل کیږي لکه څوک چې جوالي ته ووایي: دا غنم د پنځوسو افغانیو په بدل کې زما تر کوره راسره یوسه. په دې صورت کې د اجارې لپاره نه موده ټاکل شوې او نه د غنمو د اندازې یادونه شوې، بلکې په اشارې سره یې تعیین شوی.

له پورته څرګندونو څخه جوتیږي چې د کورونو، موټرو او نورو شیانو په کرایه نیول، کسب ګرو سره د کار کولو تړون او د اداري مامورینو ګمارل د اجارې بېلابېل ډولونه دي.

**د کور او ځمکې څخه ګټه اخیستل:**

که څوک کور یا دکان په اجاره ونیسي نو ټولې هغه ګټې ترې اخیستلاي شي چې د خلکو تر منځ دود وي، خو د اجاره اخیستونکي لپاره داسې ګټه اخیستل روا نه دي چې ودانۍ ته زیان رسوي، لکه په کور کې د داسې درنو ماشینونو فعالول چې د کور د دیوالونو د سستېدو او نړېدو لامل کیږي او داسې نور چې په متن کې یې مثالونه راغلي دي.

په دې خاطر چې د عاقدینو تر منځ شخړه رانشي، نو د کرنیزې ځمکې د اجارې پر مهال باید

دا خبره روښانه شي چې اجاره اخيستونکى په ځمکه کې د کومو کښتونو د کرلو واک لري يا دا چې د کر لپاره د کښتونو غوره کول د اجاره اخيستونکي خوښې ته پرېښودل شي او هغه يکې بشپړ واک ولري.

**مسئله**:

که څوک له چاکور په اجاره واخلي او قبض يې کړي، کولاى شي چې بل چا ته يې په همغه اجوره يا له هغې څخه په کمه اجوره په اجاره ورکړي، له پخوانۍ اجورې څخه په زياته اجوره يې بل چا ته ورکول ښه نه دي، البته په بدل جنس سره يې په زياتو هم ورکولاى شي يا دا چې په کور کې کوم اضافه ښه والي راولي لکه څاه يکې وکيندي.

په اجاره اخيستونکي لازم دي چې اجاره ورکوونکي ته د هغه ځمکه په هغه ډول وروسپاري چې ورڅخه يې اخيستې وي، يعنې که اجاره اخيستونکي يکې آبادي کړې وي، نو آبادي به نړوي او که ونې يې يکې کرلې وي نو ونې به باسي، دا ځکه چې په طبيعي ډول د آبادۍ او ونو له منځه تلل ډېره موده نيسي چې اجاره ورکوونکى ورته انتظار نه شي کولاى. اجاره ورکوونکى اختيار لري چې اجاره اخيستونکي ته د ايستل شوو ونو او نړول شوې ابادۍ قيمت ورکړي او د آبادۍ له نړولو او د ونو له ايستلو يې منعه کړي، که يې ايستلو او نړولو ځمکې ته تاوان رساوه.

که اجاره اخيستونکي په ځمکه کې کښت کرلى وي او د کښت له رسېدو او پخېدو وړاندې د اجارې وخت پوره شي، نو په اجاره ورکوونکي لازم دي چې د کښت رسېدو او پخېدو ته انتظار وباسي، ځکه د ځمکې د خالي کولو لپاره د خام کښت په له منځه وړلو کې اجاره اخيستونکي ته زيان دى او له بله پلوه د کښت رسېدو ته انتظار کول زياته موده هم نه نيسي، نو په دې صورت کې به اجاره اخيستونکى د زياتې شوې مودې مثلي اجوره ورکوي.

## فعاليت

زده کوونکي دې د مودې ټاکلو، کار معلوملو او د اشارې کولو په وسيله د منافعو ټاکلو نور مثالونه ووايي.

## پوښتنې

۱- اجاره تعریف کړئ.

۲- د اجارې د مشروعیت دلایل ووایئ.

۳- په اجاره کې د کومو شیانو ټاکل ضروري دي؟

٤- اجاره اخیستونکی به اجاره ورکوونکي ته د هغه ځمکه په څه ډول سپاري؟ روښانه یې کړئ.

٥- که کښت خام وي او د اجارې وخت پوره شي، آیا اجاره پای ته رسیږي؟

# اجاره (۲)
# سپرلۍ په اجاره نيول

په تېر لوست کې د اجارې د تعريف، شرطونو او د اجاره شوي کور او ځمکې څخه د ګټې اخيستلو په اړه غږېدلي يو، د اجاره شوو سپرليو څخه د ګټې اخيستلو احکام به په دې لوست کې ولولو:

(۱) وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الدَّوابِّ لِلرُّكُوبِ وَالْحَمْلِ، فَإِنْ أَطْلَقَ الرُّكُوبَ جَازَ لَهُ أَنْ يُرْكِبَهَا مَنْ شَاءَ، وَكَذَا إِذَا اسْتَأْجَرَ ثَوْبًا لِلُّبْسِ وَأَطْلَقَ.

(۲) فَإِنْ قَالَ: عَلَى أَنْ يَرْكَبَهَا فُلَانٌ أَوْ يَلْبَسَ الثَّوْبَ فُلَانٌ، فَأَرْكَبَهَا غَيْرَهُ أَوْ أَلْبَسَ الثَّوْبَ غَيْرَهُ كَانَ ضَامِنًا إِنْ عَطِبَتِ الدَّابَّةُ أَوْ تَلِفَ الثَّوْبُ، وَكَذَلِكَ كُلُّ مَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ. وَأَمَّا الْعَقَارُ وَمَا لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ فَلا ضَمانَ عَلَيْهِ. فَإِذَا شَرَطَ سُكْنى واحِدٍ فَلَهُ أَنْ يُسْكِنَ غَيْرَهُ.

(۳) وَإِنْ سَمَّى قَدْرًا أَوْ نَوْعًا يَحْمِلُهُ عَلَى الدَّابَّةِ مِثْلُ أَنْ يَقُولَ خَمْسَةُ أَقْفِزَةِ حِنْطَةٍ فَلَهُ أَنْ يَحْمِلَ مَا هُوَ مِثْلُ الْحِنْطَةِ فِي الضَّرَرِ أَوْ أَقَلُّ كَالشَّعِيرِ وَالسِّمْسِمِ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ مَا هُوَ أَضَرُّ مِنَ الْحِنْطَةِ كَالْمِلْحِ وَالْحَدِيدِ.

(٤) وَإِنْ اسْتَأْجَرَهَا لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا قُطْنًا سَمَّاهُ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ مِثْلَ وَزْنِهِ حَدِيدًا.

(٥) وَإِذَا اسْتَأْجَرَهَا لِيَرْكَبَهَا فَأَرْدَفَ مَعَهُ رَجُلًا آخَرَ فَعَطِبَتْ ضَمِنَ نِصْفَ قِيمَتِهَا وَلَا يُعْتَبَرُ بِالثِّقْلِ. وَإِنْ اسْتَأْجَرَهَا لِيَحْمِلَ عَلَيْهَا مِقْدَارًا مِنَ الْحِنْطَةِ فَحَمَلَ عَلَيْهَا أَكْثَرَ مِنْهُ فَعَطِبَتْ ضَمِنَ مَا زَادَ مِنَ الثِّقْلِ. وَإِذَا كَبَحَ الدَّابَّةَ بِلِجَامِهَا أَوْ ضَرَبَهَا فَعَطِبَتْ ضَمِنَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

## ژباړه

(۱) د سپرېدو او بار وړلو لپاره د څارويو په اجاره نيول روا دي، که په مطلق ډول يې د سپرېدو يادونه وکړه، نو هر څوک پرې سپرولای شي، همدا راز که د جامو د اجاره اخيستلو پر مهال يې په مطلق ډول د اغوستلو يادونه وکړه، نو هر چا ته يې وراغوستلای شي.

(۲) که يې وويل: فلانی به پرې سپرېږي يا فلانی به يې اغوندي، او وروسته يې بل څوک پرې سپور کړ يا يې جامې بل چا ته په ځان کړې، په دې صورت کې که سپرلی يا جامې له منځه لاړې شي، اجاره اخيستونکی ضامن دی. په همدې ډول په ټولو هغو شيانو کې ضمانت شته چې استعمالوونکي يې يو له بل سره توپير ولري، خو په ځمکې او هغو شيانو کې چې استعمالوونکي يې سره توپير ونه لري، ضمانت نشته. که د يو ټاکلي شخص اوسېدل يې شرط کړل هم کولای شي چې بل څوک پکې استوګن کړي.

(۳) که ځانګړې ډول بار يا اندازه يې ياده کړه، مثلا ووايي: پنځه بوری غنم، په دې صورت کې کولای شي چې د غنمو په څېر شيان يا له غنمو څخه کم ضرره شيان لکه وربشې او کنځلې پرې بار کړي، له غنمو څخه زيات ضرري شيان لکه اوسپنه او مالګه پرې نشي بارولای.

(٤) که يې سپرلی د دې لپاره اجاره کړه چې معلومه اندازه مالوچ پرې ولېږدوي، نو د مالوچو برابر اوسپنه پرې نشي لېږدولای.

(٥) که يې سپرلی د دې لپاره اجاره کړه چې پرې سپور شي، بيا يې د ځان سره بل سړی هم سپور کړ او سپرلی هلاکه شوه، نو د نيمايي قيمت ضامن دی او د درونډوالی اعتبار نه لري. که يې سپرلی د دې لپاره اجاره کړه چې ټاکلي اندازه غنم پرې بار کړي، خو له ټاکلې اندازې څخه يې ډېر پرې بار کړل او سپرلی هلاکه شوه، نو د زيات شوي بار په کچه به ضامن وي.

که (اجاره نيوونکی) د سپرلی قيضه په سختۍ کش کړه يا يې ووهله او هلاکه شوه، د امام ابوحنيفه په نظر ضامن دی.

## شرحه

### سپرلۍ څوک کارولای شي؟

ځنې شيان داسې دي چې په کارولو کې يې خلک يو له بل سر توپير لري لکه په سپرليو سپرېدل، دا ځکه چې د ځينو خلکو وزن ډېر او په سپرلۍ زور ډېر راځي، مګر ځينې بيا لږ

وزنه او د سپرلیو لپاره یې لیږدول آسانه وي، نو په عقد کې چې څوک یاد شوی وي، همغه به پرې سپریږي. له بل پلوه نور شیان داسې دي چې کاروونکي یې په استعمالولو کې توپیر نه سره لري، لکه د ځمکې کرل. پر دې بنسټ هغه شیان چې کاروونکي یې په کارولو کې یو شیان وي، که په اجاره واخیستل شي، نو اجاره اخیستونکی کولای شي چې پخپله یې استعمال کړي یا یې بل چا ته د کارولو لپاره ورکړي.

**خو هغه شیان چې کاروونکي یې سره توپیر لري، د استعمالولو احکام یې په لاندې ډول دي**:

۱- که اجاره اخیستونکي هغه له قید او شرط پرته په مطلق ډول په اجاره واخلي، کولای شي چې پخپله یې استعمال کړي او دا حق هم لري چې بل چا ته یې د کارولو لپاره ورکړي.

۲- که د اجارې پر مهال یې شرط کېښوود، د بېلګې په ډول داسې یې وویل: یوازې زه به پرې سپریږم. یا یې وویل: یوازې پلار مې پرې سپریدای شي، په دې صورتونو کې بل چا ته پرې د سپریدو اجازه نشته. که له نومورو کسانو پرته بل څوک پرې سپور شو او سپرلی هلاکه شوه، نو مستاجر ضامن دی او تاوان به ورکوي، ځکه د دغه مال په کارولو کې خلک سره توپیر لري او د اجارې اخیستونکي له اجازې پرته بل چا ته ورکړې او له خپل حق څخه یې تېری کړی.

۳- که د سپرلۍ اجاره ورکوونکی د بار لپاره یوه ټاکلې اندازه شرط کړي او ووایي: له لسو منو غنمو ډېر پرې نشې بارولای. په دې صورت کې مستاجر نشي کولای چې له لسو منو غنمو ډېر پرې بار کړي. که یې ډېر پرې بار کړ او سپرلۍ هلاکه شوه، د ډېر شوي وزن په اندازه ضامن دی.

همدا راز که مؤجر د بار ځانګړې نوعه شرط کړي او یوازې د غنمو د لېږدولو اجازه وکړي، په دې صورت کې مستاجر یوازې هغه شیان پرې بارولای شي چې په بارولو او لېږدولو کې یې زیان له غنمو ډېر نه وي، لکه مالوچ او وربشې. که داسې شیان پرې بار کړي چې ضرر یې زیات وي - لکه اوسپنه چې سپرلۍ یې په لېږدولو کې له تکلیف او ژوبلېدو سره مخ کیږي - او سپرلۍ له منځه لاړه شي، په دې صورت کې مستاجر د تاوان ضامن دی.

**په سپرلۍ د دویم تن سپرول**: که څوک په اجاره شوې سپرلۍ له اجازې پرته دویم سړی له ځان سره سپور کړي او سپرلۍ هلاکه شي، پر اجورې سربېره د سپرلۍ نیم تاوان به هم ورکوي، په دې صورت کې دې ته نه کتل کیږي چې د دویم تن وزن څومره دی، که د دویم سړي وزن

د لومړي دوه برابره هم وي، نیم قیمت پرې لازمیږي، ځکه د انسانانو په سپرېدو کې د هغوی وزن نه بلکې له سپرلۍ سره بلدتیا معتبره ده، یعنې که ډېر دروند سړی هم د سپرلۍ په مناسب ځای کیني او ځان کنترول کړي، سپرلۍ ته زیان نه رسوي، خو که مستاجر د انسان په ځای له ځان سره بار ډېر کړي او سپرلۍ له منځه لاړه شي، نو د زیات بار د وزن په کچه تاوان پرې لازمیږي.

**مسئله**: د سپرلۍ د مهارولو او کنترول لپاره مستاجر کولای شي چې له عادت او معمول سره سم دومره قیضه راکاږي او یا سپرلۍ ووهي چې د سپرلۍ روغتیا ته زیان ونه رسوي. که هغه سپرلۍ دومره ووهي او یا یې قیضه داسې راکاږي چې د سپرلۍ د مړینې سبب شي، په دې صورت کې مستاجر د سپرلۍ د تاوان ضامن دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې د استاد تر څارنې لاندې پورتني حکمونه د لیږدونې په اوسنیو وسایلو لکه موټرو او لاریو تطبیق کړي.

## پوښتنې

۱- د استعمال پر بنسټ اجاره کېدونکی شیان په څو ډوله دي او څه حکم لري؟

۲- که د عاقدینو تر منځ پر سپرلۍ باندې د پنځو منو غنمو په لیږدولو هوکړه وشي، آیا مستاجر کولای شي چې پنځه منه وسپنه پرې بار کړي؟

۳- که څوک له اجازې پرته په سپرلۍ دویم تن له ځان سره سپور کړي او سپرلۍ مړه شي، مستاجر څومره ضامن دی؟

٤- د سپرلۍ د مهارولو او واک کې راوستلو لپاره مستاجر څومره واک لري؟

# اجاره (۳)
# د اجیرانو ډولونه

گرانو زده کوونکو! اجیر (مزدور) په دوه ډوله دی چې مشترك او خاص اجیر یې بولي. دوی دواړه په مسؤلیت او حکمونو کې سره توپیر لري. په دې لوست کې به د دوی دواړو تعریف او اړوند حکمونه ولولو:

(١) وَالْأُجَرَاءُ عَلَى ضَرْبَيْنِ: أَجِيرٌ مُشْتَرَكٌ وَأَجِيرٌ خَاصٌّ.

(٢) فَالْمُشْتَرَكُ: كُلُّ مَنْ لَا يَسْتَحِقُّ الْأُجْرَةَ حَتَّى يَعْمَلَ كَالْقَصَّارِ وَالصَّبَّاغِ، وَالْمَتَاعُ أَمَانَةٌ فِي يَدِهِ، إِنْ هَلَكَ لَمْ يَضْمَنْ شَيْئًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: هُوَ مَضْمُونٌ.

(٣) وَمَا تَلِفَ مِنْ عَمَلِهِ كَتَخْرِيقِ الثَّوْبِ مِنْ دَقِّهِ وَزَلَقِ الْحَمَّالِ وَانْقِطَاعِ الْحَبْلِ الَّذِي يَشُدُّ بِهِ الْمُكَارِي الْحِمْلَ وَغَرَقِ السَّفِينَةِ مِنْ مَدِّهَا مَضْمُونٌ إِلَّا أَنَّهُ لَا يَضْمَنُ بِهِ بَنِي آدَمَ مِمَّنْ غَرِقَ مِنْهُمْ فِي السَّفِينَةِ أَوْ سَقَطَ مِنَ الدَّابَّةِ.

(٤) وَإِذَا فَصَدَ الْفَصَّادُ أَوْ بَزَّغَ الْبَزَّاغُ وَلَمْ يَتَجَاوَزْ الْمَوْضِعَ الْمُعْتَادَ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ فِيمَا عَطِبَ مِنْ ذَلِكَ.

(٥) وَالْأَجِيرُ الْخَاصُّ: هُوَ الَّذِي يَسْتَحِقُّ الْأُجْرَةَ بِتَسْلِيمِ نَفْسِهِ فِي الْمُدَّةِ وَإِنْ لَمْ يَعْمَلْ كَمَنْ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا شَهْرًا لِلْخِدْمَةِ أَوْ لِرَعْيِ الْغَنَمِ.

(٦) وَلَا ضَمَانَ عَلَى الْأَجِيرِ الْخَاصِّ فِيمَا تَلِفَ فِي يَدِهِ وَلَا مَا تَلِفَ مِنْ عَمَلِهِ.

(٧) وَالْإِجَارَةُ تُفْسِدُهَا الشُّرُوطُ كَمَا تُفْسِدُ الْبَيْعَ.

(٨) وَمَنْ اسْتَأْجَرَ جَمَلًا لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ مَحْمِلًا وَرَاكِبَيْنِ إِلَى مَكَّةَ جَازَ وَلَهُ الْمَحْمِلُ الْمُعْتَادُ، وَإِنْ شَاهَدَ الْجَمَّالُ الْمَحْمِلَ فَهُوَ أَجْوَدُ.

(٩) وَإِنْ اسْتَأْجَرَ بَعِيرًا لِيَحْمِلَ عَلَيْهِ مِقْدَارًا مِنَ الزَّادِ فَأَكَلَ مِنْهُ فِي الطَّرِيقِ جَازَ أَنْ يَرُدَّ عِوَضَ مَا أَكَلَ.

## ژباړه

(۱) اجيران (مزدوران) په دوه ډوله دي: مشترك اجير او خاص اجير.

(۲) مشترك هغه اجير ته ويل كېږي چې د كار له پاى ته رسولو وړاندې د اجورې حقدار نه گرځي، لكه دوبي او رنگرېز. وركړل شوى مال له دوى سره امانت دى او كه له منځه ولاړ شي، د امام ابوحنيفه په نزد ضامن نه دى.امام ابويوسف او امام محمد وايي: هغه مضمون دى.

(۳) هغه څه چې د مزدور د عمل په نتيجه كې له منځه لاړ شي لكه د ټكولو له امله د جامو څيرېدل، د جوالي ښوييدل، د هغه پړي شلېدل چې جوالي وربانديې بار تړي او د كشولو له امله د بېړۍ ډوبېدل، (هغه مال) مضمون دى، مگر كه انسان په بېړۍ كې ډوب شي او يا له سپرلۍ وغورځېږي، ضمانت وربانديې نشته.

(٤) كله چې ښكر وهونكى او رگ وهونكى، ښكر يا رگ ووهي او له عادي ځاى څخه تېرى ونه كړي، ضمانت وربانديې نشته كه له دې كاره (سړى يا څاروى) مړ شو.

(٥) خاص اجير هغه دى چې په ټاكل شوې موده كې د ځان په سپارلو سره د اجورې حقدار گرځي، كه څه هم كار ونه كړي، لكه څوك چې د يوې مياشتې لپاره د خدمت يا رمې څرولو لپاره مزدور په اجاره ونيسي.

(٦) كه له خاص اجير سره كوم شى هلاك شي يا د هغه د كار په نتيجه كې كوم شى هلاك شي، ضامن نه گڼل كېږي.

(۷) اجاره د شرطونو په كېښودلو فاسدېږي لكه بيعه چې وربانديې فاسديږي.

(۸) چا چې اوښ په اجاره ونيو چې ډولۍ او دوه تنه سپاره وربانديې تر مكې يوسي، روا ده، خو ډولۍ به له عام دود سره سمه وي، كه اجاره وركوونكى ډولۍ ووينې غوره ده.

(۹) كه د يوې ټاكلې اندازې توښې لپاره اوښ په كرايه ونيسي او په لاره كې له توښې څخه څه وخوري، روا ده چې د خوړل شوې توښې په اندازه نور بار ورزيات كړي.

## شرحه

**مشترك اجير**: هغه دى چې د عامو خلكو لپاره كار كوي، لكه گنډونكى، تركاڼ، مستري او داسې نور. دوى په يوه مهال د ډېرو خلكو كار كولاى شي او يو تن نشي كولاى چې د بل چا له كار څخه يې منعه كړي. مشترك اجير د ورسپارل شوي كار له پاى ته رسولو وړاندې د

اجورې مستحق نه ګرځي. کله چې کار پوره کړي، مال به څښتن ته سپاري او اجوره به ورکول کيږي. که چيرې مال له مشترک اجير سره له منځه لاړ شي، د امام ابوحنيفه په نظر ضامن نه دی، ځکه چې مال يې د څښتن په اجازه قبض کړی او د امانت بڼه لري او په امانت کې ضمانت نه وي.

د امام ابويوسف او امام محمد په نظر مشترک اجير ضامن دی، البته که متاع د داسې سبب په وسيله له منځه لاړه شي چې مخه نيول يې د اجير په واک او توان کې نه وي، بيا ضامن نه دی.

که چيرې متاع د اجير د عمل په ترڅ کې له منځه لاړه شي، ضامن ګڼل کيږي، د بېلګې په ډول ګنډونکی د ټوکر په ناسم پرې کولو سره ټوکر له منځه يوسي او د جامو ګنډلو وړ پاتې نشي. همدا راز که د مال د لېږدولو پر مهال د جوالي پښه وښوييږي او د هغه په راپرېوتو سره مال له منځه لاړ شي يا د کرايه کښ د ترلو پړی وشليږي او مال له منځ لاړ شي. په همدې ډول که د بېړۍ پړی په راکاږلو سره وشليږي او د بېړۍ په ډوبېدو سره مال هلاک شي، په دغو ټولو صورتونو کې اجير د مال ضامن دی، ځکه دا ټول کارونه د ده په لاس ترسره شوي، البته د بېړۍ د ډوبېدو په صورت کې که انسانان هلاک شي، نو اجير يې ځکه ضامن نه دی چې انسان په خپل لاس کې ګڼل کيږي نه د اجير په لاس کې. بله دا چې که ضامن وګڼل شي، پور د ده په عاقله راځي او عاقله د ويلو (عقودو) پور پر غاړه نه اخلي، بلکې د کړنو (جنايت) پور په غاړه اخلي.

که مشترک اجير خپل کار د خپل مسلک او کسب له اصولو سره سم تر سره کړي او بيا هم مال له منځه لاړ شي، ضامن نه شمېرل کيږي، د بېلګې په ډول که رګ وهونکی، انسان ته په سم ډول رګ ووهي او له خپل حد څخه تېری ونه کړي، خو بيا هم انسان له رګ وهلو څخه مړ شي، ضامن نه ګڼل کيږي.

**خاص اجير**: هغه ته ويل کيږي چې کار يې د عامو خلکو لپاره نه، بلکې يوازې د يوه تن لپاره وي، لکه څوک چې د خدمت په موخه د يوې مياشتې يا زياتې او کمې مودې لپاره له چا سره مزدور شي، لکه د دولت مامورين، يعنې د خاص اجير د اجورې معيار وخت دی. خاص اجير ته ځکه خاص ويل کيږي چې په اجاره شوې موده کې له مستاجر پرته د بل چا کار نشي کولای. خاص اجير مستاجر ته په ټاکلې موده کې په ځان سپارلو سره د اجورې مستحق ګرځي که څه هم مستاجر ترې کار وانخلي.

كه خاص اجير د كار په ترڅ كې په خپل عمل سره مال هلاك كړي يا د ده له عمل پرته په بل ډول له منځه لاړ شي، ضامن نه ګڼل كيږي، په دې شرط چې مال يې په قصدي ډول نه وي هلاك كړى. كه يې په قصدي توګه مال له منځه يووړ، د مثال په توګه اجير شپون پسه دومره سخت وواهه چې له وهلو مړ شو، نو ضامن دى.

**په اجاره كې شرطونه**: كوم شرطونه چې بيعه فاسدوي، اجاره هم فاسدوي، لكه داسې شرطونه چې د معقودعليه، د اجارې د مودې او د اجورې جهالت رامنځته كوي، خو كوم شرطونه چې د عقد له غوښتنو سره ټكر نه لري، د هغوى پوره كول ضروري دي لكه څوك چې ګنډونكي ته ووايي: اجوره دركوم خو په دې شرط چې جامې به راته پخپله ګنډې نه په شاګرد.

## فعاليت

زده كوونكي دې په اجاره كې د فاسدو شرطونو لپاره مثالونه وړاندې كړي.

## پوښتني

١- مشترك اجير تعريف كړئ.

٢ آيا د مال د له منځه تلو پر مهال مشترك اجير ضامن دى؟ روښانه يې كړئ.

٣- خاص اجير تعريف كړئ.

٤- خاص اجير څه وخت د مال د تاوان ضامن ګڼل كيږي؟

٥- په اجاره كې د شرطونو لګول څه حكم لري؟

# اجاره (۴)
# د اجورې حکمونه

د اجیرانو د ډولونو له پېژندلو وروسته اوس په دې خبرې کوو چې پر مستاجر څه وخت د اجورې ورکول لازمیږي او دې ته ورته له اجارې سره نور تړلي مسایل زده کوو.

(١) وَالْأُجْرَةُ لَا تَجِبُ بِالْعَقْدِ وَتُسْتَحَقُّ بِأَحَدِ مَعَانٍ ثَلَاثَةٍ: إمَّا أَنْ يَشْتَرِطَ التَّعْجِيلَ، أَوْ بِالتَّعْجِيلِ مِنْ غَيْرِ شَرْطٍ، أَوْ بِاسْتِيفَاءِ الْمَعْقُودِ عَلَيْهِ.

(٢) وَمَنْ اسْتَأْجَرَ دَارًا فَلِلْمُؤَجِّرِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِأُجْرَةِ كُلِّ يَوْمٍ إلَّا أَنْ يُبَيِّنَ وَقْتَ الِاسْتِحْقَاقِ فِي الْعَقْدِ.

(٣) وَمَنْ اسْتَأْجَرَ بَعِيرًا إلَى مَكَّةَ فَلِلْجَمَّالِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِأُجْرَةِ كُلِّ مَرْحَلَةٍ.

(٤) وَلَيْسَ لِلْقَصَّارِ وَالْخَيَّاطِ أَنْ يُطَالِبَا بِالْأُجْرَةِ حَتَّى يَفْرُغَا مِنْ الْعَمَلِ إلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ التَّعْجِيلَ.

(٥) وَمَنِ اسْتَأْجَرَ خَبَّازًا لِيَخْبِزَ لَهُ فِي بَيْتِهِ قَفِيزَ دَقِيقٍ بِدِرْهَمٍ لَمْ يَسْتَحِقَّ الْأُجْرَةَ حَتَّى يُخْرِجَ الْخُبْزَ مِنَ التَّنُّورِ. وَمَنْ اسْتَأْجَرَ طَبَّاخًا لِيَطْبُخَ لَهُ طَعَامًا لِلْوَلِيمَةِ فَالْغَرْفُ عَلَيْهِ.

(٦) وَمَنِ اسْتَأْجَرَ رَجُلًا لِيَضْرِبَ لَهُ لَبِنًا اسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ إذَا أَقَامَهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَا يَسْتَحِقُّ الْأُجْرَةَ حَتَّى يُشَرِّجَهُ.

(٧) وَإِذَا قَالَ لِلْخَيَاطِ: إنْ خِطْتَهُ هَذَا الثَّوْبَ فَارِسِيًّا فَبِدِرْهَمٍ، وَإِنْ خِطْتَهُ رُومِيًّا فَبِدِرْهَمَيْنِ جَازَ وَأَيُّ الْعَمَلَيْنِ عَمِلَهُ اسْتَحَقَّ الْأُجْرَةَ. وَإِنْ قَالَ: إنْ خِطْتَهُ الْيَوْمَ فَبِدِرْهَمٍ، وَإِنْ خِطْتَهُ غَدًا فَبِنِصْفِ دِرْهَمٍ، فَإِنْ خَاطَهُ الْيَوْمَ فَلَهُ دِرْهَمٌ، وَإِنْ خَاطَهُ غَدًا فَلَهُ أَجْرُ مِثْلِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ لَا يَتَجَاوَزُ بِهِ الْمُسَمَّى وَهُوَ نِصْفُ دِرْهَمٍ، وَقَالَا: الشَّرْطَانِ جَائِزَانِ وَأَيُّهُمَا عَمِلَ اسْتَحَقَّ الأُجْرَةَ.

(٨) وَإِنْ قَالَ: إِنْ أَسْكَنْتَ هَذَا الدُّكَّانَ عَطَّارًا فَبِدِرْهَمٍ فِي الشَّهْرِ، وَإِنْ أَسْكَنْتَهُ حَدَّادًا فَبِدِرْهَمَيْنِ جَازَ وَأَيَّ الْأَمْرَيْنِ عَمِلَ اسْتَحَقَّ الْمُسَمَّى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ:الإِجَارَةُ فَاسِدَةٌ.

(٩) وَمَنْ اسْتَأْجَرَ دَارًا كُلَّ شَهْرٍ بِدِرْهَمٍ فَالْعَقْدُ صَحِيحٌ فِي شَهْرٍ وَاحِدٍ، فَاسِدٌ فِي بَقِيَّةِ الشُّهُورِ إِلَّا أَنْ يُسَمِّيَ جُمْلَةَ شُهُورٍ مَعْلُومَةٍ، فَإِنْ سَكَنَ سَاعَةً مِنَ الشَّهْرِ الثَّانِي صَحَّ الْعَقْدُ فِيهِ وَلَزِمَهُ ذلك الشَّهْرُ، وَلَمْ يَكُنْ لِلْمُؤَجِّرِ أَنْ يُخْرِجَهُ إِلَى أَنْ يَمْضِيَ الشَّهْرُ، وَكَذَلِكَ كُلُّ شَهْرٍ سَكَنَ فِي أَوَّلِهِ سَاعَةً.

(١٠) وَإِذَا اسْتَأْجَرَ دَارًا سَنَةً بِعَشَرَةِ دَرَاهِمَ جَازَ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ قِسْطَ كُلِّ شَهْرٍ مِنَ الْأُجْرَةِ.

## ژباړه

(١) اجوره د عقد په ترڅلو نه، بلكې په يوه له دغو درو شيانو لازميږي: چې په عقد كې د اجورې مخكې وركول شرط شي يا له شرط پرته اجوره له كار بشپړولو مخكې وركړل شي او يا شوى كار سرته ورسول شي.

(٢) چا چې كور په اجاره ونيو، اجاره وركوونكى حق لري چې د هرې ورځې په پاى كې ترې اجوره وغواړي مګر دا چې په عقد كې بل ډول ټاكل شوي وي.

(٣) چا چې اوښ تر مكې په كرايه ونيو، اوښ والا حق لري چې په هره مرحله كې ترې د دغې مرحلې اجوره وغواړي.

(٤) دوبي او خياط نشي كولاى چې د كار له بشپړولو وړاندې اجوره وغواړي مګر دا چې د عقد پر مهال يې همداسې شرط كړې وي.

(٥) چا چې نانواى په اجاره نيولى وي چې دده په كور كې به ورته يوه پيمانه اوړه په يوه درهم پخوي، تر څو چې ډوډۍ له تنور څخه نه وي راوتلي، نانواى د اجورې مستحق نه ګرځي. كه چا آشپز د واده د ډوډۍ پخولو لپاره په اجاره ونيولو، له كټوۍ څخه د خوراك را ايستل (توزيع) هم دا شپز پر غاړه دي.

(٦) كه چا د خښتو اچولو لپاره مزدور په اجاره نيولى و، د امام ابوحنيفه په نظر د خښتو

په درولو د اجورې مستحق ګرځي، خو امام ابويوسف او امام محمد وايي چې د خښتو له راټولولو او يوه پر بل باندې له ايښودلو وروسته د اجورې مستحق کيږي.

(۷) که يې ګنډونکي ته ووېل: که دا جامې دې په فارسي (مود) وګنډلې نو يو درهم درکوم او که په رومي (مود) دې وګنډلې، نو دوه درهمه درکوم، دا ډول اجاره روا ده او په هر ډول يې چې وګنډلې، د هغې اجورې حقدار دی. که يې ګنډونکي ته ووېل: که جامې دې نن راوګنډلې يو درهم درکوم او که دې سبا وګنډلې نو نيم درهم درکوم. که يې نن وګنډلې د يوه درهم حقدار دی او که يې سبا وګنډلې د امام ابوحنيفه په نظر د اجر مثل حقدار دی خو له اجر مسمي (نيم درهم) څخه به يې اجوره نه زياتيږي. امام ابويوسف او امام محمد وايي: د اجارې دواړه صورتونه روا دي او په هر يوه يې چې عمل وکړ، د هغې اجورې حقدار ګرځي.

(۸) که (اجاره ورکوونکي د دکان د اجارې په مهال) ووېل: که عطر پلورونکی په کې مېشت کوې، نو مياشت په يوه درهم او که پښ پکې مېشت کوې، نو مياشت په دوو درهمو. د امام ابوحنيفه په نظر دا عقد روا دی او هر کار يې چې پکې وکړ، د هغه اجوره به ورکوي، خو امام ابويوسف او امام محمد وايي چې اجاره فاسده ده.

(۹) که چا کور مياشت په يوه درهم په اجاره ونيو، عقد يوازې د يوې مياشتې لپاره صحيح او په پاتو کې فاسد دی مګر دا چې د ټولو مياشتو شمېر وټاکي، که د دويمې مياشتې يو ساعت يې هم پکې تېر کړ، نو د دويمې مياشتې عقد صحيح او اجاره به يې ورکوي، او اجاره ورکوونکی نشي کولای چې د مياشتې له بشپړېدو وړاندې کرايه نيوونکی له کوره وباسي. په همدې ډول هره مياشت چې په اول کې يې يو ساعت واوسېدې درواخله.

(۱۰) که يې کور د يوه کال لپاره په لسو درهمو ونيو، روا دی که څه هم د هرې مياشتې کرايه يې نه وي معلومه کړې.

## شرحه

**د اجورې واجبېدل**: يوازې د اجارې د عقد په ترلو سره د اجورې ورکول نه لازميږي، عقد په اصل کې د عوضونو بدلول دي چې په برابره توګه بايد تبادله شي. په دې بنسټ د اجارې عقد د منافعو په لاس ته راتلو سره ګام په ګام رامنځته کيږي، نو کله چې منافع پوره لاس ته راشي د اجورې سپارل هم لازميږي.

**اجير په لاندې دريوو صورتونو کې د اجورې مستحق کيږي**:

۱- اجير په مؤجر شرط کړي چې اجوره به له کار سر ته رسولو مخکې ورکوي. په دې صورت کې که مؤجر اجوره ور نه کړي، اجير کولای شي چې د کار له پيلولو ډډه وکړي.

۲- له شرط پرته اجاره ورکوونکی د کار له پيلولو وړاندې هغه ته اجوره وسپاري.

۳- کله چې اجاره ورکوونکی د عقد منافع ترلاسه کړي.

د اجورې د سپارلو لپاره وخت ټاکل د عاقدينو په لاس کې دی او کولای شي چې هر وخت ورته وټاکي، له کار مخکې وي او که له هغه وروسته، جواز لري.

**مسئله**: که څوک کور يا دکان په کرايه واخلي او د اجورې سپارلو وخت ونه ټاکي، نو مؤجر د هرې ورځې په پای کې د نومړې ورځې د اجورې غوښتنه کولای شي، ځکه د اجارې په موده کې يوه بشپړه ورځ جلا مرحله شمېرل کيږي. همدا راز که اوبن تر يوه ټاکلي ځای پورې په اجاره ونيول شي، نو مؤجر کولای شي چې د هر پړاو په وهلو اجوره وغواړي، خو که ګنډونکي نيمې جامې ګنډلې وي، د هغې د اجورې غوښتنه نشي کولای، ځکه د نيمو ګنډل شوو جامو څخه ګټه نه اخيستل کيږي.

**مسئله**: که څوک کور د مياشتې په زرو افغانيو اجاره ونيسي، نو عقد يوازې د يوې مياشتې لپاره صحيح او په نورو کې فاسد دی. ځکه چې په دې عقد کې د مياشتو شمېر نه دی ټاکل شوی، نو د اجارې په موده کې جهالت موجود دی، خو دا چې لومړۍ مياشت معلومه ده، نو يوازې په همدې مياشت کې اجاره صحيح ده. همدا راز د هرې مياشتې په داخليدو سره هغه هم تعيينيږي او اجاره پکې رواګرځي.

## پوښتنې

۱- اجير په څو صورتونو د اجورې مستحق ګرځي؟

۲- آيا د اجورې د سپارلو لپاره د وخت په ټاکلو کې عاقدين واک لري؟

۳- يا د کور کرايه ورکوونکی کولای شي چې د هرې ورځې په پای کې د کور کرايه وغواړي؟

٤- که څوک کور د مياشتې په زر افغانۍ کرايه ورکړي، ولې اجاره يوازې په يوه مياشت کې صحيح ده؟

# اجاره (۵)
# د اجورې حکمونه

د اجورې اړوند یو لړ حکمونه مو په تېر لوست کې ولوستل، په دې لوست کې به د اجورې پاتې حکمونه ولولو:

(۱) وَيَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ الْحَمَّامِ وَالْحَجَّامِ.

(۲) وَلَا يَجُوزُ أَخْذُ أُجْرَةِ عَسْبِ التَّيْسِ، وَلَا يَجُوزُ الاسْتِئْجَارُ عَلَى الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ وَتَعْلِيمِ الْقُرْآنِ وَالْحَجِّ وَالْغِنَاءِ وَالنَّوْحِ.

(۳) وَلَا يَجُوزُ إِجَارَةُ الْمُشَاعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا مِنْ الشَّرِيكِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: إِجَارَةُ الْمُشَاعِ جَائِزَةٌ.

(٤) وَيَجُوزُ اسْتِئْجَارُ الظِّئْرِ بِأُجْرَةٍ مَعْلُومَةٍ، وَيَجُوزُ بِطَعَامِهَا وَكِسْوَتِهَا، وَلَيْسَ لِلْمُسْتَأْجِرِ أَنْ يَمْنَعَ زَوْجَهَا مِنْ وَطْئِهَا فَإِنْ حَبِلَتْ كَانَ لَهُمْ أَنْ يَفْسَخُوا الْإِجَارَةَ إِذَا خَافُوْا عَلَى الصَّبِيِّ مِنْ لَبَنِهَا، وَعَلَيْهَا أَنْ تُصْلِحَ طَعَامَ الصَّبِيِّ، فَإِنْ أَرْضَعَتْهُ فِي الْمُدَّةِ بِلَبَنِ شَاةٍ فَلَا أَجْرَ لَهَا.

(٥) وَكُلُّ صَانِعٍ لِعَمَلِهِ أَثَرٌ فِي الْعَيْنِ كَالصَّبَّاغِ وَالْقَصَّارِ فَلَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْعَيْنَ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنْ عَمَلِهِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الْأُجْرَةَ، وَمَنْ لَيْسَ لِعَمَلِهِ أَثَرٌ فِي الْعَيْنِ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْبِسَ الْعَيْنَ كَالْحَمَّالِ وَالْمَلَّاحِ.

(٦) وَإِذَا شَرَطَ عَلَى الصَّانِعِ أَنْ يَعْمَلَ بِنَفْسِهِ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَسْتَعْمِلَ غَيْرَهُ، فَإِنْ أَطْلَقَ لَهُ الْعَمَلَ فَلَهُ أَنْ يَسْتَأْجِرَ مَنْ يَعْمَلُهُ.

(٧) وَإِذَا اخْتَلَفَ الْخَيَّاطُ وَصَاحِبُ الثَّوْبِ فَقَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ: أَمَرْتُكَ أَنْ تَعْمَلَهُ قَبَاءً وَقَالَ الْخَيَّاطُ: قَمِيصًا، أَوْ قَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ لِلصَّبَّاغِ: أَمَرْتُكَ أَنْ تَصْبُغَهُ أَحْمَرَ فَصَبَغْتَهُ أَصْفَرَ، فَالْقَوْلُ قَوْلُ صَاحِبِ الثَّوْبِ مَعَ يَمِينِهِ، فَإِنْ حَلَفَ فَالْخَيَّاطُ ضَامِنٌ.

(٨) وَإِنْ قَالَ صَاحِبُ الثَّوْبِ: عَمِلْتَهُ لِي بِغَيْرِ أُجْرَةٍ، وَقَالَ الصَّانِعُ: بِأُجْرَةٍ، فَالْقَوْلُ قَوْلُ

صَاحِبِ الثَّوْبِ مَعَ يَمِينِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.
(۹) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إِنْ كَانَ حَرِيفًا لَهُ فَلَهُ الْأُجْرَةُ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ حَرِيفًا فَلَا أُجْرَةَ لَهُ.
وَقَالَ مُحَمَّدٌ إِنْ كَانَ الصَّانِعُ مَعْرُوْفا بِهَذِهِ الصَّنْعَةِ بِالْأُجْرَةِ فَالْقَوْلُ قَوْلُه مَعَ يَمِينِهِ أَنَّهُ عَمِلَهُ بِأُجْرَةٍ.

**زباړه**

(۱) په حمام او ښکر لګولو اجوره اخیستل روا دي.

(۲) په نر خاروي د ښځې خاروي د بلاربولو اجوره اخیستل روا نه دي، په اذان، اقامت، د قران په ښوونې، حج، سندرو ویلو او په مرېي باندې په ژړا کولو اجوره اخیستل روا نه دي.

(۳) د امام ابوحنیفه په نظر د مشاع (نورو سره د ګډ) مال اجاره کول روا نه دي، مګر له خپل شریك سره. امام ابویوسف او امام محمد وایي: (هر چا سره) د ګډ مال اجاره کول روا دي.

(٤) په ټاکلې اجورې د شیدې ورکوونکې ښځې په اجاره نیول روا دي، په خوراك او جامو یې هم نیول روا دي. مستاجر نشي کولای چې د اجاره شوې ښځې مېړه د هغې سره له کوروالي منعه کړي، که چیرې نوموړې ښځه امیدواره شي او مستاجر د ښځې د شیدو له ضرره پخپل ماشوم وویرېږي نو کولای شي چې اجاره فسخه کړي. شیدې ورکوونکې ښځه به د کوچني خوراك هم چمتو کوي، که د رضاع په موده کې یې د مېړې شیدې ورکړې، نو د اجورې حق نه لري.

(٥) هر کار کوونکی او صانع چې کار یې په شي کې اغېز لري، لکه رنګرېز او دوبي، وروسته د کار له بشپړولو کولای شي چې د اجورې ترلاس ته راوړلو پورې شی له ځان سره ایسار کړي، خو هغه اجیر چې کار یې په مال کې اغېز نه لري، د مال د ایسارولو حق نه لري لکه جوالي او ماڼو.

(٦) که په کار کوونکي شرط کړي چې کار به پخپله کوي نو حق نه لري چې بل څوك د کار لپاره وګماري، خو که مطلق کار کول یې اجاره کړل نو اجیر واك لري چې په هر چا یې ترسره کوي.

(۷) که د ګنډونکي او د ټوکر د څښتن تر منځ اختلاف راغي، د ټوکر څښتن ویل: ما درته ویلي وو چې چپن راته وګنډه. ګنډونکي ویل: د کمیس دې راته ویلي وو. یا د جامو څښتن رنګرېز ته ویل: ما درته د سور رنګ ویلي وو، خو تا زیړ رنګ ورکړی. (په دې صورتونو کې)

د جامو او ټوکر د ښتن خبره له قسم سره معتبره ده، که یې قسم وکړ، نو ګنډونکی (د تاوان) ضامن دی، ځکه د بل چا په ملک کې یې تصرف کړی دی.
(۸) که د جامو ښتن ووېل: له اجورې پرته دې راته ګنډلې، خو ګنډونکي ویل: په اجوره مې درته ګنډلې. (په دې صورت کې) د امام ابوحنیفه په نظر د جامو د ښتن خبره معتبره ده له قسم سره.
(۹) امام ابویوسف ویلي: که ګنډونکی کسب ګر و، نو د اجورې حقدار دی او که کسب ګر نه و نو د اجورې مستحق نه دی.
امام محمد ویلي: که ګنډونکی په اجورې سره په ګنډلو مشهور و نو د قسم سره د ده خبره معتبره ده چې په اجوره یې ګنډلی دی.
**شرحه**: له حمام کوونکي څخه اجوره اخیستل روا دي، که څه هم په حمام کولو کې د مصرفېدونکو اوبو او وخت تېرولو اندازه معلومه نه وي، خو دا چې د مسلمانانو تر منځ همداسې دود دی او کومه شخړه پرې نه رامنځته کیږي، نو د اوبو او وخت تېرولو اندازې له ټاکلو پرته پرې اجوره اخیستل روا دي. په ښکر لګولو هم اجوره اخیستل روا دي، ځکه رسول الله (صلي الله علیه وسلم) د ښکر په لګولو پیسې ورکړي. د نر ښاروي په وسیله د ښځینه ښاروي په بلاربولو اجوره اخیستل روا نه دي، په دې اړه د امام طحاوي په مشکل الاثار کې دا حدیث راغلی: **أَنَّهُ ﷺ نَهَى عَنْ عَسْبِ التَّيْسِ**. ژباړه: پیغمبر (علیه السلام) د نر ښاروي په وسیله د ښځینه ښاروي په بلاربولو باندې له اجورې اخیستلو څخه منعه کړې.
**په عبادت اجوره اخیستل**: په اذان، اقامت، د قرأن په ښوونې، او حج کولو اجوره اخیستل روا نه دي، ځکه دا د بنده هغه عبادتونه دي چې ځان پرې الله تعالي ته نږدې کوي او ثواب یې هم هغه چا ته رسېږي چې ترسره کوي یې، خو متاخرینو فقهاوو ویلي: د قرآن کریم په ښوونې اجوره اخیستل روا دي ځکه اوس مهال په خلکو کې سستیا پیدا شوې او له بل پلوه هغه مرسته چې پخوا به د اسلامي حکومت له خوا د قرآن کریم له ښوونکو سره کېده اوس مهال نشته، نو دوی اړ دي چې د ژوند د اړتیاوو پوره کولو لپاره یا خو د قرآن کریم په ښوونه اجوره واخلي او یا د دې پر ځای کوم کار او کسب ته مخه کړي چې په دې صورت کې د قرآن کریم ښوونه ترې پاتې کیږي. په دې بنسټ متاخرینو فقهاوو د قرآن کریم په ښوونې د اجورې اخیستلو پر جواز فتوا ورکړې ده.

په سندرو ویلو، پر مړي ژړا کولو او دې ته ورته نورو کارونو باندې اجوره اخیستل روا نه دي، ځکه دا د ګناه چارې دي او په ګناه کولو اجوره اخیستل روا نه دي.

**د مشاع مال اجاره کول**: مشاع هغه مال ته ویل کیږي چې له نورو سره ګډ او په هغوی کې خپور وي. د بېلګې په ډول دوه کسان په ګډه یو جریب ځمکه اخلي او پخپل منځ کې له وېشلو پرته ځمکه شریکه پرېږدي، یعنې د ځمکې په هره برخه کې دواړه شریکان وي.

شریک ته د مشاع مال په اجاره ورکول په اتفاق سره روا دي. له شریک پرته بل چا ته د مشاع په اجاره ورکول د یارانو په نظر روا دي ځکه اجاره د بیعې یو ډول دی، نو کله چې د مشاع پلورل روا وو، اجاره یې هم روا ده، له بل پلوه په تخلیه کولو او د ګټې لپاره په چمتو کولو سره مشاع حق د استفادې وړ ګرځي، نو اجاره کول یې روا دي. امام ابوحنیفه له شریک پرته بل چا ته د مشاع حق په اجاره ورکول ځکه روا نه بولي چې له شریکې برخې پرته یې چا ته تسلیمول ممکن نه دي.

**اجیر په کوم حالت کې مال له ځان سره ایسارولی شي؟** هغه اجیر چې کار یې په مال کې اغېز لري، یعنې په مال کې بدلون راولي، کولای شي چې د کار له سر ته رسولو وروسته د اجورې د نه سپارلو په صورت کې مال د څښتن له خوښې پرته له ځان سره ایسار کړي. که په دې موده کې مال له منځه لاړ شي، اجیر ضامن نه ګڼل کیږي. البته هغه اجیران چې کار یې په مال کې اغېز نه لري، نشي کولای چې د اجورې لپاره مال له ځان سره وساتي که یې داسې وکړل او مال هلاک شو، ضامن ګڼل کیږي.

په لاندې کارونو اجوره اخیستل روا دي:

۱- حمام کول. ۲- ښکر لګول. ۳- د قران کریم ښوونه. ٤- ماشوم ته شیدې ورکول.

په لاندې کارونو اجوره اخیستل روا نه دي:

۱- په نر څاروي د ښځې څاروي تېرول (بلاربول). ۲_ سندرې ویل. ۳_ پر مړي ژړا کول.

## پوښتنې

۱- په حمام کولو کې د مصرفېدونکو اوبو اندازه مجهوله وي، خو بیا هم دا اجاره ولې روا ده؟

۲- په ښکر لګولو د اجورې اخیستلو دلیل وواياست.

۳- آیا د قرآن کریم په ښوونې اجوره اخیستل روا دي؟

٤- مشاع حق (مال) څه ته وايي او آیا اجاره کول یې روا دي؟

٥- که د اجیر کار پر مال اغېزه ولري ایا د اجورې د ځنډولو په صورت کې د مال د ایسارولو حق لري؟

# اجاره (۶)
# د اجارې فسخه کېدل

گرانو زده کوونکو! د اجارې د احکامو په اړه دا وروستی لوست دی. په دې لوست کې به د فاسدې اجارې حکم ولولو او پر هغو شرعي عذرونو به وغږېږو چې له امله يې اجاره فسخه کېدای شي:

(١) وَالْوَاجِبُ فِي الْإِجَارَةِ الْفَاسِدَةِ أُجْرَةُ الْمِثْلِ لَا يَتَجَاوَزُ بِهَا الْمُسَمَّى.

(٢) وَإِذَا قَبَضَ الْمُسْتَأْجِرُ الدَّارَ فَعَلَيْهِ الْأُجْرَةُ وَإِنْ لَمْ يَسْكُنْهَا، فَإِنْ غَصَبَهَا غَاصِبٌ مِنْ يَدِهِ سَقَطَتْ الْأُجْرَةُ، وَإِنْ وَجَدَ بِهَا عَيْبًا يَضُرُّ بِالسُّكْنَى فَلَهُ الْفَسْخُ.

(٣) وَإِذَا خَرِبَتْ الدَّارُ أَوْ انْقَطَعَ شِرْبُ الضَّيْعَةِ أَوْ انْقَطَعَ الْمَاءُ عَنْ الرَّحَى انْفَسَخَتْ الْإِجَارَةُ وَلَزِمَهُ بِقَدْرِ ما سَكَنَ أو اسْتَعْمَلَ الرَّحَى.

(٤) وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ وَقَدْ عَقَدَ الْإِجَارَةَ لِنَفْسِهِ انْفَسَخَ الْعَقْدُ، وَإِنْ كَانَ عَقَدَهَا لِغَيْرِهِ لَمْ تَنْفَسِخْ

(٥) وَيَصِحُّ شَرْطُ الْخِيَارِ فِي الْإِجَارَةِ.

(٦) وَتَنْفَسِخُ الْإِجَارَةُ بِالْأَعْذَارِ كَمَنْ اسْتَأْجَرَ دُكَّانًا فِي السُّوقِ لِيَتَّجِرَ فِيهِ فَذَهَبَ مَالُهُ، وَكَمَنْ آجَرَ دَارًا أَوْ دُكَّانًا فَأَفْلَسَ وَلَزِمَتْهُ دُيُونٌ لَا يَقْدِرُ عَلَى قَضَائِهَا إِلَّا مِنْ ثَمَنِ مَا آجَرَهُ، فَسَخَ الْقَاضِي الْعَقْدَ وَبَاعَهَا فِي الدَّيْنِ.

(٧) وَمَنْ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً لِيُسَافِرَ عَلَيْهَا ثُمَّ بَدَا لَهُ أَنْ يَقْعُدَ مِنْ السَّفَرِ فَهُوَ عُذْرٌ. وَإِنْ بَدَا لِلْمُكَارِي أَنْ يَقْعُدَ مِنْ السَّفَرِ فَلَيْسَ بِعُذْرٍ.

## ژباړه

(۱) په فاسده اجاره کې د اجر مثل ورکول واجب دي، خو د ټاکلې اجورې څخه به ډېر نه وي.

(۲) کله چې مستاجر کور قبض کړي، نو اجوره ورکول پرې لازم دي، که څه هم اوسېدلی پکې نه وي. که چا ورڅخه په زور ونيو، نو اجوره ساقطه شوه، که داسې عيب يې پکې وموند چې اوسېدونکو ته يې زيان رسولو، نو حق لري چې اجاره فسخه کړي.

(۳) کله چې کور ړنګ شو يا د څمکې او ژرندې اوبه بندې شوې، نو اجاره فسخه کېږي او يوازې په همغه اندازه اجوره پرې لازمېږي چې پکې اوسېدلی او يا يې ژرنده کارولې.

(٤) که يو له متعاقدينو څخه مړ شي، په داسې حال کې چې عقد يې د ځان لپاره تړلی و، اجاره فسخه کيږي، خو که د بل چا لپاره يې عقد تړلی وي، نه فسخه کيږي.

(٥) په اجاره کې د خيار شرط کول روا دي.

(٦) د عذرونو له امله اجاره فسخه کيږي، لکه څوک چې د سوداګرۍ لپاره دکان په اجاره ونيسي، خو بيا يې مال له منځه لاړ شي، يا څوک کور او دکان په اجاره ورکړي او بيا مفلس او داسې پوروړی شي چې د اجاره شوي مال له پلورلو پرته پور نشي ادا کولای، نو قاضي به يې اجاره فسخه کړي او اجاره شوی مال به يې په پور کې وپلوري.

(۷) چا چې د سفر کولو لپاره سپرلۍ اجاره کړې وي، خو بيا ورته څرګنده شي چې بايد له سفره پاتې شي، نو دا هم عذر دی، خو که د سپرلۍ اجاره ورکوونکي ته څرګنده شوه چې بايد له سفره پاتې شي، عذر نه دی.

## شرحه

**د فاسدې اجارې حکم**: که اجاره فاسده شي او مزدور خپل کار سر ته ورسوي، نو په مستاجر لازم دي چې اجير ته اجر مثل ورکړي، که يې د مزدور اجوره ټاکلې وه، نو اجرمثل به له نومورې ټاکل شوې اجورې څخه نه زياتيږي. د يادولو وړ ده چې په فاسده اجاره کې اجوره يوازې هغه وخت لازميږي چې له اجاره شوي مال څخه ګټه اخيستل شوې وي، يعنې يوازې په تخليه او چمتوکولو سره اجوره نه لازميږي، البته په صحيحه اجاره کې يوازې په تخليه او

سپارلو سره هم اجوره لازمیږي.

**د اجارې فسخه کېدل**: د شرعي عذرونو په رامنځته کېدو سره اجاره فسخه کېدای شي.

شرعي عذرونه درې ډوله دي:

۱- **د مستاجر له لوري عذر**: لکه څوک چې د سوداګرۍ لپاره دکان په اجاره ونیسي، خو بیا یې مال له منځه لاړ شي یا د ټوکر پلورلو لپاره دکان ونیسي، خو وروسته پښتوب پیل کړي. څرنګه چې په دې صورتونو کې په اجارې سرته رسولو کې مستاجر ته زیات زیان رسیږي نو عذر یې شرعا د منلو وړ دی.

۲- **د مؤجر له لوري عذر**: کله کله اجاره ورکوونکی له داسې ستونزې سره مخ شي چې د اجارې له فسخه کولو پرته بله مناسبه لار نه لري. د مثال په توګه د کور اجاره ورکوونکی دومره پوروړی شي چې له کور پلورلو پرته د پورونو د اداکولو لپاره بله لار ونه لري، په دې صورت کې کولای شي چې اجاره فسخه کړي.

۳- **په اجاره شوي مال کې عذر**: ځینې وخت په اجاره شوي مال کې داسې عیب او نیمګړتیا رامنځته شي چې مستاجر نشي کولای د هغه له امله پوره ګټه ترې واخلي. مثلا د اجاره شوي کور دیوال ړنګ شي یا د اجاره اخیستل شوې ژرندې اوبه بندې شي. په دې صورتونو کې مستآجرد اجارې د فسخې حق لري.

که چا د ځان لپاره د اجارې عقد تړلی وي او مړ شي، نو اجاره فسخه کیږي، ځکه د مستاجر په مړینې سره د هغه مال د وارثانو ملکیت ګرځي او د بل چا له ملکیت څخه د اجورې ورکول روا نه دي. همدا راز د مؤجر په مړینې سره منافع د وارثانو ملکیت ګرځي چې بیا هم پردی حق د اجورې په مقابل کې راځي، البته که اجاره یې د بل چا لپاره د وکیل او وصي په توګه ترسره کړې وه، نو بیا یې مړینه د اجارې په عقد کوم اغېز نه لري.

**مسئله**: که د سفر لپاره د اوښانو کرایه ورکوونکی د ناروغتیا یا بل سبب له امله له سفره پاتې شي، نو دا ډول عذرونه د اجارې د فسخه کولو لپاره شرعي عذر نشي کېدای، ځکه هغه کولای شي چې د ځان پر ځای له کاروان سره بل څوک ولیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې له خپل ذهن څخه د اجارې د فسخه کېدو لپاره د شرعي عذرونو مثالونه وړاندې کړي.

## پوښتنې

١- د فاسدې اجارې حکم بیان کړئ.

٢- د اجارې د فسخه کېدو لپاره د مستاجر له خوا د شرعي عذر مثال بیان کړئ.

٣- که چا د ځان لپاره د اجارې عقد تړلی وي او مړ شي، اجاره يې څه حکم لري؟

٤- آیا په اجاره کې خیار شرط روا دی؟

٥- که د سپرلیو اجاره کوونکی په کوم عذر له سفره پاتې شي، آیا اجاره فسخه کولای شي؟

## شفعه (۱)

كه څوك ځمكه يا كور پلوري، نو د اسلامي فقهې له نظره يې د اخيستلو لومړي حقداران، شريكان او نږدې ګاونډيان دي، څو د پردو خلكو په راتګ سره دوى زيانمن نشي. د اخيستلو د لومړيتوب دې حق ته په فقه كې شفعه وايي چې احكام به يې په دې لوستونو كې ولولو:

(١) الشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ لِلْخَلِيطِ فِي نَفْسِ الْمَبِيعِ، ثُمَّ لِلْخَلِيطِ فِي حَقِّ الْمَبِيعِ كَالشِّرْبِ وَالطَّرِيقِ، ثُمَّ لِلْجَارِ. وَلَيْسَ لِلشَّرِيكِ فِي الطَّرِيقِ وَالشِّرْبِ وَالْجَارِ شُفْعَةٌ مَعَ الْخَلِيطِ، فَإِنْ سَلَّمَ فَالشُّفْعَةُ لِلشَّرِيكِ فِي الطَّرِيقِ، فَإِنْ سَلَّمَ أَخَذَهَا الْجَارُ.

(٢) وَالشُّفْعَةُ تَجِبُ بِعَقْدِ الْبَيْعِ وَتَسْتَقِرُّ بِالْإِشْهَادِ وَتُمْلَكُ بِالْأَخْذِ إِذَا سَلَّمَهَا الْمُشْتَرِي أَوْ حَكَمَ بِهَا حَاكِمٌ.

(٣) وَإِذَا عَلِمَ الشَّفِيعُ بِالْبَيْعِ أَشْهَدَ فِي مَجْلِسِهِ ذَلِكَ عَلَى الْمُطَالَبَةِ ثُمَّ يَنْهَضُ مِنْهُ فَيُشْهِدُ عَلَى الْبَائِعِ إِنْ كَانَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ أَوْ عَلَى الْمُبْتَاعِ أَوْ عِنْدَ الْعَقَارِ. فَإِذَا فَعَلَ ذَلِكَ اسْتَقَرَّتْ شُفْعَتُهُ وَلَمْ تَسْقُطْ بِالتَّأْخِيرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِنْ تَرَكَهَا شَهْرًا بَعْدَ الْإِشْهَادِ بَطَلَتْ.

(٤) وَالشُّفْعَةُ وَاجِبَةٌ فِي الْعَقَارِ وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ كَالْحَمَامِ وَالرَّحِي وَالْبِئْرِ وَالدُّورِ الصِّغَارِ.

(٥) وَلَا شُفْعَةَ فِي الْعُرُوضِ وَلَا فِي السُّفُنِ.

(٦) وَالْمُسْلِمُ وَالذِّمِّيُّ فِي الشُّفْعَةِ سَوَاءٌ.

(٧) وَإِذَا مَلَكَ الْعَقَارَ بِعِوَضٍ هُوَ مَالٌ وَجَبَتْ فِيهِ الشُّفْعَةُ.

(٨) وَلَا شُفْعَةَ فِي الدَّارِ يَتَزَوَّجُ الرَّجُلُ عَلَيْهَا أَوْ يُخَالِعُ امْرَأَتَهُ بِهَا أَوْ يَسْتَأْجِرُ بِهَا دَارًا أَوْ يُصَالِحُ بِهَا عَنْ دَمِ عَمْدٍ أَوْ يُعْتِقُ عَلَيْهَا عَبْدًا أَوْ يُصَالِحُ عَنْهَا بِإِنْكَارٍ أَوْ سُكُوتٍ، فَإِنْ

صَالَحَ عَنْهَا بِإِقْرَارٍ وَجَبَتْ فِيهَا الشُّفْعَةُ.

**ژباړه**

(١) شفعه په مبيعه کې لومړی د شريك حق دی، بيا د هغه چا حق دی چې د مبيعې په حقوقو کې شريک وي لکه په اوبو او لاره کې شريك. بيا د ګاونډي (حق دی). په لار او اوبو کې شريک، او ګاونډی، په مبيعه کې له شريک سره شفعه نه لري. که (په مال کې شريک) له شفعې تېر شو، بيا د لارې او اوبو د شريك حق دی، که هغه هم تېر شو، بيا د ګاونډي حق دی.

(٢) شفعه (د بيعې) په عقد ثابتيږي، د شاهدانو په نيولو سره له باطلېدو خوندي کيږي او د مشتري په سپارلو او يا د حاکم په حکم سره د شفيع ملکيت ګرځي.

(٣) کله چې شفيع له بيعې څخه خبر شي نو د شفعې په غوښتولو به په نوموړي مجلس کې شاهدان نيسي، بيا به له هغه ځايه پاڅيږي او په پلورونکي به شاهدان نيسي. که مبيعه د هغه په لاس کې وه، يا د اخيستونکي، يا د (پلورل شوې) ځمکې پر وړاندې به شاهدان نيسي. کله يې چې دا کار وکړ، نو بيا يې د شفعې حق د امام ابوحنيفه په نظر په تاخير نه باطليږي، خو امام محمد ويلي: که له شاهد نيولو نه يې وروسته يوه مياشت د شفعې غوښتنه پرېښووده، نو د شفعې حق يې باطل دی.

(٤) په عقار کې د شفعې حق ثابت دی که څه هم د وېشلو وړ نه وي، لکه حمام، ژرنده، څاه او کوچني کورونه.

(٥) په ببړيو او لېږدېدونکو (منقولو) شيانو کې د شفعې حق نشته.

(٦) مسلمان او ذمي د شفعې غوښتلو په حق کې سره برابر دي.

(٧) که ځمکه (عقار) د داسې عوض په مقابل کې واخيستل شي چې مال وي، نو شفعه پکې شته.

(٨) په هغه کور کې چې مېړه يې په مهر کې ښځې ته ورکوي يا پرې له هغې سره خلعه کوي يا يې د بل کور په اجاره کې ورکوي يا پرې د قتل په قضيه کې صلحه کوي يا يې د مريي په آزادولو کې چاته ورکوي او يا هم د انکار او چوپوالي په بڼه پرې له چا سره صلحه کوي، شفعه نشته، که يې په اقرار سره په هغه صلحه وکړه، نو د شفعې حق ثابت دی.

### شرحه

**د شفعې تعریف**: د لغت له مخې (شفعه) جوړه کولو او یوځای کولو ته وايي. څرنګه چې شفیع د بل چا ځمکه د خپلې ځمکې سره یوځای کوي، نو دې ته هم شفعه ویل کېږي. په اصطلاح کې د ضرر له مخې له اخیستونکي څخه د ځمکې راګرځول او د خپلې ځمکې سره یې یو ځای کولو ته شفعه ویل کیږي.

**شفیع**: هغه شخص ته ویل کیږي چې د شفعې حقدار وي.

**مشفوع**: هغه ځمکه چې د شفعې حق په کې ثابتیږي.

**مشفوع به**: د شفیع هغه ځمکه چې له امله یې د شفعې حقدار ګرځي.

**د شفعې مشروعیت**: شفعه د پیغمبر (علیه السلام) په احادیثو ثابته ده. له هغې جملې څخه دا حدیث دی چې په صحیح مسلم کې راغلی: قَضَى رَسُولُ اللَّهِ (صلي الله علیه وسلم) بِالشُّفْعَةِ فِي كُل شَرِكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ رَبْعَةٍ أَوْ حَائِطٍ ، لاَ يَحِل لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ فَإِنْ شَاءَ أَخَذَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ ، فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ. ژباړه: رسول الله (صلي الله علیه وسلم) په هر شریک کور او باغ کې د شفعې پرېکړه کړې. روا نه دي چې ویې پلوري تر هغه چې شریک خبر کړي، که یې خوښه شوه، وابه یې اخلي او که یې خوښه نه شوه، پرې به یې ږدي. که یې وپلورله او خبر یې نه کړ، نو هغه ترې ډېر حقدار دی.

**شفیع په درې ډوله دی او په لاندې ترتیب سره په شریعت کې د شفعې مستحق ګرځي**:

۱- **الخلیط في نفس المبیع**: هغه څوک چې د پلورل شوي جایداد (ځمکې او کور) په ملکیت کې شریک وي.

۲- **الخلیط في حق المبیع**: هغه څوک چې د مبیعې په حقوقو لکه لارې او اوبو کې شریک وي.

۳- **جار**: له ځمکې سره پیوسته ګاونډی.

**د شفعې ثبوت**: د شفعې حق د ځمکې په پلورل کېدو سره ثابتیږي، که څوک د ځمکې له پلورل کېدو وړاندې د شفعې له حق څخه تېر شي، نو دا تېرېدنه د شفیع حق نه باطلوي او شفیع کولای شي چې له پلورنې وروسته د شفعې دعوه وکړي.

**د شفعې غوښتنه**: د شفعې راګرځولو لپاره شرط دا دی چې د ځمکې د پلورل کېدو له خبر

اورېدو سره سم شفيع د شفعې غوښتنه وکړي او په همدې مجلس کې د شفعې پر غوښتلو شاهدان ونيسي چې دې ته د مواثبت طلب وايي، بيا پر بائع شاهدان ونيسي که يې مبيعه په لاس کې وه او يا په مشتري، يا د ځمکې تر څنګ شاهدان ونيسي. د شاهدانو له نيولو وروسته د شفعې حق له منځه نه ځي چې په متن کې ورځخه په (تستقر) يادونه شوې. مواثبت د لغت له مخې ټوپ وهلو ته وايي او دلته ترې مقصد له ځنډ پرته سملاسي د شفعې غوښتنه ده، که شفيع د خبر له اورېدو سره د شفعې غوښتنه ونه کړي او د شفعې په غوښتنه کې ځنډ وکړي، نو د شفعې حق يې باطلېږي، ځکه چې شفعه يو ضعيف حق دی. د شفعې د حق خوندي کولو لپاره پر شفيع لازمه ده چې د مواثبت له طلب وروسته سملاسي پلورونکي، اخيستونکي او يا هم پلورل شوې ځمکې ته ورشي او د هغوی په وړاندې د شفعې پر غوښتلو شاهدان ونيسي. دې ته د استحقاق يا تقرير طلب وايي چې له دې وروسته د شفيع حق په تاخير او ځنډ کولو سره له منځه نه ځي.

يوازې د شفعې په غوښتلو او شاهدانو نيولو سره شفيع د مشفوع (ځمکې) مالك نه ګرځي بلکې د ځمکې د څښتن يا قاضي له خوا شفيع ته په سپارلو سره شفيع د ځمکې مالك ګرځي.

د شفعې غوښتل په ټولو هغو ټکو سره صحيح دي چې د شفعې پر غوښتلو دلالت وکړي لکه ووايي: زه د شفعې غوښتونکی يم، زه شفعه غواړم او داسې نور.

**شفعه په کومو شيانو کې شته؟** د شفعې حق يوازې په ځمکې پورې محدود دی او له ځمکې پرته په نورو شيانو کې شفعه نشته، که چېرې په دويم پوړ کې کور پلورل کېږي، نو ګاونډيان يې د شفعې غوښتنه کولای شي. د لاندې پوړ څښتنان هغه مهال د پاس پوړ د کورونو شفعه غوښتلای شي چې لاره يې سره شريکه وي.

څرنګه چې مسلمان او ذمي د شفعې د ثبوت په اسبابو او د شفعې د مشروعيت په حکمتونو کې سره برابر دي، نو د شفعې په استحقاق کې هم سره برابردي، يعنې که مسلمان او ذمي دواړه يو د بل شفيعان وي او مسلمان خپله ځمکه وپلوري، نو ذمي يې شفيع دی او د شفعې حق لري.

**مسئله**: د شفعې غوښتنه يوازې هغه مهال صحيح ده چې په بيعه کې د ځمکې عوض مال وي، که چېرې عوض مال نه وي نو د شفعې غوښتلو حق نشته. په همدې بنسټ که څوك خپله ځمکه د مهر، خلعې، اجارې او يا هم په عمدي قتل کې له مقابل لوري سره د صلحې

په معامله کې هغوی ته ورکړي، نو شفيع يې د شفعې غوښتنه نشي کولای، ځکه چې په دې صورتونو کې ځمکه د مال په مقابل کې نه ده پلورل شوې.

همدا راز که چا ځمکه له مدعی به څخه د انکار يا سکوت په صورت کې په صلحه کې ورکړه، نو شفيع يې د شفعې غوښتلو حق نه لري، ځکه صلحه کوونکی په دې صورت کې خپله ځمکه د مال په عوض کې نه شمېري، بلکې د شخړې د له منځه وړلو عوض يې ګڼي او د شخړې له منځه وړل مال نه دی. البته که صلحه کوونکي په اقرار سره صلحه ومنله، نو شفيع د شفعې غوښتلو حق لري، ځکه صلحه کوونکي دغه تبادله د مال تبادله ګڼلې او پرې اقرار يې کړی، په دې بنسټ ځمکه د مال په مقابل کې راځي او شفعه ثابتيږي.

**د مسئلې د ښه روښانتيا لپاره د پورتنيو صلحو تعريفونه په لاندې ډول دي:**

۱- **د مدعی عليه له اقرار سره صلحه:** داسې چې يو شخص د بل په مال دعوه وکړي او هغه پرې اقرار وکړي، خو بيا دا مدعی عليه د بل شي په ورکولو د مدعي سره صلحه وکړي.

۲- **د مدعی عليه د انکار سره صلحه:** داسې چې مدعي د چا پر ځمکه دعوه وکړي او هغه ورڅخه انکار وکړي، خو وروسته د ځينې ځمکې په ورکولو له مدعي سره روغه وکړي.

۳- **د مدعی عليه له سکوت سره صلحه:** لکه مدعي چې د چا په مال دعوه وکړي او مدعی عليه د مدعي له دعوې څخه نه انکار وکړي او نه يې ومني او وروسته مدعي ته د کومې ځمکې په ورکولو سره صلحه وکړي.

## فعاليت

زده کوونکي دې د محترم ښوونکي په مرسته د شفعې غوښتلو بېلابېل صورتونه په عملي توګه تمثيل او انځور کړي.

## پوښتنې

١- شفعه تعریف کړئ!

٢- د شفعې د مشروعیت دلیل وواياست!

٣- شفیع په څو ډوله دی؟ روښانه يې کړئ!

٤- شفعه څه ډول غوښتل کیږي؟ د مواثبت او استحقاق طلب تشریح کړئ!

٥ -د شفعې غوښتلو حق تر کوم شي پورې منحصر دی؟

٦- که ځمکه د داسې عوض په مقابل کې وپلورل شي چې مال نه وي، څه حکم لري؟

# شفعه (۲)
# د شفعې د غوښتلو حکمونه

په تېر لوست کې مو د شفعې د تعریف، مشروعیت او یو لړ شرطونو په اړه معلومات ترلاسه کړل، اوس به له شریعت سره سم د شفعې د غوښتلو په لاندې طریقو او اړوندو حکمونو وغږیږو:

(١) وَإِذَا تَقَدَّمَ الشَّفِيعُ إِلَى الْقَاضِي فَادَّعَى الشِّرَاءَ وَطَلَبَ الشُّفْعَةَ سَأَلَ الْقَاضِي الْمُدَّعَى عَلَيْهِ، فَإِنْ اعْتَرَفَ بِمِلْكِهِ الَّذِي يَشْفَعُ بِهِ، وَإِلَّا كَلَّفَهُ إِقَامَةَ الْبَيِّنَةِ.

(٢) فَإِنْ عَجَزَ عَنِ الْبَيِّنَةِ اُسْتُحْلِفَ الْمُشْتَرِي بِاَللَّهِ مَا يَعْلَمُ أَنَّهُ مَالِكٌ لِلَّذِي ذَكَرَهُ مِمَّا يَشْفَعُ بِهِ، فَإِنْ نَكَلَ أَوْ قَامَتْ لِلشَّفِيعِ بَيِّنَةٌ سَأَلَهُ الْقَاضِي: هَلْ ابْتَاعَ أَمْ لَا؟ فَإِنْ أَنْكَرَ الِابْتِيَاعَ قِيلَ لِلشَّفِيعِ: أَقِمِ الْبَيِّنَةَ! فَإِنْ عَجَزَ عَنْهَا اُسْتُحْلِفَ الْمُشْتَرِي بِاَللَّهِ مَا ابْتَاعَ أَوْ بِاَللَّهِ مَا يَسْتَحِقُّ عَلَيَّ فِي هَذِهِ الدَّارِ شُفْعَةً مِنْ الْوَجْهِ الَّذِي ذَكَرَهُ.

(٣) وَتَجُوزُ الْمُنَازَعَةُ فِي الشُّفْعَةِ وَإِنْ لَمْ يُحْضِرْ الشَّفِيعُ الثَّمَنَ إِلَى مَجْلِسِ الْقَاضِي، فَإِذَا قَضَى لَهُ الْقَاضِي بِالشُّفْعَةِ لَزِمَهُ إِحْضَارُ الثَّمَنِ.

(٤) وَلِلشَّفِيعِ أَنْ يَرُدَّ الدَّارَ بِخِيَارِ الْعَيْبِ وَالرُّؤْيَةِ.

(٥) فَإِنْ أَحْضَرَ الشَّفِيعُ الْبَائِعَ وَالْمَبِيعُ فِي يَدِهِ فَلَهُ أَنْ يُخَاصِمَهُ فِي الشُّفْعَةِ ولَايَسْمَعُ الْقَاضِي الْبَيِّنَةَ حَتَّى يَحْضُرَ الْمُشْتَرِي فَيَفْسَخُ الْبَيْعَ بِمَشْهَدٍ مِنْهُ وَيَقْضِي بِالشُّفْعَةِ عَلَى الْبَائِعِ وَتُجْعَلُ الْعُهْدَةُ عَلَيْهِ.

(٦) وَإِذَا تَرَكَ الشَّفِيعُ الْإِشْهَادَ حِينَ عَلِمَ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى ذَلِكَ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ وَكَذَلِكَ إِنْ أَشْهَدَ فِي الْمَجْلِسِ وَلَمْ يَشْهَدْ على أَحَدِ الْمُتَبَايِعَيْنِ وَلا عِنْدَ الْعِقَارِ.

(٧) وَإِنْ صَالَحَ مِنْ شُفْعَتِهِ عَلَى عِوَضٍ أَخَذَهُ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ وَرَدَّ الْعِوَضَ.

(٨) وَإِذَا مَاتَ الشَّفِيعُ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ، وَإِذَا مَاتَ الْمُشْتَرِي لَمْ تَسْقُطْ. وَإِذَا بَاعَ الشَّفِيعُ مَا يَشْفَعُ بِهِ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى لَهُ بِالشُّفْعَةِ بَطَلَتْ شُفْعَتُهُ.

### ژباړه

(١) که شفيع د قاضي پر وړاندې د ځمکې د خرڅېدو دعوه وکړي او د شفعې غوښتنه وکړي، نو قاضي به له مدعی عليه څخه پوښتنه وکړي. که يې د شفيع په ځمکه چې له امله يې د شفعې حقدار ګرځي، اعتراف وکړ (ډېره ښه) او که مدعی عليه انکار وکړ، نو شفيع به شاهدانو تېرولو ته اړياسي.

(٢) که شفيع د شاهدانو تېرولو څخه ناتوانه شو، نو اخيستونکي ته به پر الله (جل جلاله) قسم ورکړ شي چې دی د نوموړې ځمکې – چې ورباندې شفيع ګرځي - په اړه نه پوهيږي چې شفيع د هغې څښتن دی. که له قسم کولو يې انکار وکړ يا شفيع شاهدان تېر کړل، نو قاضي به له اخيستونکي وپوښتي چې آيا ځمکه يې اخيستې؟ که اخيستونکي له پېرودلو انکار وکړ، شفيع ته به و ويل شي: (په پېرودلو) شاهدان تېر کړه. که له شاهدانو تېرولو څخه ناتوانه شو نو اخيستونکي ته به په الله قسم ورکړل شي چې ځمکه يې نه ده اخيستې، يا به داسې قسم ورکړي چې دی پر ما د ياد شوي سبب له امله د شفعې حق نه لري.

(٣) که شفيع محکمې ته پيسې هم نه وي راوړې، د شفعې د دعوې پرمخ بېول يې صحيح دي، کله چې قاضي د ده په حق کې پرېکړه وکړي، بيا پرې پيسې حاضرول لازم دي.

(٤) شفيع کولای شي چې د خيار عيب او خيار رؤيت له امله مبيعه رد کړي.

(٥) که مبيعه د پلورونکي په لاس کې وي او شفيع يې محکمې ته راولي، نو شفيع کولای شي چې د شفعې دعوه ورسره وکړي. قاضي تر هغې د ګواهانو شاهدي نشي اورېدلای څو اخيستونکی نه وي حاضر شوی، نو بيعه به د اخيستونکي په موجوديت کې فسخه کړي، د شفعې حکم به په پلورونکي وکړي او هم به تاوان پر ده کړي.

(٦) که شفيع د ځمکې د پلورنې د خبر اورېدو په مهال د شاهدانو نيولو وسه درلوده او شاهدان يې ونه نيول، شفعه يې باطله شوه. همدا راز که په مجلس کې يې شاهدان ونيول خو د عاقدينو يا ځمکې پر وړاندې يې شاهدان ونه نيول.

(۷) که شفیع د اخیستل شوي عوض په مقابل کې له شفعې تېر شو، د شفعې حق يې باطل او عوض به هم بېرته ورکوي.

(۸) که شفیع مړ شي، د شفعې حق يې له منځه ځي، خو که اخیستونکی ومري، د شفعې حق نه باطلېږي.

که شفیع هغه ځمکه چې له امله يې د شفعې مستحق دی، د شفعې له ګټلو وړاندې وپلوري، د شفعې حق يې باطلیږي.

## شرحه

**د شفعې غوښتلو طریقه**: کله چې د چا مشفوعه ځمکه د هغه له اجازې پرته وپلورل شي نو شفیع به د خپل حق غوښتلو لپاره قاضي ته ورشي. قاضي د ځمکې له اخیستونکي څخه پوښتنه کوي چې آیا شفیع د هغې ځمکې څښتن دی چې له امله يې نوموړې د پلورل شوې ځمکې شفیع ګرځي؟ که اخیستونکي د شفیع په ملکیت اعتراف وکړ، نو ښه ده، خو که اخیستونکي د شفیع له ملکیت څخه انکار وکړ، قاضي به شفیع ته وخت ورکوي چې د هغې ځمکې په ملکیت شاهدان تېر کړي چې له امله يې دی د شفعې مستحق ګرځي. که شفیع د خپلې ځمکې په ملکیت شاهدان تېر نه کړای شول، اخیستونکی به په دې خبره لوړه (قسم) وکړي چې دی د شفیع د ملکیت په اړه معلومات نه لري. که اخیستونکي له لوړې کولو منعه راوړه یا شفیع په خپل ملکیت شاهدان تېر کړل، نو په دې صورت کې به قاضي له اخیستونکي وپوښتي چې آیا نوموړې ځمکه يې په بیعه اخیستې؟ که اخیستونکي له بیعې اخیستلو انکار وکړ، نو شفیع به په دې خبره شاهدان تېروي چې اخیستونکي نوموړې ځمکه په بیعه اخیستې ده. که شفیع د ځمکې په پلورلو شاهدان تېر نکړای شول، اخیستونکی به د ځمکې په نه اخیستلو لوړه کوي او یا به په دې قسم کوي چې شفیع د یاد شوي سبب پر بنسټ د شفعې حق نه لري.

**د شفیع مدعی علیه**: که اخیستونکي ځمکه اخیستې او قبض کړې وه، نو شفیع به له اخیستونکي سره د شفعې دعوه کوي. په دې صورت کې په پلورونکي دعوه صحیح نه ده، ځکه پلورونکی د اخیستونکي له قبض وروسته د پردي حیثیت لري، البته له قبض وړاندې په پلورونکي دعوه کولای شي، ځکه چې ځمکه لا د پلورونکي په لاس کې ده، خو د شاهدانو

تېرولو پر مهال به اخیستونکی راغوښتل کېږي، بیعه به د هغه په وړاندې فسخه او پلورونکی به مدعی علیه گرځي.

**په شفعه کې خیار**: کله چې شفیع د شفعې د حق پر بنسټ له اخیستونکي څخه ځمکه راوگرځوي، نو د لیدلو او عیب خیار لري، یعنې شفیع کولای شي له لیدلو وروسته یې بېرته اخیستونکي ته رد کړي او له اخیستلو یې تېر شي. همدا راز که په مبیعه کې عیب ومومي هم کولای شي چې د عیب له امله یې رد کړي. د اخیستونکي لیدل او له عیب سره سره منل د شفیع د لیدلو او عیب خیار له منځه نه وړي.

**د شفعې باطلېدل**: د شفعې غوښتلو حق په لاندې سببونو سره له منځه ځي:

۱- کله چې شفیع له توان سره سره د مواثبت یا تقریر پر طلب د شاهدانو نیول پرېږدي.

۲- کله چې شفیع د عوض په مقابل کې له شفعې تېر شي.

۳- کله چې شفیع د ځمکې له پلورلو وروسته او د قاضي له پرېکړې مخکې مړ شي.

٤- شفیع خپله هغه ځمکه چې پر بنسټ یې د شفعې حقدار گرځېدلی، د شفعې د دعوه پر مهال د قاضي له پرېکړې وړاندې وپلوري.

## فعالیت

زده کوونکي دې د عیب او رؤیت خیار تعریف کړي.

## پوښتنې

۱- په محکمه کې د شفعې غوښتلو طریقه روښانه کړئ.

۲- که اخیستونکي ځمکه قبض کړې وي، د شفیع مدعی علیه به څوک وي؟

۳- آیا شفیع د رؤیت او عیب خیار لري؟

٤- شفعه په کومو شیانو باطلیږي؟

# شفعه (۳)
# د شفعې قيمت ورکول

گرانو زده کوونکو! په تېر لوست کې مو په محکمه کې د شفعې غوښتلو طريقه بيان کړه. په دې لوست کې به د شفعې د ثبوت څنې صورتونه ولولو او هم به د شفيع او اخيستونکي تر منځ د رامنځته شوي اختلاف اړوند احکام زده کړو.

(١) ووَكِيلُ الْبَائِعِ إِذَا بَاعَ وَكانَ هُوَ الشَّفِيعُ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ وَكَذَلِكَ إِنْ ضَمِنَ الدَّرَكَ عَنْ الْبَائِعِ لِلْمُشْتَرِي. ووَكِيلُ الْمُشْتَرِي إِذَا ابْتَاعَ وَهُوَ الشَّفِيعُ فَلَهُ الشُّفْعَةُ.

(٢) وَمَنْ بَاعَ بِشَرْطِ الْخِيَارِ فَلَا شُفْعَةَ لِلشَّفِيعِ، فَإِنْ أَسْقَطَ الْخِيَارَ وَجَبَتْ الشُّفْعَةُ.

(٣) وَمَنْ اشْتَرَى بِشَرْطِ الْخِيَارِ وَجَبَتْ الشُّفْعَةُ، وَمَنْ ابْتَاعَ دَارًا شِرَاءً فَاسِدًا فَلَا شُفْعَةَ فِيهَا، وَلِكُلِّ واحِدٍ مِنَ الْمُتَعاقِدَيْنِ الْفَسْخُ، فَإِنْ سَقَطَ الْفَسْخُ وَجَبَتْ الشُّفْعَةُ.

(٤) وَإِذَا اشْتَرَى ذِمِّيٌّ دَارًا بِخَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ وَشَفِيعُهَا ذِمِّيٌّ أَخَذَهَا بِمِثْلِ الْخَمْرِ وَقِيمَةِ الْخِنْزِيرِ، وَإِنْ كَانَ شَفِيعُهَا مُسْلِمًا أَخَذَهَا بِقِيمَةِ الْخَمْرِ وَالْخِنْزِيرِ.

(٥) وَلَا شُفْعَةَ فِي الْهِبَةِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ بِعِوَضٍ مَشْرُوطٍ.

(٦) وَإِذَا اخْتَلَفَ الشَّفِيعُ وَالْمُشْتَرِي فِي الثَّمَنِ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُشْتَرِي، فَإِنْ أَقَامَا بَيِّنَةً فَالْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الشَّفِيعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَة، وَقال أبويوسف: الْبَيِّنَةُ بَيِّنَةُ الْمُشْتَرِي.

(٧) وَإِذَا ادَّعَى الْمُشْتَرِي ثَمَنًا، وَادَّعَى الْبَائِعُ أَقَلَّ مِنْهُ، وَلَمْ يَقْبِضْ الثَّمَنَ، أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِمَا قَالَ الْبَائِعُ وَإِنْ كَانَ قَبَضَ الثَّمَنَ، أَخَذَهَا بِمَا قَالَ الْمُشْتَرِي إِنْ شَاءَ وَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَى قَوْلِ الْبَائِعِ،

(٨) وَإِذَا حَطَّ الْبَائِعُ عَنْ الْمُشْتَرِي بَعْضَ الثَّمَنِ سَقَطَ ذَلِك عَنْ الشَّفِيعِ، وَإِنْ حَطَّ عَنْهُ جَمِيعَ الثَّمَنِ لَمْ يَسْقُطْ عَنْ الشَّفِيعِ، وَإِنْ زَادَ الْمُشْتَرِي الْبَائِعَ فِي الثَّمَنِ، لَمْ تَلْزَمْ الزِّيَادَةُ

الشَّفِيعَ.

(٩) وَإِذَا اجْتَمَعَ الشُّفَعَاءُ فَالشُّفْعَةُ بَيْنَهُمْ عَلَى عَدَدِ رُءُوسِهِمْ وَلَا يُعْتَبَرُ اخْتِلَافُ الْأَمْلَاكِ.

(١٠) وَمَنْ اشْتَرَى دَارًا بِعَرَضٍ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِقِيمَتِهِ وَإِنْ اشْتَرَاهَا بِمَكِيلٍ أَوْ مَوْزُونٍ أَخَذَهَا بِمِثْلِهِ.

(١١) وَإِنْ بَاعَ عَقَارًا بِعَقَارٍ أَخَذَ الشَّفِيعُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِقِيمَةِ الْآخَرِ.

(١٢) وَإِذَا بَلَغَ الشَّفِيعَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِأَلْفٍ فَسَلَّمَ شُفْعَتَهُ ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِأَقَلَّ أَوْ بِحِنْطَةٍ أَوْ بِشَعِيرٍ قِيمَتُهَا أَلْفٌ أَوْ أَكْثَرَ فَتَسْلِيمُهُ بَاطِلٌ وَلَهُ الشُّفْعَةُ، وَإِنْ بَانَ أَنَّهَا بِيعَتْ بِدَنَانِيرَ قِيمَتُهَا أَلْفٌ أَوْ أَكْثَرُ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ.

(١٣) وَإِذَا قِيلَ لَهُ: إِنَّ الْمُشْتَرِيَ فُلَانٌ فَسَلَّمَ الشُّفْعَةَ. ثُمَّ عَلِمَ أَنَّهُ غَيْرُهُ فَلَهُ الشُّفْعَةُ، وَمَنْ اشْتَرَى دَارًا لِغَيْرِهِ فَهُوَ الْخَصْمُ فِي الشُّفْعَةِ إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَهَا إِلَى الْمُوَكِّلِ.

## ژباړه

(١) که د پلورونکي وکيل ځمکه وپلوري او شفيع هم پخپله وي، نو د شفعې حق يې له منځه ځي. همدا راز که شفيع د اخيستونکي پر وړاندې د پلورونکي له خوا د ضامن بالدرک شي (يعنې د مبيعې د استحقاق د تاوان ضمانت وکړي) د شفعې حق يې له منځه ځي. که د اخيستونکي وکيل چې شفيع هم دی، د اخيستونکي لپاره ځمکه واخلي، شفعه يې نه باطليږي.

(٢) که پلورونکی په خيار سره ځمکه وپلوري، نو شفيع د شفعې دعوه نشي کولای، مګر دا چې خيار له منځه يوسي.

(٣) خو که خيار اخيستونکي ته وي، نو د شفعې دعوه کولای شي. که څوک په فاسده بيعه ځمکه وپلوري، شفعه نه ثابتيږي او دواړه لوري عقد فسخه کولای شي، که فسخه ساقطه شوه، شفعه ثابته شوه.

(٤) که ذمي د شرابو يا خوګ په مقابل کې ځمکه وپيرله او شفيع يې هم ذمي و، شفيع به يې

د شرابو په مثل او د خوګ په قیمت اخلي خو که شفیع مسلمان و، نو مسلمان به یې د شرابو او خوګ په قیمت اخلي.

(٥) په هبه که شفعه نشته، مګر دا چې د عوض په مقابل کې وي.

(٦) که اخیستونکي او شفیع په قیمت کې اختلاف وکړ، نو د اخیستونکي خبره معتبره ده، که دواړو شاهدان تېر کړل نو د امام ابوحنیفه په نظر د شفیع شاهدان معتبر دي، خو امام ابویوسف وایي چې د اخیستونکي شاهدان معتبر دي.

(٧) که اخیستونکي د یوه قیمت دعوه وکړه او پلورونکي له هغه څخه د کم قیمت چې لا قبض کړی یې هم نه دی، په دې صورت کې به یې شفیع په هغه قیمت اخلي چې بایع ښودلی، خو که قیمت یې قبض کړی و، نو د اخیستونکي په قیمت به یې اخلي او د پلورونکي خبره اعتبار نه لري.

(٨) که پلورونکي اخیستونکي ته ځینې پیسې پرېښودلې، نو له شفیع هم ساقطیږي، خو که ټولې یې ورته پرېښودلې، په دې صورت کې له شفیع څخه نه ساقطیږي. که پلورونکي په اخیستونکي قیمت ورزیات کړ، په شفیع نه زیاتیږي.

(٩) که د شفعې حقداران ګڼ وو، ځمکه به د هغوی د شمېر پر بنسټ وېشل کیږي، نه د هغوی د ځمکې د ډېروالي او کموالي په تناسب.

(١٠) چا چې د توکي په مقابل کې ځمکه واخیسته، شفیع به یې د همغه توکي په قیمت اخلي، که یې په کیلي یا وزني شیانو واخیسته، شفیع به یې هم د همغه شي په مثل اخلي.

(١١) که یې ځمکه پر ځمکه وپلورله، شفیع به هره یوه د بل په قیمت اخلي.

(١٢) که شفیع ته وویل شول چې مشفوعه یې په زرو روپو پلورل شوې او له شفعې تېر شو، خو وروسته معلومه شوه چې له زرو څخه په کمو روپو یا په دومره غنمو او وریشو پلورل شوې چې قیمت یې زر روپۍ کیږي، له شفعې تېرېدل یې باطل او د شفعې حقدار دی، که معلومه شوه چې د زرو روپو په معادلو یا زیاتو دینارو پلورل شوې، نو د شفعې حق یې ساقط دی.

(١٢) که ورته وویل شول چې د شفعې اخیستونکی فلانی دی، نو شفعه یې تسلیم کړه، خو وروسته معلومه شوه چې بل څوك دی، نو د شفعې غوښتلو حق لري.

(١٣) که چا د بل شخص لپاره کور واخیست، نو د شفعې دعوه به له ده سره کیږي، مګر دا

چې موکل ته يې وسپاري.

**شرحه**

**د شفيع وکالت**: که شفيع د وکيل په توګه خپله مشفوعه وپلوري، نو له پلورلو وروسته د شفعې غوښتلو حق نه لري، ځکه له پلورلو وروسته پر وکيل لازم دي چې مبيعه اخيستونکي ته وسپاري. د همدې لزوم له امله شفعه باطليږي. په همدې ډول که شفيع د اخيستونکي لپاره د پلورونکي ضمانت وکړ، نو د شفعې حق له منځه ځي، ځکه ضمانت کول د بيعې صحيح ګڼل دي او شفعه د بيعې باطلول دي. له دې امله دواړه نه سره يوځای کيږي.

که شفيع په بيعه کې د اخيستونکي وکالت وکړي، نو د شفعې حق نه باطليږي ځکه د شفعې حق هغه مهال ثابتيږي چې بيعه سرته ورسيږي.

څرنګه چې د بايع د خيار په حال کې مبيعه د بايع له ملکه نه وځي، نو شفعه هم نه ثابتيږي، خو دا چې د اخيستونکي د خيار په حال کې مبيعه د پلورونکي له ملکيت څخه وځي، نو شفعه هم ثابتيږي.

په فاسده بيعه کې ځکه شفعه نه ثابتيږي چې مبيعه لا د پلورونکي له ملکيت څخه نده وتلې او بيعه د فسخې وړ ده. که د فسخې حق له منځه لاړ شي، نو شفعه هم ثابتيږي.

که ذمي له ذمي څخه شفعه وګټي او ځمکه په شرابو پلورل شوې وي، نو شفيع به د شرابو مثل ورکوي، ځکه شراب مثلي دي. که يې په خوګ پلورلې وي، نو د خوګ قيمت به ورکوي، ځکه خوګ قيمي دی. لنډه دا چې په مثلي شيانو کې به اخستونکي ته مثل ورکوي او په غير مثلي شيانو کې به قيمت ورسپاري. البته که مسلمان له ذمي څخه شفعه وګټي او ځمکه په شرابو يا خوګ پلورل شوې وي، نو مسلمان به يې قيمت ورکوي، ځکه د مسلمان پر وړاندې خوګ او شراب متقوم مال نه دی او راکړه ورکړه وربانديې روا نه ده.

په بخښل شوې ځمکه کې شفعه نشته مګر دا چې بخشش کوونکی د بخشش په مقابل کې پر بخشش اخيستونکي د مال ورکول شرط کړي او د همدې شرط په منلو يو له بل څخه مال تسليم کړي، د بېلګې په ډول طارق منير ته خپله يو جريب ځمکه په دې شرط وبخښي چې منير به د ځمکې په مقابل کې طارق ته موټر ورکوي.

**د شفعې په قيمت کې اختلاف**:

که اخيستونکي ووېل: ځمکه مې په لس زره افغانۍ اخيستې او شفيع دعوه وکړه چې په اته

زره افغانۍ يې اخيستې، په دې صورت کې د اخيستونکي خبره له قسم سره معتبره ده. که شفيع په خپله خبره شاهدان تېر کړل، نو خبره يې د اعتبار وړ ده.
که اخيستونکي وويل: ځمکه مې په لس زره افغانۍ اخيستې او پلورونکي ويل چې په نهه زره افغانۍ يې پلورلې او پيسې يې هم نه وې قبض کړې، په دې صورت کې به شفيع د پلورونکي په قيمت ځمکه اخلي. که پلورونکي پيسې قبض کړې وې، نو په دې صورت کې بيا د اخيستونکي خبره د منلو وړ او د پلورونکي وينا اعتبار نه لري.
که پلورونکی د شفعې له قيمت څخه ځينې برخه اخيستونکي ته وبخښي، شفيع کولای شي چې له پلورونکي څخه يې راوګرځوي، البته که پلورونکی اخيستونکي ته ټول قيمت وبخښي نو شفيع د دعوې حق نه لري. دا هم د يادونې وړ ده چې که اخيستونکی په قيمت کې زياتوالی راولي، نو شفيع يې په ورکولو مجبور نه دی.
**مسئله**:
که درې تنه په لس جريبه ځمکه کې داسې شريک وي چې لومړی تن د پنځه جريبه ځمکې څښتن، دويم د درې جريبه ځمکې څښتن او دريم يې د دوه جريبه ځمکې څښتن وي، د درې جريبه ځمکې څښتن غواړي خپله ځمکه وپلوري. د پلورونکي دواړه شفيعان په برابره توګه د شفعې مستحق دي، يعنې د ځمکې نيمه برخه به يوه او نيمه به بل شفيع اخلي. د پنځو جريبو څښتن دا دعوه نشي کولای چې ځمکه يې ډېره ده، نو په شفعه کې هم ډېر حقدار دی.
**مسئله**:
که ځمکه په ځمکه وپلورل شي، شفيع به د شفعې په مقابل کې د هغه بلې ځمکې قيمت ورکوي.
**شفيع ته ناسم خبر رسېدل**: که شفيع ته وويل شول چې شفعه يې په لس زرو روپو پلورل شوې او له شفعې تېر شو، خو وروسته معلومه شوه چې له لسو زرو څخه په لږو روپو يا په دومره غنمو او وريشو پلورل شوې چې قيمت يې لس زره روپۍ کيږي، نو له شفعې تېرېدل يې باطل او د شفعې حقدار دی. دا په دې دليل چې لس زره روپۍ ډېرې او اته زره لږې دي، نو کېدای شي چې مشفوعه ځمکه يې په لس زرو روپو خوښه نه شي، خو په اتو زرو روپو يې خوښه شي. همدا راز کله کله يو شخص د روپو په ورکولو قادر نه وي، خو د غنمو د ورکولو توان لري.
په همدې ډول ځينې وخت شفيع د يو شخص له ښو اخلاقو او ګاونډيتوب څخه خوښ وي

نو د شفعې غوښتنه هم نه کوي، خو که د نومړي پر ځای بل داسې څوک ځمکه واخلي چې شفيع يې له اخلاقو او چلن څخه ناخوښ وي، نو په ګاونډېتوب يې هم نه راضي کېږي، په دې بنسټ که شفيع ته په لومړي سر کې د يو شخص نوم واخيستل شي او وروسته معلومه شي چې د ځمکې اخيستونکی بل څوک دی، نو د شفعې غوښتلو حق لري.

که شفيع ته خبر ورسيږي چې ځمکه په لس زرو روپو پلورل شوې، خو وروسته معلومه شي چې په لسو زرو روپو نه بلکې په دومره دينارو پلورل شوې چې ارزښت يې له لسو زرو روپو سره برابر يا زيات دی، په دې صورت کې هم د شفعې غوښتلو حق نه لري.

## فعاليت

که يو جريب ځمکه دوه شفيعان ولري، داسې چې د يو شفيع څلور جريبه ځمکه له شفعې سره لګېدلې وي او د بل دوه جريبه.

زده کوونکي دې پر دې بحث وکړي چې د پلورلو پر مهال په ځمکه کې هر شفيع څومره حق لري؟

## پوښتنې

١- که شفيع د پلورلو وکيل هم وي، آيا له پلورلو وروسته د شفعې غوښتلو حق لري؟

٢- آيا د اخيستلو وکيل له اخيستلو وروسته د شفعې غوښتلو حق لري؟

٣- که د مسلمان شفعه په ذمي شخص په شرابو پلورل شوې وي، مسلمان به يې قيمت څه ډول ادا کوي؟

٤- د شفيع او اخيستونکي تر منځ په قيمت کې د اختلاف حکمونه روښانه کړئ.

٥- د ګڼو شفيعانو تر منځ ځمکه په کوم بنسټ وېشل کېږي؟

## شفعه (۴)
## د شفعې له ګټلو وروسته حكمونه

دا د شفعې په اړه وروستی لوست دی. په دې لوست كې به هغه حكمونه ولولو چې د شفعې له ګټلو وروسته شفيع او اخيستونكي ته راجع كيږي:

(١) وَإِذَا بَاعَ دَارا إِلَّا مِقْدَارَ ذِرَاعٍ فِي طُولِ الْحَدِّ الَّذِي يَلِي الشَّفِيعَ فَلَا شُفْعَةَ لَهُ، وَإِنْ بَاعَ سَهْمًا مِنْهَا بِثَمَنٍ، ثُمَّ بَاعَ بَقِيَّتَهَا فَالشُّفْعَةُ لِلْجَارِ فِي السَّهْمِ الْأَوَّلِ دُونَ الثَّانِي، وَإِنِ ابْتَاعَ بِثَمَنٍ ثُمَّ دَفَعَ إِلَيْهِ ثَوْبًا عنه فَالشُّفْعَةُ بِالثَّمَنِ دُونَ الثَّوْبِ.

(٢) وَلَا تُكْرَهُ الْحِيلَةُ فِي إِسْقَاطِ الشُّفْعَةِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ، وَتُكْرَهُ عِنْدَ مُحَمَّدٍ.

(٣) وَإِذَا بَنَى الْمُشْتَرِي أَوْ غَرَسَ ثُمَّ قُضِيَ لِلشَّفِيعِ بِالشُّفْعَةِ فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِالثَّمَنِ وَقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ مَقْلُوعًا، وَإِنْ شَاءَ كَلَّفَ الْمُشْتَرِيَ قَلْعَهُ، وَإِذَا أَخَذَهَا الشَّفِيعُ فَبَنَى فِيهَا أَوْ غَرَسَ، ثُمَّ اُسْتُحِقَّتْ رَجَعَ بِالثَّمَنِ وَلَا يَرْجِعُ بِقِيمَةِ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ.

(٤) وَإِذَا انْهَدَمَتْ الدَّارُ أَوْ احْتَرَقَ بِنَاؤُهَا أَوْ جَفَّ شَجَرُ الْبُسْتَانِ بِغَيْرِ فِعْلِ أَحَدٍ فَالشَّفِيعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهُ بِجَمِيعِ الثَّمَنِ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ، وَإِنْ نَقَضَ الْمُشْتَرِي الْبِنَاءَ قِيلَ لِلشَّفِيعِ: إِنْ شِئْتَ فَخُذْ الْعَرْصَةَ بِحِصَّتِهَا، وَإِنْ شِئْتَ فَدَعْ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ النُّقْضَ.

(٥) وَمَنْ ابْتَاعَ أَرْضًا وَفِي نَخْلِهَا ثَمَرٌ أَخَذَهَا الشَّفِيعُ بِثَمَرِهَا، فَإِنْ جَدَّهُ الْمُشْتَرِي سَقَطَ عَنْ الشَّفِيعِ حِصَّتُهُ.

(٦) وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لِلشَّفِيعِ بِالدَّارِ وَلَمْ يَكُنْ رَآهَا فَلَهُ خِيَارُ الرُّؤْيَةِ، وَإِنْ وَجَدَ بِهَا عَيْبًا فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهَا بِهِ وَإِنْ كَانَ الْمُشْتَرِي شَرَطَ الْبَرَاءَةَ مِنْهُ.

(٧) وَإِذَا ابْتَاعَ بِثَمَنٍ مُؤَجَّلٍ فَالشَّفِيعُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ أَخَذَهَا بِثَمَنٍ حَالٍّ، وَإِنْ شَاءَ صَبَرَ حَتَّى يَنْقَضِيَ الْأَجَلُ ثُمَّ يَأْخُذَهَا.

(٨) وَإِذَا قَسَمَ الشُّرَكَاءُ الْعَقَارَ فَلَا شُفْعَةَ لِجَارِهِمْ بِالْقِسْمَةِ، وَإِذَا اشْتَرَى دَارًا فَسَلَّمَ الشَّفِيعُ الشُّفْعَةَ، ثُمَّ رَدَّهَا الْمُشْتَرِي بِخِيَارِ رُؤْيَةٍ أَوْ شَرْطٍ أَوْ عَيْبٍ بِقَضَاءِ قَاضٍ فَلَا شُفْعَةَ

لِلشَّفِيْعِ، وَإِنْ رَدَّهَا بِغَيْرِ قَضَاءِ أَوْ تَقَايَلَا فَلِلشَّفِيعِ الشُّفْعَةُ.

**ژباړه:**

(۱) که چا کور ویلورلو، خو د یوه گز په اندازه ځای یې چې د شفیع له ځمکې سره لګېدلی، د فاصلې په توګه له پلورلو پرېښود، نو شفیع د شفعې حق نه لري. که له ځمکې څخه یې یوه (مشاعه) برخه وپلورله، بیا یې پاتې هم وپلورله، نو ګاونډي په لومړی بیعه کې د شفعې حق لري، نه په دویمه کې. که یې ځمکه په پیسو وپلورله، خو بیا یې (په عوض کې) جامې ورکړې نو شفعه په پیسو ده، نه په جامو.

(۲) د امام ابویوسف په نظر د شفعې حق د له منځه وړلو لپاره حیله جوړول مکروه نه دي او د امام محمد په نظر مکروه دي.

(۳) که اخیستونکي په ځمکه کې ودانۍ جوړه کړه یا یې پکې ونې وکرلې، بیا په ځمکه د شفیع لپاره حکم وشو، شفیع اختیار لري چې د نړېدلې ودانۍ او ایستل شویو ونو قیمت ورکوي او که اخیستونکی اړباسي چې ودانۍ ړنګه او ونې وباسي. که شفیع ځمکه واخیسته او ودانۍ یا ونې یې پکې وکرلې، خو وروسته بل چا په استحقاق یووړه، نو یوازې د قیمت حقدار دی او د ودانۍ او ونو قیمت نشي اخیستلای.

(٤) که کور ونړېږي یا وسوځي، یا هم د بڼ ونې د چا له قصد پرته وچې شي، نو شفیع اختیار لري چې په پوره قیمت یې اخلي او که یې ردوي. که اخیستونکی ودانۍ ونړوي، نو شفیع اختیار لري چې ځمکه د هغې د برخې په ثمن اخلي او که یې پرېږدي، البته د ودانۍ د توکو غوښتنه نشي کولای.

(٥) که چا ځمکه واخیسته او په ونه کې یې مېوه وه، شفیع به یې له مېوې سره اخلي او که مشتري د ونو مېوې وشکولې، د مېوو پیسې له شفیع څخه کمېږي.

(٦) که شفیع د قاضي په پرېکړه کور وګټلو، خو لیدلی یې نه و، نو د رؤیت خیار لري. که یې عیب پکې مونده کړ، د ردولو اختیار یې لري. که څه هم اخیستونکي (مشتري) ورڅخه برأت شرط کړی وي.

(۷) که اخیستونکي کور په مؤجل ثمن اخیستی وي نو شفیع اختیار لري چې سملاسي پیسې ورکوي او که نېټې ته انتظار کوي، چې نېټه راشي، بیا یې اخلي.

(۸) که شریکان خپله ځمکه وویشي، نو شفیع یې د شفعې غوښتلو حق نه لري. که شفیع له شفعې تېر شو او وروسته اخیستونکي نوموړی کور د رؤیت، شرط یا عیب په خیارسره د قاضي په پرېکړې بېرته رد کړ، نو شفیع د شفعې حق نه لري، خو که د قاضي له پرېکړې پرته یې رد کړ یا یې اقاله وکړه، نو د شفعې حق لري.

**شرحه**:

**د شفعې حیلې**: که څوک خپل کور وپلوري خو د ګاونډي لوري ته د هغه د ځمکې په اوږدوالي یو ګز ځمکه له بیعې پرېږدي چې په دې توګه د پلورل شوې ځمکې او د ګاونډي د ځمکې تر منځ یوه اوږده تراړه چې پلنوالی یې یو ګز وي، د حایل او فاصل په توګه په منځ کې پاتې شي، په دې صورت کې ګاونډی شفیع نه ګڼل کیږي، ځکه چې د هغه لوري ته د پلورونکي هغه نرۍ تراړه ځمکه واقع ده چې پلورل شوې نده.

که څوک د خپلې ځمکې لسمه برخه د مشاع په توګه وپلوري او وروسته بیا پاتې نهه برخې هم په خپل همدغه شریک وپلوري، په دې صورت کې شفیع یوازې په لومړۍ بیعه کې د شفعې حق لري. ځرنګه چې په دویمه بیعه کې ځمکه په داسې شخص پلورل کیږي چې په مبیعه کې شریک دی، نو ګاونډی د شفعې حق نه لري. په اصل کې دا کار د ګاونډي شفیع د شفعې د حق د له منځه وړلو لپاره داسې ترسره کیږي چې پلورونکی لومړی د خپلې یو جریب ځمکې -چې لس زره افغانۍ ارزښت لري لسمه برخه مشاع حق په نهه زره افغانۍ پلوري، ځرنګه چې د جریب لسمه برخه د نهه زرو افغانیو ارزښت نه لري، نو شفیع یې له اخیستلو تیریږي او اجنبي شخص یې اخلي، د مشاع حق په اخیستلو اجنبي شخص په مبیعه کې شریک ګرځي، له دې وروسته دویمه بیعه رامنځته کیږي چې په نوموړې بیعه کې پلورونکی خپله پاتې نهه برخې ځمکه په زر افغانۍ پلوري او په دې توګه د ګاونډي شفیع د شفعې حق د له منځه وړلو لپاره حیله ترسره کیږي.

د شفعې د ساقطولو لپاره د حیلې بل مثال دا دی چې شخص د لسو زرو افغانیو ارزښت لرونکې ځمکه په شل زره روپۍ په دې خاطر وپلوري چې شفیع یې د قیمت د لوړوالي له امله له شفعې تېر شي، کله چې شفیع له اخیستلو تېر شي، نو پلورونکی له اخیستونکي د شلو زرو روپو په ځای دومره جامې یا بل جنس واخلي چې د لسو زرو روپو ارزښت لري.

**د حیلې په اړه د امامانو نظر**: د امام ابویوسف په نظر د شفعې د ساقطولو لپاره د پورتنۍ حیلې جوړول روا دي، ځکه دا ډول حیلې د شفعې ثابت شوی حق له منځه نه وړي، بلکې وار له مخه د شفعې د ثابتېدو مخه نیسي. دویم دا چې کله کله د یوه فاسق او بداخلاقه شخص د ګاونډیتوب مخه پرې نیول کیږي. د امام محمد په نظر د شفعې د ساقطولو لپاره دا ډول حیله جوړول روا نه دي، د هغه دلیل دا دی چې د شفعې حق له شفیع څخه د ضرر د مخنیوي لپاره روا شوی او د حیلې په رواوالي سره شفیع زیانمن کیږي.

**مسئله**: که اخیستونکی په ځمکه کې ودانۍ جوړه کړي یا ونې وکري او شفیع یې ورڅخه وګټي، په دې صورت کې د شفیع خوښه ده چې د ځمکې په ثمن سربېره د چپه شوې ودانۍ

او ایستل شوو ونو قیمت ورکوي او که د ځمکې ثمن ورکوي او اخیستونکی د ودانۍ او ونو ایستلو ته اړیاسي. دا ځکه چې اخیستونکي د بل چا په ملکیت کې د مالک له اجازې او خوښې پرته ودانۍ یا ونې کرلې، یعنې د شفیع حق دوموره قوت او لومړیتوب لري چې که اخیستونکی نوموړې ځمکه پر چا پلورلې هم وي، بېرته ورځخه راګرځول کیږي.

که شفیع له اخیستونکي ځمکه وګټي او ودانۍ پکې جوړه یا ونې پکې وکري، خو وروسته ورځخه څوک ځمکه په استحقاق یوسي، نو شفیع له ثمن پرته د ودانۍ او ونو د قیمت غوښتنه نشي کولای، ځکه شفیع په ناحقه توګه ځمکه خپله کړې او د بل په ځمکه کې یې تصرف کړی.

**مسئله**: اخیستونکی له ځمکې څخه ودانۍ ورانه کړي او د کور دروازې لرې کړي. وروسته شفیع نوموړی کور وګټي، په دې صورت کې به شفیع له ثمنو څخه د کور او دروازو قیمت کموي او یوازې د ځمکې قیمت به ورکوي، یا هم د شفعې له اخیستلو تیریږي، خو نشي کولای چې له اخیستونکی څخه دروازې او وران شوی کور د هغه له خوښې پرته په قیمت واخلي.

لنډه دا چې هغه منقول شیان چې له ځمکې څخه لیرې شوي وي له ځمکې څخه یې قیمت کمیږي او شفیع یې د اخستونکي له خوښې پرته ورځخه نشي اخیستلای.

## فعالیت

زده کوونکي دې د محترم ښوونکي په مرسته لاندې صورتونه په عملي توګه تمثیل کړي:

۱- د خیار عیب، خیار رؤیت او خیار شرط پر بنسټ د قاضي په حکم پلورونکي ته ځمکه بېرته سپارل.

۲- د خیار عیب، خیار رؤیت او خیار شرط پر بنسټ د قاضي له حکم پرته یا د اقالې په توګه پلورونکي ته د ځمکې بېرته سپارل.

## پوښتنې

۱- د شفعې د مخنیوي حیلې بیان کړئ.

۲- د شفعې د مخنیوي د حیلو حکم بیان کړئ.

۳- که اخیستونکی په ځمکه کې ودانۍ جوړه کړي او شفیع یې ځمکه وګټي، اخیستونکي ته به څه ورکوي؟

# شرکت (۱)
# د مفاوضې شرکت

کار او سوداګري کول د شتمنی ګټلو لارې چارې دي. انسانان کله په یوازې ځان کار او سوداګري کوي، خو کله بیا له نورو سره خپل کار او شتمني شریکوي، څو ډېرې ګټې لاس ته راوړي او هغه لوی سوداګریز فعالیتونه ترسره کړي چې یو تن یې په یواځې توګه نشي ترسره کولای . دا چې په فقه کې شرکتونه په څو ډوله دي او څه حکمونه لري په راتلونکو لوستونو کې به یې ولولو.

(١) الشَّرِكَةُ عَلَى ضَرْبَيْن: شَرِكَةِ أَمْلَاكٍ وَشَرِكَةِ عُقُودٍ؛ فَشَرِكَةُ الْأَمْلَاكِ: الْعَيْنُ يَرِثُهَا الرَّجُلَانِ أَوْ يَشْتَرِيَانِهَا فَلَا يَجُوزُ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِي نَصِيبِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فِي نَصِيبِ صَاحِبِهِ كَالْأَجْنَبِيِّ.

(٢) وَالضَّرْبُ الثَّانِي: شَرِكَةُ الْعُقُودِ وَهِيَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ: مُفَاوَضَةٌ وَعِنَانٌ وَشَرِكَةُ الصَّنَائِعِ وَشَرِكَةُ الْوُجُوهِ.

(٣) فَأَمَّا شَرِكَةُ الْمُفَاوَضَةِ فَهِيَ: أَنْ يَشْتَرِكَ الرَّجُلَانِ وَيَتَسَاوَيَا فِي مَالِهِمَا وَتَصَرُّفِهِمَا وَدِينِهِمَا. فَتَجُوزَ بَيْنَ الْحُرَّيْنِ الْمُسْلِمَيْنِ الْبَالِغَيْنِ الْعَاقِلَيْنِ وَلَا تَجُوزَ بَيْنَ الْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ، وَلَا بَيْنَ الصَّبِيِّ وَالْبَالِغِ، وَلَا بَيْنَ الْمُسْلِمِ وَالْكَافِرِ، وَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ وَالْكَفَالَةِ.

(٤) وَمَا يَشْتَرِيهِ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا يَكُونُ عَلَى الشَّرِكَةِ إِلَّا طَعَامَ أَهْلِهِ وَكِسْوَتَهُمْ.

(٥) وَمَا يَلْزَمُ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الدُّيُونِ بَدَلًا عَمَّا يَصِحُّ فِيهِ الِاشْتِرَاكُ فَالْآخَرُ ضَامِنٌ لَهُ، فَإِنْ وَرِثَ أَحَدُهُمَا مَا لَا تَصِحُّ فِيهِ الشَّرِكَةُ أَوْ وُهِبَ لَهُ وَوَصَلَ إِلَى يَدِهِ بَطَلَتْ الْمُفَاوَضَةُ وَصَارَتْ الشَّرِكَةُ عِنَانًا.

(٦) وَلَا تَنْعَقِدُ الشَّرِكَةُ إِلَّا بِالدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْفُلُوسِ النَّافِقَةِ وَلَا تَجُوزُ بِمَا سِوَى

ذَلِكَ إِلَّا أَنْ يَتَعَامَلَ النَّاسُ بِها كَالتِّبْرِ وَالنُّقْرَةِ فَتَصِحَّ الشَّرِكَةُ بِهِمَا.

(٧) وإِذا أَرَادَا الشَّرِكَةَ بِالْعُرُوضِ بَاعَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَ مَالِهِ بِنِصْفِ مَالِ الْآخَرِ ثُمَّ عَقَدَا الشَّرِكَةَ.

**ژباړه**

(١) شرکت په دوه ډوله دی: د ملکیتونو شرکت او د عقدونو شرکت. د ملکیتونو شرکت داسې دی لکه دوه کسان چې په ګډه یو مال واخلي یا یې په میراث یوسي. دوی دواړو ته روا نه دي چې له اجازې پرته د یو بل په مال کې تصرف وکړي او یو د بل په برخه کې لکه پردي دي.

(٢) دویم ډول شرکت د عقدونو شرکت دی او په څلورو ډوله دی:

١- د مفاوضې شرکت.

٢- د عنان شرکت.

٣- د کار شرکت.

٤- د وجوهو شرکت.

(٣) د مفاوضې شرکت دا دی چې دوه کسان سره شریک شي او په مال، تصرف او دین کې سره برابر وي. دا عقد د دوو عاقلو بالغو آزادو مسلمانانو تر منځ روا دی، د بادار او مریي، بالغ او کوچني او یا هم د مسلمان او کافر تر منځ روا نه دی. د مفاوضې شرکت د وکالت او کفالت پر بنسټ رامنځته کیږي.

(٤) د کورنۍ له خوراك او له جامو پرته چې هر یو څه اخلي (لګښت یې) پر شرکت دی.

(٥) هغه پورونه چې په یوه له دوی څخه د داسې شي په بدل کې لازمیږي چې په هغه کې شرکت صحیح دی، هغه بل یې ضامن دی. که یو شریک داسې مال په میراث یوسي چې شرکت په کې صحیح وي یا یې څوك ورته وبخښي او د ده لاس ته ورسیږي، نو د مفاوضې شرکت باطل او په عنان شرکت بدلیږي.

(٦) شرکت یوازې په درهمو، دینارو او د چلن وړ روپو باندې منځته راځي، له دې پرته په نورو شیانو روا نه دی مګر دا چې د خلکو تعامل ورباندې جوړ شي، لکه د سرو او سپینو زرو

ټوټې، نو بیا وروباندې شرکت صحیح دی.

(۷) که په مالونو باندې یې د شرکت رامنځته کولو هوډ وکړ، نو هر یو به خپل نیم مال د بل پر نیم مال وپلوري او بیا به د شرکت عقد وتړي.

## شرحه

**د شرکت تعریف**: شرکت په لغت کې ګډولو ته وایي او په اصطلاح کې د مالونو په داسې ډول یو ځای والی چې د یوه مال له بل څخه بېل نه وي، شرکت بلل کیږي.

**د شرکت مشروعیت**: د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) په زمانه کې خلکو د شرکت په بڼه سوداګري کوله اوهغه (صلي الله علیه وسلم) له دې کار څخه نه منعه کول. دا په دې دلالت کوي چې شرکت روا دی.

**د شرکت ډولونه**: په لومړي سر کې شرکت په دوو ډولونو وېشل شوی، چې یوه ته یې د ملکیتونو شرکت او بل ته یې د عقدونو شرکت ویل کیږي.

**د ملکیتونو شرکت**: لکه چې په متن کې راغلي په ملکیتونو کې د شرکت صورت داسې دی چې دوه کسان په ګډه یو مال واخلي یا یې په میراث یوسي. دوی دواړه یو د بل په برخه کې د پردي په څېر دي او د ملګري له اجازې پرته د هغه په برخه کې تصرف نه شي کولای.

**د عقدونو شرکت**: لکه چې په متن کې وویل شو، د عقدونو شرکت په څلور ډوله دی، په دې لوست کې به له دې ډولونو څخه د مفاوضې شرکت احکام ولولو:

۱- **د مفاوضې شرکت**: (مفاوضة) په لغت کې برابرۍ ته ویل کیږي. څرنګه چې په دې ډول شرکت کې دواړه شریکان په رآس المال، ګټه او تصرف کې سره برابر دي، نو د مفاوضې په نامه یاد شو. د مفاوضې شرکت لپاره شرط دی چې دواړه شریکان به په درې شیانو کې سره برابر وي:

۱- دواړه شریکان به په هغه مال کې سره برابر وي چې د مفاوضې عقد وروباندې صحیح کیږي. له همدې امله که له شراکت وروسته د یوه شریک لاس ته پیسې ورشي، نو د مفاوضې شرکت له منځه ځي، ځکه چې د نوو پیسو په راتګ سره د شریکانو تر منځ په مال کې برابري له منځه ځي. باید په یاد ولرو چې د مفاوضې شرکت یوازې په پیسو کې صحیح کیږي نه د سوداګرۍ په نورو مالونو او ځمکو کې، په دې اساس که د کوم شریک لاس ته ځمکه یا د سوداګرۍ نور مالونه ورشي، نو د مفاوضې شرکت نه باطلیږي.

۲- دواړه به په تصرف کې سره برابر وي، له همدې امله د مفاوضې شرکت د آزاد او مريي تر منځ روا نه دی، ځکه آزاد انسان د ډېر تصرف لرونکی دی، آزاد انسان خلکو ته د مال د بخښلو واک لري. خو مريي د بادار له اجازې پرته چا ته د مال د بخښلو حق نه لري. همدا راز د بالغ او ماشوم تر منځ هم د مفاوضې شرکت په دې دليل روا نه دی چې د مفاوضې شرکت پر کفالت باندې ولاړ دی او د ماشوم کفالت شرعا صحيح نه دی، نو پر دې بنسټ دواړه په تصرف کې سره برابر نه دي.

۳- د امام ابوحنيفه او امام محمد په نظر دواړه شريکان به په دين کې سره برابر وي. که دواړه په دين کې سره شريک نه وي، د مفاوضې شرکت يې صحيح نه دی. د بېلګې په ډول يو مسلمان او بل ذمي وي، نو ذمي کولای شي چې شراب وپلوري، خو مسلمان دا سودا نه شي کولای. په دې بنسټ دواړه په تصرف کې سره برابر نه دي، البته د امام ابويوسف په نزد يې شرکت صحيح، خو مکروه دی. د صحت دليل يې دا دی چې دواړه د کفالت او وکالت اهليت لري کوم چې د مفاوضې لپاره ضروري دی، خو دا چې له ذمي څخه د ناروا بيعو د ترسره کولو وېره ده نو شرکت ورسره مکروه دی.

د مفاوضې شرکت د وکالت او کفالت پر بنسټ رامنځته کېږي، يعنې يو شريک له بله څخه د مال په پلورلو کې وکيل دی. همدا راز د پورونو په اخيستلو کې يو شريک له بل څخه کفيل دی، نو که يو شريک د شرکت په دايره کې له چا څخه پور واخلي، پور وړی کولای شي چې له ملګري او شريک څخه يې وغواړي.

**په مفاوضه کې د شريکانو پېروديز:** څرنګه چې د مفاوضې شرکت په مساوات او برابرۍ ولاړ دی، نو هر شريک چې شيان اخلي په شرکت حسابيږي، مګر د خپل ځان او کورنۍ خوراک او جامې. که څه هم د برابرۍ غوښتنه دا ده چې نوموړي شيان دې هم پر شرکت وي، خو له دې کبله چې دا توکي د انسان اساسي ضرورتونه دي، نو اخيستونکي پورې مخصوص دي.

که په يو شريک د داسې معاملو له درکه پور واوړي چې د مفاوضې تر شرکت لاندې راځي او دواړه په کې شريکېدای شي، لکه د اخيستلو يا اجارې له درکه، نو بل شريک يې د مساوات پر بنسټ ضامن دی او پور ورکوونکی يې له دواړو څخه غوښتلی شي، البته که پور د داسې معاملې وي چې دواړه په کې شريکېدای نه شول، لکه نکاح او خلعه، نو بل شريک يې ضامن

نه دی.

که يو شريک ته د ميراث يا بخشش له درکه داسې مال په لاس ورشي چې شرکت په کې صحيح وي، د مفاوضې شرکت له منځه ځي، ځکه چې په مال کې مساوات او برابري له منځه ځي، کوم چې د مفاوضې لپاره شرط دی. په دې صورت کې مفاوضه په عنان شرکت بدليږي، ځکه د عنان لپاره مساوات شرط نه دی.

## شرکت په کومو شيانو رامنځته کيږي؟

شرکت يوازې په لاندې شيانو رامنځته کېدای شي:

۱- درهم (د حکومت له خوا د سپينو زرو وهل شوې سکې)

۲- دينار (د حکومت له خوا د سرو زرو وهل شوې سکې)

۳- نافقه فلوس (له سرو او سپينو زرو پرته له نورو فلزاتو څخه جوړې پيسې چې د چلن وړ وي)

د شرکت رامنځته کېدل تر درهمو او دينارو پورې ځکه محدود دي چې يوازې همدا دواړه حقيقي پيسې او د نورو شيانو ارزښت ورباندې ټاکل کيږي، له دې پرته په نورو شيانو شرکت نه منعقد کيږي مگر دا چې خلک ورباندې د پيسو په توگه تعامل وکړي، لکه سره او سپين زر چې سکې ورڅخه جوړې شوې نه وي او خلک يې د پيسو په توگه کاروي.

## فعاليت

زده کوونکي دې په دې مسئله بحث وکړي چې د دوو ماشومانو او دوو مريانو تر منځ د مفاوضې شرکت صحيح دی او که نه؟

## پوښتني

۱- شرکت څه ته ویل کیږي؟

۲- د شرکت د مشروعیت دلیل ووایاست.

۳- شرکت په څو ډوله دی؟

٤- د ملکیتونو شرکت د یوه مثال په ترڅ کې روښانه کړئ.

٥- د مفاوضې شرکت څه ته وایي؟

٦- د مفاوضې شرکت شرطونه روښانه کړئ.

۷- آیا د بالغ او ماشوم تر منځ د مفاوضې شرکت صحیح دی؟

# شرکت (۲)
# د عنان شرکت

گرانو زده کوونکو! په تېر لوست کې مو د مفاوضې شرکت ولوست، په دې لوست کې به د عنان، صنايعو او وجوهو د شرکت په اړه معلومات درکړو.

(۱) وَأَمَّا شَرِكَةُ الْعِنَانِ فَتَنْعَقِدُ عَلَى الْوَكَالَةِ دُونَ الْكَفَالَةِ، وَيَصِحُّ التَّفَاضُلُ فِي الْمَالِ وَيَصِحُّ أَنْ يَتَسَاوَيَا فِي الْمَالِ وَيَتَفَاضَلَا فِي الرِّبْحِ.

(۲) وَيَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَهَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِبَعْضِ مَالِهِ دُونَ بَعْضٍ.

(۳) وَلَا تَصِحُّ إِلَّا بِمَا بَيَّنَّا أَنَّ الْمُفَاوَضَةَ تَصِحُّ بِهِ.

(٤) وَيَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِكَا وَمِنْ جِهَةِ أَحَدِهِمَا دَنَانِيرُ وَالْآخَرِ دَرَاهِمُ.

(٥) وَمَا اشْتَرَاهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِلشَّرِكَةِ طُولِبَ بِثَمَنِهِ دُونَ الْآخَرِ ثُمَّ يَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْهُ.

(٦) وَإِذَا هَلَكَ مَالُ الشَّرِكَةِ أَوْ أَحَدُ الْمَالَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَشْتَرِيَا شَيْئًا بَطَلَتْ الشَّرِكَةُ، وَإِنْ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِمَالِهِ وَهَلَكَ مَالُ الْآخَرِ قَبْلَ الشِّرَاءِ فَالْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا وَيَرْجِعُ عَلَى شَرِيكِهِ بِحِصَّتِهِ مِنْ ثَمَنِهِ. وَتَجُوزُ الشَّرِكَةُ وَإِنْ لَمْ يَخْلِطَا الْمَالَيْنِ.

(٧) وَلَا تَصِحُّ الشَّرِكَةُ إِذَا شَرَطَا لِأَحَدِهِمَا دَرَاهِمَ مُسَمَّاةً مِنَ الرِّبْحِ.

(٨) وَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنَ الْمُتَفَاوِضَيْنِ وَشَرِيكَيْ الْعِنَانِ أَنْ يُبْضِعَ الْمَالَ وَيَدْفَعَهُ مُضَارَبَةً وَيُوَكِّلَ مَنْ يَتَصَرَّفُ فِيهِ وَيَدُهُ فِي الْمَالِ يَدُ أَمَانَةٍ.

(٩) وَأَمَّا شَرِكَةُ الصَّنَائِعِ فَالْخَيَّاطَانِ وَالصَّبَّاغَانِ يَشْتَرِكَانِ عَلَى أَنْ يَتَقَبَّلَا الْأَعْمَالَ وَيَكُونَ الْكَسْبُ بَيْنَهُمَا فَيَجُوزُ ذَلِكَ، وَمَا يَتَقَبَّلُهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنَ الْعَمَلِ يَلْزَمُهُ

وَيَلْزَمُ شَرِيكَهُ، فَإِنْ عَمِلَ أَحَدُهُمَا دُونَ الْآخَرِ فَالْكَسْبُ بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ.

(١٠) وَأَمَّا شَرِكَةُ الْوُجُوهِ: فَالرَّجُلَانِ يَشْتَرِكَانِ وَلَا مَالَ لَهُمَا عَلَى أَنْ يَشْتَرِيَا بِوُجُوهِهِمَا وَيَبِيعَا فَتَصِحَّ الشَّرِكَةُ بَيْنَهُمَا عَلَى ذَلِكَ، وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا وَكِيلٌ لِلْآخَرِ فِيمَا يَشْتَرِيهِ، فَإِنْ شَرَطَا أَنَّ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا نِصْفَانِ فَالرِّبْحُ كَذَلِكَ، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَفَاضَلَا فِيهِ، وَإِنْ شَرَطَا أَنْ يَكُونَ الْمُشْتَرَى بَيْنَهُمَا أَثْلَاثًا فَالرِّبْحُ كَذَلِكَ.

(١١) وَلَا تَجُوزُ الشَّرِكَةُ فِي الِاحْتِطَابِ وَالِاصْطِيَادِ وَالِاحْتِشَاشِ وَمَا اصْطَادَهُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا أَوْ احْتَطَبَهُ فَهُوَ لَهُ دُونَ الْآخَرِ.

(١٢) وَإِنْ اشْتَرَكَا، وَلِأَحَدِهِمَا بَغْلٌ وَلِلْآخَرِ رَاوِيَةٌ لِيَسْتَقِيَا عَلَيْهِمَا الْمَاءَ عَلَى أَنَّ الْكَسْبَ بَيْنَهُمَا، لَمْ تَصِحَّ الشَّرِكَةُ، وَالْكَسْبُ كُلُّهُ لِلَّذِي اسْتَقَى، وَعَلَيْهِ أَجْرُ مِثْلِ الرَّاوِيَةِ إِنْ كَانَ الْعَامِلُ صَاحِبَ الْبَغْلِ، وَإِنْ كَانَ صَاحِبَ الرَّاوِيَةِ فَعَلَيْهِ أُجْرَةُ مِثْلِ الْبَغْلِ.

(١٣) وَكُلُّ شَرِكَةٍ فَاسِدَةٍ فَالرِّبْحُ فِيهَا بَيْنَهُمَا عَلَى قَدْرِ الْمَالِ وَيَبْطُلُ شَرْطُ التَّفَاضُلِ.

(١٤) وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الشَّرِيكَيْنِ أَوْ ارْتَدَّ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتْ الشَّرِكَةُ.

(١٥) وَلَيْسَ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ الشَّرِيكَيْنِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاةَ مَالِ الْآخَرِ إِلَّا بِإِذْنِهِ، فَإِنْ أَذِنَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا لِصَاحِبِهِ أَنْ يُؤَدِّيَ زَكَاتَهُ فَأَدَّاهَا كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا فَالثَّانِي ضَامِنٌ عَلِمَ بِأَدَاءِ الْأَوَّلِ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ. وَقَالَا: إِنْ لَمْ يَعْلَمْ لَمْ يَضْمَنْ.

**ژباړه:**

(١) د عنان شرکت د وکالت پر بنسټ رامنځته کيږي نه د کفالت پر بنسټ، په دې شرکت کې په مال کې (يو پر بل) زياتوالی روا دی، (دا هم) روا ده چې په مال کې سره برابر او په ګټه کې يو له بل ډېر وي.

(٢) دا هم روا ده چې هر شريک خپل ځينې مالونه په شرکت کې ورکړي.

(٣) (عنان شرکت) يوازې په هغه څه صحيح دي چې د مفاوضې شرکت ورباندې صحيح کيږي.

(٤) روا ده چې د يوه شريک له خوا درهم او د بل له طرفه دينار وي.

(۵) هر شریک چې د شرکت لپاره څه واخیستل، پیسې به یې له همغه څخه غوښتل کیږي او له ورکړې وروسته به له خپل شریک څخه د هغې برخه اخلي.

(٦) که د شرکت (ټول) مال یا د یوه شریک برخه د څه شي تر اخیستلو وړاندې هلاکه شي شرکت باطلیږي. که یو شریک په خپل مال څه شی واخیست او د بل شریک مال د څه شي له اخیستلو وړاندې هلاک شو، نو اخیستل شوی شی به د دواړو تر منځ د شرطونو مطابق شریک وي او له خپل ملګري به د برخې په تناسب قیمت اخلي. که (شریکان) خپل مالونه سره ګډ نه کړي هم شرکت روا دی.

(۷) که د یوه لپاره یې له ګټې څخه شمېرلي درهم وټاکل، شرکت صحیح نه دی.

(۸) د مفاوضې او عنان شریکان کولای شي چې مال بې له ګټې څخه په سوداګرۍ ورکړي، یا یې په مضاربت ورکړي، یا د تصرف لپاره څوک وکیل وټاکي. د شرکت مالونه له دوی سره امانت دي.

(۹) د صنایعو شرکت داسې دی لکه دوه خیاطان یا رنګمالان چې د کار په اخیستلو کې سره شریک شي او ګټه یې تر منځ شریکه وي، نو دا روا ده. هر شریک چې له چا کار اخلي په ده او شریک یې کول لازم دي. که یو یې له بل پرته کار وکړي هم ګټه یې تر منځ نیمه ده.

(۱۰) د وجوهو شرکت دا دی چې دوه کسان پرته له دې چې مال ولري، په اعتبار سره شریکیږي او (مال) پیري او پلوري، په دې توګه شرکت صحیح دی او هر یو په اخیستلو کې یو د بل وکیل دی، که یې پرېکړه وکړه چې اخیستل شوي شیان به د دواړو تر منځ نیم وي، نو ګټه به هم همداسې وي او روا نه ده چې په ګټه کې یو له بله زیات وي. که یې پرېکړه داسې وه چې اخیستل شوی شی به په دریو برخو وي، نو ګټه به هم په همدې (تناسب) وي.

(۱۱) په لرګو، وښو او ښکار کولو کې شرکت روا نه دی، نو چا چې څومره ښکار وکړ یا یې لرګي راټول کړل، له ملګري پرته د هغه دي.

(۱۲) که د یو مشک او د بل کچر و او په اوبو راوړلو کې سره شریک شول او ګټه د دواړو تر منځ شریکه وه، شرکت صحیح نه دی. ګټه ټوله د اوبو راوړونکي ده او پر هغه د مشک د څښتن اجر مثل دی، که کار د کچرې څښتن کاوه، خو که کار د مشک څښتن کاوه، نو ګټه د هغه او د کچر د څښتن اجر مثل ورباندې دی.

(۱۳) هر شرکت چې فاسد شي، ګټه به د راس المال په تناسب وي او د زیاتوالي شرط باطل

دی.

(۱٤) که یو له شریکانو مړ یا له مرتد کېدو وروسته دارحرب ته لاړ، نو شرکت باطل دی.

(۱۵) یو شریک نشي کولای چې د بل زکات اداکړي، مگر دا چې هغه ورته اجازه کړې وي. که دواړو یو بل ته د زکات اداکولو اجازه کړې وه او دواړو زکات اداکړ، نو دویم (اداکوونکی) ضامن دی، د لومړي په اداکولو خبر وي او که نه، یارانو ویلي: که خبر نه و، ضامن نه دی.

## شرحه

### د عنان شرکت تعریف:

د عنان شرکت دې ته وایي چې دوه کسان راس المال سره واچوي چې تجارت به پرې کوي، گټه او تاوان به یې د تړون مطابق سره ویشي. په عنان شرکت کې شریکان کولای شي چې خپل ډېر یا لږ مال په شرکت کې واچوي، همدا راز د دواړو شریکانو د مال برابروالی هم شرط نه دی، پر دې سربېره په گټه کې هم برابروالی شرط نه دی او شریکان کولای شي چې گټه له خپلې خوښې سره سمه وویشي. څرنگه چې د عنان شرکت یوازې د وکالت پر بنسټ رامنځته کیږي نه د کفالت پر بنسټ نو د ماذون کوچني او بالغ شخص تر منځ هم صحیح دی. دا هم روا ده چې د یو شریک له لوري درهم او د بل له لوري دینار وي. البته په عنان شرکت کې به هم راس المال هغه څه وي چې د مفاوضې شرکت انعقاد پرې صحیح و.

### د عنان او مفاوضې شرکتونو توپیر:

د مفاوضې شرکت لپاره شرط وه چې شریکان به په مال، تصرف او دین کې سره برابر وي او هم دا چې د مفاوضې شرکت د وکالت او کفالت دواړو پر بنسټ رامنځته کېده، خو د عنان شرکت لپاره په مال، تصرف او دین کې برابري شرط نه ده او یوازې د وکالت پر بنسټ رامنځته کیږي.

څرنگه چې د عنان شرکت د وکالت پر بنسټ رامنځته کیږي، نو یو شریک کولای شي چې د بل په وکالت سوداگریز توکي واخلي او له خپل شریک څخه یې د برخې قیمت وغواړي، خو که د عنان شرکت یو شریک په بازار کې په پور سودا واخلي، پور ورکوونکی نشي کولای چې له بل شریک څخه یې خپل پور وغواړي، څکه دوی دواړه یو د بل کفیلان نه دي.

## د عنان شرکت بطلان:

که شریکان د عنان شرکت عقد وتړي او د توکو له اخیستلو وړاندې ټول مال یا د یوه شریک مال هلاک شي، شرکت باطلېږي، ځکه شرکت په مال منځته راځي او مال له منځه لاړ، خو که د یوه شریک مال د توکو له اخیستلو وروسته یعنې د سوداګرۍ له پیل کولو وروسته له منځه لاړ شي، نو دواړه په دې اخیستل شوي شي کې شریک دي، ځکه دا مال د شرکت په توګه اخیستل شوی، نو د دواړو تر منځ شریک دی.

هیڅ شریک نشي کولای چې په ګټه کې د ځان لپاره معلوم شمېر پیسې وټاکي، د بېلګې په ډول ووایي: که ګټه هر څومره وه، ماته به زر افغانۍ راکوې او نورې یې ستا. دا صورت ځکه روا نه دی چې په دې کې سود دی.

د عنان شرکت شریکان په راس المال کې هغه تصرفات کولای شي چې د سوداګرو تر منځ دود دي، لکه راس المال په مضاربت ورکول، په ابضاع ورکول (مال په سوداګرۍ ورکول پرته له دې چې له تا سره په ګټه کې شریک شي) او داسې نور.

## د صنایعو (ابدانو) شرکت:

دې ته وایي چې دوه یا ډېر کسان د بېلګې په ډول څو خیاطان یا ترکاڼان په کار کولو کې سره شریک شي او ګټه یې تر منځ شریکه وي. دا شرکت د بېلابېلو کسب ګرو تر منځ هم روا دی لکه د کمپیوټر جوړوونکي او تلویزون جوړوونکي تر منځ. دا شریکان ګټه هم په خپله خوښه زیاته او کمه د تړون مطابق وېشلای شي. په دې شرکت کې که یو لوری کار هم ونه کړي، د مزدورۍ مستحق ګرځي.

د صنایعو شرکت که د مفاوضې په توګه وي، نو دواړه یو د بل وکیلان او کفیلان دي، یعنې یو د بل کار له خلکو اخیستلای شي او هم خلک کولای شي چې د یوه کار له بل څخه وغواړي، خو که د عنان په توګه وي، نو یوازې په وکالت ولاړ دی، یعنې خلک یو شریک د بل پر ځای نشي نیولای.

**د وجوهو شرکت:**

دې ته وايي چې څو داسې کسان چې مال ونه لري، په اعتبار سره په پور مالونه اخلي او پلوري يې او ګټه يې سره شريکه وي. د وجوهو په شرکت کې ګټه د ضمانت په بنسټ وېشل کېږي يعنې که يو شريک اويا فيصده ضامن او بل دېرش فيصده ضامن وي، نو ګټه هم په همدې تناسب وېشل کېږي.

د وجوهو شرکت هم د مفاوضې او عنان په بڼه رامنځته کېدای شي او د هغوی شرطونه او حکمونه ورباندې تطبيقېږي.

**د مباحو شيانو په راټولو کې شرکت:**

په لرګو ټولولو او ښکار کولو کې شرکت رامنځته کول روا نه دي، د بېلګې په ډول که درې کسان غره ته پورته شي او داسې توافق وکړي چې درېواړه به يوه ځای ته لرګي راټولوي او سره ګډوي به يې، بيا به ګډ شوي لرګي په درې ونډو وېشل کېږي او هر يو شريک به يوه ونډه اخلي، نو دا شرکت ناروا دی، ځکه د صحرا لرګي او د هوا مارغان مباح شيان دي او د مباحو شيانو په راټولو کې يو شخص بل شخص خپل وکيل نشي نيولای او شرکت د وکالت پر بنسټ رامنځته کېږي، نو دا شرکت هم صحيح نه دی او درواړه د خپلو راټولو لرګو څښتنان دي.

**مسئله:**

که دوه کسان چې يو د مشک څښتن او بل د کچرې لرونکی وي په اوبو راوړلو کې داسې سره شريک شي چې ګټه به نيمه وي، نو دا شرکت صحيح نه دی، ځکه چې اوبه هم له مباحاتو څخه دي او يو شخص پکې بل شخص خپل وکيل نشي نيولای. څرنګه چې شرکت د وکالت پر بنسټ رامنځته کېږي او دلته ـ په مباحاتو کې –وکالت صحيح نه دی نو شرکت روا نه دی، که د داسې شرکت په نتيجه کې کار رامنځته شي، نو ګټه د کار د څښتن ده او مقابل لوري ته به اجر مثل ورکوي.

**د فاسد شرکت حکم:**

په متن کې د شرکت د فاسدېدو لاملونه د مسايلو په ترڅ کې بيان شول، نو که شرکت د کوم سبب له امله فاسد شي، ګټه به د راس المال په تناسب وېشل کېږي او په ګټه کې د زياتوالي

شرط باطل دی.

د یوه شریک په مړینه او همدا راز د شریک د ارتداد او دار حرب ته د ننوتو په صورت کې شرکت باطلیږي، ځکه شرکت د وکالت په بنسټ رامنځته کیږي او په مړینه او ارتداد سره چې مرتد دارحرب ته ننوځي، وکالت له منځه ځي او شرکت باطلیږي.

## د شریک له خوا زکات ورکول:

شریك د شرکت په مالونو کې یوازې سوداګریزې معاملې ترسره کولای شي. د ملګري له اجازې پرته نشي کولای چې د هغه د مال زکات ورکړي، ځکه زکات له سوداګریزو معاملو څخه نه بلکې له عباداتو څخه دی او شریکان یوازې په سوداګریزو معاملوکې یو د بل وکیلان دي.

که دواړه شریکان یو بل ته د هغه د زکات ورکولو اجازه وکړي او دواړه یو له بل څخه زکات ورکړي، نو وروستی زکات ورکوونکی د لومړي شریك د ورکړل شوي زکات ضامن دی.

که په دې خبر وي چې لومړي شریك زکات اداکړي او بیا هم دویم ځلي زکات وباسي، نو د ضمانت دلیل یې ښکاره دی، البته که له خبرتیا پرته د شریك زکات ورکړي، نو د امام ابوحنیفه په نظر ضامن دی، ځکه چې د لومړي شریك له زکات ورکولو وروسته د ده تادیه په ځای نه ده لګېدلې او له فرضیت پرته یې پردی مال مصرف کړی، نو ضامن ګڼل کیږي او ناخبري یې اعتبار نه لري، یارانو یې ناخبري عذر ګڼلې او د دوی په نزد ضامن نه دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې په دې موضوع خبرې وکړي چې د مفاوضې شرکت په کومو شیانو کې صحیح دی؟

## پوښتنې

۱- د عنان شرکت تعریف کړئ.

۲- د مفاوضې او عنان شرکت توپیرونه تشریح کړئ.

۳- د صنايعو شرکت تعریف کړئ.

٤- د وجوهو شرکت تعریف کړئ.

٥- که يو شريک د ځان لپاره په ګټه کې شمېرلې پيسې شرط کړي، ولې جواز نه لري؟

٦- آيا يو شريک د بل شريک زکات ورکولای شي؟

# مضاربت (١)

کله څوک پیسې ولري، خو په سوداګرۍ کولو نه پوهیږي یا په نورو چارو بوخت وي او غواړي چې خپلې پیسې په کار واچوي، د داسې خلکو لپاره اسلامي شریعت د مضاربت معامله روا ګرځولې. په دې لوست کې به مضاربت او د دغه عقد احکام ولولو.

(١) الْمُضَارَبَةُ عَقْدٌ عَلَى الشَّرِكَةِ بِمَالٍ مِنْ أَحَدِ الشَّرِيكَيْنِ وَعَمَلٍ مِنَ الْآخَرِ.

(٢) وَلَا تَصِحُّ الْمُضَارَبَةُ إلَّا بِالْمَالِ الَّذِي بَيَّنَّا أَنَّ الشَّرِكَةَ تَصِحُّ بِهِ.

(٣) وَمِنْ شَرْطِهَا أَنْ يَكُونَ الرِّبْحُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا لَا يَسْتَحِقُّ أَحَدُهُمَا مِنْهُ دَرَاهِمَ مُسَمَّاةً، وَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ الْمَالُ مُسَلَّمًا إلَى الْمُضَارِبِ لَا يَدَ لِرَبِّ الْمَالِ فِيهِ.

(٤) فَإِذَا صَحَّتْ الْمُضَارَبَةُ مُطْلَقَةً جَازَ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَشْتَرِيَ وَيَبِيعَ وَيُسَافِرَ وَيُبْضِعَ وَيُودِعَ وَيُوَكِّلَ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَ الْمَالَ مُضَارَبَةً إلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ رَبُّ الْمَالِ فِي ذَلِكَ.

(٥) وَإِنْ خَصَّ لَهُ رَبُّ الْمَالِ التَّصَرُّفَ فِي بَلَدٍ بِعَيْنِهِ أَوْ فِي سِلْعَةٍ بِعَيْنِهَا، لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَجَاوَزَ ذَلِكَ، وَكَذَلِكَ إذَا وَقَّتَ لِلْمُضَارَبَةِ مُدَّةً مَعْلُومَةً بِعَيْنِهَا جَازَ وَبَطَلَ الْعَقْدُ بِمُضِيِّهَا.

(٦) وَإِذَا دَفَعَ الْمُضَارِبُ الْمَالَ مُضَارَبَةً لِغَيْرِهِ وَلَمْ يَأْذَنْ لَهُ رَبُّ الْمَالِ لَمْ يَضْمَنْ بِالدَّفْعِ وَلَا بِتَصَرُّفِ الْمُضَارِبِ الثَّانِي حَتَّى يَرْبَحَ، فَإِذَا رَبِحَ ضَمِنَ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ لِرَبِّ الْمَالِ.

(٧) وَإِذَا دَفَعَ إلَيْهِ الْمَالَ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ، وَقَدْ أَذِنَ لَهُ أَنْ يَدْفَعَهُ مُضَارَبَةً فَدَفَعَهُ بِالثُّلُثِ جَازَ. فَإِنْ كَانَ رَبُّ الْمَالِ قَالَ لَهُ: اعْمَلْ عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللَّهُ بَيْنَنَا نِصْفَانِ، فَلِرَبِّ الْمَالِ نِصْفُ الرِّبْحِ وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي ثُلُثُ الرِّبْحِ، وَلِلْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ السُّدُسُ.

(٨) وَإِنْ كَانَ قَالَ: عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَكَ اللَّهُ بَيْنَنَا نِصْفَانِ، فَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي الثُّلُثُ وَمَا

بَقِيَ بَيْنَ رَبِّ الْمَالِ ، وَالْمُضارِبِ الْأَوَّلِ نِصْفَانِ.

(٩) وَإِنْ قَالَ لَهُ: عَلَى أَنَّ مَا رَزَقَ اللّٰهُ مِنْ شَيْءٍ فَلِي نِصْفُهُ، وَدَفَعَ الْمَالَ مُضَارَبَةً بِالنِّصْفِ، فَلِلثَّانِي نِصْفُ الرِّبْحِ وَلِرَبِّ الْمَالِ نِصْفُ الرِّبْحِ، وَلَا شَيْءَ لِلْمُضَارِبِ الْأَوَّلِ.

(١٠) فَإِنْ شَرَطَ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ لِلثَّانِي ثُلُثَيْ الرِّبْحِ فَلِرَبِّ الْمَالِ النِّصْفُ وَلِلْمُضَارِبِ الثَّانِي النِّصْفُ وَيَضْمَنُ الْمُضَارِبُ الْأَوَّلُ لِلثَّانِي سُدُسَ الرِّبْحِ فِي مَالِهِ.

**ژباړه**

(١) مضاربت د مال په شركت باندې ترون دی چې د يوه شريک له لوري مال او د بل له لوري به عمل وي.

(٢) مضاربت يوازې په هغه مال صحيح دی چې شركت وربانديې صحيح وي.

(٣) د مضاربت له شرطونو څخه يو دا دی چې ګټه به مشاعه وي، يو لوری هم يكې د ټاكلو پيسو حق نه لري، مال به خامخا مضارب ته سپاري او د مال څښتن په كې واك نه لري،

(٤) كله چې د مضاربت مطلق عقد رامنځته شي، مضارب ته روا دي چې شيان واخلي، ويې پلوري، د (سوداګرۍ لپاره) سفر وكړي او مال چا ته په بضاعت او وديعت وركړي او يا وكيل ونيسي. مضارب نشي كولای چې پيسې بل چا ته په مضاربت وركړي مګر دا چې د پيسو خاوند اجازه كړې وي.

(٥) كه د مال څښتن ورته د تصرف لپاره كوم ښار يا ځانګړی سامان وټاكه، نو مضارب ته له هغې څخه تېری روا نه دی. همدا راز كه يې د مضاربت لپاره معلومه نېټه وټاكله، روا ده او د نېټې په رسېدو عقد باطلېږي.

(٦) كه مضارب د مال د څښتن له اجازې پرته مال بل چا ته په مضاربت وركړ، نو په سپارلو او د دويم مضارب په تصرف كولو ضامن نه ګرځي خو چې په كې چې دويم مضارب ګټه نه وي كړې.
كله يې چې په كې ګټه وكړه، نو لومړی مضارب د مال د څښتن پر وړاندې ضامن كيږي.

(٧) كه يې په نيمه په مضاربت وركړ او اجازه يې ورته وكړه چې بل چا ته يې په مضاربت وركړي او هغه بل چا ته په دريمه په مضاربت وركړ، نو روا ده. كه د مال څښتن ورته داسې ويلي وو: (كار كوه! څه چې الله پاك راكړل، نو زموږ تر منځ به نيمايي وي، نو د مال څښتن به

دګټې نیمایي او دویم مضارب به دګټې درېمه اخلي او لومړي مضارب ته به شپږمه وي.

(۸) که د مال څښتن داسې ویلي وو: (څه چې الله پاک درکړل، زموږ تر منځ به نیم وي)، نو دګټې درېمه به دویم مضارب او پاتې به د مال د څښتن او لومړي مضارب تر منځ نیم وي.

(۹) که یې ورته ویل: څه چې الله راکړل، نو نیم به یې زما وي، او مال یې په نیمه په مضاربت ورکړ نو دویم (مضارب) ته دګټې نیمایي او د مال څښتن ته نیمايي کیږي او لومړي مضارب ته هېڅ نه کیږي.

(۱۰) که لومړي مضارب د دویم لپاره دګټې دوې برخې ټاکلې وې، نو د مال څښتن ته نیمه او دویم مضارب ته هم نیمه ګټه ورکول کیږي او لومړی مضارب به دویم ته د شپږمې برخې ضامن وي.

## شرحه

### د مضاربت تعریف:

د (مضاربة) کلمه له (ضرب) څخه اخیستل شوې چې د ځمکې پر سر د حرکت او سفر کولو په معنا ده. د شرعې په اصطلاح کې په ګټه کې د شرکت عقد ته وایي چې مال د یو شریک او کار د بل شریک له پلوه وي.

د مضاربت د مشروعیت دلیل دا دی چې له یو پلوه خلک د مضاربت معاملې ته اړتیا لري او له بل پلوه د رسول اللهﷺ په زمانه کې خلکو د مضاربت معامله کوله او هغه له دې کار څخه نه منعه کول، همدا راز صحابه وو هم پخپلو منځونو کې د مضاربت معاملې ترسره کولې.

### د مضاربت شرطونه:

په تېر لوست کې مو ویلي وو چې شرکت له درهمو، دینارو او مروجه پیسو پرته په بل شي نه منعقد کیږي، خو که خلکو د سرو او سپینو زرو په ټوټو باندې معاملې کولې نو د شرکت انعقاد وربانديې صحیح دی. مضاربت هم له نومړو شیانو پرته په بل شي کې نه منعقد کیږي.

د مضاربت په عقد کې به ګټه مشاعه وي، پر دې بنسټ که یو لوری د ځان لپاره معلوم شمېر ګټه وټاکي، د بېلګې په ډول ووایي: په ګټه کې به لس زره افغانۍ زما وي. د داسې شرط په کېښودلو عقد فاسدیږي، ځکه چې دا ډول شرط شرکت پرې کوي، یعنې کېدای شي ټوله ګټه همدا معلوم شمېر پیسې وي او بس.

د مضاربت لپاره دا هم شرط ده چې د مال څښتن به مال د مضارب په واک کې ورکوي او دی پکې د لاسوهنې حق نه لري څو مضارب پکې پخپل زړه تصرف وکړي.

## د مضاربت ډولونه:

مضاربت لاندې دوه ډولونه لري:

## مطلق مضاربت:

هغه ته ویل کیږي چې مضارب ته مال ورکړل شي، خو د کوم ځانګړي تجارت، ځای او وخت قید پکې نه وي. په مطلق مضاربت کې مضارب کولای شي چې په خپله خوښه پیرل او پیرودل وکړي، د سوداګرۍ لپاره بل ځای ته سفر وکړي او یا وکیل ونیسي. په مطلق مضاربت کې مضارب ته روا دي چې مال په بضاعت ورکړي. ابضاع دې ته ویل کیږي چې د چا پر مال له عوض پرته سوداګري وکړي.

په مطلق مضاربت کې مضارب ته روا نه دي چې مال بل چا ته په مضاربت ورکړي مګر دا چې د مال څښتن اجازه ورکړې وي او یا ورته ووایي: په خپل نظر کار وکړه!

## مقید مضاربت:

هغه دی چې مضارب ته مال ورکړل شي، خو د مضارب سوداګري د ځانګړي ښار، د سوداګرۍ ځانګړو توکو او یا تر ټاکلي وخت پورې محدوده شي. په مقید مضاربت کې مضارب له ټاکل شویو حدودو څخه تیری نشي کولای.

## د مضارب پیرودنې:

مضارب نشي کولای چې د مسلمان مضارب په پیسو شراب وپیري، ځکه چې مسلمان نشي کولای شراب بیرته وپلوري نو د مال څښتن ته تاوان رسیږي.

که لومړی مضارب د مال د څښتن له اجازې پرته مال بل چا ته په مضاربت ورکړي، نو تر هغې د مال ضامن نه ګڼل کیږي څو چې دویم مضارب ګټه پکې نه وي کړې. کله چې دویم مضارب پر مال له سوداګرۍ کولو وروسته ګټه وکړي، نو لومړی مضارب د مال د څښتن پر وړاندې ضامن ګڼل کیږي. دا له امام ابوحنیفه څخه د امام حسن روایت دی، خو امام ابویوسف او امام محمد له امام ابوحنیفه څخه په بل روایت کې وایي چې د دویم مضارب په عمل (سوداګرۍ) کولو سره لومړی مضارب ضامن ګرځي، که څه هم ګټه یې نه وي کړې.

د لوست د متن وروستۍ مسئله د لومړي مضارب له خوا د مال د څښتن په اجازه دويم مضارب ته د مال پر مضاربت ورکولو راڅرخي.

په لومړي صورت کې د (أَنَّ مَا رَزَقَ اللَّهُ بَيْنَنَا نِصْفَانِ: څه چې الله موږ ته راکړل، زموږ تر منځ به نيم وي) جمله راغلې، څرنګه چې د مال څښتن د ځان لپاره د ټولې ګټې نيمه شرط کړې نو برخه يې له نيمايي نه زياتيږي، دويم مضارب د شوي عقد له مخې دريمه اخلي، پاتې يې (شپږمه) د لومړي مضارب حق دی.

په دويم صورت کې د (أَنَّ مَا رَزَقَكَ اللَّهُ بَيْنَنَا نِصْفَانِ: څه چې الله تاته درکړل زموږ تر منځ به نيم وي) جمله راغلې. په دې صورت کې د دويم مضارب لپاره د تړون له مخې دريمه ده. څرنګه چې د مال څښتن لومړي مضارب ته د منسوبې ګټې د نيمولو وينا کړې او هغه د ګټې دوه برخې دي، نو دا دوه برخې به د مال د څښتن او لومړي مضارب تر منځ په برابر ډول وېشل کيږي.

په دريم صورت کې بيا داسې جمله راغلې: (أَنَّ مَا رَزَقَ اللَّهُ مِنْ شَيْءٍ فَلِي نِصْفُهُ: هغه څه چې الله راکړل، نيمه برخه به يې زما وي.) په دې مثال کې د ټولې ګټې نيمه د مال څښتن ځان ته ګرځولې او لومړي مضارب خپله نيمه دويم مضارب ته ورکړې، نو ده ته څه نه پاتې کيږي.

څلورم صورت دا دی چې په پورتني مثال کې لومړی مضارب، دويم مضارب ته د ګټې د دوو ثلثو ورکولو تړون وکړي. په دې صورت کې نيمه ګټه د مال د څښتن او نيمه د دويم مضارب کيږي. لومړي مضارب ته څه نه پاتې کيږي خو دا چې لومړي مضارب دويم مضارب ته د ګټې د دوو ثلثو د ورکولو ژمنه کړې وه او د مال د څښتن د ګټې سره د ټکر په نتيجه کې دويم مضارب ته دوه ثلثه پوره ونه رسېدل، نو لومړی مضارب به له خپل مال څخه دويم مضارب ته سدس (شپږمه) ورکوي، څو د هغه برخه پوره شي او دی په خپله ژمنه وفا وکړي.

## فعالیت

که د عقد یو لوری د مضاربت په ګټه کې معلوم شمېر پیسې د ځان لپاره شرط کړي، دا کوم ډول سود دی؟
زده کوونکي دې په لنډ ډول د سود د احکامو په اړه وغږېږي.

## پوښتنې

۱- مضاربت تعریف کړئ.
۲- آیا په مضاربت کې د مال خښتن په ګټه کې د ځان لپاره په شمار معلومې پیسې ټاکلی شي؟
۳- مقید مضاربت تعریف کړئ.
٤- که مضارب په خپل سر د مضاربت مال بل چا ته په مضاربت ورکړئ، څه وخت ضامن ګڼل کیږي؟

# مضاربت (۲)

تېر لوست د مضاربت په اړه و، په دې لوست کې به د مضاربت له پاتې احکامو خبر شو.

(١) وَإِذَا مَاتَ رَبُّ الْمَالِ أَوْ الْمُضَارِبُ بَطَلَتْ الْمُضَارَبَةُ، وَإِنْ ارْتَدَّ رَبُّ الْمَالِ عَنْ الْإِسْلَامِ وَلَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ بَطَلَتْ الْمُضَارَبَة.

(٢) وَإِذَا عَزَلَ رَبُّ الْمَالِ الْمُضَارِب، وَلَمْ يَعْلَمْ بِعَزْلِهِ حَتَّى اشْتَرَى وَبَاعَ فَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ، وَإِنْ عَلِمَ بِعَزْلِهِ وَالْمَالُ عُرُوضٌ فِي يَدِهِ فَلَهُ أَنْ يَبِيعَهَا وَلَا يَمْنَعُهُ الْعَزْلُ عَنْ ذَلِك، ثُمَّ لَا يَجُوزُ أَنْ يَشْتَرِيَ بِثَمَنِهَا شَيْئًا آخَرَ، وَإِنْ عَزَلَهُ وَرَأْسُ الْمَالِ دَرَاهِمُ أَوْ دَنَانِيرُ قَدْ نَضَّتْ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيهَا.

(٣) وَإِذَا افْتَرَقَا وَفِي الْمَالِ دُيُونٌ وَقَدْ رَبِحَ الْمُضَارِبُ فِيهِ أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى اقْتِضَاءِ الدُّيُونِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ رِبْحٌ لَمْ يَلْزَمْهُ الِاقْتِضَاءُ وَيُقَالُ لَهُ: وَكِّلْ رَبَّ الْمَالِ فِي الِاقْتِضَاءِ.

(٤) وَمَا هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ فَهُوَ مِنْ الرِّبْحِ دُونَ رَأْسِ الْمَالِ فَإِنْ زَادَ الْهَالِكُ عَلَى الرِّبْحِ فَلَا ضَمَانَ عَلَى الْمُضَارِبِ.

(٥) وَإِنْ كَانَا اقْتَسَمَا الرِّبْحَ وَالْمُضَارَبَةُ بِحَالِهَا ثُمَّ هَلَكَ الْمَالُ أَوْ بَعْضُهُ تَرَادَّا الرِّبْحَ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ رَبُّ الْمَالِ رَأْسَ مَالِهِ، فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ كَانَ بَيْنَهُمَا، وَإِنْ نَقَصَ عَنْ رَأْسِ الْمَالِ فَلَا ضَمَانَ عَلَى الْمُضَارِبِ.

(٦) وَإِنْ كَانَا اقْتَسَمَا الرِّبْحَ وَفَسَخَا الْمُضَارَبَةَ ثُمَّ عَقَدَاهَا وَهَلَكَ الْمَالُ لَمْ يَتَرَادَّا الرِّبْحَ الْأَوَّلَ.

(٧) وَيَجُوزُ لِلْمُضَارِبِ أَنْ يَبِيعَ بِالنَّقْدِ وَالنَّسِيئَةِ وَلَا يُزَوِّجُ عَبْدًا وَلَا أَمَةً مِنْ مَالِ الْمُضَارَبَةِ.

**ژباړه**

(۱) که د مال څښتن یا مضارب مړ شي، مضاربت باطل دی، که د مال څښتن مرتد شي او دارحرب ته لاړ شي، مضاربت باطلیږي.

(۲) که د مال څښتن مضارب عزل (ګوښه) کړي خو هغه په خپل عزل خبر نه وي او مال واخلي او خرڅ يې کړي، نو تصرفات يې روا دي. که په خپل عزل خبر وي او راس المال د توکو په توګه د هغه په لاس کې موجود وي، کولای شي چې ویې پلوري. عزل د دې کار مخه نه نیسي خو بیا ورته روا نه دي چې په پیسو يې نور توکي واخلي. که يې عزل کړ او راس المال له توکو وروسته په درهمو یا دیناور اړول شوی و، نو تصرف په کې نشي کولای.

(۳) که دواړه جلا شول او مال پورونه وو چې مضارب په کې ګټه کړې وه، حاکم به يې د پورونو په غوښتلو مجبور کړي، که د مضارب ګټه په کې نه وه، نو (د پورونو) غوښتل ورباندې لازم نه دي، بلکې ورته به ویل کیږي: د مال څښتن په پور غوښتلو کې وکیل کړه.

(٤) څه چې د مضاربت له مال څخه هلاکیږي، له ګټې څخه (وضع) کیږي، نه له راس المال څخه. که هلاک شوی مال له ګټې څخه زیات شو، په مضارب يې ضمان نشته.

(٥) که دواړو ګټه سره وېشله او مضاربت پخپل حال پاتې و، بیا ټول مال یا څینې مال هلاک شو، ګټه به بېرته راګرځوي څو د مال څښتن خپل راس المال پوره کړي. که څه زیات شول د دواړو تر منځ به شریک وي او که له راس المال څخه کم شول مضارب ضامن نه دی.

(٦) که دواړو ګټه وېشلې او مضاربت يې فسخه کړی و، بیا يې (د مضاربت) بل عقد تړلی و او مال هلاک شو، نو لومړی ګټه به نه راګرځوي.

(۷) مضارب ته روا دي چې په نغدو او پور توکي وپلوري، (مضارب) نه شي کولای چې د مضاربت له مال څخه وینزه واده کړي یا مریي ته واده وکړي.

**شرحه**

**د مضاربت بطلان**: مضاربت په لاندې حالاتو کې له منځه ځي.

۱- د مال د څښتن او مضارب د هر یوه په مړینه د مضاربت عقد باطلیږي، ځکه د مضاربت عقد په وکالت ولاړ دی او د شخص په مړینه د هغه وکالت له منځه ځي، یعنې

د عاقدینو په مړینه د مضاربت اساس له منځه ځي.

۲- د مال د څښتن په مرتد کېدو او دارحرب ته په  تللو هم د مضاربت عقد له منځه ځي. د شخص ارتداد د شریعت له مخې د مړینې په حکم کې دی. له همدې امله یې مال خپلوانو ته په میراث ورکول کیږي.

۳- مضاربت د مضارب په عزل کولو له منځه ځي. که د مال څښتن مضارب عزل کړي خو مضارب له خپل عزل څخه په ناخبرۍ کې شیان واخلي او خرڅ یې کړي، نو د مضارب تصرفات صحیح او نافذ دي، د مال د څښتن له خوا د مضارب عزل کول هغه مهال د مضارب په تصرفاتو بندیز لګوي چې مضارب له خپل عزل څخه خبر شي.

همدا راز که مضارب له خپل عزل څخه خبر شي، خو راس المال د تجارتي توکو (سامان) په بڼه موجود وي، نو کولای شي چې ویې پلوري او په نغدو یې واړوي. دا په دې دلیل چې د توکو په اخیستلو سره راس المال زیات شوی او ګټه منځته راغلې چې په دې ګټه کې مضارب هم برخه وال دی او په ګټه کې د مضارب برخه هله معلومیږي چې راس المال په نغدو بدل شي، له دې امله کولای شي چې مال وپلوري او په نغدو یې واړوي، البته که د مضارب د عزل پر مهال راس المال د نغدو په بڼه موجود وي، نو مضارب ته روا نه دي چې په اخیستلو او پلورلو سره نغدې پیسې په تجارتي توکو واړوي.

که د مضاربت راس المال دینار وو او د عزل پر مهال د مضارب سره راس المال د درهمو په بڼه موجود وو، نو کولای شي چې درهم په دینارو بدل کړي، ځکه په ګټه کې د دواړو لورو د برخې معلومولو لپاره دې ته اړتیا ده چې راس المال په هغو پیسو واړول شي چې عقد پرې رامنځته شوی و.

## د پورونو تر لاسه کول:

که د مال څښتن او مضارب عقد پای ته ورسوي او راس المال په خلکو باندې د پور په توګه پاتې وي. په دې صورت کې که په پورونو کې د مضارب ګټه هم موجوده وي، نو مضارب دنده لري چې له پوروړو څخه پورونه ترلاسه کړي، ځکه مضارب چې کومه ګټه خپله کړې، په حقیقت کې د مزد په توګه ده چې د کار په مقابل کې یې اخلي، نو خپل کار باید د پور په تر لاسه کولو سره بشپړ کړي، یعنې د پور غوښتل د ده د کار یوه برخه ده.

که په پورونو کې د مضارب برخه ګټه نه وه، نو په دې صورت کې مضارب د یوه وړیا وکیل په توګه دی، نه د مزدور په توګه، ځکه نو د پورونو په راټولولو مجبور نه دی، بلکې دنده یې دا

ده چې د مال څښتن د پورونو په ترلاسه کولو کې د خپل وکيل په توګه وټاکي او د پورونو د راټولولو واک هغه ته انتقال شي.

**د مال هلاکېدل:**

که د مضاربت مال هلاک شي، نو لومړی به له ګټې څخه پرې کيږي، که زيان له ګټې هم زيات شو، نو له راس المال څخه به پرې کيږي او مضارب يې ضامن نه دی.

که د ګټې له وېشلو وروسته راس المال ته زيان ورسېد، نو د راس المال زيان به له وېشل شوې ګټې څخه پوره کيږي او د نه پوره کېدو په صورت کې مضارب ضامن نه دی.

که زيان د ګټې له وېشلو او مضاربت پای ته رسولو وروسته په نوي عقد کې رامنځته شو، نو پخوانۍ ګټه د زيان پوره کولو لپاره نشي راګرځول کېدای.

مضارب کولای شي چې د سوداګرو له عرف سره سم په نغدو او پور سره توکي واخلي او ويې پلوري.

## پوښتنې

١- مضاربت په کومو شيانو باطليږي؟

٢- د عاقدينو په ارتداد سره ولې مضاربت باطليږي؟

٣- که مضارب له خپل عزل څخه خبر شي، خو راس المال د تجارتي توکو (سامان) په بڼه موجود وي، آيا په دې صورت کې مضارب کولای شي چې توکي وپلوري؟

٤- د مضاربت د پای ته رسېدو پر مهال د پورونو راټولول د چا دنده ده؟

٥- که د مضاربت مال هلاک شي، رامنځته شوی تاوان به له کومه پوره کيږي؟

٦- آيا مضارب کولای شي په پور توکي واخلي؟

# وکالت (۱)

لکه څنګه چې په معاملاتو کې د وکیل نیولو اړتیا خورا زیاته پیښیږي. له همدې امله وکالت د فقهې یو مهم بحث دی. په روانو دوو لوستونو کې به تاسو ته د وکالت د احکامو په اړه معلومات درکړو:

(١) كُلُّ عَقْدٍ جَازَ أَنْ يَعْقِدَهُ الْإِنْسَانُ بِنَفْسِهِ جَازَ أَنْ يُوَكِّلَ بِهِ غَيْرَهُ.

(٢) وَيَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِالْخُصُومَةِ فِي سَائِرِ الْحُقُوقِ وَإِثْبَاتِهَا، وَيَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِالاِسْتِيفَاءِ إِلَّا فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ، فَإِنَّ الْوَكَالَةَ لَا تَصِحُّ بِاسْتِيفَائِهِمَا مَعَ غَيْبَةِ الْمُوَكِّلِ عَنْ الْمَجْلِسِ.

(٣) وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: لَا يَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِالْخُصُومَةِ إِلَّا بِرِضَا الْخَصْمِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مَرِيضًا أَوْ غَائِبًا مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِغَيْرِ رِضَا الْخَصْمِ.

(٤) وَمِنْ شَرْطِ الْوَكَالَةِ أَنْ يَكُونَ الْمُوَكِّلُ مِمَّنْ يَمْلِكُ التَّصَرُّفَ وَيَلْزَمُهُ الْأَحْكَامُ وَالْوَكِيلُ مِمَّنْ يَعْقِلُ الْعَقْدَ وَيَقْصِدُهُ.

(٥) وَإِذَا وَكَّلَ الْحُرُّ الْبَالِغُ أَوْ الْمَأْذُونُ مِثْلَهُمَا جَازَ، وَإِنْ وَكَّلَا صَبِيًّا مَحْجُورًا يَعْقِلُ الْبَيْعَ وَالشِّرَاءَ أَوْ عَبْدًا مَحْجُورًا جَازَ وَلَا يَتَعَلَّقُ بِهِمَا الْحُقُوقُ وَيَتَعَلَّقُ بِمُوَكِّلَيْهِمَا.

(٦) وَالْعُقُودُ الَّتِي يَعْقِدُهَا الْوُكَلَاءُ عَلَى ضَرْبَيْنِ.

فَكُلُّ عَقْدٍ يُضِيفُهُ الْوَكِيلُ إِلَى نَفْسِهِ مِثْلُ الْبَيْعِ وَالْإِجَارَةِ فَحُقُوقُ ذَلِكَ الْعَقْدِ تَتَعَلَّقُ بِالْوَكِيلِ دُونَ الْمُوَكِّلِ فَيُسَلِّمُ الْمَبِيعَ وَيَقْبِضُ الثَّمَنَ وَيُطَالَبُ بِالثَّمَنِ إِذَا اشْتَرَى وَيَقْبِضُ الْمَبِيعَ وَيُخَاصِمُ فِي الْعَيْبِ.

وَكُلُّ عَقْدٍ يُضِيفُهُ إِلَى مُوَكِّلِهِ كَالنِّكَاحِ وَالْخُلْعِ وَالصُّلْحِ عَنْ دَمِ الْعَمْدِ فَإِنَّ حُقُوقَهُ

تَتَعَلَّقُ بِالْمُوَكِّلِ دُونَ الْوَكِيلِ فَلَا يُطَالَبُ وَكِيلُ الزَّوْجِ بِالصَّدَاقِ وَلَا يَلْزَمُ وَكِيلَ الْمَرْأَةِ تَسْلِيمُهَا.

(٧) وَإِذَا طَالَبَ الْمُوَكِّلُ الْمُشْتَرِيَ بِالثَّمَنِ فَلَهُ أَنْ يَمْنَعَهُ إِيَّاهُ، فَإِنْ دَفَعَهُ إِلَيْهِ جَازَ وَلَمْ يَكُنْ لِلْوَكِيلِ أَنْ يُطَالِبَهُ بِهِ ثَانِيًا.

(٨) وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا بِشِرَاءِ شَيْءٍ فَلَا بُدَّ مِنْ تَسْمِيَةِ جِنْسِهِ وَصِفَتِهِ أَوْ جِنْسِهِ وَمَبْلَغِ ثَمَنِهِ إِلَّا أَنْ يُوَكِّلَهُ وَكَالَةً عَامَّةً فَيَقُولَ لَهُ: ابْتَعْ لِي مَا رَأَيْت.

(٩) وَإِذَا اشْتَرَى الْوَكِيلُ وَقَبَضَ الْمَبِيعَ ثُمَّ اطَّلَعَ عَلَى عَيْبٍ فَلَهُ أَنْ يَرُدَّهُ بِالْعَيْبِ مَا دَامَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ فَإِنْ سَلَّمَهُ إِلَى الْمُوَكِّلِ لَمْ يَرُدَّهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ.

(١٠) وَيَجُوزُ التَّوْكِيلُ بِعَقْدِ الصَّرْفِ وَالسَّلَمِ، فَإِنْ فَارَقَ الْوَكِيلُ صَاحِبَهُ قَبْلَ الْقَبْضِ بَطَلَ الْعَقْدُ وَلَا تُعْتَبَرُ مُفَارَقَةُ الْمُوَكِّلِ.

(١١) وَإِذَا دَفَعَ الْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِ الثَّمَنَ مِنْ مَالِهِ وَقَبَضَ الْمَبِيعَ فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ بِهِ عَلَى الْمُوَكِّلِ، فَإِنْ هَلَكَ الْمَبِيعُ فِي يَدِهِ قَبْلَ حَبْسِهِ هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُوَكِّلِ وَلَمْ يَسْقُطِ الثَّمَنُ، وَلَهُ أَنْ يَحْبِسَهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَ الثَّمَنَ، فَإِنْ حَبَسَهُ فَهَلَكَ، فِي يده كَانَ مَضْمُونًا ضَمَانَ الرَّهْنِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَضَمَانَ الْمَبِيعِ عِنْدَ مُحَمَّدٍ.

(١٢) وَإِذَا وَكَّلَ رَجُلٌ رَجُلَيْنِ فَلَيْسَ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتَصَرَّفَ فِيمَا وُكِّلَا فِيهِ دُونَ الْآخَرِ إِلَّا أَنْ يُوَكِّلَهُمَا بِالْخُصُومَةِ أَوْ بِطَلَاقِ زَوْجَتِهِ بِغَيْرِ عِوَضٍ أَوْ بِعِتْقِ عَبْدِهِ بِغَيْرِ عِوَضٍ أَوْ بِرَدِّ وَدِيعَةٍ عِنْدَهُ أَوْ بِقَضَاءِ دَيْنٍ،وَلَيْسَ لِلْوَكِيلِ أَنْ يُوَكِّلَ بِمَا وُكِّلَ بِهِ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْمُوَكِّلُ أَوْ يَقُولَ لَهُ: اعْمَلْ بِرَأْيِك، فَإِنْ وَكَّلَ بِغَيْرِ إِذْنِ مُوَكِّلِهِ فَعَقَدَ وَكِيلُهُ بِحَضْرَتِهِ جَازَ وَإِنْ عَقَدَ بِغَيْرِ حَضْرَتِهِ فَأَجَازَهُ الْوَكِيلُ الْأَوَّلُ جَازَ.

## ژباړه

(١) ټول هغه عقدونه چې انسان يې پخپله ترلی شي، ورته روا دي چې بل څوك پکې وكيل ونيسي.

(۲) په ټولو حقونو کې د خصومت او د هغو د ثابتولو لپاره وکیل نیول روا دي. د ټولو حقونو په ترلاسه کولو کې د وکیل نیول روا دي مګر په حدودو او قصاص کې چې موکل په مجلس کې حاضر نه وي، (د حدودو او قصاص) د اخیستلو وکالت صحیح نه دی.

(۳) امام ابوحنیفه وایي: په خصومت کې د مقابل لوري له رضا پرته وکیل نیول روا نه دي، مګر دا چې موکل ناروغ او یا کم ترکمه د درې ورځو په اندازه لرې ځای کې وي. امام ابویوسف او امام محمد وایي: د مقابل لوري له رضا پرته هم وکیل نیول روا دي.

(٤) په وکیل نیولو کې دا شرط دی چې موکل به د تصرف کولو وړ او احکام پرې لازم وي. وکیل به داسې څوک وي چې د عقد (په چارو) او مقصد پوهیږي.

(٥) که آزاد بالغ یا ماذون انسان د ځان په څېر شخص وکیل ونیو روا ده، که یې داسې محجور کوچنی وکیل کړ چې په اخیستلو او پلورلو پوهېده، یا یې محجور مریی وکیل ونیو نو روا ده، خو حقونه په دوی پورې اړه نه نیسي، بلکې په موکل پورې تعلق نیسي.

(٦) هغه عقدونه چې وکیلان یې تړي، په دوه ډوله دي.

۱الف- هغه عقدونه چې وکیل یې نسبت خپل ځان ته کوي لکه بیعه او اجاره، حقوق یې وکیل پورې اړه لري، نه په موکل پورې، نو همدی به مبیعه سپاري، پیسې به اخلي، د اخیستلو په صورت کې به له ده څخه پیسې غوښتل کیږي، مبیعه به اخلي او د عیب په صورت کې به دعوه چلوي.

ب- هغه عقدونه چې وکیل یې موکل ته منسوبوي لکه نکاح، خلع او په عمد قتل کې صلحه کول، د دغو عقدونو حقوق یوازې په موکل پورې اړه نیسي، ځکه نو د مېړه له وکیل څخه مهر نه غوښتل کیږي او د ښځې په وکیل لازم نه دي چې ښځه سړي ته وسپاري.

(۷) که موکل له مشتري څخه پیسې وغواړي، مشتري کولای شي چې ور یې نه کړي، خو که ور یې کړي نو روا ده او وکیل یې دویم ځلي ترې نشي غوښتلی.

(۸) چا چې د کوم شي د اخیستلو لپاره څوک وکیل ونیو، نو پرې لازم دي چې د جنس نوم او صفت ورته وښیي یا جنس او قیمت یې ورته وښیي مګر دا چې عام وکالت یې ورکړی وي او ورته یې ویلي وي: څه چې دې خوښ وو، راته یې واخله.

(۹) که وکیل د مبیعې له اخیستلو او قبضولو وروسته په کوم عیب خبر شو، نو تر څو یې چې

مبیعه په لاس کې وي کولای شي چې بېرته یې رد کړي، خو که موکل ته یې وسپارله، بیا یې نو د هغه له اجازې پرته نشي ردولای.

**(۱۰)** د صرف او سلم د بیعې لپاره وکیل نیول روا دي که وکیل له مقابل لوري څخه له قبض وړاندې جلا شو، نو عقد باطل دی او د موکل جلا کېدل معتبر نه دي.

**(۱۱)** که د اخیستلو وکیل خپلې پیسې ورکړې او مبیعه یې قبض کړ، نو کولای شي چې له موکل څخه یې واخلي، که (د مبیعې) تر بندولو وړاندې مبیعه له وکیل سره هلاکه شوه، د موکل له مال څخه هلاکېږي او د وکیل پیسې نه (سوځي). وکیل حق لري چې د پیسو ترلاسه کولو پورې مبیعه له ځان سره ایساره کړي. که په دې حالت کې مبیعه له منځه لاړه شي، د امام ابویوسف په نزد یې ضمانت د رهن په توګه دی، یعنې د مبیعې د ارزښت او پیسو نه چې کوم یو لږ وي، د هغې ضامن دی. امام محمد وایي چې ضمانت یې د مبیعې دی، یعنې د مبېعې د پیسو ضامن دی، لږې وي او که ډېرې.

**(۱۲)** که چا دوه کسان وکیلان ونیول، نو یو له بل پرته تصرف نشي کولای، مګر دا چې دواړه یې په خصومت، له عوض پرته د ښځې په طلاقولو، د مریي په آزادولو، د امانت په سپارلو او د پور په ادا کولو کې وکیلان نیولي وي. وکیل نشي کولای په ورسپارل شوې چاره کې بل څوک وکیل کړي، مګر دا چې موکل ورته اجازه ورکړې وي او یا یې داسې ورته ویلي وي: په خپله خوښه کار وکړه. که یې د موکل له اجازې پرته وکیل ونیو او هغه د ده په شتون کې عقد وتړلو، نو روا ده، خو که د ده په غیاب کې یې عقد وتړلو او لومړي وکیل اجازه ورکړه نو هم روا دی.

## شرحه

### د وکالت تعریف:

(وكالة) په لغت کې ساتلو ته وایي او په اصطلاح کې په ټاکلي تصرف کې د خپل ځان پر ځای د بل چا ټاکلو ته وکالت وایي.

موکل هغه چا ته ویل کیږي چې د خپل ځان په ځای بل څوک ټاکي او ټاکل شوی شخص وکیل ګڼل کیږي.

## د وکالت مشروعیت:

په قرآني آیت سربېره له ډېرو احادیثو څخه د وکالت رواوالی ثابت دی چې له دې جملې څخه د صحیح البخاري دا حدیث هم دی: عن عرْوَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم أَعْطَاهُ دِينَارًا يَشْتَرِي بِهِ شَاةً فَاشْتَرَى لَهُ بِهِ شَاتَيْنِ... ژباړه: له عروه (رضي الله عنه) څخه روایت دی چې رسول الله (صلي الله علیه وسلم) ورته یو دینار ورکړ چې هغه (صلي الله علیه وسلم) ته پرې یو پسه واخلي، نو هغه ورته پرې دوه پسونه واخیستل...)

## د وکیل نیولو موارد:

پر عقدونو سربېره د خصومت لپاره هم د وکیل ټاکل روا دي، یعنې پر چا باندې د خپل حق د دعوې کولو او یا پر ځان باندې د بل چا له دعوې څخه د دفاع کولو لپاره په هر ډول قضیو کې د وکیل ټاکل جایز دي. دا د امام محمد نظر دی، خو امام ابویوسف وایي: په لعان، حدودو او قصاص کې وکیل نیول روا نه دي. امام ابوحنیفه وایي: په خصومت کې د مقابل لوري له اجازې پرته وکیل نیول روا نه دي خو دا چې موکل دومره ناروغه وي چې محکمې ته د راتګ توان ونه لري او یا لرې تر لرې د درې ورځو د مزل په کچه لرې وي، نو په دې صورتونو کې د مقابل لوري له موافقې پرته هم د خصومت لپاره وکیل ټاکلی شي. هغه ښځې هم د خصم له اجازې پرته وکیل نیولی شي چې د نارینه وو مجلس ته له راتګ او خبرو کولو سره عادت نه وي.

له حدودو او قصاص پرته په نورو قضیو کې د استیفاء (خپل حق اخیستلو) لپاره وکیل نیول روا دي، خو حدود او قصاص اخیستل د موکل له شتون پرته روا نه دي. حدود په شبهاتو له منځه ځي او د قصاص د اخیستلو پر مهال د ولي د غیاب په صورت کې شبهه موجوده ده، یعنې که موکل د قصاص اخیستلو پر مهال پخپله موجود وي، احتمال لري چې عفوه وکړي. د عفوې احتمال یوه شبهه ده او د شبهې په صورت کې حدود له منځه ځي. له دې امله اړینه ده چې موکل د حدودو او قصاص د استیفاء پر مهال پخپله موجود وي.

## د موکل شرطونه:

موکل باید د هغو تصرفاتو واک ولري چې وکیل ته یې سپاري. په دې بنسټ موکل په هغو چارو کې چې خپله یې واک نه لري، بل څوک وکیل نشي نیولای.

له دې امله لېونی، غیر ممیز کوچنی او محجور مریی پخپل سر د وکیل نیولو حق نه لري، خو ممیز کوچنی او ماذون مریی کولای شي بل څوک یوازې په هغو چارو کې وکیل ونیسي

چې دی يې د ترسره کولو واک لري.

**د وکيل شرطونه:**

د وکيل لپاره عقل او په بيعې پوهېدنه شرط دي. په دې بنسټ د ليوني او غيرمميز کوچني وکالت صحيح نه دي، خو د مميز کوچني وکالت صحيح دی. بايد ووايو چې بلوغ او حريت د وکيل لپاره شرط نه دی.

**د وکيل عقدونه:**

هغه عقدونه چې وکيل يې سرته رسوي، په دوه ډوله دي:

**لومړی**: هغه عقدونه دي چې وکيل يې خپل ځان ته منسوبوي، لکه بيعه او اجاره چې وکيل يې د عقد پر مهال وايي: دا کتاب مې له تا څخه په سل افغانۍ واخيست. د داسې عقدونو حقوق او مسؤليتونه وکيل ته راجع کيږي لکه د مبيعې تسليمول او د پيسو اخيستل.

**دويم**: هغه عقدونه دي چې وکيل يې خپل موکل ته منسوبوي او دی پکې يوازې د يوه استازي حيثيت لري، لکه د نکاح عقد چې وکيل پکې داسې وايي: فلانۍ ښځه مې خپل موکل (احمد) ته په شرعي نکاح سره قبوله کړه. د دغه عقدونو حقوق په موکل پورې اړه نيسي، د بېلګې په ډول ښځه نشي کولای چې له وکيل څخه مهر وغواړي، بلکې مهر به له موکل (احمد) څخه غواړي.

**د وکالت ډولونه**: وکالت په دوه ډوله دی:

**عام وکالت:**

دا دی چې موکل وکيل ته په مطلق ډول ووايي: څه دې چې خوښ شو، راته يې واخله! يا داسې ووايي: څه ډول کور دې چې خوښ شو، راته يې واخله، او داسې نور. دا ډول وکالت د مبيعې د جنس، صفت او قيمت له ټاکلو پرته صحيح دی.

**خاص وکالت:**

خاص وکالت د جنس او صفت يا جنس او قيمت له ټاکلو پرته صحيح نه دی. د خاص وکالت مثال دا دی چې موکل خپل وکيل ته ووايي: زما لپاره يو وطنی پسه واخله. چې پسه جنس او وطنې يې صفت دی. يا وايي: يو پسه راته په پنځه زره افغانۍ واخله.

په خاص وکالت کې له ټاکلو قيدونو څخه تېرى صحيح نه دی.

## د سلم په بيعه کې وکالت:

د سلم په بيعه کې د مال ښبنتن (اخيستونکی) کولای شي چې د ځان لپاره وکيل ونيسي، خو مسلم اليه (هغه څوك چې مال پلوري) نشي کولای چې د ځان لپاره وکيل ونيسي. د صرف او سلم په بيعو کې وکيل عاقد شمېرل کيږي او د عقد حقوق وکيل ته راجع کيږي، په دې بنسټ په دغو بيعو کې له قبض څخه وړاندې د موکل جلاکېدل په عقد کوم اغېز نه لري.

## د وکيل سره د مبيعې هلاکېدل:

د اخيستلو وکيل کولای شي چې له خپل جيب څخه د مبيعې قيمت ورکړي او بيا يې له موکل څخه واخلي. په دې صورت کې که مبيعه د وکيل په لاس کې هلاکه شي، نو د موکل له مال څخه حسابيږي. که وکيل مبيعه د پيسو په مقابل کې ايساره کړي او ورسره هلاکه شي، نو د امام ابويوسف په نظر د رهن (ګرو) حيثيت لري.

دګرو په لوست کې مو ويلي وو چې دګرو شوي مال تاوان د پور له اندازې او له خپل قيمت څخه پورته نه ځي. که ګرو شوی مال دګرو اخيستونکي په لاس کې هلاك شي او د پور او ګرو شوي مال قيمت سره برابر وي، نو دګرو اخيستونکي پور حکماً ادا شوی ګڼل کيږي، خو که دګرو شوي مال قيمت له پور څخه زيات و، نو زياتوالی دګرو اخيستونکي په لاس کې د امانت حکم لري. که دګرو شوي مال قيمت له پور څخه لږ و، نو دګرو اخيستونکي پور د هغه د قيمت په اندازه کميږي او پاتې پور به له ګرو ورکوونکي څخه اخلي.

د امام محمد په نظر د نا سپارل شوې مبيعې حيثيت لري او حکم يې دا دی چې له تاوان پرته د وکيل له مال څخه هلاکيږي، ځکه په دې صورت کې موکل د مشتري او وکيل د بايع حيثيت لري. د ناسپارل شوې مبيعې د هلاکېدو په صورت کې بيعه فسخه کيږي او په مشتري (موکل) کوم تاوان نشته.

## د دوو وکيلانو ټاکل:

که موکل دکوم تصرف لپاره په يوه وينا دوه تنه وکيلان وټاکي، نو يو له بل څخه پرته تصرف نشي کولای، خو د خصومت لپاره د وکيل ټاکل، له عوض پرته ښځې ته د طلاق ورکولو او مريي آزادولو لپاره وکيل ټاکل، د امانت، وديعت، غصب شوي مال او پور سپارلو لپاره د وکيل ټاکل له دې څخه مستثنی دي او په يادو موضوعاتو کې يو وکيل کولای شي چې له بل پرته تصرف وکړي. دا ځکه چې په محکمه کې د خصومت لپاره يو تن بس وي او د دوو تنو په خصومت کولو سره د محکمې په مجلس کې ګډوډي رامنځته کيږي. همدا راز طلاق،

عتاق، د امانت، وديعت او نورو يادو شوو شيانو سپارل راى او فکر ته اړتيا نه لري بلکې يوازې د خولې وينا ته اړتيا لري چې يو او دوه کسان پکې برابر دي، البته که عتاق او طلاق ورکول د دوى رايې ته سپارل شوي وي، بيا نو يو تن نشي کولاى چې په يوازې ډول ښځه طلاقه کړي.

## فعاليت

که گرو شوى مال له مرتهن سره له منځه لاړ شي، ضمان يې د پور له اندازې او له خپل قيمت څخه پورته نه ځي.
زده کوونکي دې د خوارلسم لوست له شرحې سره سم پورتنى مسئله د يو مثال په ترڅ کې روښانه کړي.

## پوښتنې

١- وکالت تعريف کړئ.
٢- د وکالت د مشروعيت دليل ووایاست.
٣- د وکيل نيول په کومو موضوعاتو کې صحيح نه دي؟
٤- د وکيل او موکل شرطونه روښانه کړئ.
٥- وکالت په څو ډوله دى؟ تشريح يې کړئ.
٦- که وکيل د پيسو لپاره مبيعه ايساره کړي، تاوان يې پر چا دى؟

# وکالت (۲)

په تېر لوست کې مو د وکالت د احکامو په اړه یو څه معلومات درکړي وو. په دې لوست کې به د وکالت پاتې احکام ولوستل شي.

(١) وَلِلْمُوَكِّلِ أَنْ يَعزِلَ الْوَكِيلَ عَنْ الْوَكَالَةِ مَتَى شاءَ، وَإِنْ لَمْ يَبْلُغْهُ الْعَزْلُ فَهُوَ عَلى وَكَالَتِهِ، وَتَصَرُّفُهُ جَائِزٌ حَتَّى يَعْلَمَ.

(٢) وَتَبْطُلُ الْوَكَالَةُ بِمَوْتِ الْمُوَكِّلِ وَبِجُنُونِهِ جُنُونًا مُطْبِقًا وَبِلَحَاقِهِ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا.

(٣) وَإِذَا وَكِّلَ الْمُكَاتَبُ ثُمَّ عَجَزَ أَوْ الْمَأْذُونُ لَهُ فَحُجِرَ عَلَيْهِ أَوْ الشَّرِيكَانِ فَافْتَرَقَا، فَهَذِهِ الْوُجُوهُ تُبْطِلُ الْوَكَالَةَ عَلِمَ الْوَكِيلُ أَوْ لَمْ يَعْلَمْ.

(٤)وَإِذَا مَاتَ الْوَكِيلُ أَوْ جُنَّ جُنُونًا مُطْبِقًا بَطَلَتْ وَكَالَتُهُ، وَإِنْ لَحِقَ بِدَارِ الْحَرْبِ مُرْتَدًّا لَمْ يَجُزْ لَهُ التَّصَرُّفُ إِلَّا أَنْ يَعُودَ مُسْلِمًا.

(٥) وَمَنْ وَكَّلَ آخَرَ بِشَيْءٍ ثُمَّ تَصَرَّفَ فِيمَا وَكَّلَ بِهِ بَطَلَتْ الْوَكَالَةُ.

(٦) وَالْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ لَا يَجُوزُ أَنْ يَعْقِدَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ مَعَ أَبِيهِ وَجَدِّهِ وَوَلَدِهِ وَوَلَدِ وَلَدِهِ وَزَوْجَتِهِ وَعَبْدِهِ وَمُكَاتَبِهِ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَجُوزُ بَيْعُهُ مِنْهُمْ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ إِلَّا فِي عَبْدِهِ وَمُكَاتَبِهِ.

(٧) وَالْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ يَجُوزُ بَيْعُهُ بِالْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَا: لَا يَجُوزُ بَيْعُهُ بِنُقْصَانٍ لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهِ.

(٨) وَالْوَكِيلُ بِالشِّرَاءِ يَجُوزُ عَقْدُهُ بِمِثْلِ الْقِيمَةِ وَزِيَادَةٍ يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهَا وَلَا يَجُوزُ فِيمَا لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهِ، وَالَّذِي لَا يَتَغَابَنُ النَّاسُ فِي مِثْلِهِ: مَا لَا يَدْخُلُ تَحْتَ تَقْوِيمِ الْمُقَوِّمِينَ.

(٩) وَإِذَا ضَمِنَ الْوَكِيلُ بِالْبَيْعِ الثَّمَنَ عَنْ الْمُبْتَاعِ فَضَمَانُهُ بَاطِلٌ.
(١٠) وَإِذَا وَكَّلَهُ بِبَيْعِ عَبْدٍ فَبَاعَ نِصْفَهُ جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَإِنْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ فَاشْتَرَى نِصْفَهُ فَالشِّرَاءُ مَوْقُوفٌ فَإِنْ اشْتَرَى بَاقِيَهُ لَزِمَ الْمُوَكِّلَ.
(١١) وَإِذَا وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَشَرَةِ أَرْطَالِ لَحْمٍ بِدِرْهَمٍ فَاشْتَرَى عِشْرِينَ رِطْلًا بِدِرْهَمٍ مِنْ لَحْمٍ يُبَاعُ مِثْلُهُ عَشَرَةُ أَرْطَالٍ بِدِرْهَمٍ لَزِمَ الْمُوَكِّلَ مِنْهُ عَشَرَةٌ بِنِصْفِ دِرْهَمٍ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَلْزَمُهُ الْعِشْرُونَ.
(١٢) وَإِذَا وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ شَيْءٍ بِعَيْنِهِ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَشْتَرِيَهُ لِنَفْسِهِ، وَإِنْ وَكَّلَهُ بِشِرَاءِ عَبْدٍ بِغَيْرِ عَيْنِهِ فَاشْتَرَى عَبْدًا فَهُوَ لِلْوَكِيلِ إِلَّا أَنْ يَقُولَ نَوَيْتُ الشِّرَاءَ لِلْمُوَكِّلِ أَوْ يَشْتَرِيَهُ بِمَالِ الْمُوَكِّلِ.
(١٣) وَالْوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ وَكِيلٌ بِالْقَبْضِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ، وَالْوَكِيلُ بِقَبْضِ الدَّيْنِ وَكِيلٌ بِالْخُصُومَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.
وَإِذَا أَقَرَّ الْوَكِيلُ بِالْخُصُومَةِ على مُوَكِّلِهِ عِنْدَ الْقَاضِي جَازَ إِقْرَارُهُ، وَلَا يَجُوزُ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ عِنْدَ غَيْرِ الْقَاضِي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَجُوزُ إِقْرَارُهُ عَلَيْهِ عِنْدَ غَيْرِ الْقَاضِي.
(١٤) وَمَنْ ادَّعَى أَنَّهُ وَكِيلُ الْغَائِبِ فِي قَبْضِ دَيْنِهِ فَصَدَّقَهُ الْغَرِيمُ أُمِرَ بِتَسْلِيمِ الدَّيْنِ إِلَيْهِ، فَإِنْ حَضَرَ الْغَائِبُ فَصَدَّقَهُ وَإِلَّا دَفَعَ الْغَرِيمُ إِلَيْهِ الدَّيْنَ ثَانِيًا وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْوَكِيلِ إِنْ كَانَ بَاقِيًا فِي يَدِهِ،
وَإِنْ قَالَ إِنِّي وَكِيلُ الْغَائِبِ بِقَبْضِ الْوَدِيعَةِ وَصَدَّقَهُ الْمُودَعُ لَمْ يُؤْمَرْ بِالتَّسْلِيمِ إِلَيْهِ.

**ژباړه**

(١) موکل چې هر وخت وغواړي وکیل له وکالت څخه عزل کولای شي. تر څو چې وکیل ته د عزل خبر نه وي رسیدلی، وکالت یې پر ځای دی او تصرفات یې تر هغې پورې صحیح دي چې په عزل خبر شي.
(٢) د موکل په مړینه، بشپړ لیونتوب او د مرتد په توګه دار حرب ته په رسېدو باندې وکالت باطلیږي.

(۳) که مکاتب وکیل ونیسي، خو بیا (له ځان آزادولو څخه) عاجز شي، یا ماذون مریی وکیل ونیسي، خو وروسته وربانديې بندیز ولګیږي یا دوه شریکان وکیل ونیسي، خو وروسته سره جلا شي، دا ټول شیان وکالت باطلوي - برابره ده چې وکیل په خپل عزل خبر وي او که نه.

(٤) که وکیل مړ یا دایمي لیونی شي، نو وکالت يې باطلیږي، که د مرتد په توګه دارحرب ته ورسیږي نو تصرف يې صحیح نه دي، مګر دا چې بېرته د مسلمان په توګه راوګرځي.

(٥) که څوك یو کار ته وکیل ونیسي، بیا په نوموړي کار کې پخپله تصرف پیل کړي، نو وکالت باطلیږي.

(٦) د امام ابوحنیفه په نزد د اخیستلو او پلورلو وکیل ته روا نه دي چې له خپل پلار، نیکه، لمسي، مېرمنې، مریي او مکاتب سره عقد وتړي، خو امام ابویوسف او امام محمد وایي: له مریي او مکاتب پرته په بل چا یې په قیمت مثل پلورل روا دي.

(۷) د امام ابوحنیفه په نظر د پلورلو د وکیل بیعه په لږو او ډېرو پیسو روا ده. امام ابویوسف او امام محمد وایي: په داسې تاوان يې پلورنه صحیح نه ده چې خلك پکې نه تېروځي (نه غولیږي).

(۸) د اخیستلو وکیل ته روا دي چې په قیمت مثل او داسې تاوان سره مال واخلي چې خلك پکې تېروځي او په هغه تاوان کې چې خلك پکې نه تېروځي، روا نه دي. هغه اندازه چې خلك په کې نه تېروځي، دومره ده چې د قیمت ټاکونکو په ټاکنه کې نه راځي.

(۹) که د پلورلو وکیل د اخیستونکي د پیسو ضمانت وکړ، نو ضمانت يې باطل دی.

(۱۰) که موکل هغه د مریي په پلورلو وکیل کړ، خو وکیل نیم مریی وپلوره، نو د امام ابوحنیفه په نزد روا ده. که یې د مریي اخیستلو لپاره وکیل وټاکه او هغه نیم مریی واخیست، نو بیعه موقوفه ده، که پاتې یې هم واخیست، نو په موکل یې پیسې ورکول لازم دي.

(۱۱) که یې په یو درهم د لسو رطلو غوښې پر اخیستلو وکیل کړ، خو هغه شل رطله داسې غوښه په یو درهم واخیسته چې لس رطله یې په یو درهم پلورل کیږي، نو د امام ابوحنیفه په نظر په موکل په نیم درهم د لسو رطلو غوښې اخیستل لازم دي. امام ابویوسف او امام محمد وایي: د شلو اخیستل پرې لازم دي.

(۱۲) که د یو معین شي د اخیستلو لپاره یې وکیل وټاکه، نو د ځان لپاره یې اخیستل ورته روا نه دي. که د ناټاکلي مریي د اخیستلو لپاره یې وکیل کړ او هغه یو مریی واخیست، نو دا د وکیل دی مګر دا چې داسې ووایي: اراده مې موکل ته اخیستل وو، او یا دا چې د موکل په پیسو

يې واخلي.

(۱۳) د خصومت وکيل د امام ابوحنيفه، امام ابويوسف او امام محمد په نظر د قبض وکيل هم دی. د پور د قبض کولو وکيل د امام ابوحنيفه په نظر د خصومت وکيل هم دی.

که د خصومت وکيل د قاضي پر وړاندې پر موکل باندې اقرار وکړ، صحيح دی، خو د امام ابوحنيفه او امام محمد په آند له قاضي پرته د بل چا پر وړاندې يې پر موکل اقرار صحيح نه دی. امام ابويوسف وايي چې له قاضي پرته د بل چا پر وړاندې يې هم پر موکل اقرار صحيح دی.

(۱٤) که چا دعوه وکړه چې دی د پور په قبضولو کې د غايب شخص وکيل دی او پوروړي يې هم تصديق وکړ، نو پوروړي ته به، نوموړي شخص ته د پور سپارلو امر وشي. کله چې غايب راغی او د وکالت تصديق يې وکړ، ډېره ښه او که يې د نوموړي د وکالت تکذيب وکړ، نو پوروړي به دويم ځلي پور ورادا کړي او خپل مال به له وکيل څخه وغواړي. که د هغه په لاس کې موجود و. که چا دعوه وکړه چې دی د امانت د قبضولو وکيل دی او امين يې هم تصديق وکړ، نو امين ته به د امانت په سپارلو امر نه کيږي.

**شرحه**

**د وکالت پای ته رسېدل**: موکل کولای شي چې خپل وکيل عزل او له وکالته ګوښه کړي خو د وکيل تصرفات تر هغې صحيح دي چې له خپل عزل څخه خبر نه وي.

وکالت د موکل په مړينه، دائمي ليونتوب او د مرتد په توګه يې دار حرب ته په ننوتلو سره باطليږي. که مکاتب مريی د کوم کار لپاره څوک وکيل ونيسي او د خپل ځان له آزادولو څخه عاجز شي، نو وکالت باطليږي، همدا راز که کوچنی او مريی څوک د ځان وکيل ونيسي او وروسته په دوی حجر (بنديز) ولګيږي، نو وکالت باطليږي. که دوو شريکانو د شريک کار لپاره وکيل نيولی وي او دواړه شرکت پای ته ورسوي او جلا شي نو وکالت باطليږي. په پورتنيو صورتونو کې پرته له دې چې وکيل خبر شي وکالت باطليږي.

د وکيل په مړينه، دائمي ليونتوب، دارحرب ته يې د مرتد په توګه ننوتلو او هلته په پاتې کېدو سره د وکيل وکالت باطليږي. همدا راز که موکل وکيل ته په سپارل شوي کار کې پخپله تصرف پيل کړي، نو هم وکالت باطليږي.

**د وکيل تصرفات**: د امام ابوحنيفه په نظر د اخيستلو او خرڅولو وکيل نشي کولای چې د وکالت له مال څخه کوم شی پر خپل پلار، نيکه، زوی، د لمسي، ښځې، مريي او مکاتب

باندې وپلوري او يا يې ورڅخه واخلي، د دوی ترمنځ د نژدې خپلوۍ له امله د دوی ګټې شريکې دي نو د راکړې ورکړې پر مهال دا ګومان کيږي چې د موکل د ګټو په ځای به يې پام خپلو ګټو ته وي او د يو ډول شک لاندې راځي، پر دې بنسټ ورسره عقد ترل روا نه دي.
امام ابويوسف او امام محمد وايي: وکالت له دې قيد څخه مطلق دی، نو وکيل کولای شي چې په پورتنيو کسانو په مثلي قيمت (د بازار په نرخ) سره شيان وپلوري مګر پر خپل مريي او مکاتب يې ځکه نشي پلورلای چې له مريي او مکاتب سره راکړه ورکړه په حقيقت کې له خپل ځان سره راکړه ورکړه ده او وکيل نشي کولای چې د وکالت له مال څخه کوم شي پخپل ځان وپلوري.
**د پلورنې تصرفات**:د امام ابوحنيفه په نظر د پلورلو وکيل کولای شي چې په لږ او ډېر قيمت سره مال وپلوري، ځکه وکيل ته د بيعې واک ورکړل شوی او په لږ او ډېر دواړو قېمتونو سره پلورل د بيعې تر ټکي لاندې راځي.
امام ابويوسف او امام محمد وايي: په دومره کموالي او نقصان سره يې پلورل روا نه دي چې د عرف له مخې يې سوداګر له پامه نه غورځوي او خلک په کې نه تېروځي. دوی وايي: که څه هم د بيعې ټکی مطلق او په لږ او ډېر قيمت پلورلو ته شامليږي، خو د وکيل پلورنه بايد د عرف او دود سره سمه وي او په عرف کې خلک په لږ نقصان کې يو بل ته تيريږي، خو په ډېر نقصان کې نه تيريږي، نو پلورنې په عرف مقيدې دي.
که د پلورنې وکيل مال وپلوري او د اخيستونکي له خوا موکل ته د پيسو ضامن شي، نو ضمانت يې باطل دی. د وکيل لاس د امانت لاس دی او دا صفت يې د بدلېدو وړ نه دی، ځکه نو په ضمانت نه بدليږي.
که موکل وکيل د موټر پلورلو لپاره وکيل کړ او هغه نيم موټر وپلورلو، د امام ابوحنيفه په نزد دا بيعه روا ده، ځکه چې د بيعې لفظ عام دی او د نيم او پوره دواړو پلورلو ته شامل دی. د امام ابويوسف او امام محمد په نظر دا بيعه صحيح نه ده، ځکه چې د موټر د ملکيت په وېش کې موکل ته زيان دی. پر دې بنسټ ټول هغه شيان چې په وېشلو کې يې موکل ته زيان وي، پلورل يې صحيح نه دي او هغه شيان چې په وېشلو کې يې زيان نه وي لکه غنم او وربشې، نو پلورل يې روا دي.
که موکل وکيل د مريي د اخيستلو لپاره وکيل کړي او هغه نيم مريی واخلي، نو بيعه د موکل تر اجازې موقوفه ده، ځکه موکل د پوره مريي د اخيستلو لپاره وکيل کړی او نيم مريی د پوره مريي ځای نشي نيولای. په پورتنۍ مسئله کې پېرودل له پلورلو سره دا توپير لري چې په

پېرودلو کې پر اخیستونکي دا تهمت واردیږي چې نیم مریی به یې د ځان لپاره اخیستی وي، خو په پلورلو کې دې تهمت ځای نه درلود.

په متن کې د غوښې په مثال کې د امام ابوحنیفه په نزد یوازې په لسو رطلو کې بیعه صحیح ده، ځکه چې موکل له لسو رطلو څخه د ډېرو اخیستلو امر نه دی کړی.

د یارانو په نظر بیعه په شلو رطلو کې هم صحیح ده، په دې دلیل چې موکل د یو درهم د مصرفولو امر کړی او ګومان یې کړی و چې لس رطله غوښه به وربانديې واخیستل شي، خو دا چې په یو درهم شل رطله غوښه واخیستل شوه، ګټه یې وکړه نه تاوان.

که څوک د معین شي د اخیستلو لپاره وکیل وټاکل شي، نو د ځان لپاره یې نشي اخیستلای ځکه له وکالت قبلولو سره د اخیستلو موخه تعینه شوه.

د لوست په متن کې وروستی موضوع د وکیل له خوا له پوروړي او امین څخه د پور او امانت غوښتنه ده. د پور په اقرار کې سپارل واجب دي، ځکه په پور کې د پور شوي شي مثل ورکول کیږي او مثل د پوروړي خپل اصلي مال دی، یعنې په پور اقرار په خپل ځان اقرار کول دي او د فقهي د قواعدو له مخې څوک چې په خپل ځان د کوم شي اقرار وکړي، نو ورکول یې وربانديې لازم دي، خو خرنګه چې په ودیعت کېښودل شوی، مال د مودَع (امین) مال نه ګڼل کیږي، بلکې د مودع مال دی نو په دې صورت کې د بل چا پر مال اقرار دی او د بل چا پر مال د اقرار کولو په صورت کې د هغه تسلیمول واجب نه دي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په اوسنیو راکړو ورکړو کې د کموالي هغه مثالونه ووایي چې سوداګر پرې حساب نه کوي او ورڅخه تیریږي.

## پوښتنې

١- وکالت د موکل له خوا په کومو حالاتو کې پای ته رسیږي؟

٢- وکالت د وکیل له خوا په کومو حالاتو کې پای ته رسیږي؟

٣- د بیعې او شراء وکیل په کومو کسانو د وکالت مال نشي پلورلای؟

٤- د وکیل له خوا موکل ته د پلورل شوي شي د پیسو ضمانت ولې صحیح نه دی؟

٥- وکیل ته د پور او ودیعت سپارلو حکم له دلیل سره روښانه کړئ.

# كفالت

د انسانانو تر منځ په راکړو ورکړو کې کله کله د پيسو د نه موجوديت په صورت کې دې ته اړتيا پيښيږي چې بل څوک د پيسو ورکولو ضمانت وکړي. دې کار ته په فقه کې کفالت ويل کيږي چې اړوند احکام يې په همدې لوست کې لولو.

(١) الْكَفَالَةُ ضَرْبَانِ: كَفَالَةٌ بِالنَّفْسِ وَكَفَالَةٌ بِالْمَالِ، فَالْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ جَائِزَةٌ وَالْمَضْمُوْنُ بِهَا إِحْضَارُ الْمَكْفُولِ بِهِ، وَتَنْعَقِدُ إِذَا قَالَ تَكَفَّلْتُ بِنَفْسِ فُلَانٍ أَوْ بِرَقَبَتِهِ أَوْ بِرُوحِهِ أَوْ بِجَسَدِهِ أَوْ بِرَأْسِهِ أَوْ بِنِصْفِهِ أَوْ بِثُلُثِهِ، وَكَذَلِكَ إِذَا قَالَ: ضَمِنْتُهُ لَكَ أَوْ هُوَ عَلَيَّ أَوْ إِلَيَّ أَوْ أَنَا زَعِيمٌ بِهِ أَوْ كَفِيلٌ بِهِ أَوْ قَبِيلٌ بِهِ.

(٢) فَإِنْ شَرَطَ فِي الْكَفَالَةِ تَسْلِيمَ الْمَكْفُولِ بِهِ فِي وَقْتٍ بِعَيْنِهِ لَزِمَهُ إِحْضَارُهُ إِذَا طَالَبَهُ بِهِ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ، فَإِنْ أَحْضَرَهُ وَإِلَّا حَبَسَهُ الْحَاكِمُ حتى يُحْضِرَهُ، وَإِذَا أَحْضَرَهُ وَسَلَّمَ فِي مَكَانٍ يَقْدِرُ الْمَكْفُولُ لَهُ عَلَى مُحَاكَمَتِهِ بَرِئَ الْكَفِيلُ مِنَ الْكَفَالَةِ.

(٣) وَإِذَا تَكَفَّلَ بِهِ عَلَى أَنْ يُسَلِّمَهُ فِي مَجْلِسِ الْقَاضِي فَسَلَّمَهُ فِي السُّوقِ بَرِئَ وَإِنْ سَلَّمَهُ فِي بَرِّيَّةٍ لَمْ يَبْرَأْ.

(٤) وَإِذَا مَاتَ الْمَكْفُولُ بِهِ بَرِئَ الْكَفِيلُ بِالنَّفْسِ مِنَ الْكَفَالَةِ.

(٥) فَإِنْ تَكَفَّلَ بِنَفْسِهِ عَلَى أَنَّهُ إِنْ لَمْ يُوَافِ بِهِ فِي وَقْتِ كَذَا، فَهُوَ ضَامِنٌ لِمَا عَلَيْهِ وَهُوَ أَلْفٌ فَإِنْ لَمْ يُحْضِرْهُ فِي الْوَقْتِ لَزِمَهُ ضَمَانُ الْمَالِ وَلَمْ يَبْرَأْ مِنَ الْكَفَالَةِ بِالنَّفْسِ.

(٦) وَلَا تَجُوزُ الْكَفَالَةُ بِالنَّفْسِ فِي الْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَا: تَجُوزُ.

(٧) وَأَمَّا الْكَفَالَةُ بِالْمَالِ فَجَائِزَةٌ مَعْلُومًا كَانَ الْمَالُ الْمَكْفُولُ بِهِ أَوْ مَجْهُولًا، إِذَا كَانَ دَيْنًا صَحِيحًا، مِثْلُ أَنْ يَقُولَ: تَكَفَّلْتُ عَنْهُ بِأَلْفٍ أَوْ بِمَا لَكَ عَلَيْهِ أَوْ بِمَا يُدْرِكُكَ فِي هَذَا الْبَيْعِ،

وَالْمَكْفُولُ لَهُ بِالْخِيَارِ إِنْ شَاءَ طَالَبَ الَّذِي عَلَيْهِ الْأَصْلُ، وَإِنْ شَاءَ طَالَبَ كَفِيلَهُ.

(٨) وَيَجُوزُ تَعْلِيقُ الْكَفَالَةِ بِالشَّرْطِ مِثْلُ أَنْ يَقُولَ: مَا بَايَعْت فُلَانًا فَعَلَيَّ أَوْ مَا ذَابَ لَك عَلَيْهِ فَعَلَيَّ أَوْ مَا غَصبَكَ فَعَلَيَّ، وَإِذَا قَالَ: تَكَفَّلْتُ بِمَا لَك عَلَيْهِ، فَقَامَتْ الْبَيِّنَةُ عَلَيْهِ بِأَلْفٍ ضَمِنَهَا الْكَفِيلُ، وَإِنْ لَمْ تَقُمْ الْبَيِّنَةُ فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْكَفِيلِ مَعَ يَمِينِهِ فِي مِقْدَارِ مَا يَعْتَرِفُ بِهِ، فَإِنْ اعْتَرَفَ الْمَكْفُولُ عَنْهُ بِأَكْثَرَ مِنْ ذَلِك لَمْ يُصَدَّقْ عَلَى كَفِيلِهِ.

(٩) وَتَجُوزُ الْكَفَالَةُ بِأَمْرِ الْمَكْفُولِ عَنْهُ وَبِغَيْرِ أَمْرِهِ، فَإِنْ كَفَلَ بِأَمْرِهِ رَجَعَ بِمَا يُؤَدِّي عَلَيْهِ، وَإِنْ كَفَلَ عَنْهُ بِغَيْرِ أَمْرِهِ لَمْ يَرْجِعْ بِمَا يُؤَدِّي.

(١٠) وَلَيْسَ لِلْكَفِيلِ أَنْ يُطَالِبَ الْمَكْفُولَ عَنْهُ بِالْمَالِ قَبْلَ أَنْ يُؤَدِّيَ عَنْهُ فَإِنْ لُوزِمَ بِالْمَالِ كَانَ لَهُ أَنْ يُلَازِمَ الْمَكْفُولَ عَنْهُ حَتَّى يُخَلِّصَهُ، وَإِذَا أَبْرَأَ الطَّالِبُ الْمَكْفُولَ عَنْهُ أَوْ اسْتَوْفَى مِنْهُ بَرِئَ الْكَفِيلُ، وَإِنْ بَرِئَ الْكَفِيلُ لَمْ يُبْرَأْ الْأَصِيلُ.

(١١) وَلَا يَجُوزُ تَعْلِيقُ الْبَرَاءَةِ مِنْ الْكَفَالَةِ بِشَرْطٍ.

(١٢) وَكُلُّ حَقٍّ لَا يُمْكِنُ اسْتِيفَاؤُهُ مِنْ الْكَفِيلِ لَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ بِهِ كَالْحُدُودِ وَالْقِصَاصِ.

(١٣) وَإِذَا تَكَفَّلَ عَنْ الْمُشْتَرِي بِالثَّمَنِ جَازَ، وَإِنْ تَكَفَّلَ عَنْ الْبَائِعِ بِالْمَبِيعِ لَمْ يَصِحَّ.

(١٤) وَمَنْ اسْتَأْجَرَ دَابَّةً لِلْحَمْلِ فَإِنْ كَانَتْ بِعَيْنِهَا لَمْ تَصِحَّ الْكَفَالَةُ بِالْحَمْلِ، وَإِنْ كَانَتْ بِغَيْرِ عَيْنِهَا جَازَتْ الْكَفَالَةُ.

(١٥) وَلَا تَصِحُّ الْكَفَالَةُ إِلَّا بِقَبُولِ الْمَكْفُولِ لَهُ فِي مَجْلِسِ الْعَقْدِ إِلَّا فِي مَسْأَلَةٍ وَاحِدَةٍ وَهِيَ أَنْ يَقُولَ الْمَرِيضُ لِوَارِثِهِ: تَكَفَّلْ عَنِّي بِمَا عَلَيَّ مِنْ الدَّيْنِ فَتَكَفَّلَ بِهِ مَعَ غَيْبَةِ الْغُرَمَاءِ فَإِنَّهُ يَجُوزُ.

(١٦) وَإِذَا كَانَ الدَّيْنُ عَلَى اثْنَيْنِ وَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيلٌ ضَامِنٌ عَنْ الْآخَرِ فَإِنْ أَدَّى أَحَدُهُمَا لَمْ يَرْجِعْ بِهِ عَلَى شَرِيكِهِ حَتَّى يَزِيدَ مَا يُؤَدِّيهِ عَلَى النِّصْفِ فَيَرْجِعَ بِالزِّيَادَةِ.

(١٧) وَإِذَا تَكَفَّلَ اثْنَانِ عَنْ رَجُلٍ بِأَلْفِ دِرْهَمٍ على أَنَّ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا كَفِيلٌ عَنْ

صَاحِبِهِ، فَمَا أَدَّاهُ أَحَدُهُمَا رَجَعَ بِنِصْفِهِ عَلَى شَرِيكِهِ قَلِيلًا كَانَ أَوْ كَثِيرًا.

(١٨) وَإِذَا مَاتَ الرَّجُلُ وَعَلَيْهِ دُيُونٌ وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا فَتَكَفَّلَ عَنْهُ رَجُلٌ لِلْغُرَمَاءِ لَمْ تَصِحَّ الْكَفَالَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالا: تَصِحُّ.

**ژباړه**

(١) كفالت په دوه ډوله دى: يو كفالت په ځان او بل كفالت په مال سره دى. د ځان كفالت روا دى او ضمانت يې د مكفول به حاضرول دي. دا كفالت هغه مهال منعقدېږي چې ووايې: د فلاني د نفس، غاړې، روح، جسد، سر، يا د هغه د نيمايي يا درېمې برخې ځان كفالت مې وكړ. همدا راز كه ووايي: د هغه ضمانت مې وكړ يا هغه پر ما دى، يا هغه ما ته دى، يا زه د هغه كفيل يا ضامن يم.

(٢) كه په كفالت كې يې په ټاكلي وخت كې د مكفول عنه حاضرول شرط كړي وو، نو لازم دي چې د غوښتنې پر مهال نوموړى حاضر كړي. كه يې حاضر كړ، ښه تر ښه، كه نه حاكم به كفيل تر هغې بندي كړي چې مكفول عنه حاضر كړي. كله يې چې (مكفول عنه) حاضر كړ او داسې ځاى كې يې وروسپاره چې مكفول له يې په محاكمه كولو قادر و، نو كفيل له كفالته خلاص شو.

(٣) كه يې كفالت كړى و چې د قاضي په مجلس كې به يې ورتسليموي او په بازار كې ورتسليم كړ، دى خلاص شو. كه په بيديا كې يې ورتسليم كړ، نه خلاصيږي.

(٤) كه مكفول به مړ شو، د نفس كفيل هم له كفالته خلاص شو.

(٥) كه د نفس كفالت يې وكړ، داسې چې كه نوموړي (مكفول عنه) په فلاني وخت كې (حق) ادا نه كړ، نو دى د هغه (حق) ضامن دى او هغه (حق) زر روپۍ وې، مكفول عنه په نوموړي وخت كې زر روپۍ حاضرې نه كړې، نو پر كفيل زر روپۍ وركول لازم دي او د نفس له كفالته هم خلاص نه دى.

(٦) د امام ابوحنيفه په نزد په حدودو او قصاص كې د نفس كفالت روا نه دى. امام ابويوسف او امام محمد وايي: روا دى.

(٧) د مال كفالت روا دى كه مكفول به معلوم مال وي او كه نامعلوم، خو چې صحيح پور

وي. د بېلګې په ډول داسې ووايي: پر هغه د زړو روپو کفيل يم يا د هغه څه کفيل يم چې ستا ورباندې دي او يا هغه چې په دې بيعه کې درته رسيږي. مکفول له اختيار لري چې له اصلي سړي څخه خپل حق غواړي او که له کفيل څخه.

(٨) په شرط پورې د کفالت مشروط کول روا دي. د بېلګې په ډول داسې ووايي: په فلاني دې چې څه وپلورل پر ما دي، پر فلاني دې چې څه واوښتل پر ما دي، يا فلاني چې درنه څه غصب کړل پر ما دي. که يې وويل: پر فلاني چې ستا څه دي، زه د هغې کفيل يم او په هغه د زرو روپو شاهدي وويل شوه، نو کفيل يې ضامن دی، که شاهدي ونه ويل شوه، نو خبره د کفيل معتبره ده له قسم سره په هغومره مال کې چې دی پرې اعتراف کوي. که مکفول عنه له دې څخه پر ډېرو اعتراف کاوه، نو پر کفيل يې منل نشته.

(٩) کفالت د مکفول عنه په امر او د هغه له امر پرته روا دی، که کفيل د مکفول عنه په امر کفالت وکړ، نو کفيل به يې له آمر څخه غواړي. که کفالت يې د هغه په امر نه و کړی نو له مکفول عنه څخه يې نشي غوښتلای.

(١٠) کفيل نشي کولای چې (د مال) له اداکولو مخکې له مکفول عنه څخه مال وغواړي، که (مکفول له) د مال لپاره د کفيل پسې شوی و، نو کفيل کولای شي چې د (خپل حق تر اخيستو) پورې په مکفول عنه پسې شي. که غوښتونکي مکفول عنه پرېښود او يا يې خپل حق واخيست، نو کفيل هم خلاص دی. که کفيل يې پرېښود، مکفول عنه نه خلاصيږي.

(١١) د کفالت څخه براءت په کوم شرط پورې مشروطول روا نه دي.

(١٢) ټول هغه حقونه چې له کفيل څخه يې ترلاسه کول ممکن نه دي، کفالت يې صحيح نه دی لکه حدود او قصاص.

(١٣) که له مشتري څخه يې د ثمن کفالت وکړ، صحيح دی، خو له بايع څخه د مبيعې کفالت صحيح نه دی.

(١٤) چا چې د بار لپاره سپرلۍ ونيوله، د عين سپرلۍ کفالت صحيح نه دی او له عين سپرلۍ پرته يې کفالت صحيح دی.

(١٥) له دې پرته چې مکفول له (کفالت) په مجلس کې ومني، کفالت صحيح نه دی، مګر په يوه مسئله کې او هغه دا چې ناروغ خپل وارث ته ووايي: پر ما چې کوم پوروونه دي، د هغې

كفالت پر غاړه واخله او هغه د پورورکوونكو په غياب كې كفالت قبول كړي، نو صحيح ده.

(١٦) كه پور په دوو كسانو وي او دواړه د يو بل ضامنان وي، كه يو يې پور اداكړي، نو له بل شريك څخه يې نشي غوښتلاى، مگر دا چې له نيمايي څخه يې زيات اداكړى وي، نو د زياتي غوښتنه كولاى شي.

(١٧) كه دوه تنه له يوه سړي څخه د زرو درهمو كفالت داسې وكړي چې هر يو له خپل ملگري څخه كفيل وي، نو يوه تن يې چې هر څومره اداكړې، د هغې نيمايي له خپل ملگري څخه غوښتلاى شي (اداكړل شوې روپۍ) لږې وي او كه ډېرې.

(١٨) كه سړى مړ شو، پر هغه پوروونه وو او هيڅ شى يې په ميراث نه و پرېښى، خو كوم شخص د هغه د پور وركوونكو پر وړاندې كفالت وكړ، نو د امام ابوحنيفه په نظر يې كفالت صحيح نه دى، خو ياران وايي صحيح دى.

## شرحه

### د كفالت تعريف:

كفالت په لغت كې يوځاى كولو ته وايي او په اصطلاح كې د غوښتنې پر وړاندې له يوې ذمې سره د بلې ذمې غاړه كولو ته كفالت ويل كيږي.

### د كفالت مشروعيت:

كفالت د الله پاك په دې وينا ثابت دى چې فرمايي: ﴿وَلِمَنْ جَاءَ بِهِ حِمْلُ بَعِيرٍ وَأَنَا بِهِ زَعِيمٌ﴾ (يوسف: ٧٢) ژباړه: چا چې راوړ (جام) د هغه لپاره د يوه اوښ بار (مكافات) دى او زه يې كفيل يم.

همدا راز د پيغمبر (عليه السلام) دا حديث يې هم په مشروعيت دلالت كوي چې ترمذي روايت كړي، فرمايي: الزعيم غارم. ژباړه: كفيل ضامن دى.

### د كفالت عناصر:

**كفيل**: هغه څوك چې د بل چا د پور اداكول پر خپله غاړه اخلي.

**مكفول عنه**: هغه پوروړى چې كفيل د هغه د پور اداكول پخپله غاړه اخيستي او اصيل هم ورته ويل كيږي.

**مکفول له**: د پور څښتن.

**مکفول به**: د کفالت موضوع یا پور چې کفیل یې د اداکولو ذمه وهلي وي. د ځان (نفس) په کفالت کې مکفول عنه او مکفول به یو وي.

## د کفالت ډولونه:

کفالت په دوه ډوله دی: د ځان کفالت. د مال کفالت:

## د ځان یا نفس کفالت:

په ټاکل شوي وخت کې له غوښتنې سره سم د مکفول به د حاضرولو له ضمانت څخه عبارت دی چې په ځانګړو ټکو رامنځته کیږي او په متن کې ذکر شوي. د ځان په کفالت کې پر کفیل لازم دي چې مکفول عنه داسې ځای ته حاضر کړي چې له هغه ځایه یې مکفول له د قاضي مجلس ته راوستلای شي، له همدې امله که کفیل نوموړی بازار ته حاضر کړ خلاصیږي، ځکه مکفول له کولای شي چې له بازاره یې د قاضي مجلس ته راولي، البته که کفیل مکفول عنه داسې ځای ته حاضر کړ چې مکفول له یې له هغه ځایه د قاضي مجلس ته په راوستو قادر نه وو، لکه بېدیا، نو دا حاضرول صحیح نه دي.

## د ځان د کفالت پای:

د ځان په کفالت کې د مکفول به په مړینه د کفیل مسؤلیت پای ته رسیږي، ځکه د مړي حاضرول ممکن نه دي. د مکفول له په مړینه د کفیل دنده پای ته نه رسیږي او مکفول به به د مکفول له وارثانو ته سپاري.

که کفیل د نفس د کفالت په ترڅ کې داسې څرګنده کړه چې که مکفول عنه په ټاکلي وخت حق ادا نه کړ، نو دی به یې ورکوي. د بېلګې په ډول حامد د ملالۍ د مېړه سلیم د نفس کفالت وکړي او ووایي: که سلیم په ټاکلي وخت مهر ادا نه کړ، زه به د ملالۍ پنځوس زره افغانۍ مهر ورکوم. په دې صورت کې که د ملالۍ مېړه په ټاکلي وخت حاضر نشي، نو حامد به ملالۍ ته پنځوس زره افغانۍ مهر ورکوي او پر دې سربېره به د ملالۍ مېړه سلیم هم حاضروي، یعنې دواړه کارونه به سرته رسوي. د سلیم حاضرول ځکه ضروري دي، چې کېدای شي پر هغه د ملالۍ نور پوروونه هم وي.

په حدودو او قصاص کې کفالت صحیح نه دی، ځکه حدود او قصاص له کفیل څخه نشي اخیستل کېدای.

**په مال کفالت:**

دا دی چې یو څوک د پور د ځښتن پر وړاندې د پور په غوښتلو سره د پوروړي په مسؤلیت کې ځان ورګډ کړي او د هغه ضامن شي. په مال باندې کفالت روا دی که څه هم د مال اندازه معلومه نه وي، خو مال باید لازم او صحیح پور وي، یعنې له ادا کولو یا ابرا کولو پرته په بل ډول له منځه د تلو وړ نه وي. په همدې بنسټ د مکاتب د آزادېدو قیمت د کفالت وړ نه دی، ځکه د مکاتب قیمت له ادا کولو او ابرا کولو پرته په بل ډول هم له منځه ځي او هغه دا چې مکاتب له آزادۍ تېر شي او د آزادېدو پور یې په خپله له منځه لاړ شي.

**مشروط کفالت:**

داسې شرط پورې د کفالت مشروطول روا دي چې له کفالت سره ملائم او مناسب وي، لکه داسې شرط چې د حق د ثابتېدو سبب کېږي، د بېلګې په ډول یو تن چا ته ووایي: که فلانی ته دې پور ورکړ، زه یې کفیل یم، یا که پر فلاني دې مال وپلوره، زه یې د پیسو ضامن یم، البته داسې شرطونو پورې کفالت مشروطول چې له کفالت سره تړاو نه لري، روا نه دی مثلاً ووایي: که ته کور ته ننوتې، نو زه پر تا د احمد له خوا د اوښتي پور ضامن یم.

د کفالت کړل شوي مال په اندازه کې د کفیل خبره معتبره ده، د کفیل په مقابل کې د مکفول عنه خبره هغه وخت د منلو وړ ده چې په خپله خبره شاهدان ولري.

**کفیل څه وخت له مکفول عنه څخه مال غوښتلای شي؟**

که کفیل د مکفول عنه په امر د هغه د زرو افغانیو پور کفالت وکړي، وروسته د کفالت په نتیجه کې زر افغانۍ مکفول له ته وسپاري، په دې صورت کې کولای شي چې له مکفول عنه څخه هغه زر افغانۍ وغواړي چې ده یې په پور کې ورکړې، خو که کفالت یې د مکفول عنه په امر نه وي کړی، بلکې په خپله خوښه یې کړی وي، په دې صورت کې له هغه څخه نوموړې زر افغانۍ نشي غوښتلای ځکه کفیل په خپله خوښه یو خیراتي کار تر سره کړی.

که مکفول له د کفیل د تېښتې له وېرې له هغه سره ملتیا غوره کړه، یا یې په کفالت کې بندي کړ، نو کفیل هم کولای شي چې له مکفول عنه سره ملتیا غوره کړي او یا هغه بندي کړي، ځکه د ملتیا او بندیتوب اصلي لامل مکفول عنه دی، نو له هغه سره به هم بالمثل معامله کېږي.

د کفالت مشروطول روا دي، خو د کفالت څخه براءت (خلاصون) مشروطول روا نه دي، لکه چې یو مکفول عنه کفیل ته ووایي: که سهار شو، نو ته له کفالت څخه خلاص یې.

**په کومو شیانو کې کفالت صحیح دی؟**

ځرنګه چې ثمن پور دی او پر ځای یې بل مثل منل کیږي، نو کفیل د مشتري کفالت کولای شي، خو دا چې په بیعه کې د مبیعې عین مقصود دی، نو د له منځه تلو په صورت کې یې کفالت ګټه نه لري.

که ټاکلی معلوم څاروی د سپرلۍ لپاره ونیول شي، نو کفالت یې صحیح نه دی، ځکه چې د ټاکلي عین د له منځه تلو په صورت کې کفالت ګټه نه لري، خو که د ټاکلې سپرلۍ کرایه کول مقصد نه بلکې د مطلقې سپرلۍ کرایه کول مقصد وو، بیا کفالت روا دی، ځکه د انتقال لپاره له نورو سپرلیو هم کار اخیستل کېدای شي.

**د ناداره کفالت:**

که شخص مړ شي، د خلکو پورونه وربانديې وي او مال هم ونه لري، په دې صورت کې د امام ابوحنیفه په نظر هېڅوک د ده کفالت نشي کولای، ځکه د پور غوښتنې حق د شخص په مړینې پای ته رسېدلی، خو امام ابویوسف او امام محمد وایي: کفالت یې کېدای شي.

## پوښتنې

١- کفالت تعریف کړئ.

٢- د کفالت د مشروعیت دلایل وواياست.

٣- د کفالت عناصر روښانه کړئ.

٤- کفالت په څو ډوله دی او هم د نفس کفالت تعریف کړئ.

٥- په حدودو او قصاص کې ولې کفالت صحیح نه دی؟

٦- آیا مشروط کفالت روا دی؟ دا موضوع پوره تشریح کړئ.

# حواله

ګرانو زده کوونکو!

ايا تاسو حواله پېژنئ؟

د حوالې شرطونه کوم دي؟

په دې لوست کې به د حوالې په حکمونو ځان پوه کړو.

(١) الْحَوَالَةُ جَائِزَةٌ بِالدُّيُونِ، وَتَصِحُّ بِرِضَا الْمُحِيلِ وَالْمُحْتَالِ لَه وَالْمُحَتالِ عَلَيْهِ.

(٢) فَإِذَا تَمَّتْ الْحَوَالَةُ بَرِئَ الْمُحِيلُ مِنْ الدُّيُونِ وَلَمْ يَرْجِعْ الْمُحْتَالُ عَلَى الْمُحِيلِ إلَّا أَنْ يَتْوَى حَقُّهُ.

(٣) وَالتَّوَى عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ بِأَحَدِ أَمْرَيْنِ: إمَّا أَنْ يَجْحَدَ الْحَوَالَةَ وَيَحْلِفَ وَلَا بَيِّنَةَ عَلَيْهِ أَوْ يَمُوتَ مُفْلِسًا، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: هذان وَجْهانِ و وَجْهٌ ثَالِثٌ، وَهُوَ أَنْ يَحْكُمَ الْحَاكِمُ بِفَلَسِهِ فِي حَالِ حَيَاتِهِ.

(٤) وَإِذَا طَالَبَ الْمُحَالُ عَلَيْهِ الْمُحِيلَ بِمِثْلِ مَالِ الْحَوَالَةِ فَقَالَ الْمُحِيلُ: أَحَلْتَ بِدَيْنٍ لِي عَلَيْكَ، لَمْ يُقْبَلْ قَوْلُهُ وَكَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ الدَّيْنِ.

(٥) وَإِنْ طَالَبَ الْمُحِيلُ الْمُحْتَالَ بِمَا أَحَالَهُ بِهِ فَقَالَ: إنَّمَا أَحَلْتُكَ لِتَقْبِضَهُ لِي، وَقَالَ الْمُحْتَالُ: أَحَلْتَنِي بِدَيْنٍ لِي عَلَيْكَ، فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْمُحِيلِ مَعَ يَمِينِهِ.

(٦) وَيُكْرَهُ السَّفَاتِجُ وَهُوَ قَرْضٌ اسْتَفَادَ بِهِ الْمُقْرِضُ أَمْنَ خَطَرِ الطَّرِيقِ.

## ژباړه

(١) د پوروونو حواله روا ده. حواله د محيل، محتال له او محتال عليه په خوښه صحيح کيږي.

(٢) چې حواله بشپړه شوه، نو محيل له پوره خلاصيږي او محتال له محيل څخه پور نشي

غوښتلی مګر چې حق يې هلاک شي.

(۳) د امام ابوحنيفه په نظر حق په دوو شيانوهلاکيږي: يو دا چې محتال عليه له حوالې څخه منکر شي، قسم وکړي او پر هغه کوم شاهد هم نه وي، بل دا چې مفلس مړ شي، امام ابويوسف او امام محمد وايي: دوې وجهې دا دي او دريمه وجه هم شته، هغه دا ده چې حاکم يې په ژوند په افلاس حکم وکړي.

(٤) چې محتال عليه له محيل څخه د اداکړي پور غوندې مال وغواړي او محيل ووايي: ما پر تا د خپل پور حواله کړې وه، نو دا خبره يې نه منل کيږي او په هغه د حوالې په څېر پور شته.

(٥) که محيل له محتال له څخه د حوالې پيسې وغواړي او ووايي: ما تا ته حواله درکړې وه چې زما لپاره يې قبض کړې او محتال له ويل: حواله دې د هغه پور لپاره راکړې وه چې زما پر تا دی، (په دې صورت کې) د محيل خبره له قسم سره معتبره ده.

(٦) سفاتج مکروه دي او (سفاتج) هغه قرض ته وايي چې قرض ورکوونکی پرې د لارې له خطر څخه ځان خوندي کوي.

## شرحه

**د حوالې تعريف**: حواله په لغت کې نقلولو ته وايي. په اصطلاح کې د يو شخص له ذمې څخه د بل شخص ذمې ته د پور نقلول حواله بلل کيږي.

**د حوالې مشروعيت**: د حوالې مشروعيت د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) په دې حديث سره ثابت دی چې په صحيح البخاري کې راغلی: مَطْلُ الغني ظلم، وإذا أتبع أحدكم على مليء فليتَّبع. ژباړه: د شتمن (له خوا پور) ځنډول ظلم دی، کله چې ستاسو کوم تن ته په شتمن شخص حواله ورکړل شي نو په هغه پسې دې ورشي.

**د حوالې عناصر**:

د حوالې عناصر په لاندې ډول دي:

**محيل**: هغه پوروړی چې په بل چا حواله ورکوي.

**محتال عليه**: هغه شخص چې د بل چا پور په ځان کړي.

**محتال له**: پور ورکوونکی چې خپل پور د پوروړي په ځای بل شخص ته نقل کړي.

**محال به**: پور چې د يوه شخص له ذمې څخه د بل شخص ذمې ته نقل شي.

**د حوالې شرطونه**: په حواله کې د محيل، محتال عليه او محتال له ټولو لپاره عقل، بلوغ، رضا او د مجلس يووالی شرط دی. د محال به يعنې مال لپاره شرط دا دی چې هغه به پور وي، په اعيانو کې حواله صحيح نه ده، همدا راز محال به به لازم او صحيح پور وي چې معنی يې په تېر لوست کې روښانه شوې.

**محيل کله له پوره خلاصيږي**؟ چې پوروړی د پور د اداکولو لپاره په بل چا حواله ورکړي او محتال له يې هم ومني، نو د محيل غاړه خلاصه شوه او محتال له نشي کولای چې له دې وروسته له محيل څخه پور وغواړي، مګر په دوو صورتونو کې کولای شي چې له محيل څخه خپل پور وغواړي او هغه صورتونه په لاندې ډول دي:

۱- چې محتال عليه له حوالې منکر شي او قسم وکړي په داسې حال کې چې محال له په دې خبره کوم شاهد هم ونه لري چې محتال عليه حواله قبوله کړې وه.

۲- چې محتال عليه مفلس مړ شي. څرنګه چې په دغو دواړو صورتونو کې محتال له خپل حق له محتال عليه څخه نشي تر لاسه کولای، نو به له محيل څخه خپل حق وغواړي.

امام ابويوسف او امام محمد په پورتنيو دوو صورتونو درېم صورت هم وراضافه کړی او هغه دا دی چې کله قاضي د محتال عليه په ژوند کې پر هغه د افلاس حکم وکړي، نو په دې وخت کې هم محتال له کولای شي چې له محيل څخه د خپل پور غوښتنه وکړي.

**مسئله**: که زمری د طارق زر افغانۍ پوروړی وي او زمری د پور اداکولو لپاره طارق ته په حميد حواله ورکړي، حميد طارق ته زر افغانۍ ورکړي او وروسته حميد نوموړې زر افغانۍ له زمري څخه وغواړي، خو زمری حميد ته ووايي: ته پر ما کوم حق نه لرې، ځکه ته زما زر افغانۍ پوروړی وې، کومې زر افغانۍ دې چې طارق ته ورکړي، زما پور دې پرې اداکړی.

په پورتني صورت کې به زمری حميد ته زر افغانۍ ورکوي، ځکه د حوالې په معامله کې چې حميد زر افغانۍ ورکړې، زمری ورڅخه منکر نه دی، نو هغه زر افغانۍ ثابتې دي، خو د زمري له خوا پر حميد د زرو روپو د پور دعوه اثبات ته اړتيا لري.

**مسئله**: که زاهد اکرام ته په اسد د زرو افغانيو حواله ورکړي او اکرام يې له اسد څخه تر لاسه کړي، وروسته زاهد (محيل) له اسد (محتال له) څخه د حوالې زر افغانۍ وغواړي او اسد ورته ووايي: هغه حواله خو تا زما د پور د اداکولو لپاره راکړې وه او زاهد ووايي: بلکې د دې لپاره مې حواله درکړې وه چې زما لپاره يې ورڅخه قبض کړې، ته اصلا پر ما کوم پور نه لرې.

په دې صورت کې د زاهد (محيل) خبره له قسم سره معتبره ده، يعنې د اسد د پور دعوه چې

یو نوی شی دی، ثبوت یې شاهدانو ته اړتیا لري.

**سفاتج**: د سفتجة جمع ده، سفتجه پاڼې ته ویل کیږي. سفاتج هغه قرض دی چې قرض ورکوونکی پرې ځان د لارې له خطر څخه خوندي کوي. د سفاتج مثال دا دی چې سوداګر کوم شخص ته په دې شرط قرض ورکړي چې نوموړی شخص به په فلاني ښار کې دا قرض ده ته تسلیموي.

د سفاتجو معامله مکروه ده، ځکه سفاتج داسې قرض دی چې قرض ورکوونکی ورڅخه د لارې له خطرونو څخه د خپلو پیسو د خوندي کولو ګټه اخلي. که د سفاتجو په معامله کې له لومړي سره په بل ښارکې د پور د تسلیمولو شرط نه وي کېښودل شوی او وروسته په طبیعي ډول قرض په بل ښارکې تسلیم کړي، نو پروا نه لري، خوکه له لومړي سره د لارې له خطرونو څخه د خوندي کېدو په خاطر په بل ښارکې د قرض تسلیمول شرط شوي وي، بیا دا معامله مکروه ده.

## فعالیت

زده کوونکي دې د محترم ښوونکي د څارنې لاندې د حوالې صورتونه په ټولګي کې تمثیل کړي.

## پوښتنې

۱- حواله تعریف کړئ.
۲- د حوالې مشروعیت بیان کړئ.
۳- د حوالې عناصر روښانه کړئ.
٤- د حوالې شرطونه کوم کوم دي؟
٥- سفاتج څه ته وايي او حکم یې څه دی؟

## صلحه (۱)

د متخاصمو ډلو ترمنځ کله کله محکمه پرېکړه وکړي، خو له پرېکړې وروسته زړه بدوالی او کرکه پاتې کېږي. د صلحې په کولو سره شخړه هوارېږي او زړه بدوالی هم له منځه ځي. صلحه کول په فقه کې ځانګړي احکام لري چې په دې لوست کې به يې ولولو.

(۱) الصُّلْحُ عَلَى ثَلاثَةِ أَضْرُبٍ: صُلْحٌ مَعَ إِقْرَارٍ، وَصُلْحٌ مَعَ سُكُوتٍ، وَهُوَ أَنْ لَا يُقِرَّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ وَلَا يُنْكِرَ، وَصُلْحٌ مَعَ إِنْكَارٍ، وَكُلُّ ذَلِكَ جَائِزٌ.

(۲) فَإِنْ وَقَعَ الصُّلْحُ عَلَى الْإِقْرَارِ اُعْتُبِرَ فِيهِ مَا يُعْتَبَرُ فِي الْبِيَاعَاتِ، إِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَالٍ، وَإِنْ وَقَعَ عَنْ مَالٍ بِمَنَافِعَ اُعْتُبِرَ بِالْإِجَارَاتِ.

(۳) وَالصُّلْحُ عَنِ السُّكُوتِ وَالْإِنْكَارِ، فِي حَقِّ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ لِافْتِدَاءِ الْيَمِينِ وَقَطْعِ الْخُصُومَةِ، وَفِي حَقِّ الْمُدَّعِي بِمَعْنَى الْمُعَاوَضَةِ.

(٤) وَإِذَا صَالَحَ عَنْ دَارٍ لَمْ تَجِبْ فِيهَا الشُّفْعَةُ، وَإِذَا صَالَحَ عَلَى دَارٍ وَجَبَتْ فِيهَا الشُّفْعَةُ.

(٥) وَإِذَا كَانَ الصُّلْحُ عَنْ إِقْرَارٍ، فَاسْتُحِقَّ بَعْضُ الْمُصَالَحِ عَنْهُ، رَجَعَ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ بِحِصَّةِ ذَلِكَ مِنَ الْعِوَضِ، وَإِنْ وَقَعَ عَنْ سُكُوتٍ أَوْ إِنْكَارٍ فَاسْتُحِقَّ الْمُتَنَازَعُ فِيهِ رَجَعَ الْمُدَّعِي بِالْخُصُومَةِ وَرَدَّ الْعِوَضَ، وَإِنِ اسْتَحَقَّ بَعْضَ ذَلِكَ، رَدَّ حِصَّتَهُ وَرَجَعَ بِالْخُصُومَةِ فِيهِ.

(٦) وَإِنْ ادَّعَى حَقًّا فِي دَارٍ لَمْ يُبَيِّنْهُ، فَصُولِحَ عَنْهُ عَلَى شَيْءٍ، ثُمَّ اسْتَحَقَّ بَعْضَ الدَّارِ، لَمْ يَرُدَّ شَيْئًا مِنَ الْعِوَضِ لِأَنَّ دَعْوَاهُ يَجُوْزُ أَنْ تَكُونَ فِيمَا بَقِيَ.

(٧) وَالصُّلْحُ جَائِزٌ فِي دَعْوَى الْأَمْوَالِ وَالْمَنَافِعِ وَجِنَايَةِ الْعَمْدِ وَالْخَطَأِ، وَلَا يَجُوزُ فِي دَعْوَى حَدٍّ.

(٨) وَإِذَا ادَّعَى رَجُلٌ عَلَى امْرَأَةٍ نِكَاحًا وَهِيَ تَجْحَدُ فَصَالَحَتْهُ عَلَى مَالٍ بَذَلَتْهُ لَهُ حَتَّى

يَتْرُكَ الدَّعْوَى جَازَ وَكَانَ فِي مَعْنَى الْخُلْعِ، وَإِنْ ادَّعَتْ امْرَأَةٌ نِكَاحًا عَلَى رَجُلٍ، فَصَالَحَهَا عَلَى مَالٍ بَذَلَهُ لَهَا لَمْ يَجُزْ.

(٩) وَكُلُّ شَيْءٍ وَقَعَ عَلَيْهِ عَقْدُ الصُّلْحِ، وَهُوَ مُسْتَحَقٌّ بِعَقْدِ الْمُدَايَنَةِ، لَمْ يُحْمَلْ عَلَى الْمُعَاوَضَةِ، وَإِنَّمَا يُحْمَلُ عَلَى أَنَّهُ اسْتَوْفَى بَعْضَ حَقِّهِ وَأَسْقَطَ بَاقِيَهُ، كَمَنْ لَهُ عَلَى رَجُلٍ أَلْفُ دِرْهَمٍ جِيَادٍ فَصَالَحَهُ عَلَى خَمْسِمِائَةٍ زُيُوفٍ، جَازَ وَصَارَ كَأَنَّهُ أَبْرَأَهُ مِنْ بَعْضِ حَقِّهِ، وَلَوْ صَالَحَهُ عَلَى أَلْفٍ مُؤَجَّلٍ جَازَ وَصَارَ كَأَنَّهُ أَجَّلَ نَفْسَ الْحَقِّ، وَلَوْ صَالَحَهُ عَلَى دَنَانِيرَ إِلَى شَهْرٍ، لَمْ يَجُزْ، وَلَوْ كَانَ لَهُ أَلْفٌ مُؤَجَّلَةٌ فَصَالَحَهُ عَلَى خَمْسِمِائَةٍ حَالَّةٍ، لَمْ يَجُزْ، وَلَوْ كَانَ لَهُ أَلْفٌ سُودٌ، فَصَالَحَهُ عَلَى خَمْسِمِائَةٍ بِيضٍ لَمْ يَجُزْ.

## ژباړه

(١) صلحه په درې ډوله ده: له اقرار سره صلحه، له سکوت سره صلحه، هغه داسې چې مدعی علیه نه اقرار وکړي او نه انکار، او د انکار سره صلحه، د (صلحې) دا ټول ډولونه روا دي.

(٢) که صلحه له اقرار سره وشوه او له مال څخه په مال وه، نو د بيعو په څېر حکم لري، او که له مال څخه د منافعو په مقابل کې وشوه، نو په اجارو قياس کيږي.

(٣) له سکوت او انکار سره صلحه، د مدعي علیه په حق کې د قسم د فديې او د شخړې د پرې کولو په معنا او د مدعي په حق کې د معاوضې په معنا ده.

(٤) که څوک له کور څخه صلحه وکړي، نو شفعه په کې نه واجبيږي او که په کور صلحه وکړي شفعه په کې واجبيږي.

(٥) که صلحه په اقرار سره وشوه او ځينې مصالح عنه په استحقاق يوړل شو، مدعی علیه به له مدعي څخه په استحقاق د وړل شوي برخې په اندازه عوض اخلي، خو که صلحه د سکوت يا انکار سره شوې وه او مصالح عنه مال په استحقاق يوړل شو مدعي به (مدعی علیه) ته خپل عوض ورکړي او مستحق سره به خصومت کوي، که يې ځنې برخه په استحقاق يوړل شوه، په همغه اندازه عوض به بېرته ورسپاري او په هغه کې به د مستحق سره خصومت کوي.

(٦) که په یوه کور کې یې د نامعلومې اندازې د حق دعوه وکړه او د دواړو تر منځ په عوض صلحه وشوه، خو وروسته د نوموړي کور ځینې برخه په استحقاق یوړل شوه، نو مدعي به له عوض څخه هېڅ شی بېرته نه ورکوي، ځکه کېدای شي چې دعوا یې په دې پاتې کې وي.

(٧) د مالونو، منافعو او د عمد او خطا جنایتونو په دعواوو کې صلحه روا ده. د حد په دعوا کې صلحه روا نه ده.

(٨) که سړي په کومې ښځې د نکاح دعوه وکړه او هغې انکار کاوه، او هغې په داسې مال چې هغه ته یې ورکړې و، صلحه وکړه څو سړی له دعوې تېر شي، روا ده او د خلعې حکم لري. که ښځې په سړي د نکاح دعوه وکړه او سړي پر هغه مال چې ښځې ته یې ورکړی و، د هغې سره صلحه وکړه، روا نه ده.

(٩) هر داسې شی چې صلحه وربانديې وشي او د مداینې د عقد پر بنسټ د چا حق شي، نو عوض نه ګڼل کیږي، بلکې داسې حکم لري چې مدعي خپل ځینې حق اخیستی او له پاتې تېر شوی دی، لکه څوک چې په چا زر ارزښتمن درهمه پور ولري او هغه سره په پنځو سوو کم ارزښتو درهمو صلحه وکړي، نو روا ده او داسې حکم لري لکه د خپل حق له ځینې برخې چې ورته تېر شوی وي. که په زرو مؤجلو درهمو ورسره صلحه وکړي روا ده او داسې حکم لري لکه په خپل حق کې یې چې ورته نېټه ورکړې وي، که د یوې میاشتې په نېټې یې ورسره په دینارونو صلحه کړې وي، روا نه ده. که پر پوروړي یې زر مؤجلې پور وې او پر پنځو سوو نغدو یې ورسره صلحه وکړه، روا نه ده. که پور یې زر تورې (کم ارزښته) روپۍ وې او صلحه یې ورسره په پنځو سوو سپینو (ارزښتمنو روپو) وکړه، روا نه ده.

## شرحه

**د صلحې تعریف**: صلحه په لغت کې د روغې جوړې په معنا ده او په اصطلاح کې هغه عقد ته ویل کیږي چې د دوو لورو تر منځ د پېښې شخړې د هوارولو لپاره د دوی په خوښه رامنځته کیږي.

**د صلحې مشروعیت**:

الله پاک فرمايي: (وَالصُّلْحُ خَيْرٌ) (النساء: ۱۲۸) ژباړه: او صلحه غوره ده.

په مبارک حدیث کې چې ابن ماجه روایت کړی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي:

الصلح جائز بين المسلمين إلا صلحاً احل حراماً او حرم حلالاً. ژباړه: د مسلمانانو تر منځ صلحه روا ده مګر هغه صلح (ناروا ده) چې حرام حلال کړي یا حلال حرام کړي.

**د صلحې عناصر**: په لاندې توګه دي:

مصالِح: هغه شخص چې صلحه کوي.

مصالح علیه: هغه شی چې صلحه ورباندې کیږي یا د صلحې بدل.

مصالح عنه: هغه شی چې دعوه ورباندې شوې وي او صلحه ورځخه وشي.

مصالَح: هغه څوك چې صلحه ورسره کیږي.

**د صلحې ډولونه**:

صلحه په لاندې درې ډولونو ده چې درېواړه ډولونه روا دي.

۱- د مدعی علیه له اقرار سره صلحه: داسې چې یو شخص د بل په مال دعوه وکړي او هغه پرې اقرار وکړي، خو بیا د بل شي په ورکولو له مدعي سره صلحه وکړي. په دې صلحه کې که مال په مقابل کې ورکړل شي، د بېلګې په ډول د ځمکې په مقابل کې پیسې ورکړل شي، نو د بیعې احکام ورباندې تطبیقیږي، لکه د عیب خیار، د شفعې ثبوت او داسې نور.

که په نوموړې صلحه کې منافع په مقابل کې واقع شي، نو د اجارې احکام ورباندې تطبیقیږي لکه د ګټې اخیستلو د مهال ټاکل او د ګټې اخیستونکي په مړینه د اجارې فسخه کېدل.

۲- د مدعی علیه له انکار سره صلحه: داسې چې مدعي د چا په مال دعوه وکړي او هغه ورځخه انکار وکړي، خو وروسته د ځینو شیانو په ورکولو له مدعي سره روغه وکړي.

۳- د مدعی علیه له سکوت سره صلحه: لکه مدعي چې د چا په مال دعوه وکړي او مدعی علیه د مدعي له دعوې ځخه نه انکار وکړي او نه یې ومني او وروسته مدعي ته د کوم شي په ورکولو سره صلحه وکړي. له انکار او سکوت سره صلحه د مدعی علیه لپاره د قسم د فدیې ورکولو او د مدعي له دعوې څخه ځان ژغورل او د مدعي په حق کې د عوض ترلاسه کول دي، نو له دواړو لورو سره د هغوی د باور په بنسټ معامله کیږي.

**له سکوت یا انکار سره له ځمکې صلحه**:

که میرویس د فرید پر ځمکه دعوه وکړي او فرید ورځخه انکار یا سکوت وکړي، خو وروسته فرید د شخړې د له منځه وړلو لپاره میرویس ته لس زره افغانۍ ورکړي او دواړه صلحه وکړي،

په دې صورت کې شفیع د شفعې غوښتلو حق نه لري، ځکه فرید په دې باور دی، چې ځمکه یې له پخوا څخه په ملکیت کې ده او د صلحې په نتیجه کې د ده په ملکیت کې نه ده داخله شوې.

**له سکوت یا انکار سره په ځمکه صلحه:**

که جمال د خوشحال په موټر دعوه وکړي، خوشحال د جمال له دعوې انکار یا سکوت وکړي خو وروسته دواړه صلحه وکړي او خوشحال د موټر په مقابل کې جمال ته نیم جریب ځمکه ورکړي، په دې صورت کې شفیع د شفعې غوښتنه کولای شي، ځکه جمال ځمکه د عوض په توګه اخیستې او هغه څه چې مدعي یې په صلحه کې د عوض په توګه اخلي، د مدعي په حق کې د بیعې حکم لري او د شفعې حق په بیعه کې ثابت دی.

**د مصالح عنه استحقاق:**

که شفیق د سباوون په دوه جریبه ځمکه دعوه وکړي او سباوون اقرار وکړي، خو وروسته دواړه په دوه سوه زره افغانیو صلحه وکړي او ځمکه له سباوون سره پاتې شي. څه وخت وروسته بل شخص له سباوون څخه د نوموړې ځمکې یو جریب په استحقاق یوسي، په دې صورت کې څرنګه چې صلحه د بیعې حکم لري، نو شفیق به سباوون ته د یوه جریب ځمکې عوض (سل زره افغانۍ) رد کړي او له مستحق سره به دعوی کوي.

په پورتني صورت کې که صلحه له انکار یا سکوت سره شوې وي نو شفیق به سباوون ته عوض ورکوي او چا چې ځمکه په استحقاق وړې، له هغه سره به خصومت او دعوه کوي. په دې صورت کې سباوون له شفیق څخه ځکه عوض اخلي چې د ځمکې په استحقاق وړلو سره معلومه شوه چې شفیق په ځمکه په ناحقه دعوه کړې وه او له سباوون څخه یې په ناحقه روپۍ اخیستې وې.

که احمد د بریالي د کور په ځینې نامعلومه برخه دعوی وکړي او بریالي د پیسو په ورکولو ورسره صلحه وکړي. خو وروسته احمد د نوموړي کور ځینې برخه په استحقاق یوسي، په دې صورت کې بریالی ورڅخه ورکړې پیسې نشي اخیستلی، ځکه کیدای شي د احمد دعوی په هغه برخه کې وي چې د بریالي سره پاتې ده.

**په حدودو کې صلحه:**

په حدودو کې صلحه کول روا نه دي، ځکه حد د الله حق دی او بندګان نشي کولای چې د الله پاک په حق کې له بل چا نه عوض واخلي.

**په ښځه باندې د نکاح دعوی:**

د سړي له خوا پر ښځې د نکاح د دعوې په صورت کې صلحه ځکه روا ده چې د سړي په گومان د نکاح حق ثابت دی، نو صلحه د یوه ثابت حق په مقابل کې رامنځته شوه او دا صلحه د خلعې حکم لري.

**په سړي د نکاح دعوی:**

د ښځې له خوا پر سړي د نکاح په دعوه کې صلحه کول او عوض اخیستل صحیح نه دي، ځکه دا عوض مقابل نه لري، یعنې که نکاح موجوده وي، نو د دواړو د جلاوالي په صورت کې ښځه سړي ته عوض ورکوي نه سړی ښځې ته او که نکاح ثابته نه وي، نو سړی ښځې ته د کوم شي عوض ورکوي؟

## فعالیت

زده کوونکي دې د هغې صلحې مثالونه ووايي چې حرام حلال کړي.

## پوښتنې

١- صلحه تعریف کړئ.
٢- د صلحې د مشروعیت دلایل ووایاست.
٣- د صلحې عناصر تشریح کړئ.
٤- صلح په څو ډوله ده؟ روښانه يې کړئ.
٥- په حدودو کې ولې صلحه روا نه ده؟

# صلحه (٢)

په تېر لوست کې مو د صلحې د تعريف، مشروعيت او ډولونو په اړه معلومات ترلاسه کړل، په دې لوست کې به د صلحې پاتې احكام ولولو.

(١) وَمَنْ وَكَّلَ رَجُلًا لِيُصَالِحَ عَنْهُ فَصَالَحَ لَمْ يَلْزَمْ الْوَكِيل مَا صَالَحَ عَلَيْهِ إلَّا أَنْ يَضْمَنَهُ وَالْمَالُ لَازِمٌ لِلْمُوَكِّلِ.

(٢) فَإِنْ صَالَحَ عَنْهُ عَلَى شَيْءٍ بِغَيْرِ أَمْرِهِ فَهُوَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ:

الف: إنْ صَالَحَ بِمَالٍ وَضَمِنَهُ تَمَّ الصُّلْحُ.

ب: وَكَذَلِكَ إذَا قَالَ: صَالَحْتُك عَلَى أَلْفِي هَذِهِ، تَمَّ الصُّلْحُ وَلَزِمَهُ تَسْلِيمُهَا إلَيْهِ.

ج: وَكَذَلِكَ لَوْ قَالَ: صَالَحْتُك عَلَى أَلْفٍ وَسَلَّمَهَا.

د: وَإِنْ قَالَ: صَالَحْتُك عَلَى أَلْفٍ وَلَمْ يُسَلِّمْهَا فَالْعَقْدُ مَوْقُوفٌ: فَإِنْ أَجَازَهُ الْمُدَّعَى عَلَيْهِ جَازَ وَلَزِمَهُ أَلْفٌ، وَإِنْ لَمْ يُجِزْهُ بَطَلَ.

(٣) وَإِذَا كَانَ الدَّيْنُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ فَصَالَحَ أَحَدُهُمَا عَنْ نَصِيبِهِ عَلَى ثَوْبٍ فَشَرِيكُهُ بِالْخِيَارِ: إنْ شَاءَ تَبِعَ الَّذِي عَلَيْهِ الدَّيْنُ بِنِصْفِهِ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ نِصْفَ الثَّوْبِ إلَّا أَنْ يَضْمَنَ لَهُ شَرِيكُهُ رُبُعَ الدَّيْنِ.

(٤) وَلَوْ اسْتَوْفَى نِصْفَ نَصِيبِهِ مِنْ الدَّيْنِ كَانَ لِشَرِيكِهِ أَنْ يُشَارِكَهُ فِيمَا قَبَضَ ثُمَّ يَرْجِعَانِ عَلَى الْغَرِيمِ بِالْبَاقِي. وَإِنْ اشْتَرَى أَحَدُهُمَا بِنَصِيبِهِ مِنْ الدَّيْنِ سِلْعَةً كَانَ لِشَرِيكِهِ أَنْ يُضَمِّنَهُ رُبُعَ الدَّيْنِ.

(٥) وَإِذَا كَانَ السَّلَمُ بَيْنَ شَرِيكَيْنِ فَصَالَحَ أَحَدُهُمَا مِنْ نَصِيبِهِ عَلَى رَأْسِ الْمَالِ لَمْ يَجُزْ عِنْدَهُمَا. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَجُوزُ الصُّلْحُ.

(٦) وَإِذَا كَانَتْ التَّرِكَةُ بَيْنَ وَرَثَةٍ فَأَخْرَجُوا أَحَدَهُمْ عَنْهَا بِمَالٍ أَعْطَوْهُ وَالتَّرِكَةُ عَقَارٌ أَوْ عُرُوضٌ جَازَ قَلِيلًا كَانَ مَا أَعْطَوْهُ أَوْ كَثِيرًا.

(٧) فَإِنْ كَانَتْ التَّرِكَةُ فِضَّةً فَأَعْطَوْهُ ذَهَبًا أَوْ ذَهَبًا فَأَعْطَوْهُ فِضَّةً فَهُوَ جَائِزٌ.

(٨) وَإِنْ كَانَتْ التَّرِكَةُ ذَهَبًا وَفِضَّةً وَغَيْرَ ذَلِكَ فَصَالَحُوهُ عَلَى فِضَّةٍ أَوْ ذَهَبٍ فَلَا بُدَّ أَنْ يَكُونَ مَا أَعْطَوْهُ أَكْثَرَ مِنْ نَصِيبِهِ مِنْ ذَلِكَ الْجِنْسِ حَتَّى يَكُونَ نَصِيبُهُ بِمِثْلِهِ وَالزِّيَادَةُ بِحَقِّهِ مِنْ بَقِيَّةِ الْمِيرَاثِ.

(٩) وَإِنْ كَانَ فِي التَّرِكَةِ دَيْنٌ عَلَى النَّاسِ فَأَدْخَلُوهُ فِي الصُّلْحِ عَلَى أَنْ يُخْرِجُوا الْمُصَالِحَ عَنْهُ وَيَكُونَ الدَّيْنُ لَهُمْ فَالصُّلْحُ بَاطِلٌ، وَإِنْ شَرَطُوا أَنْ يُبْرِأَ الْغُرَمَاءَ مِنْهُ وَلَا يَرْجِعُ عَلَيْهِمْ بِنَصِيبِ الْمُصَالِحِ فَالصُّلْحُ جَائِزٌ.

**ژباړه:**

(۱) چا چې د صلحې لپاره وکیل ونیو او هغه صلحه وکړه، پر وکیل باندې هغه څه نه لازمیږي چې صلحه یې ورباندې کړې، مګر دا چې وکیل یې ضمانت وکړي او مال په موکل دی.

(۲) که (فضولي) د (مصالح) له امر څخه پرته په کوم شي صلحه وکړي، څلور وجهې لري:

الف: په مال صلحه وکړي او ضمانت یې هم وکړي، نو صلحه بشپړه ده.

ب:همدا راز که ووایي: له تاسره مې زما په دغو زرو (روپیو) صلحه وکړه، صلحه صحیح ده او مقابل لوري ته د دغو پیسو تسلیمول پرې لازم دي.

ج: همدا راز که یې وویل: له تا سره مې په زرو (روپیو) صلحه وکړه او پیسې هم ورتسلیم کړي.

د: که یې وویل: په زرو (روپیو) مې درسره صلحه وکړه او ورتسلیم یې نه کړي نو عقد موقوف دی، که مدعی علیه اجازه وکړه صلحه روا او د زرو (روپیو) سپارل ورباندې لازم دي او که اجازه یې ونه کړه صلحه باطله ده.

(۳) که پور د دوو کسانو تر منځ شریک وي، یو یې د (پوروړي) سره له خپلې برخې څخه په یوه جامه صلحه وکړه، نو شریک یې اختیار لري چې له (پوروړي) څخه خپله پاتې نیمه برخه

غواړي او که (له شریك څخه) نیمه جامه اخلي مګر دا چې شریك یې ورته څلورمه حصه پور ورکړي.

(٤) که یې له (پوروړي) څخه خپله برخه پور واخیست، نو شریك یې حق لري چې له ده سره په اخیستې برخه کې شریك شي او پاتې له پوروړي څخه وغواړي، او که یو له شریکانو څخه د دې پور په برخه سامان واخیست، نو شریك یې کولای شي دا څلورمه برخه پور ورنه واخلي.

(٥) که سلم د دوو کسانو تر منځ شریك و او یوه یې په خپله برخه رآس المال صلحه وکړه نو د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر (دا صلحه) روا نه ده، خو امام ابویوسف وایي: صلحه روا ده.

(٦) که ترکه د وارثانو تر منځ وه او دوی یو وارث په ورکړل شوي مال له ترکې وویست، او ترکه ځمکه یا سامان وي. که ایستل شوي ته یې لږ مال ورکړی وي او که ډېر (صلحه) روا ده.

(٧) که ترکه سپین زر وو او ایستل شوي ته یې سره زر ورکړل، یا ترکه سره زر وو او ایستل شوي شخص ته یې سپین زر ورکړل، (صلحه) صحیح ده.

(٨) که ترکه سره زر، سپین زر او نور شیان وو او د ایستل شوي سره یې په سرو یا سپینو زرو صلحه وکړه، نو ورکړل شوې برخه باید په هغه جنس کې د هغه له ونډې څخه زیاته وي څو (جنس له جنس) سره برابر شي او زیاتوالی په پاتې میراث کې د هغه د حق په مقابل کې راشي.

(٩) که په ترکه کې پر خلکو (د مړي) پور و او دا پور یې په (دې شرط) په صلحه کې داخل کړ چې مصالح به ورنه وباسي او پور به د دوی وي، صلحه باطله ده. که (صلحه کوونکو) دا شرط کړه چې پوروړي به له ده څخه خلاص وي او دوی به له هغوی څخه د مصالح برخه نه غواړي، نو صلحه روا ده.

## شرحه

### په صلحه کې وکالت:

که څوک د صلحې لپاره وکيل ونيسي او وکيل په مال صلحه وکړي، نو ورکول يې په موکل لازم دي نه پر وکيل، خو که وکيل يې د خپل مال څخه د ورکولو ضمانت وکړي نو بيا يې ورکول د وکيل دنده ده.

که وکيل د مصالح له امر پرته په مال صلحه وکړي، د دې صلحې څلور وجهې په متن کې ذکر شوي، په لومړيو درې وجهو کې د مال ورکول په وکيل ځکه لازم دي چې هغه په خپله وينا د مال سپارلو مسؤليت په خپله غاړه اخيستی، البته په څلورمه وجه (په زرو روپيو يې ورسره صلحه وکړه او ورتسليم يې نه کړي) کې يې د مال سپارلو مسؤليت په خپله غاړه نه و اخيستی نو صلحه د موکل تر اجازې موقوفه ده.

### په شريک پور صلحه:

نصير او منير دواړو خپل شريک موبايل په اته سوه افغانيو پر طارق وپلوره او پيسې پور پاتې شوې. وروسته منير له طارق سره په خپل پور صلحه وکړه او په مقابل کې يې ورڅخه يو قاب ساعت واخيست. په دې صورت کې نصير اختيار لري چې له طارق څخه خپله برخه پور اخلي او که له منير سره ځان په ساعت کې شريکوي، ځکه صلحه په نيم پور شوې او په دې پور کې د دواړو حق مشاع دی، ځکه د هغه پور وېشل چې په ذمه وي، صحېح نه دي نو دواړه په ساعت کې شريک دي، خو که منير نصير ته د پور د څلورمې برخې ضمانت وکړ نو نصير به خپل پاتې پور له طارق څخه غواړي.

که منير له طارق څخه خپله نيمه برخه پور (څلور سوه افغانۍ) تر لاسه کړي، د پورتني دليل پر بنسټ چې په پور کې د دواړو حق مشاع دی، نصير کولای شي چې له منير سره ځان په اخيستل شوي پور کې شريک کړي او پاتې پور به په ګډه له طارق څخه اخلي.

په پورتنۍ مسئله کې که منير له طارق څخه د خپل پور په مقابل کې ساعت په بيعه واخلي، د صلحې د صورت پر خلاف نصير حق لري چې منير د پور د څلورمې برخې (دوه سوه افغانيو) ضامن وګرځوي، ځکه صلحه په تېرېدو او سترګو پټولو ولاړه وي، يعنې کله کله

صلحه کوونکی خپل پور، پوره نه تر لاسه کوي، نو د صلحې په صورت کې که نصیر، منیر د ځلورمې برخې ضامن وګرځوي، ښايي منیر تاوان وکړي، خو دا چې د بیعې معامله د ثمن او مبیعې په برابروالي او پوره حق اخیستلو ولاړه ده، نو نصیر کولای شي چې د بیعې په صورت کې منیر د ځلورمې برخې ضامن وګرځوي، ځکه په ضامن ګرځولو سره نه تاواني کیږي.

که هارون او سهیل چې د غنمو سوداګران دي ادریس ته چې بزګر دی دده د کرل شویو لس منو للمي غنمو لپاره دوه زره افغانۍ ورکړي، وروسته یو سوداګر (سهیل) له ادریس څخه د زرو افغانیو په اخیستلو صلحه وکړي او له غنمو اخیستلو تېر شي. دا صلحه روا نه ده ځکه چې په دې سره د خپل شریک سوداګر له اجازې پرته د عقد فسخه کول رامنځته کیږي. امام ابویوسف دا مسئله په عامو پورونو قیاس کړې او روا یې بللې.

## د ورثه و تر منځ صلحه:

که د مړي وارثان په رضا سره د مړي له ترکې څخه په کوم شی باندې له یو وارث سره صلحه وکړي او هغه له میراث غوښتلو تېر شي، روا ده. څرنګه چې دا معامله د معاوضې او بیعې حکم لري، نو د سود احکام باید په پام کې ونیول شي. یعنې که په ترکه کې د مصالح حق زر دیناره وي، نو له زرو دینارو څخه په لږو یا ډېرو صلحه نشي کولای، البته که جنس بدل و نو بیا زیاتوالی او کموالی پروا نه لري.

## د مړي په پورونو صلحه:

که په ترکه کې پر خلکو باندې پور و او ورثه وو یوه وارث ته کوم شی ورکړ او پور یې په صلحه کې داخل کړ او په دې راضي شول چې صلحه کوونکی به له دې پور څخه وباسي او پور به د دوی وي، نو دا صلحه ځکه باطله ده چې پور هغه چا ته تملیک شو چې پور پر هغه نه دی، یعنې پور د پوروړو پر ځای ورثه وو ته تملیک شو او دا تملیک صحیح نه دی، نو صلحه چې په همدې تملیک ولاړه ده هم صحیح نه ده.

که صلحه په دې توګه وي چې صلحه کوونکی پوروړو ته له خپل حق څخه تېر شي، نه به یې صلحه کوونکی او نه هم نور ورثه ورڅخه غواړي، نو دا صلحه ځکه روا ده چې صلحه کوونکي د خپل پور برخه پوروړو ته ساقطه کړې.

## فعالیت

زده کوونکي دې د سود په احکامو وغږېږي.

## پوښتنې

١- که وکیل د مصالح له امر پرته په مال صلحه وکړي، څو وجهې لري؟ بیان يې کړئ.

٢- که په مشترک پور کې یو شریک په خپله برخه صلحه وکړي، دویم شریک به څه کوي؟

٣- که په مشترک سلم کې یو شریک په راس المال صلحه وکړي، روا ده؟

٤- که د مړي یو وارث له نورو سره په کوم شي صلحه وکړي، دا معامله د کوم عقد حکم لري؟

## هبه (بخشش)

هبه او بخشش یوه ښېګڼه ده چې انسانان یې له یو بل سره کوي، په هبې سره د انسانانو تر منځ مینه او خواخوږي رامنځته کېږي او په ټولنه کې د مرستې روحیه غښتلې کېږي. هبه په اسلامي شریعت کې ځانګړي احکام لري چې په دې لوست کې به یې ولولو:

(١) الْهِبَةُ تَصِحُّ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ وَتَتِمُّ بِالْقَبْضِ، فَإِنْ قَبَضَهُ الْمَوْهُوبُ لَهُ فِي الْمَجْلِسِ بِغَيْرِ أَمْرِ الْوَاهِبِ جَازَ، وَإِنْ قَبَضَ بَعْدَ الِافْتِرَاقِ لَمْ يَصِحَّ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ لَهُ الْوَاهِبُ فِي الْقَبْضِ.

(٢) وَتَنْعَقِدُ الْهِبَةُ بِقَوْلِهِ: وَهَبْتُك وَنَحَلْتُك وَأَعْطَيْتُك وَأَطْعَمْتُك هَذَا الطَّعَامَ وَجَعَلْتُ هَذَا الثَّوبَ لَك وَأَعْمَرْتُك هَذَا الشَّيْءَ وَحَمَلْتُك عَلَى هَذِهِ الدَّابَّةِ إِذَا نَوَى بِالْحُمْلَانِ الْهِبَةَ.

(٣) وَلَا تَجُوزُ الْهِبَةُ فِيمَا يُقْسَمُ إِلَّا مَحُوزَةً مَقْسُومَةً.

(٤) وَهِبَةُ الْمُشَاعِ فِي مَا لَا يُقْسَمُ جَائِزَةٌ.

(٥) وَمَنْ وَهَبَ شِقْصًا مُشَاعًا، فَالْهِبَةُ فَاسِدَةٌ، فَإِنْ قَسَّمَهُ وَسَلَّمَهُ جَازَ.

(٦) وَلَوْ وَهَبَ دَقِيقًا فِي حِنْطَةٍ أَوْ دُهْنًا فِي سِمْسِمٍ، فَالْهِبَةُ فَاسِدَةٌ، فَإِنْ طَحَنَ وَسَلَّمَ لَمْ يَجُزْ.

(٧) وَإِنْ كَانَتْ الْعَيْنُ الْمَوْهُوبَةُ فِي يَدِ الْمَوْهُوبِ لَهُ مَلَكَهَا بِالْهِبَةِ وَإِنْ لَمْ يُجَدِّدْ فِيهَا قَبْضًا.

(٨) وَإِذَا وَهَبَ الْأَبُ لِابْنِهِ الصَّغِيرِ هِبَةً مَلَكَهَا الِابْنُ بِالْعَقْدِ وَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فِيهَا قَبْضًا، فَإِنْ وَهَبَ لَهُ أَجْنَبِيٌّ هِبَةً تَمَّتْ بِقَبْضِ الْأَبِ.

(٩) وَإِذَا وُهِبَ لِلْيَتِيمِ هِبَةٌ فَقَبَضَهَا لَهُ وَلِيُّه جَازَ، وَإِنْ كَانَ فِي حِجْرِ أُمِّهِ فَقَبَضَتْهَا لَهُ، جَازَ وَكَذَلِكَ إِذَا كَانَ فِي حِجْرِ أَجْنَبِيٍّ يُرَبِّيهِ، وَإِنْ قَبَضَ الصَّبِيُّ الْهِبَةَ لِنَفْسِهِ وَهُوَ يَعْقِلُ جَازَ.

(١٠) وَإِنْ وَهَبَ اثْنَانِ لِوَاحِدٍ دارًا جازَ، وَإِنْ وَهَبَهَا وَاحِدٌ مِنْ اثْنَيْنِ لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَصِحُّ.

(١١) وَإِذَا وَهَبَ هِبَةً لِأَجْنَبِيٍّ، فَلَهُ الرُّجُوعُ فِيهَا إِلَّا أَنَّهُ يُكْرَهُ إِلَّا أَنْ يُعَوِّضَهُ عَنْهَا أَوْ يَزِيدَ زِيَادَةً مُتَّصِلَةً أَوْ يَمُوتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ أَوْ تَخْرُجَ الْهِبَةُ مِنْ مِلْكِ الْمَوْهُوبِ لَهُ.

(١٢) وَإِنْ وَهَبَ هِبَةً لِذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ مِنْهُ فَلَا رُجُوعَ فِيهَا وَكَذَلِكَ مَا وَهَبَهُ أَحَدُ الزَّوْجَيْنِ لِلْآخَرِ.

(١٣) وَإِذَا قَالَ الْمَوْهُوبُ لَهُ لِلْوَاهِبِ: خُذْ هَذَا عِوَضًا عَنْ هِبَتِكَ أَوْ بَدَلًا مِنْهَا أَوْ فِي مُقَابَلَتِهَا فَقَبَضَهُ الْوَاهِبُ، سَقَطَ الرُّجُوعُ، وَإِنْ عَوَّضَهُ أَجْنَبِيٌّ عَنْ الْمَوْهُوبِ لَهُ مُتَبَرِّعًا فَقَبَضَ الْعِوَضَ سَقَطَ الرُّجُوعُ.

(١٤) وَإِنْ اسْتُحِقَّ نِصْفُ الْعِوَضِ، لَمْ يَرْجِعْ فِي الْهِبَةِ بِشَيْءٍ، إِلَّا أَنْ يَرُدَّ مَا بَقِيَ مِنْ الْعِوَضِ، ثُمَّ يَرْجِعَ فِي كُلِّ الْهِبَةِ.

(١٥) وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ إِلَّا بِتَرَاضِيهِمَا أَوْ بِحُكْمِ الْحَاكِمِ.

(١٦) وَإِذَا تَلِفَتْ الْعَيْنُ الْمَوْهُوبَةُ، ثُمَّ اسْتَحَقَّهَا مُسْتَحِقٌّ، فَضَمَّنَ الْمَوْهُوبَ لَهُ، لَمْ يَرْجِعْ عَلَى الْوَاهِبِ بِشَيْءٍ.

(١٧) وَإِذَا وَهَبَ بِشَرْطِ الْعِوَضِ اُعْتُبِرَ التَّقَابُضُ فِي الْعِوَضَيْنِ، فَإِذَا تَقَابَضَا صَحَّ الْعَقْدُ، وَصَارَ فِي حُكْمِ الْبَيْعِ يُرَدُّ بِالْعَيْبِ وَخِيَارِ الرُّؤْيَةِ وَتَجِبُ فِيهَا الشُّفْعَةُ.

(١٨) وَالْعُمْرَى جَائِزَةٌ لِلْمُعَمَّرِ لَهُ فِي حَالِ حَيَاتِهِ وَلِوَرَثَتِهِ مِنْ بَعْدِ مَوْتِهِ.

الرُّقْبَى بَاطِلَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَقَالَ أبويوسف: جَائِزَةٌ.

(١٩) وَمَنْ وَهَبَ جَارِيَةً إِلَّا حَمْلَهَا صَحَّتْ الْهِبَةُ وَبَطَلَ الِاسْتِثْنَاءُ.

(٢٠) وَالصَّدَقَةُ كَالْهِبَةِ، لَا تَصِحُّ إِلَّا بِالْقَبْضِ وَلَا تَجُوزُ فِي مُشَاعٍ يَحْتَمِلُ الْقِسْمَةَ، وإذا تَصَدَّقَ على فَقِيرَيْنِ بِشَيْءٍ جَازَ. وَلَا يَصِحُّ الرُّجُوعُ فِي الصَّدَقَةِ بَعْدَ الْقَبْضِ.

(٢١) وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمَالِهِ لَزِمَهُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِجِنْسِ مَا تَجِبُ فِيهِ الزَّكَاةُ.

(٢٢) وَمَنْ نَذَرَ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِمِلْكِهِ لَزِمَهُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِالْجَمِيعِ وَيُقَالُ لَهُ: أَمْسِكْ مِنْهُ مِقْدَارَ مَا تُنْفِقُهُ عَلَى نَفْسِكَ وَعِيَالِكَ إِلَى أَنْ تَكْتَسِبَ مَالًا فَإِذَا اكْتَسَبَ مَالًا قِيلَ لَهُ: تَصَدَّقْ بِمِثْلِ مَا أَمْسَكْتَ.

**ژباړه**

(١) هبه په ایجاب او قبول سره صحیح کیږي او په قبض کولو سره بشپړیږي. که موهوب له (دعقد) په مجلس کې د واهب له امر پرته هبه قبض کړي، روا ده. که (د دواړو) له جلا کېدو وروسته يې قبض کړي، صحيح نه ده مگر دا چې واهب ورته د قبض اجازه وکړي.

(٢) هبه د (واهب) په دې وينا سره منعقدېږي: دروميي بخښله، درمې کړه، دا خوراک مې درکړ، دا کالي مې ستا وگرځول، دا شی مې تر عمره ستا کړ، پر دې سپرلی مې سپور کړې او له سپرولو يې نيت بخښش وي.

(٣) هغه مال چې وېشل يې ممکن وي، تر هغې يې بخښش روا نه دی چې وېشل شوی او جلا شوی نه وي.

(٤) د هغه مشاع مال بخښش چې وېشل يې ممکن نه وي، روا دی.

(٥) چا چې مشاعه برخه بخښش کړه هبه يې فاسده ده، که يې وو‌وېشله او بيا يې تسليم کړه روا ده.

(٦) که يې اوړه په غنمو او غوړي په کونځلو کې بخښش کړل، هبه فاسده ده، که يې ژرنده کړل او بيا يې تسليم کړل، روا نه ده.

(٧) که مال د موهوب له په لاس کې و، د قبض له نوي کولو پرته يې په بخښش سره مال گرځي.

(٨) که پلار خپل صغير زوی ته کوم شی بخښش کړي، نو زوی يې په عقد سره مالک گرځي. که پردی سړی ورته بخښش وکړي، د پلار په قبضولو يې هبه بشپړيږي.

(٩) که يتيم ته بخښش وشو او ولي يې ورته قبض کړ روا ده. که د مور په غېږ کې و او مور

يې ورته (بخشش) قبض کړ، روا ده. همدا راز که د پردي په پالنه کې و (او (بخشش) يې ورته قبض کړ روا ده)

(۱۰) که عقلمن ماشوم د ځان لپاره بخشش قبض کړ، صحيح دی.

که دوو کسانو يوه تن ته کور بخشش کړ، روا دی. که يو تن دوو کسانو ته کور بخشش کړ د امام ابوحنيفه په نظر روا نه دی، امام ابويوسف او امام محمد وايي: روا دی.

(۱۱) که پردي سړي ته يې بخشش ورکړ، کولای شي چې بېرته يې ترې واخلي، داکار مکروه دی مگر دا چې هغه يې عوض ورکړي يا په بخشش کې نه بېلېدونکی زياتوالی راشي، يا د عاقدينو يو تن مړ شي، يا د موهوب له له ملکيت څخه هبه ووځي.

(۱۲) که محرم خپلوان ته يې بخشش ورکړ، نو بېرته يې ترې نشي اخيستلای. همدا راز که ښځه او مېړه هم يو بل ته ورکړي بخششونه بېرته نشي اخيستلای.

(۱۳) که موهوب له بخشش کوونکي ته ووايي: دا (مال) د بخشش په عوض، بدل يا مقابل کې واخله او بخشش کوونکی يې واخلي، د رجوع (بخشش بېرته غوښتلو) حق نه لري. که پردی شخص بخشش کوونکي ته د موهوب له له خوا په خيراتي توگه عوض ورکړي او بخشش کوونکی يې قبض کړي، نو د رجوع حق نه لري.

(۱٤) که د عوض نيمه برخه په استحقاق يوړل شي، د بخشش هيڅ برخه بېرته نشي اخيستلای مگر دا چې پاتې عوض هم ورکړي او بيا بخشش بېرته وغواړي.

(۱۵) بخشش بېرته اخيستل صحيح نه دي مگر د دواړو په رضا يا د حاکم په حکم.

(۱٦) که بخشش شوی عين (د موهوب له په لاس کې) هلاک شي، بيا يې څوک په استحقاق يوسي او موهوب له يې تاوان ورکړي، نو موهوب له بخشش کوونکي څخه هېڅ شی نشي غوښتلای.

(۱۷) که د عوض په شرط يې (مال) بخشش کړ، د عوضينو قبض کول معتبر دي، کله يې چې يو له بله قبض کړ، عقد صحيح او د بيعې حکم لري، يعني په عيب او خيار رؤيه سره رديږي او شفعه پکې واجبيږي.

(۱۸) عمرى رواه ده، موهوب له ته د هغه په ژوند کې او ورثه وو ته يې د هغه له مرگه وروسته

ده.

(رقبي) د امام ابوحنيفه او امام محمد په نظر باطله او امام ابويوسف وايي روا ده.

**(۱۹)** چا چې وينځه له حمل پرته بخشش کړه، هبه يې صحيح او استثنا يې باطله ده.

**(۲۰)** صدقه د هبې په څير ده (په حکم کې يعنې) له قبض پرته نه صحيح کيږي.

د هغې مشاع (برخې) خيرات کول روا نه دي چې د وېشلو وړ وي. که دوو کسانو ته يې څه شی خيرات ورکړ، روا دی، په خيرات کې له قبض وروسته رجوع کول صحيح نه دي.

**(۲۱)** که چا د خپل مال د خيراتولو نذر وکړ، نو لازم دي چې هغه جنس خيرات کړي چې زکات پکې واجب دی.

**(۲۲)** چا چې نذر وکړ چې خپل ملکيت به خيراتوي، نو ورباندې لازم دي چې خپل ټول مال خيرات کړي او ورته به ويل کيږي: له شتمنۍ څخه دې دومره سپما کړه چې په خپل ځان او کورنۍ يې مصرفوې، تر څو نور مال وګټې، کله يې چې مال وګټلو ورته به وويل شي: دومره ورڅخه خيرات کړه چې پخوا دې د ځان او کورنۍ لپاره سپما کړی و.

## شرحه

### د هبې تعريف او مشروعيت:

له کوم عوض او بدل پرته د عين تمليک ته هبه ويل کيږي. په حديث کې چې په السنن الکبرى کې دی راغلی، له رسول الله (صلي الله عليه وسلم) څخه روايت شوی چې فرمايي: تهادوا تحابوا. ژباړه: يو بل ته هبه ورکړئ، تر منځ به مو مينه پيدا شي.

**واهب**: بخشش کوونکی.

**موهوب له**: هغه څوک چې مال ورته بخشش شي.

د هبې عقد په ايجاب او قبول سره رامنځته کيږي، د هبې د عقد د بشپړېدو لپاره شرط ده چې د ايجاب او قبول په مجلس کې هبه شوی مال قبض شي، له مجلس وروسته يوازې د واهب په اجازه قبض روا دي. هبه په ځانګړو الفاظو رامنځته کيږي چې په متن کې يې يادونه وشوه.

**د مشاع حق بخشش**:

مشاع حق په دوه ډوله دی: یو هغه چې د جلا کېدلو وړتیا ولري، لکه: دوه جریبه ځمکه چې د دوو تنو تر منځ شریکه وي، خو د هر شریک حق بېل شوی نه وي.

د مشاع حق بل ډول داسې دی چې د جلا کېدلو وړتیا ونه لري، لکه: دوه تنه چې په موټر کې سره شریکان وي، دوی دواړه نشي کولای چې موټر په منځ نیم کړي او هر شریک یوه یوه برخه واخلي.

له پورتنۍ تشریح وروسته وایو چې د وېش وړ مشاع حق له وېشلو وړاندې بخشش کېدای نشي، خو هغه مشاع مال چې د وېشلو وړ نه وي، بخشش کول يې روا دي لکه په موټر کې خپله مشاعه برخه هبه کول. که د وېشلو او جلا کېدلو وړ مشاع مال جلا او برخې برخې کړل شي نو بخشش يې روا دی.

په دانو کې د غوړو هبه کول ځکه روا نه دي چې غوړي لا تر اوسه معدوم دي او د معدوم هبه کول صحیح نه دي او کله چې دا عقد له لومړي سره باطل منعقد شي، نو وروسته په جلا کولو او د غوړو په راپیدا کېدو نه صحیح کیږي.

**په قبض کې واکمني**:

د کوچنیانو پلرونه د هغوی ولیان دي او د هبې په قبضولو کې د هغوی واکمنان دي، همدا راز د کوچنیانو ټول شرعي واکمنان د هبې په قبضولو کې د کوچنیانو واکمني کوي او هبه صحیح ګڼل کیږي. که کوچنی ممیز وي، قبض يې صحیح دی.

**دوو کسانو ته د یو تن بخشش**: د یو تن له لوري دوو کسانو ته کور هبه کول روا نه دي، ځکه چې په دې عمل سره په حقیقت کې په کور کې د دوو کسانو مشاعې برخې رامنځته کول دي او په مشاع شي کې قبض نه شي کېدای، بیا دا کور داسې مشاع مال دی چې د وېشلو وړ دی او د وېشلو وړ مشاع مال له جلا کولو وړاندې بخشش کول روا نه دي.

**د بخشش بېرته اخیستل**: اصلا د بخښل شوي مال بېرته غوښتل د مروت خلاف کار دی، خو بیا هم که بخشش پردو ته بې له عوض شوی وي له لاندې حالاتو پرته يې بېرته اخیستل روا دي، ځکه پردي ته له بخشش څخه مقصد عوض وي نه صله رحمي.

۱- په بخشش کې نه بېلېدونکی زیاتوالی راشي لکه په کور کې ځاه وکیندل شي.
۲- واهب یا موهوب له مړ شي.
۳- هبه د موهوب له له ملکیت څخه ووځي.
واهب نشي کولای چې محارمو، او مېړه یا ښځې ته ورکړل شوی بخشش بېرته وغواړي، ځکه چې له دغسې هبې څخه مقصد صله رحمي ده نه عوض.
**مسئله**:
که صفیه رویا ته د سرو زرو بنګړی بخشش ورکړي او رویا په مقابل کې دوې جوړې جامې ورکړي. وروسته یو جوړ جامې په استحقاق یوړل شي، په دې صورت کې صفیه نشي کولای چې له رویا څخه بنګړی بېرته وغواړي مګر دا چې پاتې جوړه هم رویا ته ورکړي او خپل د سرو زرو بنګړی وغواړي.
**عمری**:
دې ته وایي چې د بېلګې په ډول یو څوک خپل کور چا ته بخشش کړي او ورته ووایي چې زما تر مرګه دا کور ستا دی، یا ستا تر مرګه دا کور ستا دی، ګټه ترې اخله. په دې صورت کې بخشش صحیح او د وخت شرط باطل دی، د موهوب له له مړینې وروسته کور د موهوب له د وارثانو حق دی.
**رقبی**:
که څوک چا ته ووایي: خپل دا کور مې تاته درکړ، که زه له تا مخکې مړ شوم، نو کور ستا شو او که ته له ما مخکې مړ شوې، نو کور به زما وي. د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر دا ډول هبه باطله او عاریت بلل کیږي خو امام ابویوسف وایي چې هبه صحیح ده.
صدقات هم د هبې حکم لري خو له قبض وروسته یې بېرته اخیستل روا نه دي؛ ځکه عوض (ثواب) یې واخیست که یې دوو مسکینانو ته کوم شی صدقه کړ روا دی ځکه مشاع والی نه په کې راځي ځکه صدقه اول الله تعالی ته رسیږي بیا له ده څخه مسکینانو ته.

## فعالیت

زده کوونکي دې شرعي محارم په ګوته کړي.

## پوښتني

۱- هبه تعریف او د مشروعیت دلیل یې وواياست.

۲- واهب او موهوب له چا ته ویل کیږي؟

۳- د مشاع حق ډولونه د مثالونو په ترڅ کې روښانه کړئ.

٤- له پردو څخه د بخشش بېرته اخیستلو حکمونه تشریح کړئ.

۵- عمرى او رقبى تعریف کړئ.

# وقف

خلکو ته د ګټې رسولو لپاره د خپل مال وقف کول يوه داسې لاره ده چې په دوامدار ډول ورڅخه ګټه اخيستل کيږي. دا يو نېک کار او د بنده لپاره اجر لري.

(١) لَا يَزُولُ مِلْكُ الْوَاقِفِ عَنْ الْوَقْفِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، إلَّا أَنْ يَحْكُمَ بِهِ حَاكِمٌ، أَوْ يُعَلِّقَهُ بِمَوْتِهِ فَيَقُولُ: إذَا مِتُّ فَقَدْ وَقَفْتُ دَارِي عَلَى كَذَا. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَزُولُ بِمُجَرَّدِ الْقَوْلِ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَزُولُ الْمِلْكُ حَتَّى يَجْعَلَ لِلْوَقْفِ وَلِيًّا وَيُسَلِّمَهُ إلَيْهِ.

(٢) وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ عَلَى اخْتِلَافِهِمْ خَرَجَ مِنْ مِلْكِ الْوَاقِفِ وَلَمْ يَدْخُلْ فِي مِلْكِ الْمَوْقُوفِ عَلَيْهِ.

(٣) وَوَقْفُ الْمُشَاعِ جَائِزٌ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: لَا يَجُوزُ.

(٤) وَلَا يَتِمُّ الْوَقْفُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ حَتَّى يُجْعَلَ آخِرُهُ لِجِهَةٍ لَا تَنْقَطِعُ أَبَدًا. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إذَا سَمَّى جِهَةً تَنْقَطِعُ جَازَ، وَصَارَ بَعْدَهَا لِلْفُقَرَاءِ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّهِمْ.

(٥) وَيَصِحُّ وَقْفُ الْعَقَارِ، وَلَا يَجُوزُ وَقْفُ مَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: إذَا وَقَفَ ضَيْعَةً بِبَقَرِهَا وَأَكَرَتِهَا وَهُمْ عَبِيدُهُ جَازَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَجُوزُ حَبْسُ الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ.

(٦) وَإِذَا صَحَّ الْوَقْفُ، لَمْ يَجُزْ بَيْعُهُ وَلَا تَمْلِيكُهُ إلاَّ أن يَكُونَ مُشاعاً عِنْدَ أبي يوسف، فَيَطْلُبُ الشَّرِيكُ الْقِسْمَةَ فَتَصِحُّ مُقَاسَمَتُهُ. وَالْوَاجِبُ أَنْ يَبْتَدِئَ مِنْ ارْتِفَاعِ الْوَقْفِ بِعِمَارَتِهِ، سَوَاءٌ شَرَطَ ذَلِكَ الْوَاقِفُ أَوْ لَمْ يَشْرِطْ.

(٧) وَإِنْ وَقَفَ دَارًا عَلَى سُكْنَى وَلَدِهِ، فَالْعِمَارَةُ عَلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى، فَإِنْ امْتَنَعَ مِنْ ذَلِكَ أَوْ كَانَ فَقِيرًا آجَرَهَا الْحَاكِمُ وَعَمَّرَهَا بِأُجْرَتِهَا، فَإِذَا عُمِّرَتْ رَدَّهَا إلَى مَنْ لَهُ السُّكْنَى.

(٨) وَمَا انْهَدَمَ مِنْ بِنَاءِ الْوَقْفِ وَآلَتِهِ صَرَفَهُ الْحَاكِمُ فِي عِمَارَةِ الْوَقْفِ إنْ احْتَاجَ إلَيْهِ،

وَإِنْ اسْتَغْنَى عَنْهُ أَمْسَكَهُ حَتَّى يَحْتَاجَ إِلَى عِمَارَتِهِ فَيَصْرِفَهُ فِيهَا، وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَقْسِمَهُ بَيْنَ مُسْتَحِقِّي الْوَقْفِ.

(۹) وَإِذَا جَعَلَ الْوَاقِفُ غَلَّةَ الْوَقْفِ لِنَفْسِهِ، أَوْ جَعَلَ الْوِلَايَةَ إِلَيْهِ جَازَ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ.

(۱۰) وَإِذَا بَنَى مَسْجِدًا، لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْهُ حَتَّى يُفْرِدَهُ عَنْ مِلْكِهِ بِطَرِيقِهِ وَيَأْذَنَ لِلنَّاسِ بِالصَّلَاةِ فِيهِ، فَإِذَا صَلَّى فِيهِ وَاحِدٌ زَالَ مِلْكُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَزُولُ مِلْكُهُ بِقَوْلِهِ: جَعَلْته مَسْجِدًا.

(۱۱) وَمَنْ بَنَى سِقَايَةً لِلْمُسْلِمِينَ أَوْ خَانًا، يَسْكُنُهُ بَنُو السَّبِيلِ أَوْ رِبَاطًا أَوْ جَعَلَ أَرْضَهُ مَقْبَرَةً، لَمْ يَزُلْ مِلْكُهُ عَنْ ذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ حَتَّى يَحْكُمَ بِهِ حَاكِمٌ.

(۱۲) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ: يَزُولُ مِلْكُهُ بِالْقَوْلِ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: إِذَا اسْتَقَى النَّاسُ مِنَ السِّقَايَةِ وَسَكَنُوْا الرِّبَاطَ وَالْخَانَ وَدَفَنُوْا فِي الْمَقْبَرَةِ زَالَ الْمِلْكُ.

**ژباړه**

(۱) د امام ابوحنیفه په نظر وقف د واقف له ملکیته نه وځي مګر دا چې حاکم يې (په وتلو) حکم وکړي يا واقف وقف تر خپلې مړينې پورې تعليق کړي او ووايي: کله چې زه مړ شوم نو کور مې د فلاني لپاره وقف دی. امام ابويوسف وايي: وقف په محض وينا سره د واقف له ملکيت نه وځي. امام محمد وايي: وقف تر هغې د واقف له ملکيت څخه نه وځي چې د وقف لپاره يې سرپرست نه وي ټاکلی او هغه ته يې سپارلی نه وي.

(۲) کله چې د اختلافاتو په پام کې نيولو سره وقف صحيح شي، نو وقف د واقف له ملکيت څخه وځي او د موقوف عليه په ملکيت کې نه داخليږي.

(۳) د مشاع (مال) وقفول د امام ابويوسف په نظر روا دي. امام محمد وايي: روا نه دي.

(٤) د امام ابوحنيفه او امام محمد په نظر د وقف (عقد) تر هغې نه بشپړيږي چې پای يې يوه دائمي جهت ته نه وي ګرځول شوی، امام ابويوسف وايي: که پای يې مؤقت جهت ته وګرځول شي هم روا دی او له هغې وروسته د فقيرانو حق ګرځي که څه هم ياد کړي يې نه وي.

(۵) د ځمکې وقف کول صحیح دي، د منقولو او لېږدېدونکو شیانو وقف روا نه دی. امام ابویوسف وایي: که خپله ځمکه له غوایانو او بزگرانو سره چې هغوی یې مریان وي، وقف کړي روا ده. امام محمد وایي: د اس او وسلې وقفول روا دي.

(٦) کله چې وقف صحیح شو، بیا یې پلورل او تملیک کول روا نه دي، مگر د امام ابویوسف په نظر که (وقف) د مشاع مال په بڼه وي او شریک یې د وېشلو غوښتنه وکړي نو وېشل یې صحیح دي.

د وقف له عایداتو څخه لومړی د وقفي آبادۍ جوړول واجب دي، که واقف دا شرط کړي وي او که نه.

(٧) که یې کور د چا د اولاد د اوسېدو لپاره وقف کړ، نو جوړول یې هم په هغه چا دي چې د اوسیدو حق په کې لري، که اوسېدونکي له جوړولو ډډه وکړه یا بې وزله و، حاکم به یې په کرایه ورکړي او په کرایه به یې ودان کړي، کله چې ودان شي بېرته به یې اوسېدونکي ته ورکړي.

(٨) د ودانۍ نړېدلي توکي او وسایل به حاکم د ودانۍ په جوړولو کې لگوي که یې ورته (سملاسي) اړتیا درلوده، که نه تر هغې به یې ساتي چې ودانۍ یې بیا لگولو ته اړتیا پیدا کړي څو یې په کې مصرف کړي، دا روا نه دي چې د وقف د مستحقینو تر منځ یې وویشي.

(٩) که واقف د وقف غله د ځان لپاره ورگرځوي، یا یې سرپرستي د ځان کړي، د امام ابویوسف په نظر روا ده.

(١٠) که (واقف) جومات جوړ کړ، تر هغه یې له ملکیته نه وځي چې له خپل ملکیته یې د لارې سره جلا کړی نه وي او خلکو ته یې پکې د لمانځه اجازه نه وي ورکړې، کله چې یو تن پکې لمونځ وکړي، د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر د (واقف) له ملکیت څخه وځي، خو امام ابویوسف وایي: وقف د واقف له ملکیت څخه په دې وینا وځي چې ووایي: دا (ځمکه) مې جومات کړ.

(١١) که څوک د مسلمانانو لپاره د اوبو ورکولو ځای، مسافرخانه یا رباط جوړ کړي او یا خپله ځمکه هدیره وگرځوي، د امام ابوحنیفه په نظر د ده له ملکیته تر هغې نه وځي چې حاکم وریاندې حکم نه وي کړی.

(١٢) امام ابویوسف وایي: په خبره یې له ملکیت څخه وځي. امام محمد وایي: کله چې

خلکك د اوبو ورکولو له ځای څخه اوبه يوسي، په رباط او مسافرخانه کې واوسيږي او په هديره کې مړی خښ کړي نو د واقف له ملکيته وځي.

## شرحه

**د وقف تعريف او مشروعيت**: وقف په لغت کې بندولو او ساتلو ته وايي او د فقهاوو په اصطلاح کې د واقف په ملکيت کې د عين ساتلو او ګټو خيرات کولو ته وقف وايي چې د عاريت په څېر دی.

الله پاک په ډېرو آيتونو کې مسلمانان خيرات کولو ته رابللي او وقف هم د صدقې او خيرات کولو يو ډول دی. د صحيح البخاري د روايت له مخې عبدالله بن عمر (رضي الله عنه) له پيغمبر (عليه السلام) څخه د خپلې ځمکې د صدقه کولو په اړه سلا وغوښته، هغه (عليه السلام) ورته وويل: **إن شئت حبّست أصلها وتصدقت بها**. ژباړه: که دې خوښه وي عين يې له ځان سره وساته او (ګټې) يې صدقه کړه. دا حديث د وقف په مشروعيت او رواوالي دلالت کوي.

**واقف**: هغه چا ته ويل کيږي چې خپل مال وقف کوي.

**موقوف**: هغه عين چې واقف يې وقف کوي.

**موقوف عليه**: هغه جهت (افراد يا کار) چې د وقف ګټې په هغوی مصرفيږي.

**صيغه**: هغه الفاظ او ټکي چې د وقف عقد وربانديې رامنځته کيږي.

**أيا موقوف د واقف له ملکيته وځي**؟ د امام ابوحنيفه په نظر وقف د عاريت په څېر دی او د دوو حالتونو پرته د واقف له ملکيت څخه نه وځي، يعنې واقف کولای شي چې وقف پای ته ورسوي او وقف شوی عين او ګټې يې په خپل ملکيت کې راولي. هغه دوه حالتونه دا دي:

١- چې حاکم د واقف له ملکيت څخه د وقف په وتلو حکم وکړي.

٢- چې وقف تر خپلې مړينې پورې تعليق کړي او داسې ووايي: کله چې زه مړ شوم، نو زما کور دې فلاني ته وقف وي.

د يارانو په مذهب وقف شوی عين د واقف له ملکيت څخه وځي، خو د موقوف عليه په ملکيت کې نه داخليږي، ځکه که د موقوف عليه په ملکيت کې داخل شي نو پلورل او تمليك يې رواکيږي په داسې حال کې چې د وقف پلورل روا نه دي.

## د مشاع وقف کول:

د امام ابویوسف په نظر د مشاع مال چې د تقسیم وړ وي، وقف کول صحیح دي، ځکه د هغه په نظر په وقف کې قبض شرط نه دی. د امام محمد په نظر د مشاع مال چې د وېش وړ وي وقف کول ځکه صحیح نه دي چې په وقف کې قبض شرط دی او د مشاع مال قبض کول ممکن نه دي.

د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر د وقف پای باید داسې لوري ته وګرځول شي چې تلپاتې وي. وقف باید مهالني او مؤقتي نه وي او بېرته واقف ته راونه ګرځي، ځکه همېشه والی د وقف له شرطونو څخه دی، د بېلګې په ډول که څوک ووايي: زما دا یو جریب ځمکه د لسو کلو لپاره د ښوونځي لپاره وقف ده. دا مؤقتي وقف دی او صحیح نه دی.

د امام ابویوسف په نظر همېشه والی د وقف لپاره شرط نه دی، بلکې کله چې ټاکل شوی لوری پای ته ورسیږي، وقفي مال د فقیرانو لپاره ګرځي. نو په پورتنی مساله کې له ټاکلي وخته وروسته ځمکه د فقیرانو لپاره ګرځي.

## د وقف د ګټو مصرفول:

د بېلګې په ډول که کور وقف شي، نو په کرایه کې لومړی حق د کور د رغولو او اصلاح دی، موقوف علیه باید کور ترمیم کړي، که یې له دې کار ډډه وکړه یا یې د ترمیم وس نه درلود، نو چارواکي به کور بل چاته په کرایه ورکوي او له کرایې څخه به د کور ترمیم کیږي، له ترمیم وروسته به موقوف علیه ته سپارل کیږي.

د وقف شوې ودانۍ بېکاره شوي لرګي او نور شیان به بېرته په ودانۍ کې لګول کیږي. که په ودانۍ که د بیا لګولو وړ نه و، نو روا ده چې وپلورل شي او پیسې یې په ودانۍ مصرف شي، موقوف علیه ته د دغو شیانو ورکول روا نه دي.

که واقف د وقف ګټې یا سرپرستي د خپل ځان لپاره شرط کړي، نو د امام ابویوسف په نظر وقف صحیح او د امام محمد په نظر صحیح نه دی، ځکه چې قبض نه رامنځته کیږي او قبض د وقف لپاره شرط دی.

قبض د امام ابوحنیفه او امام محمد په نظر د وقف لپاره شرط دی. په همدې بنسټ که یو څوک جومات جوړ کړي، تر هغې یې له ملکیت څخه نه وځي چې خلکو پکې لمونځ نه وي کړی، ځرنګه چې په جومات کې قبض ممکن نه دی، نو د خلکو لمونځ کول د قبض ځای نیسي، خو د امام ابویوسف په نظر چې قبض شرط نه دی، نو یواځې په ودانولو وقف

بشپړېږي.

په متن کې د اوبو ورکولو ځای، مسافرخانې جوړولو او د ځمکې هدیره گرځولو په مسئله کې د امام ابوحنیفه په نظر د حاکم حکم ځکه شرط دی چې یواځې په ودانولو سره د واقف له ملکیت څخه نه وځي. د امام محمد په نظر د تېرې مسئلې په څېر د خلکو له خوا د اوبو په وړلو، اوسېدو او د مړي په ښخولو سره وقف بشپړېږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې په ټولگې کې د وقف عملیه تمثیل کړي.

## پوښتنې

١- وقف تعریف او د مشروعیت دلایل یې روښانه کړئ.

٢- د وقف عناصر روښانه کړئ.

٣- آیا وقف د واقف له ملکیت څخه وځي؟ په دې اړه د امامانو نظرونه بیان کړئ.

٤- د مشاع مال وقفول څه حکم لري؟

٥- قبض په وقف کې څه حیثیت لري؟ په دې اړه د امامانو اختلاف څرگند کړئ.

# غصب

د بل چا مال په ناحقه او زور اخيستل يو ناروا عمل دی او اسلامي شريعت له هغې څخه منعه کړېده، چې شريعت کې ورته غصب وايي او دا لوست يې د حکمونو په اړه دی.

(١) وَمَنْ غَصَبَ شَيْئًا مِمَّا لَهُ مِثْلٌ فَهَلَكَ فِي يَدِهِ فَعَلَيْهِ ضَمَانُ مِثْلِهِ، وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا مِثْلَ لَهُ فَعَلَيْهِ قِيمَتُهُ يَوْمَ الْغَصْبِ.

(٢) وَعَلَى الْغَاصِبِ رَدُّ الْعَيْنِ الْمَغْصُوبَةِ، وَإِنْ ادَّعَى هَلَاكَهَا حَبَسَهُ الْحَاكِمُ حَتَّى يَعْلَمَ أَنَّهَا لَوْ كَانَتْ بَاقِيَةً لَأَظْهَرَهَا ثُمَّ يَقْضِي عَلَيْهِ بِبَدَلِهَا.

(٣) وَالْغَصْبُ فِيمَا يُنْقَلُ وَيُحَوَّلُ.

(٤) وَإِذَا غَصَبَ عَقَارًا فَهَلَكَ فِي يَدِهِ لَمْ يَضْمَنْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: يَضْمَنُهُ. وَمَا نَقَصَ بِفِعْلِهِ وَسُكْنَاهُ ضَمِنَهُ فِي قَوْلِهِمْ جَمِيعًا.

(٥) وَإِذَا هَلَكَ الْمَغْصُوبُ فِي يَدِ الْغَاصِبِ بِفِعْلِهِ أَوْ بِغَيْرِ فِعْلِهِ ضَمِنَهُ، فَإِنْ نَقَصَ فِي يَدِهِ فَعَلَيْهِ ضَمَانُ النُّقْصَانِ.

(٦) وَمَنْ ذَبَحَ شَاةَ غَيْرِهِ فَمَالِكُهَا بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ ضَمَّنَهُ قِيمَتَهَا وَسَلَّمَهَا إِلَيْهِ، وَإِنْ شَاءَ ضَمَّنَهُ نُقْصَانَهَا، وَمَنْ خَرَقَ ثَوْبَ غَيْرِهِ خَرْقًا يَسِيرًا ضَمِنَ نُقْصَانَهُ، وَإِنْ خَرَقَهُ خَرْقًا كَثِيرًا يُبْطِلُ عَامَّةَ مَنَافِعِهِ فَلِمَالِكِهِ أَنْ يُضَمِّنَهُ جَمِيعَ قِيمَتِهِ.

(٧) وَإِذَا تَغَيَّرَتْ الْعَيْنُ الْمَغْصُوبَةُ بِفِعْلِ الْغَاصِبِ حَتَّى زَالَ اسْمُهَا وَأَعْظَمُ مَنَافِعِهَا زَالَ مِلْكُ الْمَغْصُوبِ مِنْهُ عَنْهَا وَمَلَكَهَا الْغَاصِبُ وَضَمِنَهَا، وَلَمْ يَحِلَّ لَهُ الِانْتِفَاعُ بِهَا حَتَّى يُؤَدِّيَ بَدَلَهَا، وَهَذَا كَمَنْ غَصَبَ شَاةً فَذَبَحَهَا وَشَوَّاهَا أَو طَبَخَهَا، أَو غَصَبَ حِنْطَةً فَطَحَنَهَا، أَو حَدِيدًا فَاتَّخَذَهُ سَيْفًا، أَو صُفْرًا فَعَمِلَهُ آنِيَةً.

(٨) وَإِنْ غَصَبَ فِضَّةً أَوْ ذَهَبًا، فَضَرَبَهَا دَرَاهِمَ أَوْ دَنَانِيرَ أَوْ آنِيَةً لَمْ يَزُلْ مِلْكُ مَالِكِهَا عَنْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٩) وَمَنْ غَصَبَ سَاحَةً فَبَنَى عَلَيْهَا زَالَ مِلْكُ مَالِكِهَا عَنْهَا، وَلَزِمَ الْغَاصِبَ قِيمَتُهَا.

(١٠) وَمَنْ غَصَبَ أَرْضًا فَغَرَسَ فِيهَا أَوْ بَنَى فِيهَا قِيلَ لَهُ: اقْلَعْ الْبِنَاءَ وَالْغَرْسَ وَرُدَّهَا إِلَى مَالِكِهَا فَارِغَةً، فَإِنْ كَانَتْ الْأَرْضُ تَنْقُصُ بِقَلْعِ ذَلِكَ، فَلِلْمَالِكِ أَنْ يَضْمَنَ لَهُ قِيمَةَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ مَقْلُوعًا.

(١١) وَمَنْ غَصَبَ ثَوْبًا فَصَبَغَهُ أَحْمَرَ أَوْ سَوِيقًا فَلَتَّهُ بِسَمْنٍ، فَصَاحِبُهُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ ضَمَّنَهُ قِيمَةَ ثَوْبِهِ أَبْيَضَ وَمِثْلَ السَّوِيقِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ لِلْغَاصِبِ، وَإِنْ شَاءَ أَخَذَهُمَا وَضَمِنَ مَا زَادَ الصَّبْغُ وَالسَّمْنُ فِيهِمَا.

(١٢) وَمَنْ غَصَبَ عَيْنًا فَغَيَّبَهَا، فَضَمَّنَهُ الْمَالِكُ قِيمَتَهَا، مَلَكَهَا الْغَاصِبُ بِالْقِيمَةِ، وَالْقَوْلُ فِي الْقِيمَةِ قَوْلُ الْغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ إِلَّا أَنْ يُقِيمَ الْمَالِكُ الْبَيِّنَةَ بِأَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، فَإِنْ ظَهَرَتْ الْعَيْنُ وَقِيمَتُهَا أَكْثَرُ مِمَّا ضَمِنَ، وَقَدْ ضَمِنَهَا بِقَوْلِ الْمَالِكِ أَوْ بَيِّنَةٍ أَقَامَهَا الْمَالِكِ أَوْ بِنُكُولِ الْغَاصِبِ عَنْ الْيَمِينِ فَلَا خِيَارَ لِلْمَالِكِ، وَإِنْ كَانَ ضَمِنَهَا بِقَوْلِ الْغَاصِبِ مَعَ يَمِينِهِ فَالْمَالِكُ بِالْخِيَارِ: إِنْ شَاءَ أَمْضَى الضَّمَانَ وَإِنْ شَاءَ أَخَذَ الْعَيْنَ وَرَدَّ الْعِوَضَ .

(١٣) وَوَلَدُ الْمَغْصُوبَةِ وَنَمَاؤُهَا وَثَمَرَةُ الْبُسْتَانِ الْمَغْصُوبِ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْغَاصِبِ إِنْ هَلَكَتْ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ إِلَّا أَنْ يَتَعَدَّى فِيهَا أَوْ يَطْلُبَهَا مَالِكُهَا فَيَمْنَعَهُ إِيَّاهَا.

(١٤) وَمَا نَقَصَتْ الْجَارِيَةُ بِالْوِلَادَةِ فَمِنْ ضَمَانِ الْغَاصِبِ، فَإِنْ كَانَ فِي قِيمَةِ الْوَلَدِ وَفَاءٌ بِهِ جُبِرَ النُّقْصَانُ بِالْوَلَدِ وَسَقَطَ ضَمَانُهُ عَنْ الْغَاصِبِ وَلَا يَضْمَنُ الْغَاصِبُ مَنَافِعَ مَا غَصَبَهُ إِلَّا أَنْ يَنْقُصَ بِاسْتِعْمَالِهِ فَيَغْرَمُ النُّقْصَانَ.

(١٥) وَإِذَا اسْتَهْلَكَ الْمُسْلِمُ خَمْرَ الذِّمِّيِّ أَوْ خِنْزِيرَهُ ضَمِنَ قِيمَتَهُمَا، وَإِنْ اسْتَهْلَكَهُمَا مُسْلِمٌ لِمُسْلِمٍ لَمْ يَضْمَنْ.

**ژباړه**:

(۱) چا چې داسې شی غصب کړ چې مثل یې درلود او په لاس کې یې هلاک شو، نو پر هغه د مثل ضمان دی. که شی داسې و چې مثل یې نه درلود، نو پر هغه یې د غصب د ورځې قیمت لازم دی.

(۲) په غاصب باندې د غصب کړي شي بېرته ورکول دي. که یې د هلاکېدو دعوه وکړه، حاکم به یې تر هغې بندي کړي چې یقین یې راشي چې که مغصوبه (ورسره) پاتې وای، نو ښکاره کړې به یې وه، بیا به ورباندې د بدل ورکولو حکم وکړي.

(۳) غصب په هغو مالونو کې (معتبر) دی چې د نقل او لېږدولو وړ وي.

(٤) که ځمکه یې غصب کړه او په لاس کې یې هلاکه شوه د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نظر ضامن نه دی. امام محمد وایي: ضامن یې دی. او هغه چې په خپل لاس او اوسېدو یې نیمګړې کړې وي، د ټولو امامانو په نظر ضامن دی.

(٥) که مغصوبه د غاصب په لاس کې د ده په کړنه یا د ده بې کړو هلاکه شي، تاوان به یې ورکوي، که یې په لاس کې نیمګړې شي نو د نقصان تاوان ورباندې دی.

(٦) چا چې پردی پسه حلال کړ، نو څښتن یې اختیار لري چې قیمت یې ترې اخلي او پسه ورپرېږدي او که د نقصان تاوان ترې اخلي. چا چې پردۍ جامې لرې وشلولې نو تاوان به یې ورکوي، که دومره ډېرې یې وشلولې چې په عام ډول ګټه نشوه ترې اخیستل کېدای، نو څښتن یې کولای شي چې د ټول قیمت تاوان ترې واخلي.

(۷) که غصب شوی مال د غاصب په عمل سره دومره تغیر ومومي چې پخوانی عمده ګټې او پخوانی نوم یې له منځه لاړ، د مغصوب منهُ له ملکیت څخه وځي او د غاصب ملکیت ګرځي او تاوان به یې ورکوي، غاصب ته ورڅخه تر هغې ګټه اخیستل روا نه دي چې بدل یې نه وي ورکړی، لکه څوک چې پسه غصب کړي، حلال او وریت یا پوخ یې کړي، یا غنم غصب او ژرنده یې کړي، یا اوسپنه غصب او توره ترې جوړه کړي، زیړ غصب او لوښي ترې جوړ کړي.

(۸) که سپین یا سره زر غصب کړي او بیا ترې سکې یا لوښې جوړ کړي، د امام ابوحنیفه په

نزد د څښتن له ملکیت څخه نه وځي.

(۹) چا چې ساجه (تیر)[1] غصب کړ او ودانۍ یې وربانديې جوړه کړه، د څښتن له ملکیت څخه وځي او پر غاصب یې قیمت ورکول لازم دي.

(۱۰) چا چې ځمکه غصب کړه او ونې یې پکې وکرلې، یا یې ودانۍ پکې جوړه کړه، نو ورته به وویل شي: ونې ترې وباسه او ودانۍ ړنګه کړه او څښتن ته یې تشه ورتسلیم کړه! که ځمکه د ونو او ودانۍ په لرې کولو زیانمنه کېده، نو څښتن کولای شي چې د ایستل شوو ونو او ړنګې ودانۍ په توګه ورته قیمت ورکړي او د ده شي.

(۱۱) چا چې جامې غصب او سور رنګ یې ورکړ یا یې ستوان غصب او له غوړو سره یې ګډ کړل، نو څښتن یې اختیار لري چې د سپینو جامو قیمت او د خپلو ستوانو په څېر ستوان ورڅخه اخلي او مغصوبه غاصب ته پرېږدي او که خپل مال اخلي او د زیاتي رنګ او غوړو قیمت ورکوي.

(۱۲) چا چې یو عین غصب کړ او پټ یې کړ او څښتن ته یې د هغې قیمت ورکړ د غاصب ملکیت ګرځي. په قیمت کې یې د غاصب خبره د قسم سره معتبره ده مګر دا چې څښتن یې د شاهدانو په واسطه قیمت زیات ثابت کړي. که عین بېرته راپیدا شي او قیمت یې د ورکړې تاوان څخه زیات وي په داسې حال کې چې غاصب د څښتن په وینا یا د ده په ګواهانو او یا هم د غاصب په نکول سره قیمت اخیستی وي نو څښتن اختیار نه لري خو که غاصب د قیمت ضمانت د غاصب د وینا یا قسم په بنسټ کړی وي نو څښتن اختیار لري چې اخیستل شوی عوض کافي بولي او که راپیدا شوی عین اخلي او عوض بېرته ورکوي.

(۱۳) د مغصوبې بچی او زیاتوالی او د غصب شوي باغ میوې د غاصب په لاس کې امانت دي. که هلاک شول، پر غاصب یې تاوان نشته مګر دا چې تېری پرې وکړي یا یې څښتن وغواړي او دی یې ور نه کړي.

(۱٤) که وینځه له غاصب سره په ولادت نیمګړې شي، نو تاوان یې پر غاصب دی. که په زېږولي بچي یې تاوان خلاصېده، نو غاصب له تاوانه خلاص دی. غاصب د مغصوبې د ګټو

---

۱. په جیم سره د ساج مفرد دی او هغه لویه او کلکه ونه ده چې د کورونو په دروازو او ابادۍ کې کارول کېږي او دلته ترې مراد تېر دی.

ضامن نه دی مگر دا چې د هغه په کارولو سره نیمگړتیا رامنځته شي، نو تاوان به ورکوي.
**(۱۵)** که مسلمان د ذمي شراب یا خوگ هلاک کړي، نو د قیمتونو یې ضامن دی، خو که مسلمان د مسلمان شراب یا خوگ هلاک کړي، نو تاوان پرې نشته.

## شرحه

### د غصب تعریف او حرمت:

په لغت کې په زور له بل چا څخه د یو شي اخیستلو ته غصب ویل کیږي او په اصطلاح کې د څښتن له اجازې پرته د هغه متقوم مال په داسې ډول اخیستل چې د هغه له لاسه ووځي، غصب بلل کیږي.
غصب د قرآني آیتونو او نبوي احادیثو له مخې حرام دی. الله پاک فرمایي: (یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ لاَ تَأْکُلُواْ أَمْوَالَکُمْ بَیْنَکُمْ بِالْبَاطِلِ) (النساء: ۲۹) ژباړه: ای مؤمنانو! په خپلو منځو کې یو د بل مالونه په ناروا سره مه خورئ.
همدا راز په هغه حدیث کې چې بخاري روایت کړی، رسول الله (صلي الله علیه وسلم) فرمایي: إِنَّ دِمَاءَکُمْ وَأَمْوَالَکُمْ وَأَعْرَاضَکُمْ حَرَامٌ عَلَیْکُمْ. ژباړه: ستاسو وینې، مالونه او ستاسې ناموس پر تاسو حرام دی.

### غاصب سره به څه کیږي؟

که څوک د چا مال غصب کړي او غصب شوی مال ورسره موجود وي، نو بېرته به یې د مال څښتن ته ورسپاري. که غاصب د مغصوبې د هلاکت دعوه وکړي قاضي به یې ترهغې بندي کوي چې دا باور یې راشي چې مال په رښتیا هلاک شوی. که غصب شوی مال له مثلي مالونو څخه و او ورڅخه هلاک شو، نو پر غاصب لازم دي چې مثل یې څښتن ته وسپاري، لکه غنم، جوار، وربشې او نور. که غصب شوی مال له قیمي مالونو څخه و او هلاک شو، نو قیمت به یې څښتن ته سپاري لکه غوا، مېښه او داسې نور.
هغه شیان چې د لیږدولو وړ نه دي لکه ځمکه، د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نظر یې غصب ممکن نه دی، له همدې امله که مغصوبه ځمکه د سیلاب په وسیله له منځه لاړه شي په غاصب یې تاوان نشته، خو د امام محمد په نظر غاصب ضامن دی، البته که غاصب قصدا

ویجاړه کړي وي، نو په اتفاق سره ضامن دی.

که منقول مال د غاصب په لاس کې هلاک شي، که یې غاصب هلاك کړي او که په خپله هلاك شي، تاوان یې پر غاصب دی. که مال هلاك نه شو، بلکې نیمګړی شو، د نیمګړتیا تاوان په غاصب دی.

**د ضمان (تاوان) قاعده:**

که غاصب په مغصوبه کې دومره بدلون راوست چې په نوموړي تغییر سره د مال نوم بدلېده او د مال پخوانۍ عمده ګټې ترې نه اخیستل کېدې، نو مغصوب منه حق لري چې له غاصب څخه د خپل مال قیمت واخلي او مال غاصب ته پرېږدي. لکه څوك چې د چا پسه غصب کړي او حلال یې کړي، په دې صورت کې مغصوب منه کولای شي چې د پسه غوښه غاصب ته پرېږدي او قیمت ورڅخه واخلي، په دې حالت کې د پسه غوښه تر هغې غاصب ته حلاله نه ده چې قیمت یې نه وي ورکړی.

که چیرې په غصب شوي مال کې دومره بدلون نه و راغلی چې نوم یې بدل شي یا عمده ګټې له لاسه ورکړي نو مغصوب منه به یوازې د نیمګړتیا تاوان اخلي او ټول مال په غاصب نشي تاوانولای لکه غاصب چې د غصب شوي موټر اشاره ماته کړي نو مغصوب منه یوازې د اشارې د تاوان اخیستلو حق لري.

که غاصب سره یا سپین زر په سکو بدل کړل نو د امام صاحب په قول به سکې ردوي، له سکو پرته تاوان ورباندې؛ ځکه نشته چې غاصب یې مالك نه ګرځي؛ ځکه چې د زرو نوم او وزن په خپل حال پاتې دی او ډېر بدلون په کې نه دی راغلی.

که څوك په مغصوبه ځمکه کې ونې وکري نو ښښتن ته د سپارلو په مهال یې په ایستلو مکلف دی، که د ونو ایستلو ځمکې ته زیان رسولو او ښښتن یې په ایستلو راضي نه و نو ونې به په ځمکه کې پرېږدي او غاصب ته به د نومړو ونو قیمت د ایستلو شوو ونو په توګه ورکړي.

که له چا څخه جامې غصب شوې او غاصب رنګ ورکړ، یعنې زیاتوالی یې په ارزښت کې راغی نو مغصوب منه اختیار لري چې د رنګ قیمت ورکوي او که جامې پر غاصب تاوانوي او قیمت یې ورنه اخلي.

## د قیمي مغصوبې ضمان:

د مغصوبې د قیمت په تاوان کې د غاصب خبره له قسم سره معتبره ده. که د مغصوبې قیمت ادا شي او بیا ورکه مغصوبه راپیدا شي او قیمت یې له اخیستي قیمت څخه زیات وي، نو که د مغصوبې قیمت د غاصب له وینا او قسم سره تاکل شوی و، څښتن حق لري که یې خوښه وه، زیاتوالی به ورنه واخلي او که یې خوښه وه، اخیستی قیمت به ورته رد کړي او مغصوب به واخلي، خو که د مغصوبې قیمت د غاصب له وینا او قسم سره نه و ټاکل شوی، اختیار نه لري.

## د مغصوبې ګټې:

د مغصوبې بچي، زیاتوالی او د باغ میوې د غاصب په لاس کې د امانت بڼه لري، یعنې که د غاصب له تیري پرته هلاک شي، نو پر غاصب یې تاوان نشته، خو که د غاصب په تیري هلاک شي ضامن ګڼل کیږي.

که څاروی غصب شي او له غاصب سره بچی وزیږوي، له یوې خوا په بچي زیږولو د څاروي قیمت کم شي، خو له بل پلوه د بچي قیمت د څاروي له قیمت سره یو زیاتوالی دی چې رامنځته کیږي. که د بچي په زیاتوالي د څاروي د قیمت کموالی پوره کېده نو غاصب ضامن نه دی، خو که د بچي په زیاتوالي د څاروي د قیمت کموالی نه جبیره کېده غاصب د کموالي ضامن دی.

څرنګه چې شراب او خوګ د ذمي په حق کې متقوم مال دی، نو مسلمان یې له هغه څخه د غصب په صورت کې په هلاکولو ضامن ګڼل کیږي، خو دا چې د مسلمان لپاره متقوم مال نه دی، نو که مسلمان له مسلمان څخه شراب غصب او بیا هلاک کړي، ضامن نه ګڼل کیږي، ځکه غصب یوازې په متقوم مال کې معتبر دی.

## فعالیت

زده کوونکي دې د اسلامي شريعت له مخې د غصب په زيانونو خبرې وکړي.

## پوښتني

۱- غصب تعريف او د حرمت دلايل يې بيان کړئ.

۲- که غصب شوی مال له غاصب څخه هلاک شوی وي، مغصوب منه د څه شي مستحق دی؟

۳- په غصب کې د ضمانت قاعده تشريح کړئ.

٤- که غاصب سره زر په سکو بدل کړي، مغصوب منه د څه شي مستحق دی؟

٥- که مسلمان د مسلمان شراب غصب کړي، په تاوان کې به څه ورکوي؟

# وديعت

د امانت په توګه له خلکو سره مالونه کېښودل هغه اړتيا ده چې زياته پېښيږي، کله کله د امانتونو د له منځه تلو په سبب د خلکو تر منځ شخړې هم رامنځته کيږي. په دې لوست کې به د وديعت (امانت) د احکامو په اړه تاسو ته معلومات درکړو.

(١) الْوَدِيعَةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُودَعِ إِذَا هَلَكَتْ لَمْ يَضْمَنْهَا.

(٢) وَلِلْمُودَعِ أَنْ يَحْفَظَهَا بِنَفْسِهِ وَبِمَنْ فِي عِيَالِهِ، فَإِنْ حَفِظَهَا بِغَيْرِهِمْ أَوْ أَوْدَعَهَا ضَمِنَ إِلَّا أَنْ يَقَعَ فِي دَارِهِ حَرِيقٌ فَيُسَلِّمَهَا إِلَى جَارِهِ، أَوْ تَكُونَ فِي سَفِينَةٍ يَخَافُ الْغَرَقَ فَيَنْقُلُهَا إِلَى سَفِينَةٍ أُخْرَى.

(٣) وَإِنْ خَلَطَهَا الْمُودَعُ بِمَالِهِ حَتَّى صَارَتْ لَا تَتَمَيَّزُ ضَمِنَهَا، فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَحَبَسَهَا عَنْهُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى تَسْلِيمِهَا ضَمِنَ.

(٤) وَإِنْ اخْتَلَطَتْ بِمَالِهِ مِنْ غَيْرِ فِعْلِهِ فَهُوَ شَرِيكٌ لِصَاحِبِهَا.

(٥) فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُودَعُ بَعْضَهَا ثُمَّ رَدَّ مِثْلَهُ فَخَلَطَهُ بِالْبَاقِي ضَمِنَ الْجَمِيعَ.

(٦) وَإِذَا تَعَدَّى الْمُودَعُ فِي الْوَدِيعَةِ بِأَنْ كَانَتْ دَابَّةً فَرَكِبَهَا أَوْ ثَوْبًا فَلَبِسَهُ أَوْ عَبْدًا فَاسْتَخْدَمَهُ أَوْ أَوْدَعَهَا عِنْدَ غَيْرِهِ ثُمَّ أَزَالَ التَّعَدِّيَ أَوْ رَدَّهَا إِلَى يَدِهِ زَالَ الضَّمَانُ، فَإِنْ طَلَبَهَا صَاحِبُهَا فَجَحَدَهُ إِيَّاهَا فَهَلَكَ ضَمِنَهَا، فَإِنْ عَادَ إِلَى الِاعْتِرَافِ لَمْ يَبْرَأْ مِنَ الضَّمَانِ.

(٧) وَلِلْمُودَعِ أَنْ يُسَافِرَ بِالْوَدِيعَةِ وَإِنْ كَانَ لَهَا حِمْلٌ وَمُؤْنَةٌ.

(٨) وَإِذَا أَوْدَعَ رَجُلَانِ عِنْدَ رَجُلٍ وَدِيعَةً ثُمَّ حَضَرَ أَحَدُهُمَا فَطَلَبَ نَصِيبَهُ مِنْهَا لَمْ يَدْفَعْ إِلَيْهِ شَيْئًا مِنْهَا حَتَّى يَحْضُرَ الْآخَرُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَدْفَعُ إِلَيْهِ نَصِيبَهُ.

(٩) وَإِنْ أَوْدَعَ رَجُلٌ عِنْدَ رَجُلَيْنِ شَيْئًا مِمَّا يُقْسَمُ لَمْ يَجُزْ أَنْ يَدْفَعَهُ أَحَدُهُمَا إِلَى الْآخَرِ وَلَكِنَّهُمَا يَقْتَسِمَانِهِ وَيَحْفَظُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا نِصْفَهُ، وَإِنْ كَانَ مِمَّا لَا يُقْسَمُ جَازَ أَنْ يَحْفَظَهُ أَحَدُهُمَا بِإِذْنِ الآخَرِ.

(١٠) وَإِذَا قَالَ صَاحِبُ الْوَدِيعَةِ لِلْمُوْدَعِ: لَا تُسَلِّمْهَا إِلَى زَوْجَتِكَ فَسَلَّمَهَا إِلَيْهَا لَمْ يَضْمَنْ، وَإِنْ قَالَ لَهُ: احْفَظْهَا فِي هَذَا الْبَيْتِ فَحَفِظَهَا فِي بَيْتٍ آخَرَ مِنْ تِلْكَ الدَّارِ لَمْ يَضْمَنْ، وَإِنْ حَفِظَهَا فِي دَارٍ أُخْرَى ضَمِنَ.

## ژباړه

(١) ودیعت د مودَع په لاس کې امانت دی که هلاکه شي، تاوان وربانديې نشته.

(٢) مودع بايد هغه په خپله او په خپلې کورنۍ (هغه کسان چې نفقه يې پر مودَع لازمه وي) وساتي، که يې په بل چا وساتي يا يې ورسره (د وديعت په توګه) کېږدي ضامن دی مګر دا چې په خپل کور يې اور ولګيږي او ګاونډيې ته يې ورکړي، يا په بېړۍ کې ناست وي او د بېړۍ د ډوبيدو له وېرې يې بلې بېړۍ ته وغورځوي.

(٣) که مودَع يې له خپل مال سره داسې ګډ کړي چې ترې نه جلا کېده، ضامن دی. که څښتن يې وغواړي او مودَع يې په داسې حال کې ورڅخه ايسار کړي چې په ورسپارلو يې قادر وي نو ضامن دی.

(٤) که د مودَع له لاسوهنې پرته د ده له مال سره ګډه شي، نو دواړه په کې شريکان دي.

(٥) که مودَع يې څنې برخه مصرف کړه بيا يې د هغې مثل بېرته ورسره ګډ کړ د ټول ضامن دی.

(٦) که مودَع په وديعې تېری وکړ - مثلا وديعه سپرلۍ وه او دی ورباندې سپور شو، يا يې جامې وې او ده په ځان کړې، يا مریی و ده وکارولو، يا يې وديعت له بل چا سره کېښودله – خو وروسته يې تېری له منځه يووړ او يا ده بېرته خپل لاس ته راووړ نو ضمانت پای ته ورسېد، که څښتن يې وغوښتله او دی منکر شو او وروسته هلاکه شوه، ضامن دی. که له انکاره اعتراف ته راوګرځېدو، له ضمانت څخه نه خلاصيږي.

(٧) مودَع کولای شي چې وديعه له ځان سره په سفر يوسي، که څه هم يې ليږدول مصرف

ولري.

(۸) که دوه کسان له یوه تن سره ودیعت کېږدي بیا یو تن یې راشي او خپله برخه وغواړي، د امام ابوحنیفه په نظر تر هغې به یې نه ورکوي چې بل ملګری یې نه وي راغلی. امام ابویوسف او امام محمد وایي: خپله برخه به ورسپاري.

(۹) که یو تن له دوو تنو سره داسې شی ودیعت کېږدي چې د تقسیم وړ وي، نو یوه ته یې روا نه دي چې بل ته یې ورکړي، بلکې دواړه به یې ویشي او هر یو به خپله نیمه برخه ساتي. که ودیعت د تقسیم وړ نه وي، نو روا ده چې یو یې د بل په اجازه وساتي.

(۱۰) که مودع (ودیعت کېښودونکی) مودَع ته ووېل: مېرمنې ته دې مه سپاره! او هغه یې خپلې مېرمنې ته وسپاري، ضامن نه دی. که (مودع) ورته ووایي: په دې کوټه کې یې وساته او (مودَع) یې د (همدې) کور په بله کوټه کې وساتي، ضامن نه دی، البته که په بل کور کې یې وساتي ضامن دی.

## شرحه

### د ودیعت تعریف او مشروعیت:

ودیعت د لغت له مخې د پرېښودلو په معنا دی او په اصطلاح کې له اهلیت وړ شخص سره د ساتلو لپاره د جنس کېښودل چې د څښتن ملکیت پکې پاتې وي ودیعت ګڼل کېږي. امانت چې ودیعت ته نژدې ټکی دی له ودیعت سره یې فرق دا دی چې امانت عام او ودیعت خاص دی. امانت کېدای شي له عقد پرته د چا په لاس پریوځي، لکه باد چې د چا شیان بل کور ته یوسي، خو ودیعت یوازې د عقد پر بنسټ رامنځته کېږي.

ودیعت یو روا عمل دی، الله پاک فرمایي: (إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا) (النِّسَاءِ:۵۸) ژباړه: الله پاک تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ.

د ترمذي په روایت شوي حدیث کې پیغمبر (علیه السلام) فرمایي: أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ.

ژباړه: امانت هغه چا ته وسپاره چې تا ته یې درکړی.

پورتنی مبارك آیت او حدیث د ودیعت په روا والي دلالت کوي.

**مودِع**: د مال څښتن چې خپل مال له چا سره امانت ږدي.

**مودَع**: هغه شخص چې مال ورسره د امانت په توګه کېښودل کېږي.

**ودیعت**: په امانت کېښودل شوی مال.

**د ودیعت حکم**:

ودیعت د امانت حکم لري، د هلاکت په صورت کې یې له تیري پرته ساتونکی ضامن نه ګڼل کیږي، ځکه خلک د امانتونو ساتلو ته اړتیا لري او که د هلاکت په صورت کې ساتونکی ضامن وګڼل شي، نو بیا به خلک د امانتونو له ساتلو ډډه کوي.

ودیعت په چا ساتل کیږي؟ مودَع به په خپله د ودیعت ساتنه کوي او دا هم کولای شي چې په خپله کورنۍ یې وساتي. له کورنۍ څخه مراد هغه کسان دي چې له مودَع سره اوسیږي او په هغه یې نفقه واجبه وي. د ودیعې ساتل له خپلې کورنۍ پرته په بل چا روا نه دي مګر دا چې د کومې واقعي اړتیا له مخې یې بل چا ته وسپاري، لکه په کور اور ولګیږي او د ژغورنې او ساتنې لپاره یې ګاونډي ته ورکړي او داسې نور.

**د ودیعت ضمانت**:

۱- که د ودیعې ساتونکی د ایښودونکي له غوښتنې سره ودیعت هغه ته ونه سپاري، ضامن ګڼل کیږي، ځکه په دې صورت کې د ودیعې ساتونکی غاصب دی او غاصب ضامن دی.

۲- که ساتونکی قصداً ودیعت د خپل مال سره داسې ګډه کړي چې بېرته یې جلا کول شوني نه وي، د امام ابوحنیفه په نزد ضامن دی، ځکه دا عمل د قصدي هلاکولو په معنا دی، خو که ودیعت یې په قصدي توګه له خپل مال سره نه وي ګډه کړي، مثلا د غنمو د بوریو خولې خلاصې شي او غنم سره ګډ شي، نو ضامن نه دی او په مال کې د شریکانو بڼه غوره کوي.

۳- که د ودیعې ځنې برخه مصرف کړي او بیا یې مثل بېرته په کې واچوي، ضامن دی. د بېلګې په ډول د لسو منو ودیعت غنمو څخه پنځه منه مصرف کړي او بیا وروسته نور پنځه منه په کې واچوي او له دې وروسته له تیري پرته هلاک شي، نو د ټولو ضامن دی، ځکه لومړی یې د مودع پر مال تیری کړی او وروسته یې خپل مال د مودع له مال سره ګډ کړی، لکه په پورتني مثال کې یې چې یادونه وشوه، نو ضامن دی.

که مودَع پر ودیعې تیری وکړی، د بېلګې په ډول د مودع له اجازې پرته په آس سپور شي، خو آس ته تاوان ونه رسیږي او بیا یې تیری پرېښود، ضمانت پرې نشته، ځکه تیری له کوم نقصان اړولو پرته پای ته رسېدلی.

**مسئله:**

که یونس خپل بایسکل جواد ته د ودیعت په توگه ورکړي، وروسته یونس خپل بایسکل وغواړي خو جواد له بایسکل څخه منکر شي، جواد ضامن دی، ځکه چې په دې انکار سره مودَع غاصب شو. که جواد له انکار کولو وروسته بیا په ودیعې (بایسکل) اعتراف وکړي هم ضامن دی ځکه ودیعه د جواد په انکار سره د یونس له لاسه وتلې او تاوان یې لازم شوی، نو بېرته له خپل حالت څخه نه وځي.

## ودیعه په سفر وړل:

مودَع کولای شي چې د ساتلو په موخه ودیعه له ځان سره په سفر یوسي، په دې شرط چې مودَع د لارې له خوندیتوب څخه ډاډه وي او مودع په سفر له وړلو څخه منعه کړی نه وي.

## پر مودَع شرط کېښودل:

که ودیعت ورکوونکی ساتونکي ته ووایي: چې ودیعت به دې په میرمن نه ساتې نو دا خبره یې معتبره نه ده، ځکه مودَع نشي کولای چې تل ودیعت له ځان سره وساتي، بلکې هرو مرو د دې اړتیا پیښیږي چې پر بل چا یې هم وساتي او انسان ته مېرمن تر ټولو نژدې شخص دی. د کور په دننه کوټې سره توپیر نه لري او که د مودع د غوښتنې خلاف په بله کوټه کې وساتل شي پروا نه لري، البته کورونه د خوندیتوب له پلوه سره توپیر لري او مودَع نشي کولای چې د مودع د غوښتنې پر خلاف ودیعت په بل کور کې وساتي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د امانت او ودیعت تر منځ د توپیر په رڼا کې د دواړو مثالونه ووایي.

## پوښتنې

۱- ودیعت تعریف او له امانت سره یې توپیر بیان کړئ.

۲- د ودیعت د مشروعیت دلایل ووایاست.

۳- مودِع، مودَع او ودیعت د یوه مثال په ترڅ کې بیان کړئ.

٤- مودَع له ځان پرته پر چا ودیعت ساتلای شي؟

٥- که ودیعت له مودَع سره هلاک شي، څه حکم لري؟

٦- آیا مودَع کولای چې ودیعت له ځان سره په سفر یوسي؟

# عاريت

انسان په ورځني ژوند کې ځنې شيانو ته اړ کيږي چې ورسره موجود نه وي او له بل چا څخه يې په مؤقتي ډول د کارولو په موخه اخلي. د اړتيا پر مهال په روا کارونو کې د مسلمان مرسته يو نېک کار دی. پورتنۍ مرسته کله د عاريت په بڼه رامنځته کيږي چې احکام يې په دې لوست کې لولو.

(١) الْعَارِيَّةُ جَائِزَةٌ وَهِيَ تَمْلِيكُ الْمَنَافِعِ بِغَيْرِ عِوَضٍ. وَتَصِحُّ بِقَوْلِهِ: أَعَرْتُك وَأَطْعَمْتُك هَذِهِ الْأَرْضَ، وَمَنَحْتُك هَذَا الثَّوْبَ وَحَمَلْتُك عَلَى هَذِهِ الدَّابَّةِ إِذَا لَمْ يُرِدْ بِهِ الْهِبَةَ، وَأَخْدَمْتُك هَذَا الْعَبْدَ، وَدَارِي لَك سُكْنَى، وَدَارِي لَك عُمْرَى سُكْنَى.

(٢) وَلِلْمُعِيرِ أَنْ يَرْجِعَ فِي الْعَارِيَّةِ مَتَى شَاءَ.

(٣) وَالْعَارِيَّةُ أَمَانَةٌ فِي يَدِ الْمُسْتَعِيرِ إِنْ هَلَكَتْ مِنْ غَيْرِ تَعَدٍّ لَمْ يَضْمَنْ.

(٤) وَلَيْسَ لِلْمُسْتَعِيرِ أَنْ يُؤْجِرَ مَا اسْتَعَارَهُ وَلَا أَنْ يُرْهِنَهُ، فَإِنْ أَجَرَهُ فَهَلَكَ ضَمِنَ، وَلَهُ أَنْ يُعِيرَهُ إِذَا كَانَ مِمَّا لَا يَخْتَلِفُ بِاخْتِلَافِ الْمُسْتَعْمِلِ.

(٥) وَعَارِيَّةُ الدَّرَاهِمِ وَالدَّنَانِيرِ وَالْمَكِيلِ وَالْمَوْزُونِ قَرْضٌ.

(٦) وَإِذَا اسْتَعَارَ أَرْضًا لِيَبْنِيَ فِيهَا أَوْ يَغْرِسَ نَخْلًا جَازَ، وَلِلْمُعِيرِ أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا وَيُكَلِّفَهُ قَلْعَ الْبِنَاءِ وَالْغَرْسِ، فَإِنْ لَمْ يُوقِت الْعَارِيَّةَ فَلَا ضَمَانَ عَلَيْهِ، وَإِنْ وَقَّتَ الْعَارِيَّةَ فَرَجَعَ قَبْلَ الْوَقْتِ ضَمِنَ الْمُعِيرُ مَا نَقَصَ الْبِنَاءُ وَالْغَرْسُ بِالْقَلْعِ.

(٧) وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَارِيَّةِ عَلَى الْمُسْتَعِيرِ، وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمُسْتَأْجَرَةِ عَلَى الْمُؤْجِرِ، وَأُجْرَةُ رَدِّ الْعَيْنِ الْمَغْصُوبَةِ عَلَى الْغَاصِبِ.

(٨) وَإِذَا اسْتَعَارَ دَابَّةً فَرَدَّهَا إِلَى إِصْطَبْلِ صَاحِبِهَا فَهَلَكَتْ لَمْ يَضْمَنْ، وَإِنْ اسْتَعَارَ عَيْنًا فَرَدَّهَا إِلَى دَارِ الْمَالِكِ وَلَمْ يُسَلِّمْهَا إِلَيْهِ ضَمِنَ، وَإِنْ رَدَّ الْوَدِيعَةَ إِلَى دَارِ الْمَالِكِ وَلَمْ يُسَلِّمْهَا إِلَيْهِ ضَمِنَ.

**ژباړه**

(۱) عاريت روا دی او له عوض پرته د ګټو تمليك كول (عاريت بلل كيږي) او د عاريت عقد د عاريت وركوونكي په دې ټكو صحيح كيږي: په اعاره مې دركړ، دا ځمكه مې در وخوروله، دا جامې مې دركړې، په دې سپرلۍ مې سپور كړې ـ كه نيت يې بخشش نه وي، دا مريی مې ستا خدمتګار كړ، زما كور ستا استوګنځی شو، زما كور زما تر عمره ستا استوګنځی شو.

(۲) اعاره وركوونكی هر مهال كولای شي چې خپل مال بېرته واخلي.

(۳) عاريت له مستعير سره امانت دی، كه له تېري پرته هلاك شي، نو مستعير ضامن نه دی.

(٤) مستعير نشي كولای چې عاريت بل چا ته په اجاره وركړي، يا يې ګاڼه (رهن) كړي، كه يې په اجوره وركړ او هلاك شو، نو ضامن دی، كه عاريت د كاروونكو په بدلون توپير نه درلود مستعير كولای شي چې بل چا ته يې په اعاره وركړي.

(٥) د درهمو، دينارو، او په پيمانې او وزن د پلورل كېدونكو شيانو عاريت قرض دی.

(٦) كه ځمكه د دې لپاره په عاريت وركړي چې ودانۍ پكې جوړه كړي يا ونې پكې وكري روا ده. عاريت وركوونكی كولای شي چې ځمكه بېرته ورڅخه وغواړي او د ودانۍ او ونو په ليرې كولو يې مكلف كړي، كه يې د عاريت وخت نه و ټاكلی ضمان ورباندې نشته، خو كه د عاريت وخت يې ټاكلی و او له نېټې مخكې اعاره وركوونكي (ودانۍ يا ونې) لرې كړې، د هغه نقصان ضامن دی چې د ودانۍ په نړولو يا د ونو په ايستلو رامنځته شوی.

(۷) د عاريت د ردولو مزدوري پر مستعير، د اجاره شوي جنس د ردولو مزدوري په اجاره وركوونكي ده او د غصب شوي جنس د ردولو مزدوري پر غاصب ده.

(۸) كه يې څاروی په عاريت واخيست او بېرته يې د څښتن غوجل ته ورسولو او هلاك شو ضامن نه دی، كه يې يو عين په عاريت واخيست او بېرته يې د څښتن كور ته وروړ خو هغه ته يې تسليم نه كړ، ضامن دی. كه مودَع وديعت د څښتن كور ته رد كړه او څښتن ته يې تسليم نه كړه، ضامن دی.

**شرحه**

**د عاريت تعريف:**

عاريت د لغت له مخې د وركړې په معنا دی. په اصطلاح كې له عوض پرته د منافعو تمليك

کولو ته عاريت ويل کيږي.
په اسلامي شريعت کې شيان په عاريت اخيستل روا دي. د سنن ابي داود د حديث له مخې پيغمبر (عليه السلام) د حنين د غزا په ورځ له صفوان بن اميه څخه د هغه زغرې په عاريت اخيستې وې.
**معير**: هغه شخص چې بل چا ته شی د ګټې اخيستلو لپاره ورکوي.
**مستعير**: هغه شخص چې له چا څخه يو شی د ګټې اخيستلو لپاره اخلي.
د عاريت عقد د ځانګړو الفاظو په ويلو چې د ګټې په تمليک دلالت کوي، رامنځته کېږي چې په متن کې يې يادونه وشوه. دعاريت په عقد کې معير کولای شي هر وخت چې وغواړي له مستعير څخه خپل مال بېرته واخلي.

## د عاريت ضمانت:

عاريت د وديعت په څېر د امانت حکم لري او د هلاکېدو په صورت کې د مستعير له تيري پرته ضمان (پور) نه لري.

## عاريت بل چا ته ورکول:

مستعير نشي کولای چې په عاريت اخيستل شوی مال چا ته په ګروی يا مزدوری ورکړي. که يې دا کار وکړ، د مال ضامن دی. مستعير کولای شي يوازې هغه جنس بل چا ته په عاريت ورکړي چې د استعمالوونکي په بدلون کې سره توپير ونه لري، د بېلګې په ډول ديوالي ساعت چې ټول خلک يې يو ډول په ديوال راځړوي او په کارولو کې يې يو شان دي، که خلکو يې په کارولو کې سره توپير درلود، نو په عاريت ورکول يې روا نه دي لکه موټر چې په بارولو او چلولو کې يې خلک له يو بل سره توپير لري.
هغه شيان چې له استهلاک پرته ورڅخه ګټه نشي اخيستل کېدای، په عاريت اخيستل يې د قرض حکم لري لکه روپۍ، غنم، غوړي او داسې نور.

## د عاريت ډولونه:

عاريت په دوه ډوله دی:
١- **مؤقت عاريت**: هغه دی چې د بېرته اخيستلو نېټه يکې ټاکل شوې وي. په دې ډول عاريت کې معير نشي کولای چې د نېټې له رارسېدو مخکې له مستعير څخه خپل مال واخلي، د بېلګې په ډول چا ځمکه په ټاکلې نېټې سره په عاريت ورکړې وي، نو له ټاکلې نېټې مخکې خپله ځمکه نشي اخيستلای، که له وخته مخکې يې د مستعير ونې له ځمکې

وویستلې، د نقصان ضامن ګڼل کېږي.

۲- **غیرمؤقت عاریت**: هغه دی چې د بېرته اخیستلو نېټه پکې ټاکل شوې نه وي. په داسې عاریت کې چې معیر هر وخت خپل مال بېرته واخیست د نقصان پور پرې نشته.

## فعالیت

زده کوونکي دې د عاریت عقد په ټولګي کې په عملي بڼه تمثیل کړي.

## پوښتنې

۱- عاریت تعریف او د مشروعیت دلیل یې وواياست.

۲- معیر او مستعیر چا ته ویل کېږي؟

۳- د عاریت عقد په کومو ټکو رامنځته کېږي؟ بیان یې کړئ.

٤- آیا په عاریت اخیستل شوی مال تاوان لري؟

٥- آیا په عاریت اخیستل شوی مال بل چا ته په عاریت ورکول روا دي؟

٦- د عاریت ډولونه بیان کړئ.

# لقيط

(١) اللَّقِيطُ حُرٌّ مُسْلِمٌ وَنَفَقَتُهُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ، فَإِنْ الْتَقَطَهُ رَجُلٌ لَمْ يَكُنْ لِغَيْرِهِ أَنْ يَأْخُذَهُ مِنْ يَدِهِ، فَإِنْ ادَّعَى مُدَّعٍ أَنَّهُ ابْنُهُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهُ، وَإِنْ ادَّعَاهُ اثْنَانِ وَوَصَفَ أَحَدُهُمَا عَلَامَةً فِي جَسَدِهِ فَهُوَ أَوْلَى بِهِ.

(٢) وَإِذَا وُجِدَ فِي مِصْرٍ مِنْ أَمْصَارِ الْمُسْلِمِينَ أَوْ فِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَاهُمْ لَقِيْطٌ فَادَّعَى ذِمِّيٌّ أَنَّهُ ابْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ مُسْلِمًا، وَإِنْ وُجِدَ فِي قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى أَهْلِ الذِّمَّةِ أَوْ فِي بِيعَةٍ أَوْ كَنِيسَةٍ كَانَ ذِمِّيًّا.

(٣) وَمَنْ ادَّعَى أَنَّ اللَّقِيطَ عَبْدُهُ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ وَكَانَ حُرًّا، وَإِنْ ادَّعَى عَبْدٌ أَنَّهُ ابْنُهُ ثَبَتَ نَسَبُهُ مِنْهُ وَكَانَ حُرًّا.

(٤) وَإِنْ وُجِدَ مَعَ اللَّقِيطِ مَالٌ مَشْدُودٌ عَلَيْهِ فَهُوَ لَهُ.

(٥) وَلَا يَجُوزُ تَزْوِيجُ الْمُلْتَقِطِ اللَّقِيطَ وَلَا تَصَرُّفُهُ فِي مَالِ اللَّقِيطِ، وَيَجُوزُ أَنْ يَقْبِضَ لَهُ الْهِبَةَ وَيُسَلِّمَهُ فِي صِنَاعَةٍ وَيُؤْجِرَهُ.

### ژباړه

(١) لقيط (موندل شوی) کوچنی، آزاد مسلمان ګڼل کيږي او نفقه يې پر بيت المال ده، چا چې وموند، بل څوك يې ورځخه نشي اخيستلای، که چا دعوه وکړه چې (موندل شوی) د هغه زوی دی، خبره يې معتبره ده، که دوو کسانو يې د زويتوب دعوه وکړه او يوه يې د بدن کومه نښه په ګوته کړه، نو هغه د لومړيتوب حق لري.

(۲) که د مسلمانانو په کوم ښار یا کلي کې لقیط وموندل شي او ذمي یې د زوی والي دعوه وکړي، نسب یې له ذمي څخه ثابتیږي او کوچنی مسلمان شمېرل کېږي، خو که د ذمیانو په کلي یا د یهودانو او مسیحیانو په عبادت ځای کې وموندل شي، نو ذمي شمېرل کیږي.
(۳) که چا دعوه وکړه چې موندل شوی کوچنی یې مریی دی، خبره یې نه منل کیږي او کوچنی آزاد دی. که مریی دعوه وکړه چې دی یې زوی دی، نسب یې ورځخه ثابتیږي او کوچنی آزاد دی.
(٤) که له موندل شوي کوچني سره تړلی مال هم وموندل شي، د کوچني شمېرل کیږي.
موندونکي ته د موندل شوي په نکاح ورکول او د هغه په مال کې تصرف کول روا نه دي.
(٥) موندونکی د موندل شوي لپاره بخشش قبض کولای شي، په صنعت او مزدورۍ کې یې ګومارلی شي.

## شرحه

### د لقیط تعریف:

(لقیط) له (لَقْطٌ) څخه اخیستل شوی، د (لقط) معنا ده: له ځمکې پورته کول. د فقهې په اصطلاح کې لقیط هغه ژوندي کوچني ته ویل کیږي چې کورنی یې د لوږې یا شرم له وېرې بهر غورځولی وي.

### د لقیط د پورته کولو حکم:

که لقیط په داسې ځای کې وموندل شي چې د مړینې خطر یې موجود وي، نو پورته کول یې واجب دي، ځکه له مرګ څخه د انسان ژغورنه واجب ده، خو که لقیط په داسې ځای کې وموندل شو چې د مرګ وېره یې نه وه، بیا یې راپورته کول مستحب دي.
لقیط په ټولو احکامو کې د آزاد انسان حیثیت لري، که څه هم کوم مریی یې د زوی والي دعوه وکړي او ومنل شي. همدا راز که څوك یې د مریيتوب دعوه وکړي، نو دعوه یې باطله ده، دا ځکه چې اصل په انسانانو کې حریت او آزادي ده او داراسلام هم د حریت دار دی.

**د لقیط دین:**

که لقیط د مسلمانانو په کلي کې وموندل شي، د اسلام احکام وربانديې تطبیقیږي، ځکه چې په اسلام کې د هغه ګټه ده، نو د لقیط ګټه په پام کې نیول کیږي، او مسلمان شمېرل کیږي که څه هم کوم ذمي راپورته کړی وي. البته که د ذمیانو په کلي یا عبادت ځای کې وموندل شي، نو ذمي ګڼل کیږي، یعنې د موندل کېدو ځای معتبر دی.

**د لقیط نسب:**

که څوک پر لقیط د زوی والي دعوه وکړي، دعوه یې منل کېږي که څه هم ذمي یې د نسب دعوه وکړي، ځکه چې لقیط نسب ته اړتیا لري او د زوی ولی په دعوه کې د لقیط ګټه ده.

که دوه کسان د لقیط د نسب دعوه وکړي، نو هر یوه چې دعوه مخکې کړې وي، د هغه دعوه منل کیږي، که یو تن یې داسې نښه او قرینه وړاندې کړه چې د هغه په پلارتوب یې دلالت کاوه، نو دی د لقیط په پلارتوب کې د لومړیتوب حق لري. که څوک د لقیط په پلارتوب شاهدان تېر کړي، نسب یې له هماغه ثابتیږي.

لقیط چې چا وموندلو، د هغه دی او بل څوک یې ورڅخه اخیستلی نشي.

**د لقیط نفقه:**

که له موندل شوي کوچني سره مال نه و، د ده لګښت په بیت المال دی، ځکه میراث یې د مسلمانانو دی، نو پکار ده چې نفقه یې هم د دوی له مالونو څخه ورکړل شي او د مسلمانانو مشترکه خزانه بیت المال دی.

د لقیط سرپرست نشي کولای چې لقیط چا ته په نکاح ورکړي. سرپرست د لقیط په مال او نفس کې د تصرف کولو واک نه لري او یوازې حاکم کولای شي چې په نکاح یې ورکړي، البته هغه په کوم کسب لکه ترکاڼی، خیاطی ، مزدوری او داسې نورو کارونو باندې ګومارلی شي ځکه چې لقیط ته ګټه رسوي.

## پوښتنې

۱- لقیط تعریف کړي.

۲- د لقیط پورته کول څه حکم لري؟

۳- پر لقیط د کوم دین احکام تطبیقیږي؟

٤- د لقیط نسب له چا څخه شمېرل کیږي؟

٥- د لقیط نفقه پر چا ده؟

## لقطه

ډېر ځلې موږ په لاروکې د خلکو ورك شوي شيان لكه پيسې او نور مالونه مومو. يو شمېر خلك دا ورك شوي شيان د ځان لپاره حلال ګڼي او په خپل ځان يې مصرفوي. په دې لوست كې به په لاروكې د موندل شوو شيانو په بېلابېلو حكمونو خبر شو.

(١) اللُّقَطَةُ أَمَانَةٌ إذَا أَشْهَدَ الْمُلْتَقِطُ أَنَّهُ يَأْخُذُهَا لِيَحْفَظَهَا وَيَرُدَّهَا عَلَى صَاحِبِهَا، فَإِنْ كَانَتْ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ عَرَّفَهَا أَيَّامًا، وَإِنْ كَانَتْ عَشَرَةً فَصَاعِدًا عَرَّفَهَا حَوْلًا.

(٢) فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَإِلَّا تَصَدَّقَ بِهَا. فَإِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَهُوَ قَدْ تَصَدَّقَ بِهَا فَهُوَ بِالْخِيَارِ: إن شَاءَ أَمْضَى الصَّدَقَةَ وَإِنْ شَاءَ ضَمِنَ الْمُلْتَقِطَ.

(٣) وَيَجُوزُ الْتِقَاطُ الشَّاةِ وَالْبَقَرَةِ وَالْبَعِيرِ، فَإِنْ أَنْفَقَ الْمُلْتَقِطُ عَلَيْهَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْحَاكِمِ فَهُوَ مُتَبَرِّعٌ، وَإِنْ أَنْفَقَ بِأَمْرِهِ كَانَ ذَلِكَ دَيْنًا عَلَى صَاحِبِهَا.

(٤) وَإِذَا رُفِعَ ذَلِكَ إِلَى الْحَاكِمِ نَظَرَ فِيهِ، فَإِنْ كَانَ لِلْبَهِيمَةِ مَنْفَعَةٌ آجَرَهَا وَأَنْفَقَ عَلَيْهَا مِنْ أُجْرَتِهَا وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهَا مَنْفَعَةٌ وَخَافَ أَنْ تَسْتَغْرِقَ النَّفَقَةُ قِيمَتَهَا، بَاعَهَا وَأَمَرَ بِحِفْظِ ثَمَنِهَا، وَإِنْ كَانَ الْأَصْلَحُ الْإِنْفَاقَ عَلَيْهَا أَذِنَ الْحَاكِمُ فِي ذَلِكَ وَجَعَلَ النَّفَقَةَ دَيْنًا عَلَى مَالِكِهَا، فَإِذَا حَضَرَ الْمَالِكُ فَلِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَمْنَعَهُ مِنْهَا حَتَّى يَأْخُذَ النَّفَقَةَ مِنْهُ.

(٥) وَلُقَطَةُ الْحِلِّ وَالْحَرَمِ سَوَاءٌ.

(٦) وَإِذَا حَضَرَ رَجُلٌ وَادَّعَى أَنَّ اللُّقَطَةَ لَهُ لَمْ تُدْفَعْ إِلَيْهِ حَتَّى يُقِيمَ الْبَيِّنَةَ، فَإِنْ أَعْطَى عَلَامَتَهَا حَلَّ لِلْمُلْتَقِطِ أَنْ يَدْفَعَهَا إِلَيْهِ، وَلَا يُجْبَرُ عَلَى ذَلِكَ فِي الْقَضَاءِ.

(٧) وَلَا يَتَصَدَّقُ بِاللُّقَطَةِ عَلَى غَنِيٍّ. وَإِنْ كَانَ الْمُلْتَقِطُ غَنِيًّا، لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا، وَإِنْ كَانَ فَقِيرًا فَلَا بَأْسَ أَنْ يَنْتَفِعَ بِهَا، وَيَجُوزُ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِهَا، إِذَا كَانَ غَنِيًّا عَلَى أَبِيهِ وَابْنِهِ

وَأُمِهِ وَزَوْجَتِهِ إِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ.

## زياره

(۱) لقطه امانت دی چې اخیستونکی یې په دې شاهد ونیسي چې د ساتنې لپاره یې اخلي او څښتن ته یې سپاري. که له لسو درهمو څخه کمې وې څو ورځې به یې اعلان کوي او که له لسو زیاتې وې یو کال به یې اعلان کوي.

(۲) که څښتن یې راغی (هغه ته به یې وسپاري) که نه خیرات به یې کړي. که څښتن یې راغی او اخیستونکي خیرات کړې وې نو اختیار لري چې خیراتول یې تائیدوي او که له اخیستونکي څخه تاوان اخلي.

(۳) د پسه، غوا او اوښ اخیستل روا دي. که اخیستونکي د حاکم له اجازې پرته وربانديې مصرف وکړ، نو مصرف یې خیرات دی، که د حاکم په اجازه یې وربانديې مصرف وکړ بیا د (لقطې) پر څښتن پور دی.

(٤) که موضوع حاکم ته وړاندې شي، هغه به پرې فکر وکړي، که څاروي ګټه لرله په مزدورۍ به یې ورکړي او له هغې به وربانديې مصرف کوي، که ګټه یې نه لرله او له دې ویربده چې په مصرف کې به لاړه شي، نو وبه یې پلوري او د پیسو په ساتلو به یې امر وکړي. که مصلحت په دې کې و چې مصرف وربانديې وکړي، نو اخیستونکي ته به (د مصرف) اجازه وکړي او مصرف به یې په څښتن پور وي، کله یې چې څښتن راشي، موندونکی حق لري چې د مصرف تر اخیستلو یې ورڅخه ایساره کړي.

(۵) د حل او حرم لقطې یو برابر دي.

(٦) که یو سړی راشي او د لقطې د ملکیت دعوه وکړي، تر هغې به نه ورکول کېږي چې شاهدان یې نه وي تېر کړي. که یې د لقطې نښې وویلې، اخیستونکي ته روا دي چې ورېې کړي خو په قضا کې نه پرې مجبورول کیږي.

(۷) لقطه به په غنیانو نه صدقه کوي، که پورته کوونکی غني و، ورڅخه ګټه اخیستل ورته روا نه دي او که فقیر و پروا نشته چې ګټه ترې واخلي، که دی غني و خو پلار، زوی، مور یا مېرمن یې فقیران وو، نو په هغوی یې خیراتول روا دي.

**شرحه**

**د لقطې تعریف**:

لقطه هغه مال ته ویل کیږي چې په لاره کې وموندل شي او واخیستل شي او څښتن یې معلوم نه وي.

**د لقطې د راپورته کولو حکم**:

که پورته کوونکی په دې باور و چې له راخیستو پرته به له منځه لاړ او یا د داسې شخص لاس ته وغورځیږي چې څښتن ته یې نه ورکوي، نو راپورته کول یې واجب دي، خو که له نه ضایع کېدو یې ډاډه و، نو راپورته کول یې مباح دي.

که یې نیت څښتن ته رسول نه بلکې د خپل ځان لپاره اخیستل و، نو پورته کول یې روا نه دي.

**د موندلو پر مهال شاهدان نیول**:

د لقطې پر پورته کوونکي لازم دي چې د امکان په صورت کې د پورته کولو پر مهال شاهدان ونیسي، که یې شاهد ونیولو او لقطه هلاکه شوه، نو ضامن نه دی. که پورته کوونکي په دې اقرار وکړ چې د ځان لپاره یې پورته کړې او لقطه هلاکه شي، ضامن دی.

د ځېروونکو ځناورو او ورکېدو له وېرې پسه، غوا او اوښ د لقیط په توګه رانیول روا دي. که د ځارویو رانیونکی په خپل سر ځارویو ته خوراک ورکړي او مصرف ورباندې وکړي، د څښتن د راتلو په صورت کې له هغه څخه مصرف نشي اخیستلی، خو که د حاکم په امر یې خوراک ورکړی و او مصرف یې ورباندې کړی و، نو د ځارویو له څښتن څخه یې اخیستلی شي.

**د ځارویو په اړه د حاکم پرېکړې**:

که د ځاروي د موندل کېدو موضوع حاکم ته وړاندې شي، نو درې لارې دي:

۱- که ځاروی د مزدورۍ وړ وي، حاکم به ورته امر وکړي چې په مزدورۍ یې ورکړي او له هغې ورباندې نفقه وکړي.

۲- که ځاروی د مزدورۍ وړ نه وي او پر هغه باندې په خوراک او مصرف کولو کې د دې وېره وي چې د ځاروي قیمت به په مصرف کې له منځه لاړ شي، نو حاکم یې پلوري او د پیسو په ساتلو یې امر ورته کوي.

۳- حاکم ته دا مصلحت ښکاره شي چې لقطه وساتل شي، خوراک ورکړل شي او کله چې یې څښتن راشي، د خوراک مصرف ورکړي. دا درې واړې لارې جایزې دي.

**ښښتن ته د لقطې سپارل**:
کله چې څوک راشي او د لقطې د ملکیت دعوه وکړي، نو شاهدان به تېروي، څکه دعوه په شاهدانو ثابتیږي. که شاهدان نه وو او د لقطې نښې او علامې یې وویلې، نو موندونکی کولای شي چې مال وروسپاري. که موندونکي د حاکم په امر په ځاروي مصرف کړی وي، کولای شي چې له ښښتن څخه یې وغواړي او د نه ورکولو په صورت کې ځاروی له ځان سره ایسار کړي، خو خپل لګښتونه ورڅخه واخلي. که ښښتن راشي او موندونکي مال خیرات کړی وي ښښتن حق لري چې خیرات یې تائیدوي او که له موندونکي څخه یې اخلي، څکه ده پردی مال د ښښتن له اجازې پرته خیرات کړی.

**د لقطې خیراتول**: که موندونکی لقطه تر ټاکلي وخته وساتي، خو ښښتن یې پیدا نشي، کولای شي چې بې وزلو خلکو ته یې خیرات ورکړي، که موندونکی فقیر و، ورته روا دي چې په خپله یې واخلي، همدا راز که پلار، ورور، مېرمن او زوی یې فقیران و، کولای شي چې هغوی ته یې صدقه ورکړي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د لقیط او لقطې تر منځ توپیر روښانه کړي.

## پوښتنې

١- لقطه تعریف کړئ.
٢- د لقطې پورته کولو حکم بیان کړئ.
٣- پر خپل ځان د لقطې د مصرفولو په نیت د لقطې راپورته کول څه حکم لري؟
٤- که د ځاروي د موندل کېدو موضوع حاکم ته وړاندې شي، څه به کوي؟
٥- لقطه پورته کوونکی به د لقطې له راخیستلو سره سم څه کوي؟
٦- که موندونکي د حاکم په امر پر لقطه مصرف کړې وي، له چا به یې اخلي؟

# خنثی (نربنځی)

په اسلامي شريعت کې په ډېرو ځايونو کې د ښځو احکام د نارينه وو له احکامو سره توپير لري، پر دې بنسټ د نارينه وو او ښځينه وو پېژندل او جلا کول ضروري دي. خنثی مشکل هغه انسان دی چې په يو جنس کې هم نه شمېرل کيږي. له همدې امله هغه جلا احکام لري چې په نننې لوست کې به يې ولولو.

(١) إِذَا كَانَ لِلْمَوْلُودِ فَرْجٌ وَذَكَرٌ فَهُوَ خُنْثَى، فَإِنْ كَانَ يَبُولُ مِنَ الذَّكَرِ فَهُوَ غُلَامٌ، وَإِنْ كَانَ يَبُولُ مِنَ الْفَرْجِ فَهُوَ أُنْثَى.

(٢) وَإِنْ كَانَ يَبُولُ مِنْهُمَا، وَالْبَوْلُ يَسْبِقُ مِنْ أَحَدِهِمَا، يُنْسَبُ إِلَى الْأَسْبَقِ، وَإِنْ كَانَا فِي السَّبْقِ سَوَاءً فَلَا مُعْتَبَرَ بِالْكَثْرَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يُنْسَبُ إِلَى أَكْثَرِهِمَا.

(٣) فَإِذَا بَلَغَ الْخُنْثَى، وَخَرَجَ لَهُ لِحْيَةٌ أَوْ وَصَلَ إِلَى النِّسَاءِ فَهُوَ رَجُلٌ.

(٤) وَإِنْ ظَهَرَ لَهُ ثَدْيٌ كَثَدْيِ الْمَرْأَةِ، أَوْ نَزَلَ لَهُ لَبَنٌ فِي ثَدْيَيْهِ، أَوْ حَاضَ أَوْ، حَبِلَ أَوْ، أَمْكَنَ الْوُصُولُ إِلَيْهِ مِنَ الْفَرْجِ، فَهُوَ امْرَأَةٌ.

(٥) فَإِنْ لَمْ يَظْهَرْ لَهُ إِحْدَى هَذِهِ الْعَلَامَاتِ فَهُوَ خُنْثَى مُشْكِلٌ.

(٦) وَإِذَا وَقَفَ خَلْفَ الْإِمَامِ قَامَ بَيْنَ صَفِّ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ.

(٧) وَتُبْتَاعُ لَهُ أَمَةٌ تَخْتِنُهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ ابْتَاعَ لَهُ الْإِمَامُ مِنْ بَيْتِ الْمَالِ أَمَةً تَخْتِنُهُ، فَإِذَا خَتَنَتْهُ بَاعَهَا الْإِمَامُ وَرَدَّ ثَمَنَهَا فِي بَيْتِ الْمَالِ.

(٨) وَإِذَا مَاتَ أَبُوهُ، وَخَلَّفَ ابْنًا وَخُنْثَى، فَالْمَالُ بَيْنَهُمَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ عَلَى ثَلَاثَةِ أَسْهُمٍ: لِلِابْنِ سَهْمَانِ وَلِلْخُنْثَى سَهْمٌ، وَهُوَ أُنْثَى عِنْدَهُ فِي الْمِيرَاثِ إِلَّا أَنْ يَتَبَيَّنَ غَيْرُ ذَلِكَ فَيُتَّبَعَ.

(٩) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لِلْخُنْثَى نِصْفُ مِيرَاثِ رَجُلٍ وَنِصْفُ مِيرَاثِ أُنْثَى، وَهُوَ قَوْلُ الشَّعْبِيِّ وَاخْتَلَفَا فِي قِيَاسِ قَوْلِهِ. فَقَالَ أَبُو يُوسُفَ الْمَالُ بَيْنَهُمَا عَلَى سَبْعَةٍ، لِلِابْنِ أَرْبَعَةٌ، وَلِلْخُنْثَى ثَلَاثَةٌ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ: الْمِيرَاثُ بَيْنَهُمَا عَلَى اثْنَيْ عَشَرَ سَهْمًا: لِلِابْنِ سَبْعَةٌ، وَلِلْخُنْثَى خَمْسَةٌ.

**ژباړه**

(۱) که نوی پیدا شوی کوچنی ښځینه او نارینه تناسلي آله ولري، نو خنثی بلل کیږي، که له نارینه تناسلي آلې څخه یې میتیازې کولې، نو هلک دی او که له ښځینه تناسلي آلې څخه یې میتیازې کولې نو نجلۍ ده.

(۲) که له دواړو یې کولې، نو له (هرې) یوې (آلې) څخه چې مخکې راوتلې هماغه (جنس) ګڼل کیږي، که له دواړو (آلو) څخه په مهال راوتلې، نو د امام ابوحنیفه په آند ډېروالی اعتبار نه لري، خو امام ابویوسف او امام محمد وایي: له کومې چې ډېرې راوتلې هماغه جنس ګڼل کیږي.

(۳) که نرښځی بالغ شي او ږیره یې راشي، یا له ښځې سره په جماع کولو قادر شي، نارینه دی.

(٤) که د ښځو په څېر یې تي راووتل، یا یې له تیو شیدې راووتلې، یا حیض پرې راغی، یا یې حمل واخیست یا د فرج له لارې ورسره جماع کول ممکن شول، نو ښځه ده.

(۵) که دا یوه نښه هم پکې ونه لیدل شوه، نو خنثی مشکل دی.

(٦) خنثی مشکل به د جماعت په لمانځه کې د ښځو او نرانو د صفونو تر منځ (په مستقل صف کې) درېږي.

(۷) که یې مال درلود، له مال څخه به ورته وینځه په بیعه اخیستل کیږي چې سنت یې کړي. که یې مال نه درلود، حاکم به د بیت المال له پیسو څخه ورته وینځه په بیعه واخلي چې سنت یې کړي، کله یې چې سنت کړ، وینځه به بېرته وپلوري او پیسې به یې بیت المال ته ورکړي.

(۸) که د خنثی مشکل پلار مړ شي، یو زوی او یو خنثی مشکل ورخخه پاتې شي، د امام ابوحنیفه په نظر یې مال درې برخې کیږي، زوی دوه برخې اخلي او خنثی مشکل یوه برخه. د هغه (امام ابوحنیفه) په نظر خنثی د لور په حکم کې دی، مګر دا چې بل ډول ثابته شي، نو د هغې پیروي کېږي.

(۹) امام ابویوسف او امام محمد وایي: خنثی ته د نارینه د نیم میراث او د ښځې د نیم میراث (مجموعه) ده، دا د امام شعبي وینا ده. دواړه امامان د هغه د وینا په قیاس کې اختلاف لري، امام ابویوسف وایي: میراث اووه برخې کیږي، زوی ته څلور برخې او خنثی ته درې برخې. امام محمد وایي: مال د دواړو تر منځ دولس برخې کیږي، زوی ته اووه برخې او خنثی ته پنځه.

**شرحه**:

**د خنثی پېژندنه**: خنثی (نرښځی) هغه انسان ته ویل کیږي چې د نارینه او ښځینه دواړو جنسونو تناسلي آلې (ذکر او فرج) ولري. د دوی په اړه کوښښ کیږي چې د نښو او علامو له لارې يې پېژندنه وشي او تر یوه انساني جنس پورې وتړل شي، خو که د نرتوب او ښځېتوب نښې او علامې یکې په برابره توګه موجودې وي، نو خنثی مشکل بلل کیږي او جلا احکام لري.

**د نرتوب نښې**: که خنثی ذکر او فرج دواړه ولري نو دلاندې نښو په درلودو سره نر ګڼل کیږي.

۱- د خنثی بول (تشې میتیازې) د نارینه تناسلي آلې (ذکر) له لارې راوتل.

۲- له دواړو لارو د راوتلو په صورت کې د نارینه تناسلي آلې له لارې لومړی راوتل.

د امام ابویوسف او امام محمد په نظر که له یوې لارې ډېرې او له بلې لارې لږې راوتلې، نو ډېرو ته اعتبار ورکول کیږي، یعنې که له ذکر څخه ډېرې راوتلې نو نارینه او که له فرج څخه ډېرې راوتلې، نو ښځینه بلل کیږي، خو امام ابوحنیفه دا ډېروالی معتبر نه ګڼي.

۳- له بلوغ وروسته ږیره راتلل.

٤- له ښځې سره په جماع کولو توانېدل.

**د ښځېتوب نښې**: د لاندې نښو د درلودلو په صورت کې خنثی، ښځه ګڼل کیږي:

۱- د ښځو په څېر د تیو راوتل.

۲- له تیو شېدې راوتل.

۳- د حیض راتګ.

٤- د حمل اخیستل یا امیدواره کېدل.

۵- د فرج له لارې ورسره د جماع کولو امکان پیدا کېدل.

که د ښځو او نارینه و پورتنی نښې یکې ونه موندل شوې، نو خنثی مشکل بلل کیږي او جلا احکام لري. د خنثی په اړه د فقهاوو نظر دا دی چې په هر حکم کې چې زیات احتیاط و، په همغه حکم عمل کیږي چې په لاندې ډول دي:

**په جماعت کې لمونځ**: د جماعت په لمانځه کې به د ښځو او سړو تر منځ په جلا صف کې دریږي، ځکه که د سړو په صف کې ودریږي نو په دې احتمال چې ښځه ده په خوا کې د ولاړ سړي لمونځ فاسدوي او که د ښځو په صف کې ودریږي نو په دې احتمال چې سړی دی د ده لمونځ فاسدیږي.

**ختنه** (**سنتول**): په دې بنسټ چې خنثی د نارینتوب او ښځیتوب دواړو احتمال لري، نارینه

او ښځې دواړه نښې کولای چې د هغه عورت وويني او سنت (ختنه) يې کړي. په دې بنسټ که مال يې درلود له مال څخه به يې وينځه په پيسو واخيستل شي او هغه به يې سنت کړي، ځکه وينځې ته روا دي چې د خپل بادار عورت ته وګوري. دا په هغه صورت کې چې خنثی مشکل بالغ وي که کوچنی و سړي او ښځې دواړه يې ختنه کولای شي. که يې مال نه درلود، سنتول يې په بيت المال (حکومت) دي.

**د ميراث حکمونه**: د امام ابوحنيفه په نظر خنثی مشکل ته د نر او ښځې له برخو څخه هغه برخه ورکول کېږي چې کمه وي، يعني خنثی مشکل به لومړی نر او بيا ښځه فرض شي، په هر حالت کې چې ورته کم مال رسېده د همغې حال ميراث به ورکول کيږي ځکه چې دغه کم متيقن دی او په زيات کې شک دی.

امام ابويوسف او امام محمد د خنثی مشکل په ميراث کې د امام شعبي نظر اخيستی، خو د هغې په تفسير کې يې اختلاف کړی او په لاندې ډول شرحه کيږي:

امام ابويوسف وايي چې که زوی يوازې وي، ټولې څلور برخې ورې او که لور يوازې وي دوه برخې ورې. نو خنثی به لومړی د زوی د برخې نيمه (دوه برخې) او بيا به د لور د برخې نيمه (يوه برخه) واخلي چې ټولې درې برخې کيږي.

امام محمد وايي: خنثی به له دولسو برخو، پنځه برخې اخلي، ځکه که نر وای شپږ برخې يې کېدې او که ښځه وی څلور برخې يې کېدې، اوس يې د شپږو نيمې (درې) او د څلورو نيمې (دوه) کيږي چې مجموعا پنځه شوې.

## فعاليت

زده کوونکي دې د خنثی او خنثی مشکل تر منځ په توپير خبرې وکړي.

## پوښتنې

۱- خنثی مشکل تعريف کړئ.

۲- په خنثی کې د نرتوب نښې کومې دي؟

۳- په خنثی کې د ښځتوب نښې کومې دي؟

٤- خنثی مشکل به په لمانځه کې په کوم صف کې دريږي؟

۵- د خنثی مشکل د ميراث اخيستلو احکام او اختلاف روښانه کړئ.

# د مفقود (ورک شوی) احکام

ګرانو زده کوونکو! ننني لوست مو د مفقود یا ورك شوي شخص د احکامو په اړه دی چې تاسو يې لوستلو ته رابولو.

(۱) إِذَا غَابَ الرَّجُلُ، وَلَمْ يُعْرَفْ لَهُ مَوْضِعٌ وَلَمْ يُعْلَمْ أَحَيٌّ هُوَ أَمْ مَيِّتٌ، نَصَّبَ الْقَاضِي مَنْ يَحْفَظُ مَالَهُ وَيَقُومُ عَلَيْهِ وَيَسْتَوْفِي حُقُوقَهُ وَيُنْفِقُ عَلَى زَوْجَتِهِ وَأَوْلَادِهِ مِنْ مَالِهِ، وَلَا يُفَرَّقُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ.

(۲) فَإِذَا تَمَّ لَهُ مِائَةٌ وَعِشْرُونَ سَنَةً مِنْ يَوْمِ وُلِدَ، حَكَمْنَا بِمَوْتِهِ، وَاعْتَدَّتِ امْرَأَتُهُ وَقُسِّمَ مَالُهُ بَيْنَ وَرَثَتِهِ الْمَوْجُودِينَ فِي ذَلِكَ الْوَقْتِ. وَمَنْ مَاتَ مِنْهُمْ قَبْلَ ذَلِكَ لَمْ يَرِثْ مِنْهُ.

(۳) وَلَا يَرِثُ الْمَفْقُودُ مِنْ أَحَدٍ مَاتَ فِي حَالِ فَقْدِهِ.

**ژباړه**

(۱) که سړی ورک شي، ځای یې معلوم نه وي او دا هم معلومه نه وي چې مړ دی که ژوندی، نو قاضي به سرپرست ورته وټاکي چې د مال ساتنه او سرپرستي يې وکړي او له خلکو څخه يې حقوق تر لاسه کړي. له مال څخه يې د ښځې او اولادونو نفقه ورکړي. د (ورک) او ښځې تر منځ يې تفریق نه راوستل کیږي.

(۲) کله چې يې له زیږېدو څخه یو سلو شل کاله پوره شي په مړینه يې حکم کوو، ښځه به يې عدت تیروي او مال به يې په همدې مهال په موجودو وارثانو و وېشل شي، هغه خپلوان چې له دې مهاله مخکې مړه شوي، ورڅخه میراث نشي وړلای،

(۳) مفقود (ورک شوی) هم له هغه چا څخه میراث نشي وړلای چې د ده د ورکیدو په موده کې مړ شوی.

**شرحه**

**د مفقود تعریف**: مفقود هغه ورك شوي شخص ته ویل کیږي چې له پلټنې سره سره يې د ځای، ژوند او مرګ په اړه معلومات نه وي. که دښمن يې بندي کړي او د ځای، ژوند او مرګ په اړه يې معلومات نه وي هم مفقود ګڼل کیږي.

**د مفقود د مال سرپرستي**: قاضي به د مفقود د مال ساتنې، له خلکو څخه د هغه د حقونو لکه پور، حاصلاتو او اجارې د اخیستلو لپاره سرپرست ټاکي، نوموړی به د مفقود له مال څخه د هغه د مېرمنې او اولادونو نفقه ورکوي.

**د مفقود احکام**: د د حنفي فقهاوو له نظره مفقود تر څو چې په مړینه یې حکم و نه شي په استصحاب سره ژوندی ګڼل کیږي او په دې ژوند له خپله ماله د نورو حقداري دفع کولای شي او له نورو ورباندې حق نشي ورلی.

د فقهاوو د قاعدې (مفقود د خپل ځان په حقونو کې مړ او د نورو په حقونو کې ژوندی دی) پر دې بنسټ قاضي د مفقود او مېرمنې تر منځ تفریق نشي راوستی، ځکه چې نکاح د ده له حقونو څخه ده. د مفقود په مړینه هغه مهال حکم کېږي چې د زېږېدنې له نېټې څخه یې یوسلو شل کاله تېر شي، له دې وروسته به یې مېرمن د وفات عدت تېروي، مال به یې په دغه وخت کې د موجودو ورثه و تر منځ وېشل کیږي، ځکه چې دی د ځان په حقوقو کې ژوندی دی او مال یې دده له حقونو څخه دی. له چا څخه میراث نشي وړلای.

د امام مالک په نظر د ورک شوي له ورکېدو څلور کاله وروسته دهغه په مړینه حکم کیږي، ځکه عمر (رضي الله عنه) د یوه ورک شوي په اړه همداسې حکم کړی و. په دې مسئله کې حنفي مذهب د علي (رضي الله عنه) او نورو صحابه و په وینا ولاړ دی چې وایي: هِيَ امْرَأَتُهُ اُبْتُلِيَتْ فَلْتَصْبِرْ حَتَّى يَسْتَبِينَ مَوْتٌ أَوْ طَلَاقٌ. دا د (ورک شوي) ښځه ده، په آزموینه کې ده نو صبر دې وکړي څو یې د (مېړه) مړینه څرګنده شي او یا طلاق څرګند شي.

له بل پلوه نکاح ثابته او یقیني ده او د ورک شوي مړینه شکي ده، د فقهي قاعدې (الیقین لایزول بالشک: یقین په شک له منځه نه ځي) له مخې باید د ښځې او مېړه تر منځ جلاوالی رانشي.

په حنفي مذهب کې د ورک شوي د مړینې د څرګندتیا لپاره یوسلو شل کاله ځکه ټاکل شوي چې په غالب ګومان انسان له دومره کلونو وروسته ژوندی نه پاتې کیږي.

## پوښتنې

١- مفقود تعریف کړئ.

٢- د مفقود په اړه د فقهاوو عمومي قاعده بیان کړئ.

٣- په مفقود باندې څه وخت د مړینې حکم کیږي؟

# د شاړو ځمکو آبادول

د اسلام مبارك دین د آبادۍ او رغونې دین دی. مسلمانانو ته یې د ځمکې د آبادولو حکم کړی، په دې بنسټ خلك کولای شي چې شاړې ځمکې آبادې کړي خو څرنګه چې شاړې ځمکې د ټولو مسلمانانو حق دی د آبادولو لپاره یې د امام اجازه شرط ده. نننی لوست مو د شاړو ځمکو د حکمونو په اړه دی.

(١) الْمَوَاتُ مَا لَا يُنْتَفَعُ بِهِ مِنَ الْأَرْضِ لِانْقِطَاعِ الْمَاءِ عَنْهُ، أَوْ لِغَلَبَةِ الْمَاءِ عَلَيْهِ، أَوْ مَا أَشْبَهَ ذَلِكَ مِمَّا يَمْنَعُ الزِّرَاعَةَ.

(٢) فَمَا كَانَ مِنْهَا عَادِيًا لَا مَالِكَ لَهُ، أَوْ كَانَ مَمْلُوكًا فِي الْإِسْلَامِ وَلَا يُعْرَفُ لَهُ مَالِكٌ بِعَيْنِهِ، وَهُوَ بَعِيدٌ مِنَ الْقَرْيَةِ بِحَيْثُ إِذَا وَقَفَ إِنْسَانٌ فِي أَقْصَى الْعَامِرِ، فَصَاحَ لَمْ يُسْمَعِ الصَّوْتُ فِيهِ فَهُوَ مَوَاتٌ، مَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ مَلَكَهُ، وَإِنْ أَحْيَاهُ بِغَيْرِ إِذْنِ الْإِمَامِ، لَمْ يَمْلِكْهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَمْلِكُهُ.

(٣) وَيَمْلِكُ الذِّمِّيُّ بِالْإِحْيَاءِ كَمَا يَمْلِكُ الْمُسْلِمُ.

(٤) وَمَنْ حَجَّرَ أَرْضًا وَلَمْ يَعْمُرْهَا ثَلَاثَ سِنِينَ، أَخَذَهَا الْإِمَامُ مِنْهُ وَدَفَعَهَا إِلَى غَيْرِهِ.

(٥) وَلَا يَجُوزُ إِحْيَاءُ مَا قَرُبَ مِنَ الْعَامِرِ، وَيُتْرَكُ مَرْعًى لِأَهْلِ الْقَرْيَةِ وَمَطْرَحًا لِحَصَائِدِهِمْ.

(٦) وَمَنْ حَفَرَ بِئْرًا فِي بَرِّيَّةٍ فَلَهُ حَرِيمُهَا، فَإِنْ كَانَتِ الْبِئْرُ لِلْعَطَنِ، فَحَرِيمُهَا أَرْبَعُونَ ذِرَاعًا، وَإِنْ كَانَتْ لِلنَّاضِحِ فَسِتُّونَ ذِرَاعًا، وَإِنْ كَانَتْ عَيْنًا فَحَرِيمُهَا ثَلَاثُمِائَةِ ذِرَاعٍ. وَمَنْ أَرَادَ أَنْ يَحْفِرَ فِي حَرِيمِهَا بِئْرًا مُنِعَ مِنْهُ.

(٧) وَمَا تَرَكَ الْفُرَاتُ أَوِ الدِّجْلَةُ وَعَدَلَ عَنْهُ، فَإِنْ كَانَ يَجُوزُ عَوْدُهُ إِلَيْهِ لَمْ يَجُزْ إِحْيَاؤُهُ، وَإِنْ كَانَ لَا يَجُوزُ أَنْ يَعُودَ إِلَيْهِ فَهُوَكَالْمَوَاتِ إِذَا لَمْ يَكُنْ حَرِيمًا لِعَامِرٍ يَمْلِكُهُ مَنْ أَحْيَاهُ بِإِذْنِ الْإِمَامِ.

(٨) وَمَنْ كَانَ لَهُ نَهْرٌ فِي أَرْضِ غَيْرِهِ، فَلَيْسَ لَهُ حَرِيمٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يُقِيمَ بَيِّنَةً عَلَى ذَلِكَ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: لَهُ مُسَنَّاةٌ يَمْشِي عَلَيْهَا وَيُلْقِي عَلَيْهَا طِينَهُ.

## ژباړه

(١) شاړه هغه ځمکه ده چې د اوبو د نشتوالي یا زیاتوالي او ورته سببونو له کبله چې د کرنې مخه نیسي، ورځخه ګټه نه اخیستل کیږي.

(٢) هغه شاړې چې عادي (پخوا ویجاړې شوې) وي او څښتن ونه لري یا هغه شاړې چې په اسلام کې پخوا د چا ملیکت وي (خو اوس) یې معین څښتن معلوم نه وي او دا ځمکې له کلي څخه دومره لرې وي چې که انسان د آبادۍ په وروستۍ برخه کې ودریږي او غږ وکړي، غږ یې په شاړه کې وانه اوریدل شي نو دا ځمکه شاړه (موات) بلل کیږي. که څوک یې د امام (حکومت) په اجازه آباده کړي د هغه ملکیت دی، خو که څوک یې د امام له اجازې پرته آباده کړي د امام ابوحنیفه په نزد یې نه مالك کیږي، امام ابویوسف او امام محمد وایي: مالك کیږي.

(٣) ذمي هم د مسلمان په څیر په آبادولو سره (د ځمکې) مالك ګرځي.

(٤) څوك چې د نښې په ډول ډبرې له ځمکې ( چاپیره) ولګوي او تر درو کلو یې آباده نه کړي امام به یې ورځخه واخلي او بل چا ته به یې ورکړي.

(٥) آبادۍ ته د نژدې (شاړو) ځمکو آبادول روا نه دي او د کلي خلکو ته به د ورشو او فصلونو کېښودلو لپاره پرېښودل کیږي.

(٦) چا چې په شاړه کې څاه وکیندله، حریم به یې د هغه وي. که یې له څاه څخه اوبه په لاس رایستلې، حریم یې څلوېښت ګزه او که په ارټ یې را ایستلې، حریم یې شپېته ګزه دی. که چینه وه، حریم یې درې سوه ګزه دی، که چا یې په حریم کې څاه کیندله منعه کولای یې شي.

(٧) د دجلې او فرات سیندونو د غاړو هغه برخې چې (سیندونه) یې پرېږدي او بل خوا ورځخه اوړي، که بېرته راګرځېدل یې ورته محتمل وو، نو آبادول یې روا نه دي، که د بېرته را اوړېدو احتمال یې نه و، د شاړو په څیر دي، که څوك یې د امام په اجازه آبادې کړي مالك یې ګرځي په دې شرط چې د کلي حریم نه وي.

(٨) که د چا ویاله د بل چا په ځمکه کې وي، د امام ابوحنیفه په آند حریم نه لري مګر دا چې په حریم شاهدان تېر کړي. امام ابویوسف او امام محمد وایي: د هغه لپاره دومره (پوله) شته

چې وربانديې وګرځي او د ويالې ختې وربانديې واچوي.

**شرحه**

**د موات تعريف او حکم**: د (الارض الموات) تعريف په متن کې روښانه دی. د موات (شاړو ځمکو) په اړه د امام ابويوسف او امام محمد نظر دا دی چې آبادول يې د امام (حکومت) اجازې ته اړتيا نه لري او هر څوک کولای چې آباده يې کړي، ځکه د ابوداود په روايت کړي حديث کې پيغمبر (عليه السلام) فرمايي: (من أحيا أرضاً ميتة فهي له). چا چې شاړه ځمکه آباده کړه، د هغه ده.

**د حکومت اجازه**: د امام ابوحنيفه په نظر د شاړو ځمکو په آبادولو کې د امام اجازه شرط ده ځکه پيغمبر (عليه السلام) فرمايي: (لَيْسَ لِلْمَرْءِ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نَفْسُ إِمَامِهِ.) ژباړه: سړي ته يوازې هغه څه روا دي چې امام (حاکم) يې وربانديې راضي وي.

شاړې ځمکې د بيت المال په څېر د ټولو مسلمانانو حق دی، نو د امام ابوحنيفه په نظر يو تن نشي کولای چې د امام له اجازې پرته يې په خپل ملکيت کې داخلې کړي، خو که څوک شاړه ځمکه د امام له اجازې پرته آباده کړي او وروسته امام اجازه ورکړي، نو ملکيت يې ګرځي، غوره دا ده چې امام يې هم له آبادولو وروسته هغه ته پرېږدي.

د مسلمان په څېر ذمي هم په آبادولو سره د شاړې ځمکې مالک ګرځي ځکه د مالک کېدلو سبب آبادول دي او ذمي او مسلمان دواړه په آبادولو کې سره برابر دي.

څرنګه چې له پورتني حکم څخه د اسلامي شريعت مقصد آبادي او انسانانو ته ګټه رسول دي نو د شاړې ځمکې آبادوونکی بايد په درو کلونو کې ځمکه آباده کړي، که چا شاړه ځمکه د نښو په کېښودلو سره خپله کړې وي او په درو کلو کې يې آباده نه کړي، حکومت به يې ورڅخه اخلي او بل چا ته به يې د آبادولو لپاره ورکوي.

**د شاړې ځمکې د آبادولو لارې**: په شاړو ځمکو کې څاه ايستل د هغې د آبادولو په معنا دي او په دې سره ځمکه (د څاه حريم) د کيندونکي په ملکيت کې راځي. که څاه داسې وه چې د اوبو بوکه ورڅخه په لاس را ايستل کېده نو د څاه هر لور ته څلوېښت ګزه مسافه د کيندونکي په ملکيت کې راځي، خو که له څاه څخه اوبه د ارټ په وسيله راويستل کېدې د څاه هر لور ته شپېته متره مسافه د کيندونکي ملکيت دی. د چينې هر لور ته درې سوه ګزه ځمکه د چينې کيندونکي ملکيت دی، ځکه چينه د کرنې لپاره ايستل کيږي او د اوبو ډنډونو

او ویالو ته اړتیا لري، نو باید چې ساحه یې پراخه وي.

که څوك د چا د څاه یا چینې په حریم کې بله څاه کني، منع کیږي، ځکه هغه ځمکه د لومړي آبادوونکي په ملکیت کې داخله شوې ده.

**له سیند څخه پاتې شاړه**: که د سیند مخه بله خوا واوړي او د تل ځمکه یې شاړه پاتې شي داسې چې د سیند د بېرته راګرځېدلو احتمال نه وي، خلك کولای شي چې د حکومت په اجازه نوموړې شاړه ځمکه آباده کړي په دې شرط چې دا ځمکه پخوا د چا ملکیت، وقف او جومات نه وي. همدا راز نژدې ورسره کلی هم نه وي، که نژدې ورسره کلی و یا پخوا د چا ملکیت، وقف او جومات وي، آبادول یې روا نه دي.

**د بل چا په ځمکه کې د ویالې حریم**: د امام ابوحنیفه په نظر د بل چا په ځمکه کې تېره شوې ویاله حریم نه لري، په دې دلیل چې ویاله د اوبو لپاره وي او له حریم پرته هم د اوبو تېرولو ګټه ترې اخیستل کېدای شي. امام ابویوسف او امام محمد وایي: نوموړې ویاله حریم لري، ځکه له حریم پرته د ویالې څښتن نشي کولای چې د ویالې په غاړه وګرځي او د اوبو څارنه وکړي. دویم دا چې د ویالې د پاکولو په صورت کې دې ته اړتیا ده چې خټې د ویالې په غاړه واچول شي نو حریم ته اړتیا ده.

## فعالیت

زده کوونکي دې د لوستل شوي درس په رڼا کې د خپلې سیمې د شاړو ځمکو په حکم وغږیږي.

## پوښتنې

۱- موات کومې ځمکې ته ویل کیږي؟
۲- آیا د شاړې ځمکې د آبادلو لپاره د امام اجازه شرط ده؟
۳- مسلمان او ذمي د شاړې ځمکې په آبادولو کې ولې توپیر نه لري؟
٤- شاړې ځمکې له کلیو څخه څومره لرې وي؟
۵- په شاړو ځمکو کې د څاه او چینې حریم څومره وي؟
٦- که د سیند مخه بل لوري ته واوړي، پاتې شوې ځمکې څه حکم لري؟
۷- آیا د شخص ویاله چې د بل چا په ځمکه کې وي، حریم لري؟

# دهقاني او باغواني

دهقاني او باغواني هغه عقدونه دي چې زموږ په هېواد کې زيات رواج لري، له همدې امله لوستل او وربانديې پوهېدل زيات اړين دي.

(١) قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ: الْمُزَارَعَةُ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ بَاطِلَةٌ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: جَائِزَةٌ.

(٢) وَهِيَ عِنْدَهُمَا عَلَى أَرْبَعَةِ أَوْجُهٍ:

١ـ إِذَا كَانَتْ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ جَازَتْ الْمُزَارَعَةُ.

٢ـ وَإِنْ كَانَتْ الْأَرْضُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ وَالْبَقَرُ وَالْبَذْرُ لِوَاحِدٍ جَازَتْ أَيْضًا.

٣ـ وَإِنْ كَانَتْ الْأَرْضُ وَالْبَذْرُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْعَمَلُ مِنْ آخَرَ جَازَتْ أَيْضًا.

٤ـ وَإِنْ كَانَتْ الْأَرْضُ وَالْبَقَرُ لِوَاحِدٍ وَالْبَذْرُ وَالْعَمَلُ لِآخَرَ فَهِيَ بَاطِلَةٌ.

(٣) وَلَا تَصِحُّ الْمُزَارَعَةُ إِلَّا عَلَى مُدَّةٍ مَعْلُومَةٍ، وَأَنْ يَكُونَ الْخَارِجُ بَيْنَهُمَا مُشَاعًا، فَإِنْ شَرَطَ لِأَحَدِهِمَا قُفْزَانًا مُسَمَّاةً فَهِيَ بَاطِلَةٌ، وَكَذَلِكَ إِذَا شَرَطَا مَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَالسَّوَّاقِي.

(٤) وَإِذَا صَحَّتِ الْمُزَارَعَةُ فَالْخَارِجُ بَيْنَهُمَا عَلَى مَا شَرَطَا، فَإِنْ لَمْ تُخْرِجْ الْأَرْضُ شَيْئًا فَلَا شَيْءَ لِلْعَامِلِ.

(٥) وَإِذَا فَسَدَتْ الْمُزَارَعَةُ فَالْخَارِجُ كُلُّهُ لِصَاحِبِ الْبَذْرِ، فَإِنْ كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ رَبِّ الْأَرْضِ فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ لَا يُزَادُ عَلَى مِقْدَارِ مَا شُرِطَ لَهُ مِنَ الْخَارِجِ، وَإِنْ كَانَ الْبَذْرُ مِنْ قِبَلِ الْعَامِلِ فَلِصَاحِبِ الْأَرْضِ أَجْرُ مِثْلِهَا.

(٦) وَإِذَا عَقَدَا الْمُزَارَعَةَ فَامْتَنَعَ صَاحِبُ الْبَذْرِ مِنَ الْعَمَلِ لَمْ يُجْبَرْ عَلَيْهِ، وَإِنْ امْتَنَعَ الَّذِي لَيْسَ مِنْ قِبَلِهِ الْبَذْرُ أَجْبَرَهُ الْحَاكِمُ عَلَى الْعَمَلِ.

(٧) وَإِذَا مَاتَ أَحَدُ الْمُتَعَاقِدَيْنِ بَطَلَتْ الْمُزَارَعَةُ.

(٨) وَإِذَا انْقَضَتْ مُدَّةُ الْمُزَارَعَةِ، وَالزَّرْعُ لَمْ يُدْرِكْ، كَانَ عَلَى الْمُزَارِعِ أَجْرُ مِثْلِ نَصِيبِهِ مِنْ الْأَرْضِ إِلَى أَنْ يُسْتَحْصَدَ، وَالنَّفَقَةُ عَلَى الزَّرْعِ عَلَيْهِمَا عَلَى مِقْدَارِ حُقُوقِهِمَا، وَأُجْرَةُ الْحَصَادِ وَالرِّفَاعِ وَالدِّيَاسِ وَالتَّذْرِيَةِ عَلَيْهِمَا بِالْحِصَصِ، فَإِنْ شَرَطَاهُ فِي الْمُزَارَعَةِ عَلَى الْعَامِلِ فَسَدَتْ الْمُزَارَعَةُ.

(٩) قالَ أَبُو حَنِيفَةَ: الْمُسَاقَاةُ بِجُزْءٍ مِنَ الثَّمَرَةِ مشاعاً بَاطِلَةٌ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: هِيَ جَائِزَةٌ، إِذَا ذَكَرَا مُدَّةً مَعْلُومَةً، وَسَمَّيَا جُزْءًا مِنَ الثَّمَرَةِ مُشَاعًا.

(١٠) وَتَجُوزُ الْمُسَاقَاةُ فِي النَّخْلِ وَالشَّجَرِ وَالْكَرْمِ وَالرِّطَابِ وَأُصُولِ الْبَاذِنْجَانِ، فَإِنْ دَفَعَ نَخْلًا فِيهِ ثَمَرَةٌ مُسَاقَاةً، وَالثَّمَرَةُ تَزِيدُ بِالْعَمَلِ جَازَ، وَإِنْ كَانَتْ قَدْ انْتَهَتْ لَمْ يَجُزْ.

(١١) وَإِذَا فَسَدَتْ الْمُسَاقَاةُ فَلِلْعَامِلِ أَجْرُ مِثْلِهِ.

(١٢) وَتَبْطُلُ الْمُسَاقَاةُ بِالْمَوْتِ، وَتُفْسَخُ بِالْأَعْذَارِ كَمَا تُفْسَخُ الْإِجَارَةُ.

## ژباړه

(١) امام ابوحنيفه ويلي: دهقاني په دريمې او څلورمې (برخې) باطله ده. امام ابويوسف او امام محمد وايي: روا ده.

(٢) دهقاني د دوی دواړو په نزد په څلور ډوله ده.

الف: که ځمکه او تخم د يوه، کار او غوايان د بل وي، دهقاني روا ده.

ب: که ځمکه د يوه او کار، غوايان او تخم د بل وي، روا ده.

ج: که ځمکه، تخم او غوايان د يوه او کار د بل وي، بيا هم روا ده.

د: که ځمکه او غوايان د يوه او تخم او کار د بل وي، باطله ده.

(٣) د هقاني په دې شرط روا ده چې موده يې معلومه او حاصل د دواړو تر منځ مشاع وي. که د يوه لپاره يې معيني پيمانې وټاکلې يا يې د لښتي او ويالو په څنډه (را شنه کېدونکي) د يوه لپاره ځانګړې کړل عقد باطل دی.

(٤) کله چې د دهقانی عقد صحيح شي، حاصل يې د دواړو له خوا د ټاکل شوو شرطونو سره سم وېشل کيږي. که ځمکې څه زرغون نه کړل، دهقان ته هېڅ شی نشته.

(٥) که د دهقانی عقد فاسد شي، حاصل د تخم د څښتن دی، که تخم د ځمکې د څښتن

و دهقان ته اجرمثل دی، چې ده ته له ټاکل شوې برخې څخه به نه زیاتیږي، که تخم د دهقان وي د ځمکې ښبنتن ددې د اجر مثل حقدار دی.

(٦) که د دهقانۍ تړون وشي او د تخم ښبنتن له کار کولو ډډه وکړي، نو ورباندې نه مجبوریږي خو که د تخم د ښبنتن مقابل لوری له کار ډډه وکړي حاکم به یې په کار مجبوروي.

(٧) که یو د متعاقدینو مړ شي د دهقانۍ عقد باطلیږي.

(٨) که د دهقانۍ موده پای ته ورسیږي او کښت نه وي رسېدلی، نو په دهقان دده د برخې په اندازه د ځمکې اجر مثل دی، تر څو چې کښت لو شي او په کښت شوی لګښت به پر دواړو باندې د دوی د حقوقو په اندازه وي. د لو، چلولو، غوبل او بادولو لګښت هم پر دواړو باندې د هغوی د برخو په اندازه دی، که یې په دهقانۍ کې (پورتني لګښتونه) یوازې په دهقان شرط کړي وو، د دهقانۍ عقد فاسد دی.

(٩) امام ابوحنیفه وایي: باغوانۍ د مېوې په ځینې مشاع برخه باطله ده. امام ابویوسف او امام محمد وایي: روا ده چې معلومه موده ورته وټاکي او له مېوې څخه مشاعه برخه معلومه کړي.

(١٠) د باغوانۍ عقد په خرما، ونو، تاکونو، سبزیجاتو او د بانجانو په بوټو روا دی. که په باغوانۍ یې داسې ونې ورکړې چې مېوې پکې وې او مېوې په کار زیاتېدلې، روا ده، خو که نورې نه زیاتېدلې، روا نه ده.

(١١) کله چې د باغوانۍ عقد فاسد شي، باغوان ته اجر مثل ورکول کیږي.

(١٢) په مړینې سره د باغوانۍ عقد باطلیږي او په عذرونو سره فسخه کیږي، لکه د اجارې عقد چې فسخ کیږي.



**شرحه**

**د مزارعت (دهقاني) تعريف:**

(مزارعت) له (زرع) څخه اخيستل شوی چې کرلو ته وايي. په اصطلاح کې د حاصلاتو د ځينې برخې په مقابل کې د کرلو عقد مزارعت بلل کيږي.

**د دهقانۍ حکم:**

د امام ابوحنيفه په نظر د حاصلاتو په ځينو برخو د دهقانۍ عقد تړل روا نه دي او دغه عقد فاسد دی، ځکه په دې عقد کې مزدوري مجهوله او نامعلومه ده. په دې معنا چې د عقد پر مهال مزدوري موجوده او معلومه نه ده، يعنې هېڅوك نه پوهيږي چې کښت به رازرغون شي او که نه؟

د امام ابويوسف او امام محمد په نظر دهقاني روا ده، ځکه چې خلك ورته ډېره اړتيا لري او د همدوی په قول فتوا هم ده. د دوی په نظر دهقاني څلور ډوله دي، چې درې يې جايز او يوه يې ناروا ده، جايز ډولونه په لاندې توګه دي:

١- ځمکه او تخم د يوه لوري او کار او غوايان له بل لوري څخه وي.

٢- ځمکه د يوه، کار، غوايان او تخم د بل وي.

٣- ځمکه، تخم او غوايان د يوه، او کار د بل وي.

٤- ځمکه او غوايان د يوه او تخم او کار د بل وي. دا صورت باطل دی، ځکه چې که غوايان د ځمکې پر څښتن شرط شي، نو اجاره فاسديږي يعنې غوايان د ځمکې تابع نه دي او دواړه د بېلو مقاصدو لپاره کارول کيږي.

**د دهقانۍ شرطونه:**

د دهقانۍ د عقد لپاره دا شرط دی چې موده به ټاکلې او معلومه وي. همدا راز د دواړو حق به په مشاع ډول وي، نه په ټاکلې اندازه، يعنې که يو ووايي: ماته به يو خروار راکوې پاتې مو سره ګډ دي، نو عقد باطل دی. په همدې ډول که په ځمکه کې د يو ځانګړې پټې حاصل د ځان لپاره شرط کړي، عقد باطل دی.

که د دهقانۍ په صحيح عقد کې ځمکه حاصل ونکړي، دهقان د هېڅ شي حقدار نه دی، ځکه په صحيح عقد کې پرېکړه په ټاکل شوې مزدورۍ شوې وه چې د حاصل يوه برخه ده او حاصل لاس ته رانغلو.

**فاسده دهقاني**:

که د دهقانۍ عقد فاسد شي، حاصل د تخم د څښتن حق دی او مقابل لوري ته به اجرمثل ورکوي.

که د دهقانۍ په عقد کې د تخم څښتن د تخم له شیندلو وړاندې له کار کولو څخه ډډه وکړه، په کار کولو نه مجبوریږي، ځکه د عقد مخ په وړاندې بېول د ده په زیان تمامیږي چې هغه د تخم له منځه تلل دي، خو که د تخم د څښتن مقابل لوري له کار څخه ډډه وکړه، کار ته اړ ایستلی شي، ځکه په عقد باندې وفا لازمه او ده ته په وفا کولو کوم زیان هم متوجه نه دی. د دې مثال داسې دی لکه څوک چې مزدور د دېوال نړولو ته ونیسي، خو وروسته د دیوال له نړولو تېر شي، نو مزدور نشي کولای چې هغه د دېوال په نړولو مجبور کړي.

د امام محمد په نظر د کښت لو، چلول او غوبل پر دهقان شرط کول، دهقاني فاسدوي ځکه د دهقان کار د کښت تر پخېدو پورې دی او بس. امام ابویوسف وايي: پر دهقان باندې لو، چلول او غوبل شرط کول روا دي، ځکه چې په همدې باندې تعامل دی، د بلخ علماوو همدا نظر غوره گڼلی او په همدې باندې یې عمل کړی.

**د مساقات (باغوانی) تعریف**:

مساقات له سقي څخه اخیستل شوی چې د خړوبولو په معنا دی. ونې په ساتنې او پالنې ورکول چې له مېوې څخه به برخه په مزدورۍ کې ورکوي، مساقات بلل کیږي.

د باغوانی په اړه د امام ابوحنیفه او یارانو تر منځ همغسې اختلاف دی لکه په دهقانۍ کې چې و.



د باغوانۍ عقد په ونو، تاکونو او سبزیجاتو کې روا دی.

د ونو څښتن کولای شي چې د میوو له رسېدو او پخېدو مخکې د باغوانۍ عقد وتړي، کله چې مېوې ورسیږي بیا د باغوانۍ عقد نشي رامنځته کېدای، ځکه چې مزد په کار ورکول کیږي او د مېوې له رسېدو وروسته داسې کار نشته چې په کولو يې باغوان د مزد مستحق شي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د دهقانۍ او باغوانۍ په هغو عقدونو وغږیږي چې ناروا دي.

## پوښتنې

١- مزارعت تعریف کړئ.

٢- د مزارعت په اړه د امامانو اختلاف بیان کړئ.

٣- دهقاني څو ډولونه لري؟ کوم يې روا او کوم يې ناروا دي؟

٤- د دهقانۍ د صحت شرطونه روښانه کړئ.

٥- په دهقانۍ کې لو او غوبل پر چا دی؟

٦- مساقات تعریف کړئ.

٧- مساقات په کومو شیانو کې روا دی؟

# نکاح

الله تعالي په انسان کې جنسي غريزه ايښې ده، تر څو د انساني نسل د بقاء سبب شي، اسلامي شريعت د نر او ښځې د يو ځاى ژوند کولو روا لاره نکاح ښودلې چې په دې لوست کې به يې په احکامو باندې خبرې وشي.

## كِتَابُ النِّكَاح

(١) النِّكَاحُ يَنْعَقِدُ بِالْإِيجَابِ وَالْقَبُولِ، بِلَفْظَيْنِ يُعَبَّرُ بِهِمَا عَنْ الْمَاضِي، أَوْ يُعَبَّرُ بِأَحَدِهِمَا عَنْ الْمَاضِي وَالْآخَرِ عَنْ الْمُسْتَقْبَلِ مِثْلُ أَنْ يَقُولَ زَوِّجْنِي فَيَقُولَ قَدْ زَوَّجْتُكَ.

(٢) وَلَا يَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْمُسْلِمِينَ، إِلَّا بِحُضُورِ شَاهِدَيْنِ حُرَّيْنِ، مُسْلِمَيْنِ، بَالِغَيْنِ، عَاقِلَيْنِ. أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ، عُدُولًا كَانُوا أَوْ غَيْرَ عُدُولٍ، أَوْ مَحْدُودِينَ فِي قَذْفٍ.

(٣) فَإِنْ تَزَوَّجَ مُسْلِمٌ ذِمِّيَّةً، بِشَهَادَةِ ذِمِّيَّيْنِ جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ لَا يَجُوزُ.

**ژباړه** :

**د نکاح کتاب**:

(١) نکاح په ايجاب اوقبول سره ترل کيږي. په دوو داسې لفظونو چې تعبير ورڅخه په ماضي کيږي، يا د يوه (لفظ) څخه يې تعبير په ماضي او د بل څخه په مستقبل سره وشي، مثلا (ښځه) ووايي: ومې کړه او سړی ووايي: ومې کړې.

(٢) د مسلمانانو نکاح نه ترل کيږي مګر د دوو نارينه يا يوه نارينه او دوو ښځو شاهدانو په حضور چې دواړه به آزاد، بالغ، عاقل او مسلمان وي ، که هغوی عادلان وي او که نه وي، يا د تهمت لګولو (قذف) سزا ورکړل شوې وي.

(٣) که (يو) مسلمان (سړي) له ذمي ښځې سره د دوو ذميانو په شهادت سره نکاح وکړه، د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف رحمة الله عليهما په نزد جائز ده، خو امام محمد او زفر رحمهما الله عليه ويلي: جواز نه لري.

**شرحه:**

**د نکاح تعریف:**

**په لغت کې:** یو ځای کېدلو ته وایي.

**په شرعي اصطلاح کې:** هغه عقد ته ویل کیږي چې سړي او ښځې ته له یو بل څخه جنسي ګټه اخیستل رواکوي.

**د نکاح الفاظ:**

نکاح، د نکاح او تزویج په لفظونو ترل کیږي. همدا راز په هر هغه لفظ چې د شیانو تملیک وربانديې راځي، په هغی باندې نکاح ترل کیږي، لکه د هبې ، صدقې او عطیې (ورکړې) الفاظ، په دې شرط چې نیت یې د نکاح وي او شاهدان هم دده په مقصود پوه شي.

**د نکاح د الفاظو څرنګوالی:**

۱- نکاح به په داسې الفاظو ترې چې په تېره زمانه دلالت کوی، لکه یو سړی د نجلۍ پلار ته ووایې: ما ستا لور په نکاح کړله، هغه ورته په ځواب کې ووایې: مادرکړله.

۲- که چیرې یو لفظ ماضی او بل مضارع وی، بیا هم نکاح صحیح ده، لکه د نجلۍ پلار هلک ته ووایې: زه لور درکوم، هلک ورته په ځواب کې ووایې: ما قبوله کړه، یا داسې: هلک د نجلۍ پلار ته ووایې: ماته دې لور په نکاح راکړه، د نجلۍ پلار ورته په ځواب کې ووایې، ما درکړله.

**د نکاح شرطونه:**

د نکاح د ترلو د صحت لپاره مهم شرطونه په لاندې ډول بیانیږي:

۱. ایجاب او قبول به په یوه مجلس کې ترسره کیږی یعني د عقد په مجلس کې به وي.

۲. ایجاب او قبول به په لوړ غږ سره وي، ترڅو یې شاهدان یو ځای واوري او رضایت ښکاره شي.

۳. د ایجاب او قبول الفاظ به دائمی وي او په مؤقت وخت پورې به ترلې نه وي، لکه میاشت، کال او داسې نور، ترڅو د متعې نکاح ورڅخه ووځي، د متعې نکاح په ځلورو مذاهبو کې حرامه او باطله ده.

٤. عقد کوونکې به دواړه د عقل خاوندان وي، د لیوني اوغیر ممیز ماشوم نکاح صحیح نده.

٥. عقد کوونکې به بالغ او آزاد وي، دا دواړه د نکاح د نفاذ له شرایطو څخه دي.

٦. د شاهدانو شاهدي د نکاح د صحت د شرطونو له جملې څخه ده، د شاهدانو له حضور څخه پرته نکاح نه تړل کیږي. نکاح د دوو نارینه شاهدانو او یا د یو نارینه او دوه ښځینه شاهدانو په حضور تړل کیږي.

## د شاهدانو شرطونه په لاندې ډول دي:

١. عقل، د لیونی په شاهدي د نکاح تړل صحیح نه دي.

٢. بلوغ، د ماشوم په شاهدي د نکاح تړل صحیح نه دي.

٣. آزادي، د غلام په شاهدی باندې د نکاح تړل صحیح نه دي.

٤. اسلام، د مسلمانانو په نکاح باندې د ذمیانو شاهدی صحیح نه ده.

٥. شاهدان به دوه سړي یا یو سړی او دوې ښځې وي، یواځې د ښځو په شاهدی نکاح نه صحیح کیږي.

٦. شاهدانو به د دواړو عاقدینو خبره یو ځأی اورېدلی وي، یعنې د خوب وړو شاهدي صحیح نه ده.

٧. د زوجینو معلومول: که یو څوك چې دوې لورګانی ولری یو چاته ووایي چې ما یوه لور په نکاح درکړه، دا صحیح نه ده، ځکه معلومه نه شوه چې کومه لور یې مراد ده.

## فعالیت

د ښوونکي په مرسته دې زده کوونکي په خپلو کې د ایجاب او قبول د الفاظو په هکله سره مناقشه وکړي.

## پوښتني

۱. نکاح تعریف کړئ؟
۲. نکاح په کومو الفاظو تړل کیږي؟
۳. له عربي ژبې څخه پرته په نورو ژبو نکاح تړل څه حکم لري؟
٤. د نکاح شرطونه څو او کوم دي؟
٥. آیا له شاهدانو پرته نکاح تړل کیږي؟
٦. د شاهدانو شرطونه بیان کړئ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د متن مسئلې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د نکاح محرمات

(١) وَلَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأُمِّهِ، وَلَا بِجَدَّاتِهِ، وَلَا بِابْنَتِهِ وَلَا بِابْنَةِ وَلَدِهِ وَإِنْ سَفَلَتْ، وَلَا بِأُخْتِهِ، وَلَا بِبَنَاتِ أَخِيهِ، وَلَا بِبَنَاتِ أُخْتِهِ، وَإِنْ سَفَلْنَ وَلَا بِعَمَّتِهِ، وَلَا بِخَالَتِهِ، وَلَا بِأُمِّ امْرَأَتِهِ، دَخَلَ بِابْنَتِهَا، أَوْ لَمْ يَدْخُلْ، وَلَا بِبِنْتِ امْرَأَتِهِ الَّتِي دَخَلَ بِأُمِّهَا، سَوَاءٌ كَانَتْ فِي حِجْرِهِ أَوْ حِجْرِ غَيْرِهِ.

(٢) وَلَا بِامْرَأَةِ أَبِيهِ وَأَجْدَادِهِ، وَلَا بِامْرَأَةِ ابْنِهِ وَبَنِي أَوْلَادِهِ، وَلَا بِأُمِهِ مِنْ الرَّضَاعَةِ، وَلَا بِأُخْتِهِ مِنْ الرَّضَاعَةِ وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ أُخْتَيْنِ بِنِكَاحٍ وَلَا بِمِلْكِ يَمِينٍ وطيا. (٣) وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَا خَالَتِهَا وَلَا بِنْتِ أُخْتِهَا وَلَا بِنْتِ أَخِيهَا.

(٤) وَلَا يَجْمَعُ بَيْنَ امْرَأَتَيْنِ لَوْ كَانَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا رَجُلًا، لَمْ يَجُزْ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِالْأُخْرَى وَلَا بَأْسَ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ امْرَأَةٍ وَابْنَةِ زَوْجٍ كَانَ لَهَا مِنْ قَبْلِهِ

(٥) وَمَنْ زَنَى بِامْرَأَةٍ حُرِّمَتْ عَلَيْهِ أُمُّهَا وَابْنَتُهَا

(٦) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا، أَوْ رَجْعِيًّا لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِأُخْتِهَا حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا

**ژباړه :**

(١) سړي ته حلال نه دي چې له خپلې مور سره نکاح وکړي، نه له خپلو نیاګانو سره (که هغه د سړو له خوا وي که د ښځو له خوا) نه له خپلې لور سره، نه د اولادونو له لور سره، که څه هم لاندې وي(لکه لمسیانې)، نه له خپلې خور سره، او نه له خورزو سره، نه له وریرو سره که څه هم لاندې وي(لکه د هغوی د اولادونو لونې)، نه د پلار له خور(عمه) سره، او نه د مور له خور(خاله) سره، نه د ښځې له مور (خواښې) سره که یې له لور سره یو ځای شوی وي او یا نه وي(کور واله کړې وي یا نه)، نه د هغې ښځې له لور (پرکټې) سره چې ورسره یو ځای شوی وي (کور واله کړې وي) برابره خبره ده که هغه دده په روزنه کې وي او که د بل چا.

(۲) نه د پلار له ښځې (میرې) او نه د نیکونو له ښځو سره، نه د زوی له ښځې (نګور) اونه د لمسو د ښځو سره(د زامنو او لوڼو د زامنو د ښځو سره) ، نه له رضاعي مور سره(هغه چې شیدې یې رودلې وي)، نه له رضاعي خور سره.

(۳) او نه دې جمع کوي دوه خویندې په نکاح سره، نه د وینځو دوه خویندې په وطی سره، او نه دې جمع کوي ښځه او د هغې ترور(عمه)، نه د هغې خاله، نه خورځه او نه د هغې وریره (دا ښځې یو د بل بنې کیدای نه شي).

(٤) او نه دې جمع کوي داسې دوې ښځې چې که هره یوه ورته سړی فرض شي، نو له هغې بلې سره یې نکاح روا نه وي، او دا باك نه لري که د ښځې او د هغې د مخکینې میړه د لور (بنزی) په منځ کې یو ځای والی وکړي.

(٥) او څوك چې له کومې ښځې سره زنا وکړي په ده باندې د هغې مور او لور حرامه شوه.

(٦) او که سړي خپله ښځه په بائن یا رجعي طلاق سره طلاقه کړه، نو تر څو چې یې عدت تیر شوی نه وي د هغې له خور سره یې نکاح کول جواز نه لري.

**شرحه** : له محرماتو سره نکاح کول حرام دي، او د نکاح د عقد د صحت لپاره دا شرط دی چې ښځه سړي ته روا وي.

**د محرّماتو تعریف**: محرّمات د محرّمة جمعه ده او محرّمة حرام (منعه ) کړې شوې ته ویل کیږي.

په اصطلاح کې: هغه ښځینه او نارینه چې د قرابت په وجه یې یو بل سره نکاح کول حرام وي، محرمات بلل کیږي.

**د محرماتو ډولونه**:محرمات په دوه ډوله دي:

١ – ابدي محرمات. ٢ – موقتي محرمات.

**ابدي محرمات**: ابدي محرمات هغه دي چې د تل لپاره د سړي نکاح ورسره حرامه وي.

ابدي محرمات په درې ډوله دي:

**لومړی**: **نسبي محرمات**: نسبي محرمات هغه ښځې دي چې د نسبي قرابت له امله په سړي حرامیږي او هغه اووه دي:

آ- مورګانې او تر هغوې پورته( د مور مور، او د پلار مور) او تر دوی پورته چې د انسان اصول ورته وایي.

ب- لورګانې او تر هغوي ښکته(دلور لور، دزوي لور همداسې ښکته). چې د انسان فروع دي.

ج- د مور او پلار لوڼې لکه خويندې او د هغوی د اولادنولوڼې، لکه لمسیانې.

د- د نیا او نیکه لوڼې، لکه عمه ګانې او خاله ګانې.

ه- وريرې او د هغوی اولادونو لوڼی.

ز- خورځې او د خورینو د اولادونو لوڼې.

**دویم: د مصاهرت محرمات**: د مصاهرت محرمات هغه دی چې د خسر والي او زوم والي له امله په سرې حراميږي، او دا په څلور ډوله دی:

آ- د ښځې مور: د عقد په تړلو سره د خپلې ښځې مور او ددې نیاګانې په سړي باندې د ابد لپاره حراميږي.

ب- د ښځې لوڼي (د سړي پرکتی) او د هغې لوڼې او ترهغو ښکته، پدې شرط چې مېړه د ښځې سره کوروالی کړې وي، که چیرې يې کوروالی ورسره نه وي کړی او له عقد وروسته ورڅخه په طلاق يا وفات جلا شوه، بیا ورته رواده چې ددغې ښځې لورګانې او لمسیانې په نکاح کړي.

ج- د زامنو ښځې (ننګيندی): (د اولادونو او د لمسو ښځې) همداسې تر ښکته، برابره خبره ده چې زوی او لمسي له خپلو ښځو سره کوروالی کړې وي او يانه، بلکه نکاح کافي ده.

په زنا کولو د مصاهرت حرمت:

په زنا کولو د مصاهرت حرمت ثابتيږي، که يو څوك له کومې ښځې سره زنا وکړي، نو د هغې اصول او فروع يعنې مور، نیا همداسې پورته. لور او د هغې د اولادونو لوڼې همداسې ښکته وربانديې حراميږي، همدا شان دغه ښځه د زانی سړي پر اصولو او فروعو هم حرامه ده.

**دريم : رضاعي محرمات**:

رضاعي محرمات هغه دي چې د رضاع (د شیدو رودلو) په سبب په تي خوړونکي باندې حراميږي، کومې ښځې چې د نسب او مصاهرت په سبب په سړي حراميږي، هم هغه ښځې د رضاع په سبب هم وربانديې حراميږي.

**موقت محرمات** :موقت محرمات په لاندې ډول دي:

ا- همدا شان له ښځې سره بله داسې ښځه يوځای کول چې هره يوه ورته نر فرض کړای شي له دويمې سره يې نکاح جواز ونه لري، حرامه ده، لکه د دوه خويندو جمع کول،

ښځه او خاله یا د ښځې یوځای کول د عمې سره.

ب- پنځمه ښځه کول: سړي ته په اسلام کې دا جواز نه لري چې په یوه مهال له څلورو څخه زیاتې ښځې په نکاح کې ولري.

ج- هغې ښځې سره نکاح کول چې په اسماني دین ایمان نلري: مسلمان ته روا نه دي چې مشرکې او بت پرستې ښځې سره نکاح وکړي.

## فعالیت

زده کوونکي دې درې ډلې شي: یوه ډله دې ابدي محرمات، دویمه ډله دې مؤقت محرمات او دریمه ډله دې له کافرې، یا کتابي ښځې سره د نکاح حکم بیان کړي.

## پوښتنې

۱. محرمات تعریف کړئ؟

۲. د محرماتو ډولونه کوم دي؟

۳. په عدت کې د ښځې نکاح څه حکم لري؟

٤. ایا له کافر سره د مسلمانې ښځې نکاح جواز لري؟

٥- له پنځمې ښځې سره نکاح کول څه حکم لري؟

## کورنۍ دنده

د محرماتو ډولونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# له کتابي ښځو سره نکاح او پيغلې نکاح ته نه مجبورول

په تير درس کې مو محرمات وپېژندل، اوس غواړو چې له کتابي، صابي او ايمان نه لرونکو ښځو سره د نکاح په هکله درته معلومات وړاندې کړو.

(١) وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الْكِتَابِيَّاتِ، وَلَا يَجُوزُ تَزَوُّجُ الْمَجُوسِيَّاتِ، وَلَا الْوَثَنِيَّاتِ.

(٢) وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الصَّابِئَاتِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، إِذَا كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِدِينٍ وَيُقِرُّونَ بِكِتَابٍ .

(٣) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ، لَا يَجُوزُ، فَإِنْ كَانُوا يَعْبُدُونَ الْكَوَاكِبَ وَلَا كِتَابَ لَهُمْ، لَمْ تَجُزْ مُنَاكَحَتُهُمْ.

(٤) وَيَجُوزُ لِلْمُحْرِمِ وَالْمُحْرِمَةِ أَنْ يَتَزَوَّجَا فِي حَالِ الْإِحْرَامِ

(٥) وَيَنْعَقِدُ نِكَاحُ الْحُرَّةِ الْبَالِغَةِ الْعَاقِلَةِ - بِرِضَاهَا، وَإِنْ لَمْ يَعْقِدْ عَلَيْهَا وَلِيٌّ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَزُفَرَ بِكْرًا كَانَتْ أَوْ ثَيِّبًا، وقال ابو يوسف و محمد رحمهماالله تعالي:لا ينعقد الا بولي.

(٦) وَلَا يَجُوزُ لِلْوَلِيِّ إِجْبَارُ الْبَالِغَةِ عَلَى النِّكَاحِ بِكْرًا كَانَتْ أَوْ ثَيِّبًا.

(٧) وَإِذَا اسْتَأْذَنَهَا فَسَكَتَتْ أَوْ ضَحِكَتْ فَذَلِكَ إِذْنٌ مِنْهَا وَإِنْ اسْتَأْذَنَ الثَّيِّبَ، فَلَا بُدَّ مِنْ رِضَاهَا بِالْقَوْلِ.

(٨) وَإِذَا زَالَتْ بَكَارَتُهَا بِوَثْبَةٍ أَوْ حَيْضَةٍ أَوْ جِرَاحَةٍ، فَهِيَ فِي حُكْمِ الْأَبْكَارِ، وَإِنْ زَالَتْ بِزِنًا فَهِيَ كَذَلِكَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

(٩) وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ بَلَغَكِ النِّكَاحُ فَسَكَتِّ فَقَالَتْ - مُجِيبَةً لَهُ - : بَلْ رَدَدْتُ، فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا، وَلَا يَمِينَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ

(١٠) وَلَا يُسْتَحْلَفُ فِي النِّكَاحِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ يُسْتَحْلَفُ فِيهِ
.

(۱۱) وَيَنْعَقِدُ النِّكَاحُ بِلَفْظِ النِّكَاحِ، وَالتَّزْوِيجِ، وَالْهِبَةِ، وَالصَّدَقَةِ، وَالتَّمْلِيكِ، وَلَا يَنْعَقِدُ بِلَفْظِ الْإِجَارَةِ وَالْإِبَاحَةِ وَلَا يَنْعَقِدُ بِلَفْظِ الْوَصِيَّةِ.

**ژباړه**:

(۱) له کتابي ښځو سره نکاح کول جواز لري، او له آتش پرستو او بت پرستو ښځو سره نکاح جواز نه لري.

(۲) او له صابيه ښځو سره نکاح د امام ابوحنيفه په نزد جواز لري، که په (کوم) دين باندې ايمان ولري په ( آسماني) کتاب مقر وي (ايمان پرې لري)

(۳) امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله وايي: جواز نه لري. که د ستورو عبادت کوي او کتاب ورسره نه وي، نو نکاح ورسره کول (د ټولو په نزد) جواز نه لري.

(٤) مُحرم سړي او محرمې ښځې ته جواز لري چې د احرام په حالت نکاح وکړي.

(٥) او د آزادې، بالغې او عاقلې ښځې نکاح د هغې په خوښه تړل کېږي که څه هم د هغې ولي يې و نه تړي. د امام ابوحنيفه او زفر په نزد، باکره وي او که ثيبه (کونډه)، او صاحبينو ويلي چې بې ولي يې نکاح تړل کيږي.

(٦) ولي جواز نه لري چې بالغه پيغله (نکاح کولو ته) مجبوره کړي، باکره وي او که ثيبه.

(۷) که د هغې ولي ورڅخه اجازه وغواړي، دا چوپه شي او يا وخاندې، نو دا د هغې له لوري اجازه ورکول دي، او که له کونډې څخه اجازه وغواړي نو د هغې خوښه په قول (ويلو) ضروري ده.

(۸) که د ښځې(پيغلې) بکارت په ټوپ وهلو، حيض او زخم زائل شو(له منځه لاړ) نو هغه د باکرې په حکم کې ده، او که يې بکارت په زنا کولو سره لرې شو، نو هغه هم د امام ابوحنيفه په نزد د پيغلې په شان ده.

(۹) که (له واده مخکې)خاوند پيغلې ته ووايي چې تاته د نکاح کولو خبر در ورسېد او تا سکوت کړی و (چوپه خوله شوې) او دې ورته وويل نه (سکوت مې نه دی کړی) بلکې رد مې کړ، د هغې خبره(معتبره) ده، خو د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد قسم ورباندې نه شته.

(۱۰) د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په آند په نکاح کې قسم نه غوښتل کيږي، او صاحبينو ويلي چې قسم ورڅخه غوښتل کيږي.

(۱۱) نکاح د تزويج، تمليک، هبې او صدقې په الفاظو تړل کيږي، او د اجارې، اعارې او

اباحت په لفظ نه ترل کیږي، او نه د وصیت په لفظ ترل کیږي.

**له صابیه ښځو سره نکاح** : له صابیه ښځو سره نکاح کول جواز لري. که په کوم نبي باندې ایمان ولري، د امام ابو حنیفه په نزد. او که د ستورو عبادت کوي او د کوم اسماني کتاب پیرو نه وي، نو نکاح ورسره په اتفاق جواز نه لري.

صاحبین وایي د صابیه فرقه په بت پرستوکې داخله ده، ځکه چې دوی د ستورو عبادت کوي، خو د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د تحقیق له مخې صابیات هغه دي چې دوی په زبور ایمان لري او د ستورو عبادت نه کوي.

**له هغو ښځو سره د نکاح حکم چې په کوم أسماني دین ایمان نه لري**: د مسلمان سړي لپاره روا نه دي چې له مشرکې او بت پرستې ښځې سره نکاح وکړي. الله تعالیٰ فرمایي: ((ولا تنکحوا المشرکات حتی یؤمن)) ژباړه: له مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئ، ترڅو ایمان راوړي.

**له کافر سره د مسلماني ښځې نکاح**: له کافر سړي سره د مسلمانې ښځې نکاح کول په مطلق ډول حرام دي که هغه یهودي، نصراني، ملحد کمونست، او یا بل کافر وي، الله تعالي ﷻ فرمایي، چې معنا یې دا ده: ((بیا کله چې تاسي ته معلومه شي چې هغوی مؤمني دي نو هغوی بېرته کافرانوته مه لیږئ، نه هغوی د کافرانو له پاره روادي او نه کافران دهغو له پاره روادي.))

**په نکاح کې د ښځې رضایت**: په نکاح کې د بالغې ښځې او بالغ هلك رضایت او خوښه شرط ده، ولي ته دا حق نشته چې هغوی په نکاح کولو مجبورې کړي، یعنی د هغوی له رضایت څخه پرته د ولی په نکاح ورکول نافذ او عملی نه دي.

**په نکاح کې اجازه**: دا سنت ده چې ولي د پیغلې د نکاح کولو مخکې د هغې اجازه او خوښه واخلی او ورته ووایي فلانی سړی ستا سره نکاح کول غواړي، نو که یې سکوت وکړ او چوپتیا یې غوره کړه، دا یې خوښه بلل کیږي، او که د هغې اجازه او خوښه وانه خلي، نو د سنت خلاف کار یې وکړ او نکاح به بیا هم ددې تر اجازی پوری موقوفه وي.

خو د کونډې ښځې سکوت د هغې موافقه نه ګڼل کیږي، بلکې هغه به د موافقې خبره په صراحت سره کوي.

## فعالیت

که د پېغلې بکارت په زنا کولو سره لرې شي، نو هغه هم د امام ابو حنيفه په نزد لکه د پېغلې په شان په نکاح ورکول کيږي، او صاحبينو ويلي دي چې هغه د کونډې په حکم کې ده،لکه دکونډې په شان به په خوله خپله خوښه څرګندوي.
ښوونکی دې زده کوونکي په درو ډلو ووېشي، د کتابي، صابي او کافرو ښځو سره د مسلمان د نکاح او له مسلماني ښځې سره د کافر د نکاح اړه دې خبرې وکړي.

## پوښتنې

١- له کتابي ښځو سره د نکاح کولو حکم څه دی؟
٢- صابيئه ښځې څوک دي، او له هغو سره د مسلمان د نکاح کولو حکم څه دی؟
٣- له هغو ښځو سره نکاح څه حکم لري چې په کوم آسماني دين اعتقاد (باور) نه لري؟
٤- آيا له کافر سره د مسلماني ښځې نکاح جواز لري؟
٥- آيا پېغله د هغې د خوښې خلاف نکاح ته مجبوره کېدای شي؟
٦- د پېغلې او کونډې تر منځ د اجازې توپير روښانه کړئ.

## کورنۍ دنده

د مسجد د ملا امام په مرسته د صابيه طايفې په هکله اضافي معلومات په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# ولايت

د نکاح ولي ته ډېر د پام وړ اختيار حاصل دی، تر څو له داسې چا سره يې نکاح وشي چې هغه يې سيال وي او په راتلونکې کې په نکاح کې ستونزې پيدا نه شي، نو راځئ چې په دې درس کې د ولايت اړوند احکام او مسايل مطالعه کړو.

(١) وَيَجُوزُ نِكَاحُ الصَّغِيرِ وَالصَّغِيرَةِ، إِذَا زَوَّجَهُمَا الْوَلِيُّ بِكْرًا كَانَتْ الصَّغِيرَةُ أَوْ ثَيِّبًا.

(٢) وَالْوَلِيُّ هُوَ الْعَصَبَةُ.

(٣) فَإِنْ زَوَّجَهُمَا الْأَبُ أَوْ الْجَدُّ، فَلَا خِيَارَ لَهُمَا بَعْدَ الْبُلُوغِ، وَإِنْ زَوَّجَهُمَا غَيْرُ الْأَبِ وَالْجَدِّ.

(٤) فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا الْخِيَارُ، إِذَا بَلَغَ، إِنْ شَاءَ أَقَامَ عَلَى النِّكَاحِ وَإِنْ شَاءَ فَسَخَ. وَلَا وِلَايَةَ لِصَغِيرٍ، وَلَا عَبْدٍ، وَلَا مَجْنُونٍ، وَلَا وِلَايَةَ لِكَافِرٍ عَلَى مُسْلِمَةٍ وَقَالَ أَبُو حَنِيفَةَ. يَجُوزُ لِغَيْرِ الْعَصَبَاتِ مِنَ الْأَقَارِبِ التَّزْوِيجُ.

(٥) وَمَنْ لَا وَلِيَ لَهَا إِذَا زَوَّجَهَا مَوْلَاهَا الَّذِي أَعْتَقَهَا جَازَ.

(٦) وَإِذَا غَابَ الْوَلِيُّ الْأَقْرَبُ غَيْبَةً مُنْقَطِعَةً جَازَ لِمَنْ هُوَ أَبْعَدُ مِنْهُ أَنْ يُزَوِّجَ خِلَافًا لِزُفَرَ.

(٧) وَالْغَيْبَةُ الْمُنْقَطِعَةُ أَنْ يَكُونَ فِي بَلَدٍ لَا يَصِلُ إِلَيْهِ الْقَوَافِلُ فِي السَّنَةِ إِلَّا مَرَّةً

**ژباړه:**

(١) د صغير هلك او صغيرې نجلۍ نکاح جواز لري، خو چې نکاح يې ولي وکړي، که دا وره نجلۍ باکره (پيغله) وي او که ثيبه (کونډه) وي.

(٢) او ولي عصبه دی.

(۳) که دوی (دواړه) پلار یا نیکه په نکاح ورکړي وي، بلوغ ته له رسېدلو وروسته دوی ته اختیار نه شته، او که د دوی نکاح له پلار او نیکه څخه پرته بل ولي کړي وي، نو دوی دواړه هر یو اختیار لري، که غواړي په نکاح کې دې پاتې شي او که غواړي (نکاح) دې فسخه کړي.

(٤) کوچني، مریي او لیوني لره ولایت (واک) نشته او کافر لره په مسلمانې ښځې ولایت نشته، ابوحنیفه رحمة الله علیه ویلي دي: له عصباتو پرته(چې شتون ونلري) نورو اقاربو ته (لکه خور، مور او خاله) ته د نکاح (ولایت) ورکول جایز دي.

(٥) د کومې ښځې چې ولي نه وي، که هغه د هغې مولا(بادار) چې دایې آزاده کړې ده، په نکاح ورکړي، جواز لري.

(٦) او که نژدې ولي په مُنقَطِعه غیابت باندې غائب شوی وي، نو تر ده لرې ولي ته جواز دی چې هغه په نکاح ورکړي.

(٧) او مُنقَطِعه غیابت هغه دی چې په داسې سیمه کې وي چې هلته قافلې له یو واره زیات په کال کې نه رسیږي.

**شرحه** :

**د ولایت تعریف**: ولایت په لغت کې: امارت او واک ته ویل کیږي. او د فقهې په اصطلاح کې: د چا له اجازې پرته په یو کار کې د تصرف قدرت او واک لرلو ته ولایت وایي. همداسې شخص ته ولی وایي.

ولی په لغت کې: د دښمن خلاف دی.

او د فقهې په اصطلاح کې: ولي هغه بالغ او عاقل عصبه نارینه وارث دی چې د ذوي الفروضو په نشتوالي کې ټول مال اخلي.

**د ولایت ډولونه**:

ولایت په درې ډوله دی:

۱- د نفس ولایت.

۲- د مال ولایت.

۳- د نفس او مال دواړه ولایت.

د نفس ولایت په دوه ډوله دی:

۱- د اجبار ولایت: په بل چا د خبری د قبلولو واک لرل.

۲- د اختیار ولایت:

د اجبار د ولایت سببونه دری دي:

۱- کوچنیوالی.

۲ - لیونتوب.

۳- العته(دعقل کم والی.)

۲- **د اختیار ولایت**: د ښځې په نکاح ورکولو کې د ولی حق دی چې د هغې د خوښې او رضا پر اساس وي.

## په نکاح کې د ولي واک:

د امام ابوحنیفه او امام ذفر رحمهما الله تعالی په اند عاقله، بالغه او آزاده ښځه د ولي له اجازې پرته خپل ځان په نکاح ورکولای شي.

## د اولیاوو ترتیب:

۱- زوي، د زوي زوي، همداسې ښکته.

۲- پلار، نیکه،همداسې پورته.

۳- سکه ورور، دهغه زامن، همداسې ښکته.

٤- سکه تره، د هغه زامن .

٥- د پلار تره، دهغه زامن ،بیا د نیکه تره بیا دهغه زامن، همداسې.

له دې وروسته بیا سببي عصبې ته ولایت او واک دی چې هغه آزادونکی دی، له هغه وروسته بیا امام او چارواکی ولی جوړیږی.

## فعاليت

زده کوونکي دې په درو ډلو وویشل شي او په نکاح کې د ولي د اختيار، د پېغلې له خوښې پرته په اجبار سره نکاح او د اولياؤ د ترتيب په هکله مناقشه وکړي.

## پوښتنې

١. ولايت څه ته وايي، تعريف يې کړئ؟
٢. ولي څوك دی؟
٣. د ولايت ډولونه كوم دي؟
٤. د اولياوو ترتيب بيان کړئ؟

## كورنۍ دنده

د متن د مسائلو لنډيز په خپلو كتابچو كې وليكئ.

# كفاءت

د دې لپاره چې د مېړه او ښځې تر منځ اړيكې پخې او تلپاتې وي، شريعت په مېړونو كې د ښځو په نسبت ځينې صفات ټاكلي او هغه دا چې مېړه به د ښځې سيال وي، نو سيال څه ته وايي؟ او كه ښځه ناسيال سړي په نكاح كړي، اولياء څه كولى شي؟

دا او دې ته ورته پوښتنې په دې لوست كې ځوابيږي.

(١) وَالْكَفَاءَةُ فِي النِّكَاحِ مُعْتَبَرَةٌ وَإِذَا تَزَوَّجَتْ الْمَرْأَةُ غَيْرَ كُفُوٍ فَلِلْأَوْلِيَاءِ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَهُمَا

(٢) وَالْكَفَاءَةُ مُعْتَبَرَةٌ فِي النَّسَبِ وَالدِّينِ وَالْمَالِ وَهُوَ: أَنْ يَكُونَ مَالِكًا لِلْمَهْرِ وَالنَّفَقَةِ وَتُعْتَبَرُ فِي الصَّنَائِعِ أَيْضًا

(٣) وَإِذَا تَزَوَّجَتْ الْمَرْأَةُ وَنَقَصَتْ مِنْ مَهْرِ مِثْلِهَا فَلِلْأَوْلِيَاءِ حَقُّ الِاعْتِرَاضِ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ حَتَّى يُتِمَّ لَهَا مَهْرَ مِثْلِهَا أَوْ يُفَارِقَهَا.

(٤) وَإِذَا تَزَوَّجَ الْأَبُ ابْنَتَهُ الصَّغِيرَةَ، وَنَقَصَ مِنْ مَهْرِهَا، أَوْ ابْنَهُ الصَّغِيرَ وَزَادَ فِي مَهْرِ امْرَأَتِهِ جَازَ ذَلِكَ عَلَيْهِمَا، وَلَا يَجُوزُ ذَلِكَ لِغَيْرِ الْأَبِ وَالْجَدِّ.

(٥) وَيَصِحُّ النِّكَاحُ إِذَا سَمَّى فِيهِ مَهْرًا، وَيَصِحُّ وَإِنْ لَمْ يُسَمِّ فِيهِ مَهْرًا.

(٦) وَأَقَلُّ الْمَهْرِ عَشَرَةُ دَرَاهِمَ، فَإِنْ سَمَّى أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةٍ، فَلَهَا عَشَرَةٌ. وَإِنْ سَمَّى عَشَرَةً فَمَا زَادَ، فَلَهَا الْمُسَمَّى، إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا.

(٧) وَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا وَالْخَلْوَةِ، فَلَهَا نِصْفُ الْمُسَمَّى

(٨) فَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا، أَوْ تَزَوَّجَهَا عَلَى أَنْ لَا مَهْرَ لَهَا، فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا، إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا، فَإِنْ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ وَالْخَلْوَةِ، فَلَهَا الْمُتْعَةُ. وَهِيَ ثَلَاثَةُ أَثْوَابٍ مِنْ كِسْوَةِ مِثْلِهَا.

**ژباړه**

(۱) او سیالتوب ته په نکاح کې اعتبار ورکول کیږي، نو کومه مېرمن که له نا سیال مېړه سره واده وکړي د هغې اولیاکولای شي چې د هغوی ترمنځ جدایي راولي.

(۲) سیالتوب په نسب، دین او مال کې معتبر دی، هغه پدی ډول: چې د مهر او نفقې مالک به وي، په کار او کسب کې هم (سیالتوب) اعتبار لري.

(۳) که مېرمنې له خپل مهر مثل څخه په لږه اندازه نکاح وکړه، د هغې اولیاء پر هغې باندې د امام ابوحنیفه له نظره د اعتراض حق لری، آن تر دې چې د هغې لپاره مهر مثل ور پوره کړې شي او یا یې جلا کړي.

(٤) که پلار خپله صغیره لور په لږ مهر په نکاح ورکړي، یا صغیر زوی ته په ډېر مهر نجلی په نکاح کړي، پلار او نیکه ته دغه واک د دوی په هکله شته او پرته له دوی څخه نور خپلوان دا واک نه لري.

(٥) په نکاح کې چې مهر وټاکي، نو صحیح کیږي، او که مهر و نه ټاکي بیا هم صحیح کیږي.

(٦) د مهر لږه اندازه لس درهمه ده، که له هغه لږه وټاکي نو لس درهمه یې حق کیږی.
څوک چې لس درهمه او یا له هغه ډېر مهر وټاکي او له هغې سره کوروالی وکړي، یا ورڅخه مړ شي، بیا ورلره همهغه ټاکل شوی(مهر) دی.

(۷) اوکه مېرمن مخکې له کوروالي او یا خلوت کولو څخه طلاقه کړي، د تعیین شوي مهر نیمایي به ورکول کیږي.

(۸) که نکاح وکړي او مهر په کې تعیین نه شي، او یا په دې شرط نکاح وکړي چې مهر به نه وي ، او له هغې سره کوروالی وکړي او یا ترې مړ شي، هغې ته به مهر مثل ورکول کیږي، او که هغه مخکې له کوروالي او خلوت څخه طلاقه کړي، هغې ته متعه ورکول کیږي، متعه درې جامې دي چې د دود مطابق د هغې هم مثله مېرمن ته ورکول کیږي.

### شرحه

### د کفاءت تعریف

کفاءت په لغت کې مساوات او برابرۍ ته وايي. او د فقهاوو په اصطلاح کې د ښځې او خاوند تر منځ په نسب ، دیانت، ما ل او کسب کې مساوات کفاءت بلل کیږي.

### د مېړه او مېرمنې ترمنځ سیالتوب

کفاءت د سړې په جانب کې معتبر دی، ځکه شريفه ښځه دا بده ګڼې چې له خسيس سره واده وکړي، خو سړی دا بده نه ګڼي چې ښځه يي خسيسه يا د کمزوري نسب خاونده وي.

د مېرمن اومېړه تر منځ کفاءت ضروري دی، نوهغه مېرمن چې د ځان لپاره نا سيال مېړه اختياروی د هغی اولياء کولای شی ددغی نکاح پر خلاف ودريږی او دغه نکاح لغوه کړی، ځکه دوی په اجتماعی لحاظ متضررکيږی او ددی خبری احتمال هم شته چې نجونې د ځوانی د احساساتو له کبله خپل مصلحت ونه سنجوي او له خپلی سوبې څخه ټيټ مېړه غوره کړي، نو ځکه اولياوو ته د اعتراض حق شته.

### د ښځې او خاوند ترمنځ سیالي په کومو شیانو کې اعتبار لري؟

۱- **نسب**: ځکه هر څوک په خپل نسب وياړي، نو نجلی ته پکار دي چې داسې خاوند غوره کړي چې په نسب کې ورڅخه ښکته نه وي، دا د دې لپاره چې ټولنيزې ستونزې راولاړې نه شي.

۲- **دين**: معنا دا چې صالحه نجلۍ او فاسق هلك سره سيالان نه دي،ځکه د هغې کورنی ته عار دی او وربانديې شرمېږي.

۳- **اقتصاد**: د واده هلك به دومره وس لري چې د ښځې معجل مهر او نفقه ورکړای شي.

۴- **کسب اوتخصص**: په ټولنه کې ځنې داسې کسبونه شته چې خلك ورته په ښه سترګه نه ګوري، نو پکار دي چې په خپلوۍ کې دې ته هم پام وشي.

### په نکاح کې د مهر حکم

که د نکاح پر مهال مهر تعيين شي او يا تعيين نشی، نکاح صحيح کيږی، د تعيين په صورت کې هم هغه ټاکل شوی مال واجبيږي، او د نه ټاکلو په صورت کې مهر مثل لازميږي.

### د مهر ډولونه

مهر په دوه ډوله دی، چې يو ته مسمی(تعيين شوی) او بل ته مهر مثل وايي.

کله چې د عقد پر مهال ښځې ته مهر وټاکل شي، دې ته مسمی مهر ویل کېږي او د نه تعیین پر مهال هغه مهر چې د نجلی همزولو او هم مثله خپلوانو نجونو اخیستی وي ، دې ته هم ورکول کیږي او مهر مثل ورته ویل کیږي.

## د مهر لږه اوډېره اندازه

د مهر لږه اندازه لس شرعي روپۍ او لوړه اندازه یې نده ټاکل شوې، خو په ډېرو روایاتوکې د هغو مېرمنو توصیف شوی چې مهر یې لږ وي، د مهرونو ډېروالی په ټولنه کې ډېرې ستونزې زېږوي.

## د نیمایی مهر او متعې د وجوب حالات

۱- کومې مېرمنې ته چې مهر ټاکل شوی وي، له کوروالي او یا صحیح خلوت کولو مخکې طلاقه کړل شي د مېړه له خوا به ورته نیمایي مهر ورکول کیږي.

۲- خو که مهر د هغې لپاره نه وي ټاکل شوي او له کوروالي څخه یې مخکې طلاقه کړي بیا به متعه ورکوي .

متعه هغه درې جامې (کمیس، پرتوگ او ټکری) دی چې کیفیت او قیمت یې د ښځې له د خپلوانو د ښځو له جامو سره برابروي او د مېړه له خوا طلاقې شوې مېرمنې ته ورکول کیږي.

## پوښتنې

۱- د مېړه او مېرمنې برابروالی په کومو شیانوکې ضروري دی؟

۲- متعه څه شی ده او څوک به یې چا ته ورکوي؟

۳- مهر مثل په کوم وخت کې مېرمنې ته ورکول کیږي؟

٤- د مهر لږه اندازه او لوړه اندازه څومره ده؟

٥- د شریعت له نظره د لوړ مهر لرونکې مېرمن غوره ده او که د لږ مهر لرونکې؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د خپل چاپیریال د مهر دودونه له ویل شوي لوست سره پرتله کړي او توپیرونه دې روښانه کړي.

## مهر (١)

څرنګه چې په نکاح کې نارينه ته د طلاق حق ورکړل شوی او ښځې ته د مهر حق، او د مسلمانانو نکاح بې مهره نه وي، نو په دې لوست کې به د مهر ډولونه او احکام ولولئ.

(١) وَإِنْ تَزَوَّجَ الْمُسْلِمُ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ، فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ، وَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا.

(٢) فَإِنْ تَزَوَّجَهَا وَلَمْ يُسَمِّ لَهَا مَهْرًا، ثُمَّ تَرَاضَيَا عَلَى تَسْمِيَةِ مَهْرٍ، فَهُوَ لَهَا إِنْ دَخَلَ بِهَا أَوْ مَاتَ عَنْهَا، وَإِنْ طَلَّقَهَا قبل الدُخُولِ لها المتعة.

(٣) وَإِنْ زَادَهَا فِي الْمَهْرِ بَعْدَ الْعَقْدِ لَزِمَتْهُ الزِّيَادَةُ، وَتَسْقُطُ بِالطَّلَاقِ قَبْلَ الدُّخُوْلِ، وَإِنْ حَطَّتْ عَنْهُ مِنْ مَهْرِهَا، صَحَّ الْحَطُّ.

(٤) وَإِذَا خَلَا الزَّوْجُ بِامْرَأَتِهِ وَلَيْسَ هُنَاكَ مَانِعٌ مِنَ الْوَطْءِ، ثُمَّ طَلَّقَهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ، فَإِنْ كَانَ أَحَدُهُمَا مَرِيضًا أَوْ صَائِمًا فِي شَهْرِ رَمَضَانَ أَوْ مُحْرِمًا بِحَجٍّ فَرْضٍ أَوْ نَفْلٍ أَوْ عُمْرَةٍ أَوْ كَانَتْ الْمَرْأَةُ حَائِضًا، فَلَيْسَتْ بِخَلْوَةٍ صَحِيحَةٍ.

(٥) وَإِذَا خَلَا الْمَجْبُوبُ بِامْرَأَتِهِ ثُمَّ طَلَّقَهَا فَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٦) وَتُسْتَحَبُّ الْمُتْعَةُ لِكُلِّ مُطَلَّقَةٍ إِلَّا مُطَلَّقَةً وَاحِدَةً: وَهِيَ الَّتِي طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخولِ وَلَمْ يُسَمِّ لها مهرا.

(٧) وَإِذَا زَوَّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ أَوْ أُخْتَهُ فَيَكُونُ أَحَدُ الْعَقْدَيْنِ عِوَضًا عَنْ الْآخَرِ، فَالْعَقْدَانِ جَائِزَانِ وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهَا مَهْرُ مِثْلِهَا.

(٨) وَإِنْ تَزَوَّجَ حُرٌّ امْرَأَةً عَلَى خِدْمَتِهِ سَنَةً أَوْ عَلَى تَعْلِيمِ الْقُرْآنِ، فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا .

**ژباړه**

(۱) که مسلمان سړی په شرابو یا خنزیر باندې نکاح وکړي، نکاح صحیح کیږی او ښځې ته مهر مثل دی.

(۲) که مېړمن یې د مهر له تعیین پرته په نکاح کړه، وروسته دواړو په یوه مهر موافقه وکړه، که کوروالی یې ورسره وکړه او یا ورڅخه مړ شو، هماغه (ټاکلی) مهر یې کیږي، او که له کوروالي څخه مخکې یې طلاقه کړي، متعه به ورکوي.

(۳) که د نکاح له تړلو وروسته مهر ورته ډېر کړي، پر مېړه باندې لازمیږي، خو که له کوروالي مخکې طلاقه شي، زیادت ساقطیږي، اوکه مېرمن مېړه ته په مهرکې کمښت راولي، کمښت صحیح کیږي.

(٤) که مېړه له مېرمنې سره خلوت وکړي او د کور والي مانع شتون ونلري، بیا هغه طلاقه کړي، هغې ته به کامل مهر ورکوي، او ښځه به عدت تېروي، که له دوی څخه کوم یو ناروغ او یا رمضان کې روژه وي او یا خو د فرض یا نفل حج او یا د عمرې د احرام په حالت کې وي، او یا مېرمن حایضه وي، دغه ډول خلوت ته صحیح خلوت نه ویل کیږي،

(٥) که مجبوب(چې تناسلي آله یې پرې شوې وي) له خپلې مېرمنې سره خلوت وکړي او بیا هغه طلاقه کړي د امام ابوحنیفه په نزد به پوره مهرورکوي.

(٦) ټولو طلاقو شوو مېرمنو لپاره متعه ورکول مستحب کار دی، مګر یوې طلاقې شوې ښځې ته چې مهر ورته نه وي ټاکل شوی او له دخول څخه پخوا طلاقه شي(د دې لپاره متعه واجب ده).

(۷) که سړي خپله لور په دې باندې په نکاح ورکړه، چې هغه به ده ته خپله خور او یا لور په نکاح ورکوي او یو عقد(تړون) به د بل لپاره عوض شي، دواړه عقدونه روا دي او د هرې یوې لپاره مهر مثل لازمیږي.

(۸) آزاد سړي یوه ښځه د یو کال خدمت (چې سړی به یې دې ته تر سره کوي) او یا د قرآن د ښوونې په مقابل کې په نکاح کړه، نو دې لره مهر مثل دی.

### شرحه

حرام توکی که مهر وټاکل شي، نو مهر مثل لازميږي

حرام شيان لکه شراب او خنزير که مهر وټاکل شي، نکاح صحيح کيږي، خو مهر مثل لازميږي، ځکه د مسلمان لپاره دا ناروا دي چې حرام توکي د مهر په توګه مېرمنې ته وسپاري.

### له عقد وروسته په مهر کې زيادت او کمښت راوستل

د مهر په ټاکنه کې د طرفينو رضايت او موافقه د موضوع بنسټ جوړوي، مېړه او مېرمن کولای شي وروسته له ټرون څخه مهر ډېر او يا هم لږ کړي او په خپله وعده مکلف ګڼل کيږي، دا په هغه صورت کې چې نکاح په خپل حال دوام وکړي، دخول راشي او يا سړی ورڅخه مړ شي، خو که له دخول مخکې طلاق راشي، نو بيا وروستي ډېروالی ساقطيږي او د حط (کموالي) په صورت کې حط اعتبار لري او دغه به نيمايي کيږي.

### خلوت صحيحه

ښځه او خاوند چې د زواج له عقد وروسته په داسې ځای کې چې د کوروالي ممانعت شتون ونه لري سره يو ځای شي، خلوت صحيحه بلل کيږي، او د کوروالي په څير شمېرل کيږی، اما هغه خلوت کې چې شرعی يا طبيعي عذرونه د کوروالي لپاره شتون ولری، بيا کور والی نه بلل کيږی او دا عذرونه عبارت دي له:

١- ناروغتيا.

٢- د رمضان مياشت روژه.

٣- د فرضي يا نفلي حج احرام.

٤- حيض.

### استحبابي متعه

د ټولو هغو مېرمنو لپاره چې د مهر له ټاکلو وروسته طلاقې شي، د متعې ورکول مستحب دي، خو هغه مېرمنې چې مهر ورته نه وي ټاکل شوی او له کوروالي وړاندې طلاقې شي، دوی ته متعه ورکول واجب دي.

### شغار (بدل)

يوه نجلی د بلې په مقابل کې ودول پداسې ډول چې يوه د بلې مهر شي بدل بلل کېږي.

### د بدل حکم

د اسلام له نظره اصيله مېرمن بايد د مهر په توګه د بلې مېرمنې سره تبادله نه شي، کوم اولياء

چې لورګانې له نورو مېرمنو سره تبادله کوي(بدل کوي)، دغه کار سم نه دی، که چېرې کوم ځای کې داسې تړون ترسره شي. نکاح سمه ده، خو مهر مثل به دواړو مېرمنو ته ورکول کیږي. ځکه مهر د مېرمنې حق دی نه دا چې له دوی نه یوه د بلې لپاره مهر شي.

**منافع(ګټې) په مهر کې ورکول**

د قرآن او دین زده کړه یا ښځې ته ځان د معلوم وخت لپاره په مزدوری ورسپارل د دې لپاره چې همدا مهر وګڼل شي سم نه دي، اوښځې ته مهر مثل لازمیږي.

## پوښتنې

١- صحیح خلوت کوم یو دی او څه حکم لري؟

٢- د مېرمنې لپاره که بله مېرمن مهر شي څه واقع کېږي؟

٣- د مهر د اندازې تعیینول د چا حق دی؟

٤- آیا شراب او خنزیر د مهر په توګه ټاکل کېدای شي؟

٥- کوم زوجین چې شراب د مهر په توګه وټاکي بیا به څه کیږي؟

## کورنی دنده

زده کوونکي دې د شغار (بدل) د زیانونو په اړه یوه مقاله ولیکي چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

## مهر (۲)

(۱) وَإِذَا اجْتمعَ فِي الْمَجْنُونَةِ أَبُوهَا وابْنُهَا، فَالْوَلِيُّ فِي نِكَاحِهَا ابْنُهَا عِنْدَهُمَا.وَقَال مُحَمَّدٌ أَبُوهَا.

(۲) وإِذَا تَزَوَّجَ امْرَأَةً عَلَى أَلْفٍ عَلَى أَنْ لَا يُخْرِجَهَا مِنَ الْبَلَدِ أَوْ عَلَى أَنْ لَا يَتَزَوَّجَ عَلَيْهَا، فَإِنْ وَفَّى بِالشَّرْطِ، فَلَهَا الْمُسَمَّى، وَإِنْ تَزَوَّجَ عَلَيْهَا أَوْ أَخْرَجَهَا، فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا.

(۳) وَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَى حَيَوَانٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ صَحَّتْ التَّسْمِيَةُ، وَلَهَا الْوَسَطُ مِنْهُ، وَالزَّوْجُ مُخَيَّرٌ، إِنْ شَاءَ أَعْطَاهَا الْحَيَوَانَ، وَإِنْ شَاءَ اَعْطَاهَا قِيمَتَهُ.

(٤) وَإِنْ تَزَوَّجَهَا عَلَى ثَوْبٍ غَيْرِ مَوْصُوفٍ، فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا.

(٥) وَنِكَاحُ الْمُتْعَةِ وَالنِّكَاحُ الْمُؤَقَّتُ بَاطِلٌ.

(٦) وَتَزْوِيجُ الْعَبْدِ وَالْأَمَةِ بِغَيْرِ إِذْنِ مَوْلَاهُمَا، مَوْقُوفٌ فَإِنْ أَجَازَهُ الْمَوْلَى، جَازَ وَإِنْ رَدَّهُ، بَطَلَ وَكَذَلِكَ لَوْ زَوَّجَ رَجُلٌ امْرَأَةً بِغَيْرِ رِضَاهَا، أَوْ رَجُلًا بِغَيْرِ رِضَاهُ.

(٧) وَيَجُوزُ لِابْنِ الْعَمِّ. أَنْ يُزَوِّجَ ابْنَةَ عَمِّهِ مِنْ نَفْسِهِ.

(٨) وإذا أَذِنَتِ الْمَرْأَةُ لِرَجُلٍ، أن يُزَوِّجَهَا مِنْ نَفْسِهِ فَعَقَدَ بِحَضْرَةِ شَاهِدَيْنِ، جَازَ.

(٩) وَإِذَا ضَمِنَ الْوَلِيُّ الْمَهْرَ صَحَّ ضَمَانُهُ، وَلِلْمَرْأَةِ الْخِيَارُ فِي مُطَالَبَةِ زَوْجِهَا أَوْ وَلِيِّهَا

(١٠) وَإِذَا فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ قَبْلَ الدُّخُولِ، و كذلك بعد الخلوة فَلَا مَهْرَ لَهَا فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا مَهْرُ مِثْلِهَا لَا يُزَادُ عَلَى الْمُسَمَّى وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَيَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا

(١١) وَمَهْرُ مِثْلِهَا يُعْتَبَرُ بِأَخَوَاتِهَا وَعَمَّاتِهَا وَبَنَاتِ عَمِّهَا، وَلَا يُعْتَبَرُ بِأُمِّهَا وَلَا خَالَتِهَا إِذَا لَمْ يكونا مِنْ قَبِيلَتِهَا

(١٢) وَيُعْتَبَرُ فِي مَهْرِ الْمِثْلِ، أَنْ يَتَسَاوَى الْمَرْأَتَانِ فِي السِّنِّ وَالْجَمَالِ وَالْمَالِ وَالْعَقْلِ وَالدِّينِ

وَالنَّسَبِ وَالْبَلَدِ وَالْعَصْرِ وَالْعِفَّةِ.

## ژباړه

(١) کله چې د ليونۍ ښځې پلار او زوی دواړه وي، نو د نکاح ولي يې د ابوحنيفه او ابويوسف په نزد زوی دی، امام محمد وايي د نکاح ولی يې پلار دی.

(٢) که په زر درهمه ښځه په دې شرط په نکاح کړي، چې هغه به له دې ښاره نه باسي او يا به پر هغې باندې بله مېرمن نه کوي، مېړه که په شرط وفادار پاتې شي، د هغې مهر هماغه ټاکل شوی او که وفادار پاتې نه شي، نو مهر مثل ورباندې لازمېږي.

(٣) که ښځه د يوه غير موصوف حيوان(لکه يو غويی) په بدل کې په نکاح کړي، نکاح درسته ده متوسط حيوان به ورکوي، مېړه اختيار لري چې حيوان ورکوي او که د هغه قيمت.

(٤) که مېرمن د غير موصوفي جامې(لکه يوه جوړه جامې) په بدل کې په نکاح کړي، بيا به هغې ته مهر مثل ورکوي.

(٥) موقته او د متعې نکاح باطله ده.

(٦) د مريي او وينځې نکاح د بادار له اجازې پرته موقوفه ده: که بادار يې اجازه وکړه، جايزه ده او که يې رد کړه باطله ده. په همدې ډول کومه مېرمن چې د هغې له اجازې پرته په نکاح ورکړل شي او يا کوم سړي ته د هغې له اجازې پرته واده وشي( نکاح موقوفه ګرځي).

(٧) د تره زوی (چې کله ولي وي)، کولای شي چې د تره لور ځان ته په نکاح کړي،

(٨) که کومه ښځه نارينه ته اختيار ورکړي چې هغه ځان ته په نکاح کړي او هغه د دوو شاهدانو په حضورکې دغه مېرمن ځان ته په نکاح کړي(نکاح) سمه ده.

(٩) که (د ښځې) ولي د مهر ضامن شي ضمانت يې صحيح دی، مېرمن اختيار لري چې مهر له مېړه او يا له ولي څخه وغواړي.

(١٠) که په فاسده نکاح کې مخکې له کوروالي څخه قاضی مېرمن او مېړه سره جلا کړي، د هغې لپاره هېڅ مهر نشته. همدا راز له خلوت وروسته هم (مهر ورته نشته) ، که کور والی يې ورسره کړی وي، بيا ورته مهر مثل دی، خو له تعيين شوې څخه به نه زياتيږي، مېرمن به عدت تيروي او د اولاد نسب يې ثابتيږي.

(۱۱) په مهر مثل کې خوېندو، عمه ګانو او د تره لورانو ته کتل کېږي، مور او خاله ګانې چې د دې له قوم څخه نه وي، د هغو مهر ته نه کتل کېږي.

(۱۲) په مهر مثل کې اعتبار: د دوو مېرمنو مساوات په عمر، ښایست، پاک لمنۍ، مال، عقل، دین، ښار او زمانې ته ورکول کېږي.

## شرحه

### د لیونۍ د نکاح ولي څوک دی؟

هغه لیونۍ مېرمن چې زوی او پلار دواړه ولري د نکاح د سرپرست په اړه زمونږ د مذهب امامان دوه نظره لري: امام محمد وايي: پلار يې سرپرست دی،ځکه د پلار شفقت د زوی په نسبت ډېر دی او دا ولایت په همدې بناء دی. امام ابوحنيفه او امام ابو يوسف يې سرپرست زوی بولي، ځکه د نکاح ولايت پر عصوبت بنا دی او په پورتني صورت کې زوی عصبه دی، نه پلار.

### په مهر باندې د مېرمنې د شرطونو اغېز

کومه مېرمن چې په خپل مېړه باندې څه داسې شرطونه کېږدي چې هغه د عقد له غوښتنو سره برابر وي او مېړه پرې عمل وکړي يوډول مهر، او که ورسره د شروطو سره سم و نه چلېږي بيا بل ډول مهر لازمېږي، چې تفصيل يې داسې دی:

مېرمن کولای شي د نکاح پر مهال داسې شرطونه کېږدي چې هغه د نکاح له غوښتنو سره برابر وي لکه ښځه ووايي: ما به له دې ښاره نه باسئ او يا به بله مېرمن نه په نکاح کوئ، که ددغو شرطو په مقابل کې مهر لږ تعين شي او مېړه په شرط وفا وکړي، ټاکلی(مسمی) مهر به ورکوي.او که وفا ونه کړي، بيا به مهر مثل ورکوي.

### هر مال مهر کېدای شي

ضروري نه ده چې مهر به نقدې پیسې وي، کېدای شي چې بل ډول منقول مال لکه حیوانات... او يا غيرمنقول اموال د مهر په توګه وټاکل شي. که په مهر کې غير معين او غير موصوف حيوان کېږدي، دا مهر سم دی، او د هغه حيوان له جنسه متوسط ورکول کېږي، دا ځکه چې مهر په نکاح کې له يو پلوه ثانوي درجه لري، او د هغې خپلوۍ په مقابل کې چې له نکاح څخه منځ ته راځي، اهميت يې لږ دی. بل دا چې د مېرمنې او خاوند تر منځ لوربېنې وي، نو

منازعي او جنجالونه نه را منځ ته کوي. خو که کومه ښځه په غیر موصوفه او غیر معینه جامه په نکاح شي، بیا مهر مثل لازمیږي، ځکه چې په جامو کې توپیر ډېر دی، نو د اعلی، اوسط او ادنی معلومول په کې ګران دي، خو د حیواناتو تر منځ دومره توپیر نه لیدل کیږي چې شخړه ترې راپیدا شي، نو په دې خاطر د هغوی له جنسه متوسط حیوان لازمیږي.

## مهر دچا حق دی او له چا یې غوښتلای شي؟

دا خبره باید معلومه وي چې مهر یوازې د مېرمنې حق دی، ولي یي یوازې ضمانت کولای شي، نه دا چې په خپله ګټه یي استعمال کړي، نو هغه یې له خپل سرپرست څخه د هغې د ضمانت په صورت کې او یا له مېړه څخه هر مهال مطالبه کولای شي.

## په فاسده نکاح کې د قاضي تفریق

په فاسده نکاح کې چې کله قاضي دښځې او خاوند تر منځ جلا والی راولي، که کوروالی یې سره نه وي کړې، که څه هم خلوت یې سره کړی وي، د هغې لپاره هېڅ مهر نشته.

خو که کوروالی یې سره کړی وي، په دې صورت کې به دومره مهر مثل ورکول کیږي چې له تعیین شوي مهر څخه ډېر نه شي.

## مهر مثل څنګه معلومیدای شي؟

د مهر مثل معلومول به د خویندو، عمه ګانو او د تره لورګانو له مهرونو څخه کیږي، او په دې اړه به عمر، ښایست، دین، پاك لمنی، مال، عقل، ښار او زمانه په پام کې نیول کیږي.

## مېرمن د خپلې نکاح اختیار بل چا ته ورکولای شي

که کومه مېرمن د ځان د نکاح اختیار بل شخص ته سپاري، هغه کولای شي دغه کار ترسره کړي، که د پیغلې د تره زوی د هغې ولي و، ورونه او پلار یې نه وو، نو د تره زوی د دوو شاهدانو په حضور سره هغه ځان ته په نکاح کولای شي.

## د متعې نکاح

**تعریف**: هغه نکاح چې د متعې په لفظ د نا ټاکلې مودې لپاره د ټاکلي مال په مقابل کې تړل شي، د متعې نکاح بلل کیږي.

صورت یې دا دی چې سړی داسې ښځې ته چې نکاح کول ورسره روا وي وواېي:زه د دومره مال په مقابل کې یوه موده له تا څخه ګټه اخلم.

**حکم**: د متعې نکاح د اهل سنتو په آند باطله ده.

### موقته نکاح

**تعریف**: د ټاکلې مودې لپاره (لکه لس ورځې یا میاشت) دګواهانو په وړاندې مېړمن په نکاح کول موقته نکاح بلل کیږي.

صورت یې دا دی چې سړی داسې ښځې ته چې نکاح کول ورسره روا وي د ګواهانو په وړاندې ووایي: ما سره د دوو میاشتو یا د یوې ټاکلې مودې لپاره واده وکړه، او هغه یې قبوله کړي، دا مؤقته نکاح ده.

**حکم**: موقته نکاح د جمهورو علماوو په نزد پرته له امام زفر څخه باطله ده، ځکه دا هم د متعې په معنا ده، نو څنګه چې د متعې نکاح باطله ده همدا شان دا هم باطله شمیرل کېږي.

امام زفر وایي: نکاح صحیح خو شرط باطل دی، ځکه نکاح په باطلو شرطونو باندې نه باطلیږي.

### د متعې او موقتې نکاح تر منځ توپیر

۱- موقته نکاح د نکاح یا په هغه الفاظو چې نکاح ترې وربانديې جواز لري، وترل شي، موقته ده، خو د متعې نکاح فقط د متعې په لفظ ترل کیږي.

۲- په موقته نکاح کې ګواهان وي، خو په متعه کې نه وي.

**موقوفه نکاح**: که څوک نا پوښتل شوي بالغ شخص، هلک وي او یا نجلۍ، سره د بل نکاح وکړي دا نکاح موقوفه ترل کیږي.

**د موقوفې نکاح حکم**: موقوفه نکاح د نا پوښتل شوي شخص په اجازې پورې تړلې ده، که اجازه یې ورکړه، نکاح نافذه ګرځي، او که رد یې کړه، نکاح له منځه ځي.

**نافذه نکاح**: د بالغ شخص د ځان لپاره نکاح، د موکل لپاره د وکیل نکاح او د ماشوم لپاره د ولي نکاح نافذه ده.

خو که د ماشومتوب په صورت کې ولي، پلار نه وي، نو ماشوم ته د بلوغ خیار ثابتیږي چې تفصیل یې په متن کې بیان شو.

## پوښتنې

۱- د لیونی د نکاح ولي څوک دی؟ د علماوو اختلاف په کې بیان کړئ.

۲- کوم مال مهر کېدای شي؟ او د مېرمنې کوم ډول شرطونه په مهر اثر غورځوي؟ موضوع په تفصیل سره روښانه کړئ.

۳- مهر د چا حق دی؟ له چا غوښتل کیږي؟ او مهر مثل څنگه معلومیدای شي؟ موضوع روښانه کړئ.

٤- د مهر مثل د ټاکلو لارې په گوته کړی؟

٥- په فاسده نکاح کې د قاضي تفریق څه پایلې لري؟ بیان يې کړئ.

٦- لاندې اصطلاحات تعریف کړئ او بیا يې صورت د حکم سره ووایاست:

ا- مهر مثل

ب- موقته نکاح

ج- د متعې نکاح

د- موقوفه نکاح

ه- نا فذه نکاح.

## کورنی دنده

په مهر کې د ناروا او ناسمو دودونو په اړه یوه مقاله ولیکئ.

# د زوجاتو تعدد

کله چې سړی جسمي توان ولري او په دې باوري وي چې د اهل او اولاد پالنه او روزنه په ښه توګه کولی شي، اوظلم زیاتی نه ورځخه کیږي، دویمه، دریمه او حتی څلورمه ښځه هم په نکاح کولی شي. نو د ښځو د تعدد څه احکام دي؟
دا مسألې به په لاندې درسونو کې بیان شي.

(١) وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الْأَمَةِ مُسْلِمَةً كَانَتْ أَوْ كِتَابِيَّةً .
(٢) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أَمَةً عَلَى حُرَّةٍ وَيَجُوزُ تَزَوُّجُ الْحُرَّةِ عَلَى الْأَمَةِ.
(٣) وَلِلْحُرِّ أَنْ يَتَزَوَّجَ أَرْبَعًا مِنْ الْحَرَائِرِ وَالْإِمَاءِ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، فَإِنْ طَلَّقَ الْحُرُّ إحْدَى الْأَرْبَعِ طَلَاقًا بَائِنًا لَمْ يَجُزْ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ رَابِعَةً حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا.
(٤) وَمَنْ تَزَوَّجَ امْرَأَتَيْنِ فِي عَقْدٍ وَاحِدٍ، إحْدَاهُمَا لَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُهَا، صَحَّ نِكَاحُ الَّتِي تَحِلُّ لَهُ وَبَطَلَ نِكَاحُ الْأُخْرَى.
(٥) وَإِذَا كَانَ بِالْمَرْأَةِ عَيْبٌ فَلَا خِيَارَ لِزَوْجِهَا.
(٦) وَإِذَا كَانَ بِالزَّوْجِ جُنُونٌ أَوْ جُذَامٌ أَوْ بَرَصٌ فَلَا خِيَارَ لِلْمَرْأَةِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ و قال محمد لها الخيار فَإِنْ كَانَ عِنِّينًا أَجَّلَهُ الْحَاكِمُ حَوْلًا كَامِلًا، فَإِنْ وَصَلَ إلَيْهَا وَإِلَّا فَرَّقَ الْحَاكِمُ بَيْنَهُمَا، إنْ طَلَبَتْ الْمَرْأَةُ ذَلِكَ وَكَانَتْ الْفُرْقَةُ تَطْلِيقَةً بَائِنَةً ، وَلَهَا كَمَالُ الْمَهْرِ إذَا كَانَ قَدْ خَلَا بِهَا.
(٧) وَإِنْ كَانَ مَجْبُوبًا فَرَّقَ بَيْنَهُمَا فِي الْحَالِ وَلَمْ يُؤَجِّلْهُ،وَالْخَصِيُّ يُؤَجَّلُ كَمَا يُؤَجَّلُ الْعِنِّينُ.
(٨) وَإِذَا أَسْلَمَتْ الْمَرْأَةُ وَزَوْجُهَا كَافِرٌ، عَرَضَ عَلَيْهِ الْقَاضِي الْإِسْلَامَ، فَإِنْ أَسْلَمَ فَهِيَ امْرَأَتُهُ، وَإِنْ أَبَى، عَنِ الْإِسْلَامِ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا وَكَانَ ذَلِكَ طَلَاقًا بَائِنًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ

، وقال أبو يوسف: هِيَ الفُرْقَةُ بِغَيْرِ طَلَاقٍ.

(٩) وَإِنْ أَسْلَمَ الزَّوْجُ، وَتَحْتَهُ مَجُوسِيَّةٌ، عَرَضَ عَلَيْهَا الْإِسْلَامَ، فَإِنْ أَسْلَمَتْ فَهِيَ امْرَأَتُهُ، وَإِنْ أَبَتْ فَرَّقَ الْقَاضِي بَيْنَهُمَا، وَلَمْ تَكُنْ الْفُرْقَةُ طَلَاقًا فَإِنْ كَانَ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ دَخَلَ بِهَا فَلَا مَهْرَ لَهَا.

(١٠) وَإِذَا أَسْلَمَتْ الْمَرْأَةُ فِي دَارِ الْحَرْبِ، لَمْ تَقَعْ الْفُرْقَةُ عَلَيْهَا حَتَّى تَحِيضَ ثَلَاثَ حِيَضٍ، فَإِذَا حَاضَتْ بَانَتْ مِنْ زَوْجِهَا. وَإِذَا أَسْلَمَ زَوْجُ الْكِتَابِيَّةِ فَهُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا.

**ژباړه:**

(١) د وينځې په نكاح كول كه مسلمانه او يا كتابيه وي، روا دى.

(٢) دا روا نه دي چې پر اصيلې مېرمنې د پاسه وينځه په نكاح كړي، خو د اصيلې نكاح كول پر وينځه باندې روا دي.

(٣) د اصيل نرينه لپاره روا دي چې څلور اصيلې او يا وينځې په نكاح كړي، له دې څخه زياتې نشي په نكاح كولاى، كه اصيل سړى له څلورو مېرمنو څخه يوه په باين طلاق طلاقه كړي، تر هغه بله مېرمن نشي كولاى چې د هغې عدت خلاص شوى نه وي.

(٤) كه څوك په يوه عقد دوه مېرمنې په نكاح كړي او د يوې نكاح ورته حرامه وي، د هغې نكاح صحيح ده چې نكاح كول يې ورته روا دي او د بلې نكاح باطله ده.

(٥) كه په مېرمن كې عيب وي، مېړه يې اختيار نه لري.

(٦) كه په مېړه كې ليونتوب، جذام او فيس ناروغي وي د امام ابوحنيفه او امام ابو يوسف په نزد مېرمنې ته اختيار نشته، امام محمد ويلي: د هغې لپاره اختيار شته. كه مېړه عنين وي، حاكم به يوكال وخت وركړي، كه قدرت يې پيدا كړ،خو ښه تر ښه، او كه نه، نو د مېرمنې د غوښتنې په صورت كې به يې حاكم سره جلا كوي، چې دا تفريق يو باين طلاق ګڼل كيږي، د هغې لپاره پوره مهر دى كه يې خلوت ورسره كړى وي.

(٧) او كه د مېړه آله پريكړ شوې وي، قاضي به سم د لاسه هغوى سره جدا كوي، هيڅ به يې نه ځنډوي اوخصي ته به د عنين په څېر مهلت وركوي.

(۸) که مېړمن مسلمانه شوه او مېړه یې کافرپاتې شو، قاضي به هغه ته د اسلام وړاندیز وکړي، که مسلمان شو همدا یې مېرمن ده، او که اسلام یې قبول نه کړ، قاضي به هغوی سره بېل کړي، دغه بېلتون د امام ابوحنیفه او امام محمد په اند یو باین طلاق بلل کیږي، امام ابو یوسف وايي: دا له طلاقه پرته بېلتون دی.

(۹) که مېړه مسلمان شي او مېرمنه یې مجوسیه وي، اسلام دې ورته وړاندې کړي، که مسلمانه شوه ددهٔ مېرمن ده او که مسلمانه نه شوه، قاضي به دواړه سره جدا کړي، دغه جدایي طلاق نه بلل کیږي. نو که کوروالی یې ورسره کړی وي، د هغې مهر حق دی او که کوروالي یې نه وي کړې، د مهرحق نه لري.

(۱۰) که په دار حرب کې مېرمن مسلمانه شوه، تر هغه بېله نه ګڼل کیږي ترڅو چې درې حیضه تېر نه کړي. درې حیضه چې پوره کړي، بیا له مېړه نه جدا کیږي. که د کتابیې مېرمنې مېړه مسلمان شي، نکاح یې پرځای پاتې کیږي.

## شرحه

### د وینځې نکاح:

د مسلمانې او کتابیې مینځې نکاح کول روا کار دی.

### پر اصیله د وینځې د نکاح یا په وینځې د اصیلې د نکاح کولو حکم

پر اصیله مېرمن برسېره د وینځې نکاح کول نا جایز کار دی او د دې مسئلې عکس روا دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: (لَا تُنْكَحُ الْأَمَةُ عَلَى الْحُرَّةِ وَتُنْكَحُ الْحُرَّةُ عَلَى الْأَمَةِ) وینځې په اصیله نه په نکاح کیږي او اصیله په وینځې په نکاح کیږي.

**د مېرمنو تعدد**: آزاد مسلمان ته له څلورو مېرمنو څخه د زیاتو نکاح کول روا نه دي، په هغه وخت کې بله پنځمه مېرمن په نکاح کولی شي چې یوه له څلورو څخه طلاقه کړي او د هغې د عدت موده هم تېره شي.

**د دوو مېرمنو نکاح کول په یو عقد سره**: هغه شخص چې دوه مېرمنې په یوه عقد په نکاح کړې، وروسته څرګنده شي چې یوه له هغوی څخه د هغه له محارمو څخه ده، د همدې محرمې نکاح باطله او د هغې بلې نکاح سمه ده، که څه هم دواړه په یوه تړون په نکاح شوې وي. د امام صاحب په نزد ټول ټاکلی مهر همدې ته ورکول کیږي.

**په زوجینو کې عیب**: که په مېرمن کې عیب وي مېړه یې د فسخې اختیار نه لري، ځکه مېړه ته د طلاق او بلې ښځې سره د نکاح کولو واک شته، نو حق یې نه سوځي. په همدې توګه که په مېړه کې داسې عیب وي چې د مېرمنې حقوق د هغه له کبله نه ضایع کیږي، بیا ښځې ته خیار نشته، اوکه په داسې ناروغی اخته وي چې د ښځې حق پکې ضایع کېږي لکه عنت ( نامردي)، تر یوه کاله به قاضی د تداوی او صحت لپاره وخت ورکوی، وروسته له هغه که روغ شوی نه وي، نو قاضي به یې د میرمنې په غوښتنه سره جلا کړي، یعنې د مقابل لوري په غوښتنه به د دواړو تر منځ تفریق راوستل کیږي، دا تفریق یو باین طلاق دی. د عیوبو ذکر په متن کې بیان شوی چې تکرار ته یې اړتیا نشته.

**یو د زوجینو چې دین بدل کړي** که په دار اسلام کې ښځه مسلمانه شي، او مېړه کافر وي هغه ته به قاضي د اسلام بلنه ورکوي، که مسلمان شي نکاح یې پرځای پاتې ده او که مسلمان نشی، قاضي به د هغوی ترمنځ جدایي راولی. دا جدایي د طرفینو په نزد باین طلاق دی، نو که کوروالی یې کړی و، پوره مهر او که نه نو نیم مهر به ورکوي.

که مېړه مسلمان شي او ښځه کتابیه نه، بلکې بل ډول کافره وي، او په خپل دین پاتې شي، قاضي به د اسلام بلنه ورکوي، که مسلمانه شوه، ښځه یې ده او که اسلام یې ونه مانه، قاضي به د دوی تر منځ تفریق راولي او دا تفریق طلاق نه دی، ځکه چې د ښځې له لورې راغلی او هر تفریق چې د ښځې له لورې راشي، هغه طلاق نه ګڼل کیږي، نو که یې کوروالی ورسره کړی و، مهر به ورکړي او که نه نو مهر ورلره نشته.

که مېړه مسلمان شي او مېرمن یې اهل کتابه وي، نکاح پرځای پاتې کیږي او د دی مسلې پر عکس چې مېرمن مسلمانه شی او مېړه یی اهل کتاب وي، قاضي به تفریق راولي، ځکه مسلمانه کافر ته نه روا کیږي.

## پوښتنې

۱- که په زوجینو کې عیب معلوم شي، مقابل جانب به څه کوي، آیا د فسخې اختیار لري؟

۲-که په زوجینو کې یو مسلمان شي، بل لوری څو حالات لرلی شي؟ او څه به کوي؟

۳- آزاد مسلمان نارینه ته د څو مېرمنو نکاح کول روا دی؟

# د ارتداد اثر په نکاح او د قسم حکم

خدای مه کړه که د زوجینو څخه یو مرتد شو، نو پر نکاح به یې څه اثر وي؟ او همدا راز د ښځو تر منځ د وخت د ویشلو احکام څه ډول دي؟ دا او دې ته ورته نور مسایل مونږ په دې لوست کې لولو.

(١) وَإِذَا خرَجَ أَحدُ الزَّوْجَيْنِ إلَيْنَا مِنْ دَارِ الْحَرْبِ مُسْلِمًا، وَقَعتْ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا، وَإِذَا سُبِيَ أَحدُهُمَا وقَعتْ الْبَيْنُونَةُ، وَإِنْ سُبِيَا مَعًا لَمْ تقعْ الْبَيْنُونَةُ.

(٢) وَإِذَا خرَجتْ الْمَرْأَةُ إلَيْنَا مُهَاجِرَةً، جَازَ أَنْ تَتزَوَّجَ، وَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، فَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا لَمْ تَتزَوَّجْ حَتَّى تَضعَ حَمْلَهَا.

(٣) وَإِذَا ارْتَدَّ أَحدُ الزَّوْجَيْنِ عَنْ الْإِسْلَامِ، وَقَعتْ الْبَيْنُونَةُ بَيْنَهُمَا فُرْقَةً بِغَيْرِ طَلَاقٍ، فَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ هُوَ الْمُرْتَدَّ، وَقَدْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ، وَإِنْ كان لَمْ يَدْخُلْ بِهَا، فَلَهَا نِصْفُ الْمَهْرِ. وَإِنْ كَانَتْ هِيَ الْمُرْتَدَّةَ قَبْلَ الدُّخُولِ، فَلَا مَهْرَ لَهَا، وَإِنْ كَانَتْ ارْتَدَّتْ بَعْدَ الدُّخُولِ فَلَهَا جَمِيعُ الْمَهْرِ وَإِنْ ارْتَدَّا مَعًا ثُمَّ أَسْلَمَا مَعًا فَهُمَا عَلَى نِكَاحِهِمَا.

(٤) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتزَوَّجَ الْمُرْتَدُّ، مُسْلِمَةً وَلَا كَافِرَةً وَلَا مُرْتَدَّةً، وَكَذَلِكَ الْمُرْتَدَّةُ، لَا يَتزَوَّجُهَا مُسْلِمٌ وَلَا كَافِرٌ وَلَا مُرْتَدٌّ.

(٥) وَإِنْ كَانَ أَحدُ الزَّوْجَيْنِ مُسْلِمًا، فَالْوَلَدُ عَلَى دِينِهِ وَكَذَا إِذَا أَسْلَمَ أَحدُهُمَا وَلَهُ وَلَدٌ صَغِيرٌ، صَارَ وَلَدُهُ مُسْلِمًا بِإِسْلَامِهِ.

(٦) وَإِذَا كَانَ أَحدُ الْأَبَوَيْنِ كِتَابِيًّا وَالْآخَرُ مَجُوسِيًّا، فَالْوَلَدُ كِتَابِيٌّ.

(٧) وَإِذَا تَزَوَّجَ الْكَافِرُ بِغَيْرِ شُهُودٍ أَوْ فِي عِدَّةٍ مِنْ كَافِرٍ، وَذَلِكَ جَائِزٌ عِنْدَهُمْ فِي دِينِهِمْ، ثُمَّ أَسْلَمَا أُقِرَّا عَلَيْهِ.

(٨) وَإِنْ تَزَوَّجَ الْمَجُوسِيُّ أُمَّهُ أَوْ بِنْتَهُ، ثُمَّ أَسْلَمَتْ فُرِّقَ بَيْنَهُمَا.

(٩) وَإِذَا كَانَ لِلرَّجُلِ امْرَأَتَانِ حُرَّتَانِ فَعَلَيْهِ أَنْ يَعْدِلَ بَيْنَهُمَا فِي الْقَسْمِ، بِكْرَيْنِ كَانَتَا أَوْ

ثِيبَتَيْنِ أَوْ إِحْدَاهُمَا بِكْرًا وَالْأُخْرَى ثَيِّبًا.

(١٠) فَإِنْ كَانَتْ إِحْدَاهُمَا حُرَّةً وَالْأُخْرَى أَمَةً فَلِلْحُرَّةِ الثُّلُثَانِ مِنْ الْقَسْمِ وَلِلْأَمَةِ الثُّلُثُ.

(١١) وَلَا حَقَّ لَهُنَّ فِي الْقَسْمِ فِي حَالِ السَّفَرِ، وَيُسَافِرُ بِمَنْ شَاءَ مِنْهُنَّ وَالْأَوْلَى أَنْ يُقْرِعَ بَيْنَهُنَّ فَيُسَافِرَ بِمَنْ خَرَجَتْ قُرْعَتُهَا.

(١٢) وَإِذَا رَضِيَتْ إِحْدَى الزَّوْجَاتِ بِتَرْكِ قَسْمِهَا لِصَاحِبَتِهَا جَازَ وَلَهَا أَنْ تَرْجِعَ فِي ذَلِكَ

.

**ژباړه:**

(١) که له زوجينو څخه يو يې له دار حرب څخه راووځي او مسلمان شي، د دواړو ترمنځ جدايي رامنځته کيږي، که يو له هغوی څخه اسير شي، بيا هم جدايي رامنځته کيږي، او که دواړه يوځای اسيران شي، جدايي يې ترمنځ نه راځي.

(٢) که مېرمنه مسلمانانو ته د مهاجرې په توګه راشي، هغې ته روا دي چې له عدت تېرولو پرته د امام ابوحنيفه په نزد له بل چا سره نکاح وکړي او که حامله وي، تر هغه به ازدواج نه کوي څو چې حمل ونه زېږوي.

(٣) که له زوجينو څخه يو يې له اسلامه وګرځي (مرتد شي)، له طلاقه پرته د هغوی په منځ کې جدايي راځي، که يواځې مېړه مرتد شو او کوروالی يې کړې وي، هغې ته به کامل مهر ورکوي، اوکه کوروالي يې نه وي کړی، نيمايي مهر به ورکوي، اوکه يواځې مېرمن مخکې له کوروالي مرتده شي د هغې لپاره مهر نشته، که وروسته له کوروالي مرتده شوه، د هغې لپاره بشپړ مهر دی. که دواړه په يو وخت کې مرتد شول او بيرته دواړه مسلمانان شول، نو دوی پر هماغه نکاح پاتې دي.

(٤) مرتد ته روا نه دي چې مسلمانه، کافره او مرتده په نکاح کړي. په همدې توګه مرتده به نه مسلمان نه کافراونه مرتد په نکاح کوي.

(٥) کله چې له زوجينو څخه يو مسلمان وي، اولاد د ده (مسلمان) په دين باندې دی، په همدې توګه که يو د زوجينو مسلمان شي او وړوکی اولاد ولري، اولاد يې د ده په اسلام مسلمان ګڼل کيږي.

(٦) که يو د زوجينو کتابي وي او بل مجوسي، اولاد يې کتابي ګڼل کيږي.

(٧) که کافر پرته له شاهدانو او يا له داسې ښځې سره چې د کافر په عدت کې وي، نکاح وکړي،

او دا د دوی په دین کې جایز وي، بیا دواړه مسلمانان شي، په همدې حالت به پرېښودل شي.
(۸) که مجوسي خپله مور او یا لور په نکاح کړي، بیا مسلمانه شي، هغوی به سره جدا کیږي.
(۹) که یوه سړی دوه اصیلی مېرمنې لري، د هغوی ترمنځ به په شپه تیرولو کې برابري راولي دواړه باکرې وي او یا ثیبې او یا یې یوه باکره او بله ثیبه.
(۱۰) که یوه اصیله او بله وینځه وي اصیلې ته دې دوه ثلثه وخت او مینځې ته یو ثلث وخت ورکړي.
(۱۱) د سفر پر مهال د شپې تېرولو د ویش په هکله د مېرمنو حق نشته، د مېړه خوښه ده هره کومه چې له ځان سره بیایی، بیولای شي، خو غوره خبره دا ده چې د هغوی ترمنځ پچه واچوي او هغه دې له ځان سره بوزي چې قرعه یې وتلې وي.
(۱۲) که کومه مېرمن له خپل تقسیم څخه د بلې بنې په نفعه تنازل وکړي روا ده او بیرته (له خپلو تیرېدو) ګرځېدای شي.

**شرحه**

**داراسلام**: هر هغه ځمکه چې په ښکاره ډول په کې د اسلام احکام چلیږي دار اسلام بلل کیږي.

**دارحرب**: هغه د کفر تر واک لاندې سیمه چې خلک یې له مسلمانانو سره په جګړه کې وي، دارحرب دی.

**که له زوجینو څخه یو یې له دارحرب څخه دار اسلام ته مسلمان ننوځي او یا دواړه کافران اسیران شي**: که له زوجینو څخه یو یې له دارحرب څخه دار اسلام ته راشي، د کفر هېواد پرېږدي او د اسلام پر دین مشرف شي، نو د دوی ترمنځ پرېکون راځي، ځکه چې، دینونه او دار یې سره جلا شول.

خو که مېړه او مېرمن دواړه له مسلمانانو سره اسیران شي، د هغوی نکاح پر خپل ځای باندې پاتې کیږي، ځکه دار او دین یې سره ندي جلا شوي.

**په ازدواج د مېرمنې د هجرت اغیز**: کومه مېرمنه چې د مهاجرې په توګه له دار حرب څخه دار اسلام ته راشي، د هغې نکاح ختمه شوه. که حامله نه وي سمدستي هغه کولای شي په دار اسلام کې د ځان لپاره مېړه غوره کړي، ځکه د کافر د اوبو درناوی لازم نه دی.

خو که نوموړې مېرمن حامله وي هغه به تر هغه انتظار باسي چې حمل وزېږوی بیا به مېړه کوي، د دې لپاره چې حمل د درناوي وړ دی، او باید احترام یې وشي.

**پر ازدواج باندې د ارتداد اغیز**: که له زوجینو څخه یو یې مرتد شي او بل یې مسلمان پاتې شي نکاح یې له منځه ځي، ځکه له مرتد سره نکاح شلیږي.
که مېړه او مېرمن دواړه مرتدان شي او بېرته دواړه مسلمان شي، هغوی پر خپله سابقه نکاح باندی پاتی دي، ځکه په دینونو کې یې بیلتون نه دی راغلی.
**له مرتد او مرتدې سره د نکاح حکم**: مرتد او مرتده نشي کولای چې له مرتد، کافر او مسلمان سره نکاح وکړي، ځکه هغوی تر تحقیق لاندې دي، درې ورځې وخت لري چې بېرته اسلام قبول کړي، که اسلام قبول نه کړي نارینه به اعدامیږی او مېرمن که مرتده وی هغه به په بند کې پاتی کیږی، له همدی کبله د هغوی ازدواج هېڅ مفهوم نلری.
**اولاد د خیر الابوین تابع دی**: که له زوجینو یو یې مسلمان او بل یی غیرمسلمان وي، اولاد مسلمان ته منسوبیږي، ځکه هغه په فطري توګه مسلمان دی او په دې کې د اولاد خیردی، همدا راز که یو کتابي او بل مجوسي وي، اولاد کتابي ګڼل کیږي.
**د مېرمنو ترمنځ عدالت**: کوم سړی چې تر یوې ډېرې مېرمنې لري، خپل د شپې تېرولو نوبت به د هغوی ترمنځ تقسیموي. نوې او زړه، ځوانه اوعمر خوړلې له یو بل څخه هېڅ توپیر نه لري، بلکې ټولو ته به مساوي وخت ورکوي.
که مېړه سفر ته ځی بیا به د مېرمنو ترمنځ په استحبابي توګه پچه اچوي، د هرې مېرمنې پچه چې وختله، هغه به له ځان سره سفر ته بیایې، خو د سفر په اړه مېړه کولای شی کومه مېرمن چې دی یې د سفر لپاره مناسبه بولي، له ځان سره پرته له پچې اچولو بوزي، ځکه د سفر په حالت کې د ښځو تقسیم ساقط دی، نو حق یې نه ګڼل کیږي، که خاوند په تبرعي توګه کومه یوه له ځانه سره بوولې، واک یې لري خو پچه اچول مستحب کار دی، تر څو عدالت ښه خوندي شي.

## پوښتني

۱- که د کافر سړي مېرمنه مسلمانه شي او دار اسلام ته هجرت وکړي د ازدواج حکم یې څه دی؟
۲- که زوجین د اسارت په حال کې دار اسلام ته راوستل شي، آیا نکاح یې باقي پاتې کیږي؟
۳- د مېرمنو ترمنځ د مېړه د وخت تېرولو وېش په کوم ډول ترسره کېدای شي؟

# رضاع (۱)

مور په خپله خوښه خپل ماشوم ته شیدې ورکوي، خو کله مېرمنې پردیو ماشومانوته هم شېدې ورکوي، چې هغه ماشومان یې رضاعي اولادونه ګرځي چې داکار د شریعت له مخې مشخص حکمونه لري، چې په راتلونکو لوستونوکې به پرې ځان پوه کړو.

کتاب الرضاع:

(١) قَلِيلُ الرَّضَاعِ وَكَثِيرُهُ إِذَا حَصَلَ فِي مُدَّةِ الرَّضَاعِ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ.

(٢) وَمُدَّةُ الرَّضَاعِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ثَلَاثُونَ شَهْرًا.

(٣) وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: سَنَتَانِ فَإِذَا مَضَتْ مُدَّةُ الرَّضَاعِ لَمْ يَتَعَلَّقْ بِالرَّضَاعِ تَحْرِيمٌ.

(٤) وَيَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ إِلَّا أُمَّ أَخِيهِ مِنَ الرَّضَاعِ فَإِنَّهُ يَجُوزُ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا وَلَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أُمَّ أَخِيهِ مِنَ النَّسَبِ.

(٥) وَيَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ أُخْتَ ابْنِهِ مِنَ الرَّضَاعِ وَلَا يَجُوزُ مِنَ النَّسَبِ وَامْرَأَةُ ابْنِهِ مِنَ الرَّضَاعِ لَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا كَمَا لَا يَجُوزُ ذَلِكَ مِنَ النَّسَبِ

(٦) وَإِمْرَأَةُ أَبِيهِ مِنَ الرَّضَاعِ لَا يَجُوزُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا كَمَا لَا يَجُوْزُ أَنْ يَتَزَوَّجَ امْرَأَةَ أَبِيهِ مِنَ النَّسَبِ.

**ژباړه:**

**د رضاع کتاب:**

(١) لږې او ډېرې شېدې ورکول چې د رضاع په موده کې وي (یوحکم لري) حرام والی وریورې تعلق نیسي.

(٢) د امام ابوحنیفه له نظره ماشوم ته د شیدو ورکولو موده دیرش میاشتې ده،

(٣) ابویوسف اومحمد وايي: دوه کاله ده، نو کله چې د شیدو ورکولو موده تیره شوه، بیا د شیدو په ورکولو تحریم نه ثابتیږي.

(٤) د شیدو په رودلو باندې هغه څه حرامیږي چې په نسب حرامیږي، یواځې د رضاعې ورور د مور نکاح کول ورته روا دي، او دا جایز نه ده چې د نسبي وروږمور په نکاح کړي.

(٥) (همدا راز) د رضاعي زوی خور نکاح کول روا دي، او دا روا نه ده چې د نسبي زوی خور په نکاح کړل شي، د رضاعي زوی د میرمنې نکاح کول روا نه دي، لکه څنګه چې د نسبي زوی د مېرمن نکاح کول روا نه دي.

(٦) د رضاعي پلارمیرمن نکاح کول روانه دي، لکه څنګه چې د نسبي پلاربنځه نکاح کول روا نه دي.

## شرحه

### د رضاع تعریف:

رضاع په لغت کې رودلو ته وايي او د فقهي په اصطلاح کې د ماشوم د شیدو رودلو په موده کې شیدی خوړل رضاع بلل کیږی.

### درضاع موده:

پدې هکله دوه نظره دي یو نظر د امام ابویوسف او امام محمد رحمهما الله دی چې هغوی ماشوم ته د شیدوورکولوموده دوه کاله بولي.

دویم د امام ابوحنیفه رحمه الله نظردی هغه وايي د رضاع موده دیرش میاشتی ده. نو که کوم ماشوم دکومې ښځې شیدې د خپل عمر په پنځه ویشتمه میاشت و رودلې د امام صاحب په نزد يي رضاعي مور او د صاحبینو په نزد يي مور نه ګڼل کیږي.

### په تي ورکولو باندې کوم کسان حرامیږي؟

په رضاع باندې د مور اقارب د تي رودونکي خپل ګرځي، او د تي رودونکي فروع او زوج د مور خپلوان جوړیږي، چې دا مطلب په یو فارسي بیت کې ښه روښانه شوی هغه داسې:

از جانب شیر ده همه خویش شوند

از جانب شیر خوار زوجان وفروع

مطلب دا چې د شیدې ورکونکي له لورې ټول اقارب لکه: مور، ترور، خاله، زامن، لونه... ټول پرې حرامیږي. خو د شیدې خوړونکي له لوري همدا شیدې خوړونکی، د ده ښځه (یا د دې خاوند که رودونکې نجلی وي) او اولادونه چې څومره ښکته وي په شیدو ورکوونکو حرامیږي. د پورتني متن ټول مسایل په همدې قاعدې باندې حل کیږي.

## پوښتنې

١- د رضاع لغوي او اصطلاحي تعریف بیان کړئ.

٢- درضاع حکم څه دی؟

٣- د رضاع د محرماتو په هکله چې کوم شعر په شرحه کې ذکر شوی هغه شرحه کړئ.

## کورنی دنده

زده کوونکي به په کورونو کې له والدینوسره اړوند مطالب شریکوی. نتیجه به يي ټولګی ته راوړي.

## رضاع (۲)

(۱) وَلَبَنُ الْفحلِ يَتعَلَّقُ بِهِ التَّحرِيمُ ، وهُوَ: أَنْ تُرْضِعَ الْمَرْأَةُ صَبِيَّةً، فَتحْرُمُ هَذِهِ الصَّبِيَّةُ عَلَى زَوْجِها وَعلَى آبَائِهِ وَأَبْنَائِهِ، وَيَصِيرُ الزَّوْجُ الَّذِي نَزَلَ مِنْهُ اللَّبَنُ أَبًا لِلْمُرْضَعَةَ

(۲) وَيجُوزُ أَنْ يَتزَوَّجَ أُخْتَ أَخِيهِ مِنْ الرَّضَاعِ، كَمَا يَجُوزُ مِنْ النَّسَبِ، وَذَلِكَ مِثْلَ الْأَخِ مِنْ الْأَبِ، إِذَا كَانَ لَهُ أُخْتٌ مِنْ أُمِّهِ، جَازَ لِأَخِيهِ مِنْ أَبِيهِ أَنْ يَتزَوَّجَهَا.

(۳) وَكُلُّ صَبِيَّيْنِ اجْتَمَعَا عَلَى ثَدْيٍ وَاحِدٍ فِي مُدَّةِ الرَّضَاعِ لَمْ يَجُزْ لِأَحَدِهِمَا أَنْ يَتزَوَّجَ بِالْآخَرِ

(٤) وَلَا يَجُوزُ أَنْ تَتزَوَّجَ الْمُرْضَعَةُ، أَحداً مِنْ وَلَدِ الَّتِي أَرْضَعَتْهَا ولا ولد ولدها.

(٥) وَلَا يَتزَوَّجُ الصَّبِيُّ الْمُرْضَعُ، بِأُخْتِ زَوْجِ المرضِعَةِ؛ لِأَنَّهَا عَمَّتُهُ مِنْ الرَّضَاعَةِ.

(٦) وَإِذَا اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِالْمَاءِ، وَاللَّبَنُ هُوَ الْغَالِبُ، تَعلَّقَ بِهِ التَّحرِيمُ، وَإِنْ غَلَبَ الْمَاءُ، لَمْ يَتعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ.

(۷) وَإِذَا اخْتَلَطَ بِالطَّعَامِ، لَمْ يَتعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمُ، وَإِنْ كَانَ اللَّبَنُ غَالِبًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ، وَإِذَا اخْتَلَطَ بِالدَّوَاءِ وَاللَّبَنُ هُوَ الْغَالِبُ تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ .

(۸) وَإِذَا حُلِبَ اللَّبَنُ مِنَ الْمَرْأَةِ بَعْدَ مَوْتِهَا، فَأُوْجِرَ بِهِ الصَّبِيُّ، تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ.

(۹) وَإِنْ اخْتَلَطَ اللَّبَنُ بِلَبَنِ شَاةٍ.

وَاللَّبَنُ هُوَ الْغَالِبُ، تَعَلَّقَ بِهِ التَّحرِيمُ، وَإِنْ غَلَبَ لَبَنُ الشَّاةِ، لَمْ يَتعَلَّقْ بِهِ التَّحْرِيمِ

(۱۰) وَإِذَا اخْتَلَطَ لَبَنُ امْرَأَتَيْنِ، تَعلَّقَ التَّحرِيمُ بِأَكْثَرِهِمَا عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَقَالَ مُحَمَّدٌ يَتعَلَّقُ بِهِمَا.

(۱۱) وَإِذَا نَزَلَ لِلْبِكْرِ لَبَنٌ فَأَرْضَعَتْ بِهِ صَبِيًّا تَعَلَّقَ بِهِ التَّحْرِيمُ.

(۱۲) وَإِذَا نَزَلَ لِلرَّجُلِ لَبَنٌ فَأَرْضَعَ بِهِ صَبِيًّا لَمْ يَتعَلَّقْ بِهِ تَحْرِيمُ.

(۱۳) وَإِذَا شَرِبَ صَبِيَانِ مِنْ لَبَنِ شَاةٍ فَلَا رَضَاعَ بَيْنَهُمَا.

(۱٤) وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ صَغِيرَةً وَكَبِيرَةً، فَأَرْضَعَتْ الْكَبِيرَةُ الصَّغِيرَةَ، حُرِّمَتَا عَلَى الزَّوْجِ، فَإِنْ كَانَ لَمْ يَدْخُلْ بِالْكَبِيرَةِ فَلَا مَهْرَ لَهَا وَلِلصَّغِيرَةِ نِصْفُ الْمَهْرِ وَيَرْجِعُ بِهِ عَلَى الْكَبِيرَةِ إِنْ كَانَتْ تَعَمَّدَتِ الْفَسَادَ وإن لم تَتَعَمَّدْ فَلاَ شَيْءَ عَلَيْهَا

(۱٥) وَلَا تُقْبَلُ فِي الرَّضَاعِ شَهَادَةُ النِّسَاءِ مُنْفَرِدَاتٍ وَإِنَّمَا يَثْبُتُ بِشَهَادَةِ رَجُلَيْنِ أَوْ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ

**ژباړه:**

(۱) د مېږه په شيدوياندې د تحريم حکم مرتبيږي هغه داسې: چې يوه ميرمن يوې ماشومې نجلۍ ته شيدې ورکړې د دغې نجلۍ نکاح د تې ورکوونکې مېرمنې له مېړه او د هغه له پلرونو اوزامنوسره نه صحيح کيږي، دغه مېړه چې شيدې له هغه څخه سرچينه اخلي، د همدې ماشومې رضاعي پلارېلل کيږي.

(۲) د سرې نکاح د رضاعي ورور له خورسره رواکيږي، لکه څنګه چې د هغه نکاح د نسبي (وروله خور)سره صحيح کېږي، د دې مثال دادی: پلرنی ورور چې مورنۍ خور ولري، پلرني ورور ته د هغې نکاح سمه ده.

(۳) هر هغه دوه پردي ماشومان چې د يوې رضاعي مور په تيورودلو باندې سره راجمع شي، يوه اوبل ته يې نکاح نه صحيح کيږي.

(٤) تي ورکوونکې ښځې ته روا نه دي چې د هغه چا اولاد يا د اولاد اولاد په نکاح کړي، کوم ته چې دې تی ورکړی وي.

(٥) جايز نه ده چې تی رودونکی هلك دتي ورکوونکې ښځې د مېړه له خورسره واده وکړي ځکه هغه يې رضاعی عمه کيږي.

(٦) کله چې شيدې له اوبوسره ګډې شي اوشيدې له اوبوڅخه ډېرې وي، حرمت ور باندې ثابتيږي.

(۷) که اوبه ورباندې ډېرې وي حرام والی نه ثابتيږي، اوکه شيدې له خوراك سره يوځای کړل شي دامام ابوحنيفه په نزد حرمت ورباندې نه ثابتيږي که څه هم شيدې له طعام څخه زياتې وي، که له دوا سره ګډې شي او اندازه يې له دوا نه ډېره وي حرام والی ورباندې ثابتيږي.

(۸) که له مړې شوې مېرمنې څخه شيدې ولوشل شي او ماشوم ته ورکول شي، حرام والی ثابتوي.

(۹) که شیدې د مېږې له شیدوسره یوځای کړل شي او د میرمنې شیدې وربانديې زیاتې وې، د حرمت حکم وربانديې راځي، او که د مېږې شیدې وربانديې زیاتې وي، حرام والی نه وربانديې راځي.
(۱۰) که د دوو مېرمنو شیدې سره یوځای شي، د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف له نظره حرام والی په هغوشیدو راځي، چې ډېرې دي، اوامام محمد وايي : دواړه ښځې ور باندې حرامیږي.
(۱۱) که د پېغلې نجلی شیدې پیدا شي، اوهغه ماشوم ته ورکړي، حرام والی ثابتوي
(۱۲) اوکه له نارینه څخه شیدې پیداشي اوهغه ماشوم ته ورکړي حرام والی نه وربانديې ثابتیږي.
(۱۳) که دوه ماشومان د یوې مېږې شیدې وخوري، حرام والی نه ثابتوي.
(۱٤) که یو سړی یوه ماشومه او یوه لویه ښځه په نکاح کړي او لویه مېرمن وړې ته شیدې ورکړي په مېړه باندې دواړه حرامیږي، که خاوند له لوېې میرمنې سره کوروالی نه وي کړی، مهر ورته نه ثابتیږي، او د وړوکې میرمنې لپاره نیمایي مهردی، که مشرې میرمنې قصدا د (نکاح) د فاسدولو لپاره دغه کارکړی وي، مېړه به د وړوکې مېرمنې نیمایي مهر له هغې څخه غواړي، او که په قصدې توګه یې دا کارنه وي کړی، بیا مېړه له هغې څخه څه نشي غوښتلی.
(۱٥) په رضاع کې په تنها ډول د ښځو شاهدي نه قبلیږي، یوازې ددوؤ نارینه اویا دوؤ ښځواو یوه نارینه په شاهدی ثابتیږي.
**شرحه**: د رضاعي ورور خور سره نکاح کول روا دي لکه څنګه چې د نسبي ورور له خور سره روا ده،د مثال په توګه:مصعب، د زبیدې نسبي زوی او زبیر یې رضاعي زوی دی نو مصعب کولی شي د زبیر نسبي خور فاطمه په نکاح کړي، حال دا چې د ده د رضاعي ورور خور ده.
د نسبي خور د نکاح صورت داسې دی: شریف او زرین له دوو میرمنو څخه د احمد زامن دي، د شریف د مور له پخواني خاوند څخه لور ده، هغه زرین ته روا ده چې ځان ته یې نکاح کړي.
**رضاعي پلار**: د رضاعي مور مېړه د ماشوم رضاعي پلاردی، چې په فقه کې دا شیدې د (لبن الفحل) په نامه یاد شویدی، ځکه دا تر هماغه حدیث لاندې راځي چې په کې راغلي:
(یحرم من الرضاع ما یحرم من النسب) شیدې ورکوونکې ښځه یې مور ګرځي، ځکه شیدې یې ورکړې دي، او د هغې خاوند یې پلار ګرځي، ځکه دا شیدې د ده د نطفې له کبله را پیدا شوې دي.

**ګډې شیدې**:

۱- که د مېرمنې شیدې له مایع سره یو ځای شي، لکه د بل حیوان له شیدو یا بلې کومې مایع سره، دلته اعتبار غلبې او ډېروالي ته دی، نو که مایع یا د حیوان شیدې ډېرې او د ښځې شیدې لږې وي او ماشوم یې د رضاع په موده کې وخوري، کوم حرام والی ورباندې نه راځي، او که د ښځې شیدې ډېرې وي، بیا رضاع ثابتیږي.

۲- که د میرمنې په شیدو کې خواړه پاخه شي او یا ورسره ګډ شي او ماشوم ته د رضاع په موده کې ورکړل شي رضاع ورباندې نه ثابتیږي.

۳- که د مېرمنې شیدې له دوا سره ګډې او پرې ډېرې شي تحریم ثابتیږي.

٤- که د میرمنې شیدې له داسې خوړو سره یو ځای شي چې هغه په اور نه وي پاخه شوې د امام صاحب په نزد رضاع پرې نه ثابتیږي او صاحبین وایې: دلته هم اعتبار غلبې ته دی که شیدې ډېرې وي تحریم ثابتیږي او که لږې وي رضاع نه ثابتیږي.

**د یوه مېړه د دوو مېرمنو ترمنځ یوې بلې ته دشیدو ورکولو حکم**: که یو شخص په نکاح کې دوه داسې میرمنې راولې چې یوه دومره وړه وي چې درضاعت موده یې نه وي بشپړه، دغه میرمنې په پښتنو کې بنې بلل کیږي،که له دوی څخه غټه بنه وړې بنې ته شیدې ورکړې پر مېړه باندې دواړه حرامیږي، ځکه یوه یې پرکتۍ او بله یې خواښې ګرځي، او له پرکتۍ او خواښې سره د زوجیت اړیکه جوړول او ساتل جواز نه لري.

**احتیاط**: په رضاع باندې ډېراحکام مرتبیږي، له همدې کبله ضروري ده چې ټولې کورنۍ په دې اړه ډېرې محتاطې واوسي، هرماشوم ته بې موجبه خپلې شیدې ورنکړي، ځکه هغه بیا له حافظې څخه وزي اوپایله کې ددې سبب کیږي چې ستراحکام تریښولاندې شي.

## ؟ پوښتنې

۱- د رضاعي ورور خور سره نکاح څه حکم لري؟ صورت یې بیان کړئ.

۲- داسې صورت بیان کړئ چې هغې کې د نسبي ورور خور سره نکاح روا وي؟

۳- لبن الفحل تعریف کړئ.

٤- که د ښځې شیدې له مایعاتو، یا په داسې خوراکي توکو کې ګډ شي چې ورسره پاخه شوي نه وي او بیا د رضاع په موده کې ماشوم ته ورکړل شي رضاع پرې ثابتیږي که نه؟ تفصیل ورکړئ.

# طلاق (۱)

طلاق په اسلام کې د دې لپاره روا شوی چې د ستونزو پرمهال د ازدواج تړون وشلوي، دغه کار مېړه ته ورسپارل شوی دی، دا هم باید و وایو چې طلاق د حل وروستی لاره ده، له دې څخه وړاندې د نصیحت، یو ځای نه ویده کېدل، صلحې او منځګړیتوب خبرې دي، چې د ستونزو پر مهال کار ترې اخیستل کیږي،که دغه لارې د مېړه او مېرمنې ترمنځ ستونزې حل نه کړې، بیا طلاق ته مراجعه کیږي، خو د طلاق لپاره ځانګړي اصول او احکام وضع شوي چې په دې لوستونو کې بیانیږي.

كِتَابُ الطَّلَاقِ:

(١) الطَّلَاقُ عَلَى ثَلَاثَةِ أَوْجُهٍ اَحْسَنُ الطَّلَاقِ، وَطَلَاقُ السُّنَّةِ وَطَلَاقُ البِدْعَةِ:

الف: فَأَحْسَنُ الطَّلَاقِ أَنْ يُطَلِّقَ الرجل امْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً فِي طُهْرٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيهِ وَيَتْرُكَهَا حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا.

ب: وَطَلَاقُ السُّنَّةِ أَنْ يُطَلِّقَ الْمَدْخُولَ بِهَا ثَلَاثًا فِي ثَلَاثَةِ أَطْهَارٍ.

ج: وَطَلَاقُ الْبِدْعَةِ أَنْ يُطَلِّقَهَا ثَلَاثًا بِكَلِمَةٍ وَاحِدَةٍ أَوْ ثَلَاثًا فِي طُهْرٍ وَاحِدٍ، فَإِذَا فَعَلَ ذَلِكَ وَقَعَ الطَّلَاقُ وَبَانَتْ مِنْهُ، وَكَانَ عَاصِيًا.

(٢) وَالسُّنَّةُ فِي الطَّلَاقِ، مِنْ وَجْهَيْنِ: سُنَّةٌ فِي الْوَقْتِ وَسُنَّةٌ فِي الْعَدَدِ فَالسُّنَّةُ فِي الْعَدَدِ يَسْتَوِي فِيهَا الْمَدْخُولُ بِهَا وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا.

(٣) وَالسُّنَّةُ فِي الْوَقْتِ تَثْبُتُ فِي الْمَدْخُولِ بِهَا خَاصَّةً وَهُوَ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي طُهْرٍ لَمْ يُجَامِعْهَا فِيهِ.وَغَيْرُ الْمَدْخُولِ بِهَا يُطَلِّقُهَا فِي حَالَةِ الطُّهْرِ وَالْحَيْضِ .

(٤) وَإِذَا كَانَتْ الْمَرْأَةُ لَا تَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ، وَأَرَادَ أَنْ يُطَلِّقَهَا لِلسُّنَّةِ، طَلَّقَهَا وَاحِدَةً، فَإِذَا مضى شهر طلقها أخرى، فَإِذَا مضى شهر آخر طلقها آخرى، وَيَجُوزُ أَنْ يُطَلِّقَهَا وَلَا

يَفْصِلُ بَيْنَ وَطْئِهَا وَطَلَاقِهَا بِزَمَانٍ.

(٥) وَطَلَاقُ الْحَامِلِ يَجُوزُ عَقِيبَ الْجِمَاعِ، وَيُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ ثَلَاثًا، يَفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ تَطْلِيقَتَيْنِ، بِشَهْرٍ عِنْدَهُمَا.

وَقَالَ مُحَمَّدٌ وَزُفَرُ: لَا يُطَلِّقُهَا لِلسُّنَّةِ إِلَّا وَاحِدَةً.

(٦) وَإِذَا طَلَّقَ الرجل امْرَأَتَهُ فِي حَالِ الْحَيْضِ، وَقَعَ الطَّلَاقُ، وَيُسْتَحَبُّ لَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا، فَإِنْ طَهُرَتْ وَحَاضَتْ ثُمَّ طَهُرَتْ فَهُوَ مُخَيَّرٌ : فَإِنْ شَاءَ طَلَّقَهَا وَإِنْ شَاءَ أَمْسَكَهَا.

## ژباړه

### د طلاق کتاب:

(١) طلاق په درې ډوله دی: احسن طلاق، سنت طلاق اوبدعت طلاق.

الف- احسن طلاق (تر ټولو ښه طلاق) دا دی چې خپله میرمن په هغه پاکۍ کې چې ورسره یې کوروالی نه وی کړی په یوه طلاق طلاقه کړي اوترهغه وخته یې پرېږدی چې عدت یې تېر شی.

ب- سنت طلاق دادی چې خپله هغه میرمن چې ورسره یوځای شوی وي په دریوطهرونو(پاکیو)کې درې ځله طلاقه کړي.

ج- بدعت طلاق هغه دی چې درې طلاقه په یوځل ورکړي اویا درې طلاقه په یوه طهرکې ورکړي، که دغسې کاروکړي میرمن یې طلاقه ترې جداکیږي او مېړه ګنهګاردی.

(٢) په طلاق کې له دوو لوریو سنت رعایت کیږي: سنت والی په وخت کې او سنت والی په عدد کې، د عدد په سنت والي کې هغه میرمن چې ورسره یوځای شوی وي او یا نه وي شوی، برابره ده.

(٣) او سنت والی په وخت کې، یواځې هغې میرمنې پورې تړاولري چې ورسره یوځای شوی وي اوهغه پدې توګه چې په داسې طهرکې یې طلاقه کړي چې په هغه کې ورسره یوځای شوی نه وي، کومه میرمن چې له هغې سره یوځای والی شوی نه وي، په طهراوحیض کې بې طلاقولای شي.

(٤) کومه میرمن چې دکوچني والي اویا لوی والي له کبله حیض نهویني او مېړه ورته د سنت

طلاق ورکولو اراده وکړي هغې ته به په میاشت کې یو طلاق ورکوي. کله چې میاشت پوره شوه، بل طلاق به ورکوي اوپه دریمه میاشت کې به بل طلاق ورکوي، او(دې ښځې ته) داسې طلاق ورکول هم روادي چې د طلاق اوکوروالي ترمنځ فاصله رانه ولي.

**(٥)** حاملې مېرمنې ته وروسته له کوروالي څخه طلاق ورکول روا دي خود امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله تعالی په نزد یې سني طلاق دادی چې ددوو طلاقو ترمنځ میاشت فاصله ورکړي، اوامام محمد وایي: سنت طلاق یې یواځې یوطلاق دی.

**(٦)** که کوم سړی خپله ښځه په حیض کې طلاقه کړي، طلاق واقع کیږي، خومستحب داده چې ورته مراجعه وکړي، خوکله چې پاکه شوه، بیا حایضه شوه بیا پاکه شوه، دی اختیارلری: که خوښه یې راغله طلاقه دې کړي، او که خوښه یې شوه له ځان سره دې وساتي.

## د طلاق تعریف

**شرحه**:

طلاق په لغت کې د قید خلاصولو او خوشې کولو ته وایې او د فقهاوو په اصطلاح کې د طلاق او طلاق ته ورته نورو الفاظو په وسیله چې د خوشې کولو لپاره استعمالیږي د ثابتې نکاح له منځه وړل طلاق بلل کیږي.

**د طلاق حکم**: طلاق د قرآنکریم اونبوی احادیثو په استناد د ضرورت له امله رواعمل دی.

د حکم له مخې د طلاق ډولونه

١- تر ټولوښه طلاق(احسن طلاق).

٢- سنت طلاق.

٣- بدعت طلاق.

د درې واړو تعریف په تېر متن کې بیان شوی.

## د عدد له اړخه سنت طلاق:

د کومې میرمنې چې حیض راځي، هغې لپاره د عدد له مخې سني طلاق هغه دی چې په هر طهر کې ورته یو یو طلاق ورکول شي.

که کومه ښځه د کوم لامل( وړوکوالي یا د عمر د ډېروالي) له کبله حیض نهویني، د هغې لپاره سني طلاق دا دی چې په درې میاشتو کې دې ورته درې طلاقه ورکړل شي، یعنې په هره

میاشت کې به یو یو طلاق ورکول کیږي، ځکه د دوی په حق کې میاشت د حیض قایمقام ده حامله میرمن په طلاق کې د همدوی په څېر ده.

د حیض په حالت کې مېرمنې ته طلاق ورکول نا روا دي، خو طلاق واقع کیږي، او که سړی وغواړي چې له ګناه څخه ځان بچ کړي، بېرته دې ورته مراجعه وکړي له ځان سره دې وساتي له طهر څخه وروسته له بل حیض څخه چې ښځه و وزي، بیا دې بې په طهر کې طلاقه کړي.

## د وخت له اړخه سني طلاق

دا طلاق یواځې په هغه نکاح شوو مېرمنو کې راتلای شي چې کوروالی ورسره شوی وي، د دغو میرمنو سني طلاق دا دی چې په داسې طهر کې به طلاق ورکوي، چې جماع یې پکې نه وي ورسره کړې، ځکه دا د رغبت د تجدید وخت دی، نوکله چې پداسې وخت کې سړی خپلې ښځې ته طلاق ورکوي، څرګنده ده چې ګوزاره ورسره نه کیږي.

هغه ښځه چې کوروالی ورسره نه وي شوی هغې ته په طهر او حیض دواړو کې طلاق ورکول روا دي.

## پوښتني

١- د طلاق لغوي اواصطلاحي معنا څه ده؟
٢- د عدد له مخې طلاق په څو ډوله دی بیان یې کړئ.
٣- د وخت له مخې د طلاق ډولونه بیان کړئ.
٤- بدعي اواحسن طلاق سره څه توپیرلري؟
٥- حامله مېرمن به په سني طلاق څنګه طلاقیږي؟
٦- تر طلاق وړاندې د ستونزو د حل لارکومه ده، په لنډ ډول یې بیان کړئ؟

## کورنۍ دنده

ټول زده کوونکي دې پورتني سوالونه له ځوابو سره په خپلوکتابچوکې ولیکي.

# طلاق (٢)

(١) وَيقَعُ طَلَاقُ كُلِّ زَوْجٍ، إِذَا كَانَ بَالِغًا عَاقِلًا، وَلَا يَقَعُ طَلَاقُ الصَّبِيِّ وَالْمَجْنُونِ وَالنَّائِمِ.

(٢) وَالطَّلَاقُ عَلَى ضَرْبَيْنِ: صَرِيحٌ وَكِنَايَةٌ.

(٣) فَالصَّرِيحُ قَوْلُهُ: أَنْتِ طَالِقٌ وَمُطَلَّقَةٌ وَقَدْ طَلَّقْتُك فَهَذَا يَقَعُ بِهِ الطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ، وَلَا يَقَعُ بِهِ إِلَّا وَاحِدَةً، وإِنْ نَوَى أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِك، وَلَا يَفْتَقِرُ إِلَى نِيَّةٍ.

(٤) وَقَوْلُهُ: أَنْتِ الطَّالِقُ وَأَنْتِ طَالِقٌ الطَّلَاقَ، وَأَنْتِ طَالِقٌ طَلَاقًا فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ وَإِنْ نَوَى اثْنَتَيْنِ فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ أَيْضًا وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا فَهِيَ ثَلَاثٌ.

(٥) وَالضَّرْبُ الثَّانِي: الْكِنَايَاتُ، و لَا يَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ إِلَّا بِنِيَّةٍ أَوْ دَلَالَةِ حَالٍ، وَهِيَ عَلَى ضَرْبَيْنِ، مِنْهَا، ثَلَاثَةُ أَلْفَاظٍ يَقَعُ بِهَا الطلاق الرَّجْعِيُّ، وَلَا يَقَعُ بِهَا إِلَّا وَاحِدَةً، وَهُوَ قَوْلُ: اعْتَدِّي، وَاسْتَبْرِئِي رَحِمَك، وَأَنْتِ وَاحِدَةٌ.

(٦) وَبَقِيَّةُ الْكِنَايَاتِ، إِذَا نَوَى بِهَا الطَّلَاقَ كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً، وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا كَانَ ثَلَاثًا، وَإِنْ نَوَى اثْنَتَيْنِ كَانَتْ وَاحِدَةً، وَهَذَا مِثْلُ قَوْلِهِ: أَنْتِ بَائِنٌ وَبَتَّةٌ وَبَتْلَةٌ وَحَرَامٌ وَحَبْلُك عَلَى غَارِبِك وَالْحَقِي بِأَهْلِك وَخَلِيَّةٌ وَبَرِيَّةٌ وَوَهَبْتُك لِأَهْلِك وَسَرَّحْتُك وَفَارَقْتُك وَأَنْتَ حُرَّةٌ وَتَقَنَّعِي وَتَخَمَّرِي وَاسْتَتِرِي وَاغْرُبِي وَابتَغِي الْأَزْوَاجَ.

(٧) فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ، لَمْ يَقَعْ بِهَذِهِ الْأَلْفَاظِ طَلَاقٌ إِلَّا أَنْ يَكُونَا فِي مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ، فَيَقَعُ بِهَا الطَّلَاقُ فِي الْقَضَاءِ، وَلَا يَقَعُ فِيمَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اللّٰهِ تَعَالَى إِلَّا أَنْ يَنْوِيَهُ.

(٨) وَإِنْ لَمْ يَكُونَا فِي مُذَاكَرَةِ الطَّلَاقِ وَكَانَا فِي غَضَبٍ أَوْ خُصُومَةٍ، وَقَعَ الطَّلَاقُ بِكُلِّ لَفْظَةٍ لَا يَقْصِدُ بِهَا السَّبَّ وَالشَّتِيمَةَ ولم يقع بما يقصد به السب والشتيمه إلا أن ينويه.

(٩) وَإِذَا وَصفَ الطَّلَاقَ بِضَرْبٍ مِنْ الزِّيَادَةِ وَالشِّدَّةِ، كَانَ بَائِنًا مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: أَنْتِ طَالِقٌ بَائِنٌ أَوْ طَالِقٌ أَشَدَّ الطَّلَاقِ أَوْ أَفْحَشَ الطَّلَاقِ أَوْ طَلَاقَ الشَّيْطَانِ أَوْ طَلَاق

الْبِدْعَةِ أَوْ كَالْحَبْلِ أَوْ مِلْءِ الْبَيْتِ .

(١٠) وَإِذَا أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى جُمْلَتِهَا أَوْ إِلَى مَا يُعَبَّرُ بِهِ عَنْ الْجُمْلَةِ وَقَعَ الطَّلَاقُ مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: أَنْتِ طَالِقٌ أَوْ رَقَبَتُكِ طَالِقٌ أَوْ عُنُقُكِ أَوْ رُوحُكِ أَوْ جَسَدُكِ أَوْ فَرْجُكِ أَوْ وَجْهُكِ .

(١١) وَكَذَا إِنْ طَلَّقَ جُزْءًا شَائِعًا، منها مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: نِصْفُكِ طَالِقٌ أَوْ ثُلُثُكِ. وَإِنْ قَالَ يَدُكِ طَالِقٌ أَوْ رِجْلُكِ طَالِقٌ لَا يَقَعُ الطَّلَاقُ .

(١٢) وَإِنْ طَلَّقَهَا نِصْفَ تَطْلِيقَةٍ أَوْ ثُلُثَ تَطْلِيقَةٍ، كَانَتْ تَطْلِيقَةً وَاحِدَةً.

(١٣) وَطَلَاقُ الْمُكْرَهِ وَالسَّكْرَانِ وَاقِعٌ.

(١٤) وَيَقَعُ طَلَاقُ الْأَخْرَسِ بِالْإِشَارَةِ .

(١٥) وَإِذَا أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى النِّكَاحِ، وَقَعَ عَقِيبَ النِّكَاحِ، مِثْلَ أَنْ يَقُولَ لِأَجْنَبِيَّةٍ: إِنْ تَزَوَّجْتُكِ فَأَنْتِ طَالِقٌ أَوْ كُلُّ امْرَأَةٍ أَتَزَوَّجُهَا فَهِيَ طَالِقٌ

(١٦) وَإِذَا أَضَافَ الطَّلَاقَ إِلَى شَرْطٍ، وَقَعَ عَقِيبَ الشَّرْطِ، مِثْلَ أَنْ يَقُولَ لِامْرَأَتِهِ: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ.

(١٧) وَلَا يَصِحُّ إِضَافَةُ الطَّلَاقِ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْحَالِفُ مَالِكًا أَوْ يُضِيفَهُ إِلَى مِلْكٍ

(١٨) وإن قَالَ لِأَجْنَبِيَّةٍ: إِنْ دَخَلْتِ الدَّارَ فَأَنْتِ طَالِقٌ، ثُمَّ تَزَوَّجَهَا، فَدَخَلَتِ الدَّارَ، لَمْ تُطَلَّقْ.

**ژباړه:**

(١) د هرهغه مېړه طلاق واقع کيږي، چې عاقل او بالغ وی، د ماشوم، لېوني او ويده طلاق نه واقع کيږی.

(٢) طلاق په دوه ډوله دی: صريح اوکنايي.

(٣) صريح د سړې دا خبره ده چې: ته طلاقه يې، ته مطلقه (خلاصه کړل شوې) يې، طلاقه مې کړې، پدې ټولوباندې يو رجعي طلاق واقع کيږي، له يوه ښځه که د زياتونيت وکړی، بياهم يوطلاق واقع کيږي او نيت ته اړتيا نه لري.

(٤) او دا خبره چې: ته طلاقه يې، ته په دا معلوم طلاق طلاقه يې ، اويا ته طلاقه يې په طلاق

که نیت یې نه و، یو رجعی واقع کیږي او که د دوو نیت وکړي هم یو رجعي واقع کیږي، او که نیت یې درې طلاقه وي، درې واقع کیږي.
(۵) دویم ډول: په کنایاتو باندې طلاق دی(او دا طلاق) نه واقع کیږي مګر په نیت، یا د حال په تقاضا، او په دوه ډوله دی. یوهغه درې الفاظ دي چې یورجعي طلاق ورباندې واقع کیږي اوهغه (د میړه) داخبره ده: (اعتدي) عدت تیرکړه (واستبرئي رحمك) خپل رحم پاك کړه (وآنت واحدة) ته یوه یې.
(۶) (له دې درې الفاظو پرته) نورکنایات چې نیت ورسره د یوه طلاق وي، یو باین طلاق واقع کیږي، اوکه درې وي، درې واقع کېږي، که د دوؤ نیت وکړي یو واقع کیږي، لکه چې ووايې(أنت بائن وبتة وبتلة وحرام) ته جدا، زما او ستا سره قطع ده او ته په ماحرامه یې، (وحبلك على غاربك)ستاپړی ستاپرغاړه دی، (والحقي بآهلك)له خپلو خپلوانو سره یوځای شه، (وخلية وبرية) ته خلاصه اوبرئ يې (ووهبتك لاهلك) ته مې خپل اهل ته بخشش کړې(وسرحتك وفارقتك) ته مې خوشې اوجدا کړې، (وأنت حرة) ته ازاده یې (وتقنعي وتخمري واستتري واعزبي واغربي وابتغي الازواج) ته مخ پوټی واغونده، ټکرى په سرکړه، ځان پټ کړه، ځان مجردکړه، لرې لاړه شه، ځان ته میړونه وغواړه.
(۷) که نیت یې نه درلوده پدې الفاظوطلاق نه واقع کیږي، مګرکه(میړه او ښځه) د طلاق د یادونې پرمهال وو، نو د قضا په نزد طلاق واقع کیږي او په دیانتی لحاظ، که نیت یې نه وو، طلاق نه واقع کیږي.
(۸) که ښځه اوخاوند د طلاق د یادونې په حالت کې نه، بلکې د غضب او شخړې په حالت کې وي په ټولو هغو الفاظوطلاق واقع کیږي چې مقصد ورځخه کنځل نه وي، او له کومو الفاظوځخه چې کنځل مقصد وي، په هغوباندې طلاق نه واقع کیږي، مګر په هغه صورت کې چې د طلاق نیت وکړي.
(۹) کله چې د طلاق لفظ په زیادت او شدت باندې توصیف کړي، باین طلاق واقع کیږي، لکه چې ووایی: ته په باین طلاق طلاقه يې ، ته طلاقه یی په سخت طلاق، یا فاحش طلاق، یاشیطاني طلاق، یا بدعي طلاق، یا طلاق یې د غره په څیر طلاق او یا د ډك کور په څیر طلاق.
(۱۰) که طلاق یې ټولې ښځې ته مضاف کړ او یا یې هغه څه ته مضاف کړ چې له ټول بدن ځخه تعبیر ورباندې کیږي طلاق واقع کیږی، لکه چې ووایی: ته طلاقه یی، ستاغاړه طلاقه ده، ستاروح طلاق دی، ستا بدن، ستاجسد، ستاشرم ځای اوستامخ طلاق دی.

(۱۱) په همدې ډول که د دې مشاع جز ته طلاق منسوب کړي، طلاق واقع کيږی ، لکه چې ووايی: ستا نيمايی ، ستا دريمه(برخه) دې طلاقه وي. که ووايي: ستا لاس او يا ستا پښه دې طلاقه وي، طلاق نه واقع کيږی.

(۱۲) که هغې ته نيمايي طلاق ورکړي اويا د طلاق دريمه حصه طلاق ورکړی، يو طلاق ګڼل کيږي.

(۱۳) ترفشار لاندې (مجبور کړل شوي) او د نشې په حال کې سړي طلاق واقع کيږي.

(۱٤) دګونګې طلاق په اشاره سره واقع کيږي.

(۱۵) که طلاق نکاح ته منسوب شي، وروسته له نکاح سم دلاسه واقع کيږي، لکه چې (يوې اجنبي ښځې) ته ووايي: که ته مې په نکاح کړې نو طلاقه يې او يا ووايې: هره ښځه چې مې په نکاح کړه هغه طلاقه ده.

(۱٦) که کوم شرط ته طلاق منسوب کړي، وروسته دشرط له پلې کېدو طلاق واقع کيږي، لکه چې خپلې ميرمنې ته ووايي: که کورته ننوتې طلاقه يې.

(۱۷) د طلاقونکي اضافت سم نه دی مګر دا چې قسم ويونکی مالك وي، اويا طلاق ملکيت ته مضاف کړي.

(۱۸) که پردی ميرمنې ته ووايی: که کورته ننوتې، ته طلاقه يې، بيا يې په نکاح کړه اوکورته ننوته، نه طلاقيږي.

**شرحه:**

## د الفاظو له مخې د طلاق ډولونه

د الفاظو له مخې طلاق په دوه ډوله دی، چې يو ته صريح او بل ته کنايي وايې.

۱- صريح طلاق: هغه الفاظ دي چې د طلاق مراد ترې څرګند او د طلاق لپاره استعماليږي. دا هغه الفاظ دي چې د(طلاق) له کلمې څخه راوتلي وي.

۲- کنايي طلاق: هغه الفاظ دي چې د طلاق لفظ پکې نه وي، خو په عرف کې په طلاق کې استعماليږي. او په دوه ډوله دي:

**الف**: درې الفاظ دي چې د هغويه واسطه يوازی يورجعی طلاق واقع کيږي، چې نيت يې وي، هغه الفاظ دادی: (اعتدي)عدت تيرکړه (واستبرئي رحمك)خپل رحم پاك کړه (وأنت واحدة)ته يوه يې.

**ب**: باقی ټول کنايي الفاظ چې حکم يې ترنيت پورې تړاو لري، که د سړی نيت طلاق وی

بائن طلاق واقع کیږي او که نیت یې طلاق نه وي، نونه واقع کیږي همدا راز که د یوه طلاق نیت وکړي، یو واقع کیږي او که د دوونیت وکړي هم یو واقع کیږي اما که د درو نیت وکړي درې واقع کیږي.

**نوټ**: کنایي طلاق کوم خاص الفاظ نه لري، بلکه عرف او نیت ته کتل کیږي، هغه داسې کوم الفاظ چې په کور کلي کې د قهر او د طلاق یادونې پر مهال د طلاق لپاره استعمالیږي چې د طلاق له کلمې څخه مشتق نه وي، هغه کنایي الفاظ دي.لکه: زما له کوره وځه، د پلار په کور کینه.....او نور. د دې الفاظو د استعمال سره سره نیت هم ورته شرط دی.

**آیا کنځل هم طلاق ګڼل کیږي؟**

ټولې کنځلې چې مقصد ورڅخه کنځل نه وي او نیت یې ورڅخه طلاق وي، طلاق ګڼل کیږي.

**د طلاق په الفاظو کې تغلیظ**: هرډول د تغلیظ او ټینګارالفاظ چې له طلاق سره ملګری کړل شي د هغو په واسطه باین طلاق واقع کیږي، لکه ته په ستر، یا درونډ، یا سخت او.... طلاق سره طلاقه یې.

**د میرمنې غړوته د طلاق نسبت**: د استعمال له مخې په عرف او رواج کې غړي په دوه ډوله دي، یو هغه چې ټول بدن ورڅخه مرادیږي او بل هغه چې ټول بدن ورڅخه نه مرادیږي، نو که طلاق د میرمنې هغو غړو ته مضاف شي چې له هغې څخه ټول بدن مرادیږي بیا طلاق واقع کیږي لکه: غاړه، بدن، جسم، شرمګاه.

اوکه داسې غړوته مضاف شي چې له هغو څخه ټول بدن نه مرادیږي لکه لاس اوپښه بیا طلاق نه واقع کیږي.

**د طلاق تجزیه**:د طلاق اندازه یو، دوه او درې دي، که چیرې مېړه یوطلاق تجزیه کړي د طلاق نیمایي دویمه دریمه برخه خپلې میرمنې ته ورکوي، دغه طلاق پوره یو طلاق بلل کیږي،ځکه طلاق تجزیه نه قبلوي.

همدا راز بیا هم طلاق واقع کیږي، که خپلې میرمنې ته د هغې یوه شایع برخه یاده کړي او ووایي:ستا نیمایي برخه، دریمه برخه...دې طلاقه وي.

**تر فشار لاندې اونښې په حالت کې طلاق**

مېړه چې تهدید او مجبور (مُکره) شي، دحنفي مذهب له مخې طلاق واقع کیږي، خو ځینې مذهبونه دغه ډول طلاق واقع نه بولي.

همدا راز که چیرې مېړه د نشې په حالت کې چې د حرامې لارې وي  خپله ښځه طلاقه کړي، طلاق واقع کیږي.

**مشروط طلاق**: هرکله چې طلاق ترېوشرط پورې وتړل شي، د هغه شرط په پلي کېدو باندې طلاق واقع کیږي. لکه چې مېړه ښځې ته و وایي:که له کوره ووتې طلاقه یې، چې ووزي طلاق واقع کیږي.

**د طلاق د تعلیق شرط** د سرې طلاق هلته معلق کیږي چې د ښځې د طلاق خاوند وي او یا طلاق ملکیت ته مضاف کړي، لکه چې ووایي که مې نکاح کړې، طلاقه یې، یعنې چې خپله ښځه یې وي، او که پردی ښځې ته و وایي: که له کوره ووتې ته دې طلاقه یې، دا خبره یې هېڅ ځای نه نیسي، که همدا ښځه یې په نکاح کړه او بیا بهر ووتله، طلاق نه واقع کیږي.

**ملکیت ته د اضافت مثال لکه**: هر کله مې چې په نکاح کړې، طلاقه یې، دلته تعلیق سم دی او هرکله یې چې په نکاح کړي، طلاق واقع کیږي، ځکه طلاق یې د ملک سبب (نکاح) ته مضاف کړی دی، او نکاح د طلاق د مالکېدو سبب دی.

## پوښتنې

١- طلاق د الفاظوله مخې څوډولونه لري؟ بیان یې کړئ.

٢- د طلاق کنایي الفاظ په څو برخو وېشل شوي دي؟ هر ډول یې په مثال سره روښانه کړئ.

٣- کنځل کله طلاق ګڼل کیږي؟ او د طلاق په الفاظو کې تېنګار راشي کوم طلاق واقع کیږي.

٤- د میرمنې غړو ته که طلاق منسوب شي څه حکم لري؟

٥- د لاندې اشخاصو طلاق څه حکم لري:

- د مکره (فشار لاندې سړي)طلاق.
- د نشې په حالت کې طلاق.

٦- مشروط طلاق او د طلاق تعلیق تر شرط پورې څه توپیر لري، روښانه یې کړئ.

## کورنۍ دنده

هر زده کوونکی به زمونږ په هېواد کې د طلاق پر وضعیت یوه مقاله چې له یوې پاڼې لږه نه وي، ولیکي.

# طلاق (٣)

(١) وَأَلْفَاظُ الشَّرْطِ، إنْ وَإذَا وَإذَا مَا وَكلُّ وَكُلَّمَا وَمَتَى وَمَتَى مَا.

(٢) وَكُلُّ هَذِهِ الشُّرُوطِ إذَا وُجِدَتْ انْحَلَّتْ الْيَمِينُ، إلَّا فِي كُلَّمَا، فَإِنَّ الطَّلَاقَ يَتَكَرَّرُ بِتَكَرُّرِ الشَّرْطِ حَتَّى يَقَعَ ثَلَاثَ تَطْلِيقَاتٍ . فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ ذَلِكَ وَتَكَرَّرَ الشَّرْطُ، لَمْ يَقَعْ شَيْءٌ.

(٣) وَزَوَالُ الْمِلْكِ بَعْدَ الْيَمِينِ لَا يُبْطِلُهَا . فَإِنْ وُجِدَ الشَّرْطُ وَهِيَ فِي مِلْكِهِ، انْحَلَّتْ الْيَمِينُ وَوَقَعَ الطَّلَاقُ، وَإِنْ وُجِدَ فِي غَيْرِ مِلْكِهِ، انْحَلَّتْ الْيَمِينُ وَلَمْ يَقَعْ شَيْءٌ.

(٤) وَإِذَا اخْتَلَفَا فِي وُجُودِ الشَّرْطِ، فَالْقَوْلُ قَوْلُ الزَّوْجِ إلَّا أَنْ تُقِيمَ الْمَرْأَةُ بَيِّنَةً

(٥) فَإِنْ كَانَ الشَّرْطُ لَا يُعْلَمُ إلَّا مِنْ جِهَتِهَا، فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا فِي حَقِّ نَفْسِهَا، مِثْلَ أَنْ يَقُولَ: إذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ فَقَالَتْ : قَدْ حِضْت، طُلِّقَتْ.

(٦) وَإِذَا قَالَ: إنْ حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ وَفُلَانَةُ مَعَكِ، فَقَالَتْ: حِضْتُ، طُلِّقَتْ هِيَ، وَلَمْ تُطَلَّقْ فُلَانَةُ.

(٧) وَإِذَا قَالَ لَهَا: إذَا حِضْتِ فَأَنْتِ طَالِقٌ، فَرَأَتْ الدَّمَ لَمْ تُطَلَّقْ حَتَّى يَسْتَمِرَّ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ ، فَإِذَا تَمَّتْ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، حَكَمْنَا بِالطَّلَاقِ مِنْ حِينِ حَاضَتْ.

(٨) وَإِذَا قَالَ لَهَا: إنْ حِضْتِ حَيْضَةً فَأَنْتِ، طَالِقٌ لَمْ تُطَلَّقْ حَتَّى تَطْهُرَ مِنْ حَيْضَتِهَا.

(٩) وَطَلَاقُ الْأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْدًا، وَطَلَاقُ الْحُرَّةِ ثَلَاثُ حُرًّا كَانَ زَوْجُهَا أَوْ عَبْدًا.

(١٠) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ قَبْلَ الدُّخُولِ بِهَا ثَلَاثًا، وَقَعْنَ عَلَيْهَا، فَإِنْ فَرَّقَ الطَّلَاقَ، بَانَتْ بِالْأُولَى وَلَمْ تَقَعْ الثَّانِيَةُ.

(١١) وَإِذَا قَالَ لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً وَوَاحِدَةً، وَقَعَتْ عَلَيْهَا وَاحِدَةٌ.

(١٢) وَإِنْ قَالَ وَاحِدَةً قَبْلَ وَاحِدَةٍ، وَقَعَتْ وَاحِدَةٌ.

(١٣) وَإِنْ قَالَ: وَاحِدَةً قَبْلَهَا وَاحِدَةٌ، وَقَعَتْ ثِنْتَانِ وَإِنْ قَالَ وَاحِدَةً، بَعْدَ وَاحِدَةٍ يَقَعُ ثِنْتَانِ
(١٤) وإن قال: واحدة بعدها واحدة، وقعت واحدة.
(١٥) وإن قال: وَاحِدَةً بَعْدَ وَاحِدَةٍ أو مَعَ وَاحِدَةٍ أو مَعَهَا وَاحِدَةٌ وَقَعْتِ اثْنَتَانِ.
(١٦) وَإِنْ قَالَ لَهَا: إِنْ دَخلْت الدَّار، فَأَنْتِ طَالِقٌ وَاحِدَةً، وَوَاحِدَةً فَدَخلَتْ الدَّارَ، وَقَعَتْ وَاحِدَةٌ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.
(١٧) وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ فِي مَكَّةَ، طَلُقَتْ فِي جَمِيعِ الْبِلَادِ. وَكَذَا إِذَا قَالَ: أَنْتِ طَالِقٌ فِي الدَّارِ.
(١٨) وَإِنْ قَالَ لَهَا أَنْتِ طَالِقٌ إِذَا دَخلْتِ مَكَّةَ، لَمْ تُطَلَّقْ حَتَّى تَدْخُلَ مَكَّةَ
(١٩) وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ غَدًا، وَقَعَ عَلَيْهَا الطَّلَاقُ بِطُلُوعِ الْفَجْرِ

**ژباړه:**

(١) د شرط الفاظ دا دي: إن(كه)، إذا(كله چې)، إذا ما(هغه مهال)، كل(هر)، كلما(هر كله چې)، متى (كله چې) اومتى ما(كله چې).

(٢) پدغو ټولو شرطونوکې چې (شرط) موجود شي، قسم پاى ته ورسېږ (يوطلاق واقع شو)، مگر يوازې د (كلما) په لفظ د شرط په تكرار سره طلاق تكراريږي ترهغه چې درې طلاقه پوره شي، كه بياپې په نكاح كړه اوشرط تكرار شو هېڅ نه واقع كيږي.

(٣) زوال د ملك (ازدواج) وروسته له قسمه څخه هغه نه باطلوي، كه شرط موجود شو او هغه يې په ازدواج کې وه قسم تماميږي اوطلاق واقع كيږي، كه له ملك څخه پرته (شرط) موجود شي، قسم تماميږي اوطلاق نه واقع كيږي.

(٤) كه د شرط په موجوديت کې دواړه اختلاف وكړي، د مېړه خبرې ته اعتبار وركول كيږي، مگر په هغه مهال چې ښځه شاهدان راولي.

(٥) كه شرط داسې وي چې يوازې د مېرمنې په واسطه معلومېداى شي، بيا د دې خبره د خپل ځان په حق کې د باور وړده. لكه چې ميړه و وايي: كه ته حايضه شوې نو طلاقه يې، هغې ووېل: زه حايضه شوم، طلاقه شوه.

(٦) كه مېړه ووايي: ((كله)) چې ته حايضه شوې، طلاقه يي او فلانۍ درسره هم، هغې ووېل: زه حايضه شوم همدا طلاقه شوه اوفلانۍ نه طلاقيږي.

(۷) که دې ته ووايې: ((کله)) چې حایضه شوې طلاقه يې، هغې(د حيض) وينې وليدلې تر هغه نه طلاقيږي چې څو وينو درې ورځې دوام نه وي کړی، کله چې درې ورځې پوره شوې مونږ حکم کوو چې طلاق د حيض له لومړی نيتې واقع شو.

(۸) که خپلې مېرمنې ته ووايي: که ته په (يو) حيض باندې حايضه شوې، نو طلاقه يې، ترهغه وخته نه طلاقيږي نو ترڅو چې له حيض څخه پاکه شوې نه وي نه طلاقيږي.

(۹) د وينځې طلاقونه دوه دي، برابره خبره ده که مېړه يې آزاد وي او يا مريی، د اصيلې ميرمنې طلاقونه درې دي برابره خبره ده که مېړه يې مريی وي او يا آزاد.

(۱۰) که سړي خپله ميرمن مخکې له کوروالي څخه په يو وار په درې طلاقونو طلاقه کړه، درې واړه واقع کيږي.

که طلاقونه يې سره بېل بېل کړل، په لومړي طلاق باندې جلا کيږي اودويم نه واقع کيږي.

(۱۱) که مېرمنې ته ووايي: ته په يوطلاق طلاقه يې او په يو(طلاق)، يو(طلاق) واقع کيږي.

(۱۲) اوکه ورته ووايی: په يو طلاق طلاقه يې، مخکې د يو څخه يو واقع کيږي.

(۱۳) اوکه ورته ووايی: په يوه طلاق طلاقه يې، ترې مخکې به يو وي، په دوو طلاقو طلاقيږي.

که ورته ووايي: په يوه طلاق طلاقه يې وروسته د يوه څخه، دوه واقع کيږي.

(۱٤) که ورته ووايي: په يوه طلاق طلاقه يې چې له هغه وروسته يو دی، يو واقع کيږي.

(۱۵) او که ووايی: په يوه طلاق طلاقه يې وروسته د يوه څخه، يا يو ورسره بل يا له هغه سره يو بل، په دوو طلاقو طلاقيږي.

(۱٦) که خپلې ميرمنې ته ووايي: که کورته ننوتې، ته دې په يوه طلاق او يو طلاق طلاقه يې، نو کور ته ننوته، د امام ابوحنيفه په نزد يوطلاق واقع شو.

(۱۷) که ورته ووايې: ته طلاقه يې په مکه کې، هرښارکې چې وي طلاقيږي، په همدې ډول که ورته ووايې ته طلاقه يې په کورکې.

(۱۸) که ورته ووايي: ته طلاقه يي که مکی ته ننوتې يواځې، هغه وخت طلاقيږي چې مکې ته ننوځې.

(۱۹) که ورته ووايي: ته دې سبا طلاقه يې، کله چې سباراوخيژي طلاقيږي.

## شرحه

**د شرط الفاظ**: په متن کې د شرط هغه الفاظ ذکر شوي چې په عربي ژبه کې د شرط لپاره استعماليږي او له پښتوسره ډېر توپير لري، خو په هره ژبه کې له اصطلاحاتو څخه د کاروونکو

دودیزي معناوي اخستل کیږي. په عمومي توګه دا الفاظ دوه ډوله دي، یو هغه چې یو ځل د شرط په وجود سره له منځه ځي، چې هغه (( إن(که)، إذا(کله چې)، إذاما(هغه وخت)، کل(هر)، متی(کله) اومتی ما(کله) )) الفاظ دي.
او بل د ((کلما)) لفظ دی چې د شرط په تکرار سره درې ځله تکراریږي، ځکه په دریم طلاق ښځه د ده له ملکیته وزي او د شرط مصداق له منځه ځي، نو د شرط په تکرار کوم اثر نه مرتبیږي.
**د شرط د موجودیت په اړه اختلاف**: کله چې مېړه خپلې مېرمنې ته مشروط طلاق ورکړي، اوبیا د شرط په اړه د مېړه او ښځې ترمنځ اختلاف پیدا شي یو وایي: شرط موجود شوی او بل لوری وایي: نه دی موجود شوی، پدې صورت کې د مېړه خبرې ته اعتبار ورکول کیږي، که مېرمن شاهدان ولري بیا د شاهدانو خبره منل کیږي، ځکه چې په شرط کې د اختلاف په صورت کې ښځه د آزادۍ دعوا کوي، نو دا مدعي او خاوند یې د نکاح د بقا دعوه لري، نو هغه مدعي علیه ګڼل کیږي او بینه په مدعي او قسم په مدعي علیه دی. که د شرط موجودیت یوازې د مېرمنې له لوري معلومیدای شي، بیا د مېرمنې خبره د خپل ځان په حق کې معتبره ده، ځکه پدې وخت کې دا په خپل ځان ښه خبره ده.
**د طلاقونو شمیر**: د طلاقونو د شمېر په هکله مېرمن ته کتل کیږي، که مېرمن اصیله وي، د درې طلاقو او که وینځه وي، نو د دوو طلاقونو ځای ګڼل کیږي، او په دې هکله مېړه ته نه کتل کیږي.

## پوښتنې

۱- د شرط الفاظ په څو ډوله دي؟ هر ډول یې په مثال سره روښانه کړئ.
۲- د طلاقو د شمېر په هکله چا ته کتل کیږي؟
۳- د شرط د موجودیت په هکله که ښځه او خاوند سره اختلاف وکړي، د خاوند خبره څه وخت د باور وړ ده او د ښځې خبره څه اعتبار لري؟

## کورنۍ دنده

په پورتني درس کې د مشروطه طلاق مثالونه بیان شوي دي. زده کوونکي دې هغه په منظم ډول په خپلو کتابچوکې ولیکي.

# طلاق (۴)

(۱) وَإِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ: اخْتَارِي نَفْسَك، يَنْوِي بِذَلِكَ الطَّلَاقَ، أَوْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَك فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا مَا دَامَتْ فِي مَجْلِسِهَا ذَلِك، فَإِنْ قَامَتْ مِنْهُ أَوْ أَخَذَتْ فِي عَمَلٍ آخَرَ، خَرَجَ الْأَمْرُ مِنْ يَدِهَا.

(۲) فَإِنْ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فِي قَوْلِهِ: اخْتَارِي نَفْسَكِ كَانَتْ وَاحِدَةً بَائِنَةً، وَلَا يَكُونُ ثَلَاثًا، وَإِنْ نَوَى الزَّوْجُ ذَلِك وَلَا بُدَّ مِنْ ذِكْرِ النَّفْسِ فِي كَلَامِهِ أَوْ كَلَامِهَا.

(۳) فَإِنْ طَلَّقَتْ نَفْسَهَا فِي قَوْلِهِ: طَلِّقِي نَفْسَك، فَهِيَ وَاحِدَةٌ رَجْعِيَّةٌ، فَإِنْ طَلَّقَتْ نَفْسَهَا ثَلَاثًا، وَقَدْ أَرَادَ الزَّوْجُ ذَلِك وَقَعْنَ عَلَيْهَا.

(۴) وَإِنْ قَالَ لَهَا: طَلِّقِي نَفْسَك مَتَى شِئْت، فَلَهَا أَنْ تُطَلِّقَ نَفْسَهَا فِي الْمَجْلِسِ وَبَعْدَهُ.

(۵) وَإِنْ قَالَ لِرَجُلٍ: طَلِّقْ امْرَأَتِي، فَلَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ وَبَعْدَهُ، وَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ.

(۶) وَإِنْ قَالَ طَلِّقْهَا إنْ شِئْت، فَلَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فِي الْمَجْلِسِ خَاصَّةً.

(۷) وَإِنْ قَالَ لَهَا: إنْ كُنْت تُحِبِّينِي أَوْ تَبْغُضِينِي فَأَنْتِ طَالِقٌ، فَقَالَتْ أَنَا أُحِبُّك أَوْ أُبْغِضُك وَقَعَ الطَّلَاقُ، وَإِنْ كَانَ فِي قَلْبِهَا بِخِلَافِ مَا أَظْهَرَتْ .

(۸) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي مَرَضِ مَوْتِهِ طَلَاقًا بَائِنًا، فَمَاتَ وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ، وَرِثَتْ مِنْهُ، وَإِنْ مَاتَ بَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا، فَلَا مِيرَاثَ لَهَا.

(۹) وَإِذَا قَالَ الزوج لِامْرَأَتِهِ:أَنْتِ طَالِقٌ إنْ شَاءَ اللَّهُ مُتَّصِلًا، لَمْ يَقَعْ الطَّلَاقُ عليها.

(۱۰) وَإِنْ قَالَ لَهَا: أَنْتِ طَالِقٌ ثَلَاثًا إلَّا وَاحِدَةً، طُلِّقَتِ اثْنَتَيْنِ، وَإِنْ قَالَ: ثَلَاثًا إلَّا اثْنَتَيْنِ، طُلِّقَتْ وَاحِدَةً.

(۱۱) وَإِذَا مَلَكَ الزَّوْجُ امْرَأَتَهُ أَوْ شِقْصًا مِنْهَا، أَوْ مَلَكَتِ امْرَأَةٌ زَوْجَهَا أَوْ شِقْصًا مِنْهُ، وَقَعَتْ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُمَا.

**ژباړه**

(۱) که مېړه خپلې مېرمنې ته ووايي: ځان دې خوښ کړه (واک دې ستا شو) او مقصد يې ورڅخه طلاق وي، اويا ورته ووايي: خپل نفس طلاق کړه ، ترهغه پورې چې په همدې مجلس کې وي، کولای شي چې خپل ځان طلاق کړي، که ورڅخه ولاړه شوه او يا يې په يوه بل کار ځان بوخت کړ، اختيار يې له لاسه ووت.

(۲) اوکه خپل ځان ته يې د مېړه په دې خبره اختيار ورکړ چې: د خپل نفس لپاره اختيارلرې، يوباين طلاق واقع کيږي، درې طلاقه نه صحيح کيږي که څه هم ميره د دريو نيت ولری، دا ضروري ده چې د مېړه يا مېرمنې په خبرو کې د (نفس) کلمه ياده شي.

(۳) که هغې ځان د مېړه په دې خبره، خپل ځان طلاق کړه، طلاق کړ، يورجعي طلاق واقع کيږي، که په دريو طلاقو يې ځان طلاق کړ، که د مېړه نيت هم همدا وي، درې طلاقه واقع کيږي.

(٤) که هغه ورته ووېل: کله چې دې خوښه شي، ځان طلاق کړه ، هغه کولای شي په همدې مجلس او يا له مجلس څخه وروسته ځان طلاق کړي.

(٥) که مېړه يو سړي ته ووايي: زما مېرمن طلاقه کړه، هغه کولای شي په مجلس او وروسته له مجلس څخه هغه طلاقه کړي، خو ببرته د خپلې خبرې څخه گرځېدای هم شي.

(٦) که ورته ووايي: که خوښه دې وي زما ښځه طلاقه کړه، هغه يوازې په همدې مجلس کې طلاق ورکولای شي.

(۷) که دې ته ووايي: که ته له ما سره مينه لرې اويا مې بد گڼې، نو ته دې طلاقه يې، هغې ووېل: زه درسره مينه لرم اويا دې بد گڼم، طلاقه شوه، ولوکه په زړه کې يې د اظهار خلاف (بله) خبره وي.

(۸) که سړي خپله ميرمن په مرض موت کې په باين طلاق طلاقه کړه او دا په عدت کې وه چې خاوند يې مړ شو، ميراث ورڅخه وړي اوکه د عدت له تېريدو وروسته مړ شو، ميراث نشي وړلای.

(۹) که مېړه خپلې مېرمنې ته ووايي: ته طلاقه يې، او سمدستي ورپسې ان شاء الله ووايي، طلاق نه واقع کيږي.

(۱۰) که مېرمنې ته ووايي: ته په درو طلاقو طلاقه يې پرته له يوه څخه، دوه طلاقه واقع کيږي. که ورته ووايي: په درې طلاقو طلاقه يې پرته له دوو څخه نويوطلاق واقع کيږي.

(۱۱) که مېړه د خپلې مېرمنې مالك شي اويا د هغې د يوې برخې مالك شي او يا مېرمن دخپل مېړه مالکه شي او يا د هغه د يوې برخې مالکه شي د دواړو ترمنځ فرقت (جدايي) راوستل کيږي.

**شرحه**

**خپلې ښځې اويا بل چا ته د طلاق واک سپارل**: مېړه کولای شي چې خپلې ښځې او يا بل شخص ته د طلاق ورکولو صلاحيت وسپاري، دغه صلاحيت بل ته ورکول که په مشروط ډول وي، لکه د مجلس پورې د طلاق معلقول او يا غيرمشروط په هماغه توګه صحيح کيږی.

که مېړه خپلې مېرمنې ته د طلاق اختيار وسپاري او په وخت تصريح ونه کړي، نو يوازې مجلس پورې معلق کيږي. که له مجلس څخه پاڅېدله خيار يې ساقط شو.

څوك چې د خپلې ښځې د طلاق واک بل چا ته ورکړي، دا په طلاق توکيل ګڼل کيږي، او د هغه له عزل کولو مخکې، د مجلس په بدلون توکيل نه ختميږي.

**په مرض موت کې ماندينې ته طلاق ورکول**: مرض موت له هغې ناروغتيا څخه عبارت دی چې غالبا سړی ترې مري، او يا هغه ناروغي ده چې سړی د باندينيو کارونو او ښځه د کورنيو کارونو څخه تر مرګه پورې غورځوي. که داسې ناروغتيا کې څوك خپله مېرمن په باين طلاقه کړي چې مېړه مړ شي او ښځه په عدت کې وي، د ميراث مستحقه ده، ځکه په دې صورت کې سړی غواړي څو ښځه له ميراث څخه محرومه کړي، او دا زياتی دی، نو ځکه د ده د غوښتنې خلاف معامله ورسره کيږي او ميراث به ورکول کيږي. که خاوند د عدت له خلاصېدو وروسته وفات شو، بيا د ميراث مستحقه نه ده.

د باين قيد يې ځکه په طلاق کې کېښود چې رجعي طلاق، په عدت کې ښځه له ميراث څخه نه محروموي، برابره خبره ده چې مرض موت کې وي که په روغتيا کې. خو د باين په صورت کې که طلاق په روغتيا کې ورواچوي، او مړ شي، نو د عدت له تېرېدو مخکې هم ميراث نه وړي.

**د طلاق له لفظ سره د إن شاء الله او استثنأ استعمالول**: هغه مېړونه چې خپلو مېرمنو ته د طلاق ورکولو پر مهال د طلاق په لفظ پسې متصل د انشاء الله کلمه ووايی، طلاق نه واقع کيږي، ځکه د انشاء الله کلمه مخکېنۍ خبره له منځه وړي.

که د دريو طلاقو لفظ ووايي او بيا ورڅخه يو يا دوه په متصل لفظ استثنا کړي، استثنا يې

صحیح کیږي، له استثنا څخه چې کوم عدد پاتې شي همهغه واقع کیږي.

**که ښځه د مېړه مالکه شي یا خاوند د ښځې مالک شي**:که مېړه د خپلې مېرمنې مالك شي اويا بالعکس میرمن د هغه مالکه شي په شرعي لحاظ دواړه سره جدا کیږي یعنې نکاح يې له منځه ځي، ځکه د نکاح او د رقبې د ملکیت تر منځ منافات موجود دی، که ښځه د غلام هم مالدینه وي او هم يې مالکه وي، نو د دي دواړو اړیکو ترمنځ حقیقي منافات دی، ځکه سړي په ښځو قوامین او سرپرستان وي، او مالکان د خپلو مالونو سرپرستان وي، نو نکاح له منځه ځي او که چې مېړه د ښځې مالك شي، نو د رقبې د ملکیت پر بنسټ يې جماع ورته روا کیږي، نکاح ته اړتیا نه پیدا کیږي.

## پوښتنې

١- آیا مېړه کولای شي د طلاق ورکولو صلاحیت بل شخص ته وسپاري؟ موضوع روښانه کړئ.

٢-که مېړه د طلاق واك خپلې ښځې ته په مشروط ډول وسپاري؟ صورت يې له حکم سره بیان کړئ.

٣- مرض موت تعریف کړئ.

٤- د مرض موت کومه مطلقه د میراث څخه نه محرومیږي او ولې؟

٥- د طلاق له لفظ سره د إن شاءالله او استثنا استعمالول په طلاق څه اغیز کوي؟ موضوع په تفصیل سره روښانه کړئ.

٦- که ښځه د خاوند یا خاوند د ښځې بادار وګرځي، د نکاح په عقد څه اغیز غورځوي؟ موضوع له تعلیل سره روښانه کړئ.

## کورنۍ دنده

د متن پنځه مسئلې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# رجعت

كتاب الرجعة:

وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ تَطْلِيقَةً رَجْعِيَّةً أَوْ تَطْلِيقَتَيْنِ، فَلَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا فِي عِدَّتِهَا، رَضِيَتْ بِذَلِكَ أَوْ لَمْ تَرْضَ.

(٢) وَالرَّجْعَةُ أَنْ يَقُولَ: رَاجَعْتُكِ أَوْ رَاجَعْتُ امْرَأَتِي، أَوْ يَطَأَهَا أَوْ يُقَبِّلَهَا أَوْ يَلْمِسَهَا بِشَهْوَةٍ أَوْ يَنْظُرَ إِلَى فَرْجِهَا بِشَهْوَةٍ.

(٣) وَيُسْتَحَبُّ أَنْ يُشْهِدَ عَلَى الرَّجْعَةِ شَاهِدَيْنِ، وَإِذَا لَمْ يُشْهِدْ صَحَّتْ الرَّجْعَةُ.

(٤) وَإِذَا انْقَضَتْ الْعِدَّةُ فَقَالَ: قَدْ كُنْت رَاجَعْتهَا فِي الْعِدَّةِ فَصَدَّقَتْهُ فَهِيَ رَجْعَةٌ وَإِنْ كَذَّبَتْهُ فَالْقَوْلُ قَوْلُهَا وَلَا يَمِينَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٥) وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ: قَدْ رَاجَعْتُكِ فَقَالَتْ مُجِيبَةً لَهُ: قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي لَمْ تَصِحَّ الرَّجْعَةُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(٦) وَإِذَا انْقَطَعَ الدَّمُ مِنْ الْحَيْضَةِ الثَّالِثَةِ لِعَشْرَةِ أَيَّامٍ انْقَضَتْ الْعِدَّةُ وَانْقَطَعَتِ الرَّجْعَةُ وَإِنْ لَمْ تَغْتَسِلْ وَإِنْ انْقَطَعَ لِأَقَلَّ مِنْ عَشْرَةِ أَيَّامٍ لَمْ تَنْقَطِعْ الرَّجْعَةُ حَتَّى تَغْتَسِلَ أَوْ يَمْضِيَ عَلَيْهَا وَقْتُ الصَّلَاةِ أَوْ تَتَيَمَّمُ وَتُصَلِّي عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ. وَقَالَ مُحَمَّدٌ :إذَا تَيَمَّمَتْ انْقَطَعَتْ الرَّجْعَةُ وَإِنْ لَمْ تُصَلِّ .

(٧) فَإِنْ اغْتَسَلَتْ وَنَسِيَتْ شَيْئًا مِنْ بَدَنِهَا لَمْ يُصِبْهُ الْمَاءُ فَإِنْ كَانَ عُضْوًا كَامِلًا فَمَا فَوْقَهُ لَمْ تَنْقَطِعْ الرَّجْعَةُ وَإِنْ كَانَ أَقَلَّ مِنْ عُضْوٍ انْقَطَعَتْ.

**ژباړه**

(۱) **د رجعت کتاب**: کله چې مېړه خپله مېرمن په یوه یا دوو رجعي طلاقو باندې طلاقه کړي، دی کولای شي چې بیرته هغې ته د عدت په موده کې مراجعه وکړي، که د هغې خوښه وي اویايې خوښه نه وي.

(۲) رجوع دې ته ویل کیږي چې ووایي: تا ته مې رجوع وکړه او یا خپلې ښځې ته مې رجوع وکړه، یا کورواله ورسره وکړي، یایې ښکل کړي، یاپې په شهوت سره لمس کړي اویا خوپې شرم ځای ته په شهوت سره وګوري.

(۳) مستحب کاردادی چې په رجوع کولوباندی دوه ګواهان ونیسي او که شاهدان نه وي بیاهم رجوع سمه ده.

(٤) که د عدت موده تېره شي بیا ووایي: ما درته په عدت کې رجوع کړې وه اومېرمن یې هم ومني، رجوع سمه ده، او که مېرمن هغه دروغ جن وبولي د ښځې خبرې ته اعتبار ورکول کېږي اود امام ابوحنیفه په نزد قسم نه ورکول کیږي.

(٥) که مېړه ووایي: ما درته رجوع وکړه اوهغه په ځواب کې ووایي: زما عدت تېرشوی دی د امام ابوحنیفه په آند رجوع نه صحیح کېږي.

(٦) کله چې د درېم حیض وینې، په لسمه ورځ ودرېدې، عدت پای ته ورسېد او رجوع قطع شوه، که څه هم غسل یې نه وي کړی، که له لسو ورځوڅخه په لږه موده کې وینه ودرېده، د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نزد رجعت د غسل ترکولو، یا د یوه لمانځه د وخت تر پای، یا هم د تیمم او لمانځه کولو ترمودې پورې نه دی ختم شوی. امام محمد وایي : کله چې تیمم وکړي، عدت ختم شو، که څه هم لمونځ پې نه وي کړی.

(۷) که غسل یې وکړ او ترې د بدن یو څه ځای یې هېر کړ او وبه ورته ونه رسیدې، که دغه ځای یو اندام او یا له هغه څخه ډېر و، رجعت نه دی ختم شوی، او که له یوه اندام څخه لږ وي بیا نو رجعت ختم دی.

**شرحه**

**د رجعت تعریف**

رجعت ورکرځېدلو ته وايي او د فقهاوو په اصطلاح کې د طلاقې شوي مېرمنې له نوي عقد څخه پرته د زوجیت حالت ته بېرته راګرځېدل رجعت بلل کیږي.

## مېره کومې مطلقې ته رجوع کولای شي؟

رجعت غیرله باین طلاق څخه په رجعي طلاق کې جایز دی په لاندې تفصیل سره:

۱- هغې مېرمنې ته رجوع کولای شي چې د درې طلاقو څخه په لږو طلاقو په صریحو الفاظو باندې طلاقه شوې وي، نو هغې میرمنې ته چې په درو طلاقو، یا په کنایي الفاظو او یا په بل باین طلاق طلاقه شوې وي، رجوع نه شي کولای.

۲- هغې مېرمنې ته چې د طلاق په بدل کې ورڅخه عوض اخستې وي، رجوع نه شي کولای.نو له کومې مېرمنې سره چې خلع وشي، بیا ورته مراجعه نه شي کولای.

۳- رجوع یوازې په عدت کې صورت مومي، نو د کومې مېرمنې چې عدت ختم شي رجوع ورته نشي کولای.

## رجعت په کومو شیانوسره راځي؟

۱- هر لفظ په واسطه چې د مېره له خوا پررجعت باندې دلالت وکړي اوله طلاق څخه د ګرځېدلو په معنی تمام شي.

۲- چې مېړه داسې کارترسره کړي چې هغه د رجوع معنا ولري.

## د رجوع او نه رجوع په هکله اختلاف

کله کله دعدت په لړکې د رجوع اونه رجوع په اړه د مېړه او ښځې اختلاف رامنځته کیږي، که سړی شاهدان و نه لري، د ښځې خبرې ته اعتبارورکول کیږي او د امام صاحب په اند قسم پرې نشته.

## پوښتنې

۱- رجعت تعریف کړئ؟
۲- مېړه کومې مطلقې ته رجوع کولای شي؟
۳- رجعت په کومو شیانو سره راځي؟
٤- درجعت د پای حالات بیان کړئ ؟
۵- د رجوع او نه رجوع په هکله به د ښځې او خاوند ستونزه څنګه حل کیږي ؟

## کورنۍ دنده

ټول زده کوونکي به د پورتنیو پوښتنو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د رجعي طلاق اړوند احکام

(١) وَالْمُطَلَّقَةُ الرَّجْعِيَّةُ تَتَشَوَّفُ وَتَتَزَيَّنُ، وَيُسْتَحَبُّ لِزَوْجِهَا، أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَيْهَا حَتَّى يستأذنها أَوْ يُسْمِعَهَا خفقَ نَعْلَيْهِ.

(٢) وَالطَّلَاقُ الرَّجْعِيُّ لَا يُحَرِّمُ الْوَطْءَ.

(٣) وَإِذَا كَانَ الطَّلَاقُ بَائِنًا دُونَ الثَّلَاثِ، فَلَهُ أَنْ يَتَزَوَّجهَا فِي عِدَّتِهَا وَبَعْدَ انْقِضَاءِ عِدَّتِهَا

(٤) وَإِذَا كَانَ الطَّلَاقُ ثَلَاثًا فِي الْحُرَّةِ أَوِ اثْنَتَيْنِ فِي الْأَمَةِ، لَمْ تَحِلَّ لَهُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ نِكَاحًا صَحِيحًا وَيَدْخُلَ بِهَا، ثُمَّ يُطَلِّقَهَا أَوْ يَمُوتَ عَنْهَا.

(٥) وَالصَّبِيُّ الْمُرَاهِقُ فِي التَّحْلِيلِ كَالْبَالِغِ.

(٦) وَوَطْءُ الْمَوْلَى أَمَتَهُ لَا يُحَلِّلُهَا.

(٧) وَإِذَا تَزَوَّجهَا بِشَرْطِ التَّحْلِيلِ، فَالنِّكَاحُ مَكْرُوهٌ، فَإِنْ وَطِئَهَا حَلَّتْ لِلْأَوَّلِ.

(٨) وَإِذَا طَلَّقَ الْحُرَّةَ تَطْلِيقَةً أَوْ تَطْلِيقَتَيْنِ وَانْقَضَتْ عِدَّتُهَا، وَتَزَوَّجَتْ زَوْجًا آخَرَ، ثُمَّ عَادَتْ إِلَى الْأَوَّلِ عَادَتْ بِثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ، وَيَهْدِمُ الزَّوْجُ الثَّانِي مَا دُونَ الثَّلَاثِ من الطَّلَاقِ كَمَا يَهْدِمُ الثَّلَاثَ.

(٩) وَإِذَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فَقَالَتْ: قَدِ انْقَضَتْ عِدَّتِي، وَتَزَوَّجْتُ بِزَوْجٍ آخَرَ، وَدَخَلَ بِي الزَّوْجُ، وَطَلَّقَنِي وَانْقَضَتْ عِدَّتِي، وَالْمُدَّةُ تَحْتَمِلُ ذَلِكَ، جَازَ لِلزَّوْجِ أَنْ يُصَدِّقَهَا، إِذَا كَانَ فِي غَالِبِ ظَنِّهِ أَنَّهَا صَادِقَةٌ.

### ژباړه

(١) په رجعي طلاق طلاقه شوې مېرمن به مخ او ټول ځان سنګاروي، د هغې د مېړه لپاره مستحب دي چې کله د هغې خواته ورځي، اجازه به ترې اخلي، اویا به یې د خپلو بوټانو په

اواز باندې خبروي.

(۲) رجعي طلاق، کوروالي له ميرمنې سره نه حراموي.

(۳) او که باين طلاق له دريو کم وي، مېړه کولای شي هغه د عدت په موده کې او يا وروسته له عدت څخه بيا په نکاح کړي.

(٤) که اصيله مېرمن په درو طلاقو او وينځه په دوو طلاقوطلاقه شي، تر هغه (طلاقوونکي) مېړه ته نه حلالېږي، ترڅو چې بل مېړه هغه په صحيحې نکاح، نکاح نکړي،کوروالی ورسره وکړي بيايې طلاقه کړي اويا ترې دغه مېړه مړ شي.

(٥) مراهق هلك په تحليل کی د بالغ په څېر دی.

(٦) د بادارکوروالی وينځه د مېړه لپاره نشی حلالولای.

(۷) که څوك د تحليل په نيت نکاح وکړي، نکاح يی مکروه ده، که کوروالی ورسره وکړي، د لومړي مېړه لپاره حلالېږي.

(۸) که اصيله مېرمن په يوه او يا دوو طلاقو طلاقه شي، د عدت له تېرېدو وروسته له بل چا سره واده وکړي اوبيا د لومړي مېړه تر نکاح لاندې راشي ، له درې واړو طلاقو سره لومړي مېړه ته راگرځي، دويم مېړه تر دريو لږ طلاقونه داسې له منځه وړي لکه څنگه چې درې طلاقه له منځه وړي.

(۹) که مېرمن په درو طلاقو طلاقه کړي اوهغه ووايي: زما عدت تېر شو، بل مېړه سره مې واده وکړ، هغه راسره يوځای شو، او طلاقه يې کړم، عدت می تېر شو، اوموده د دغو کارو احتمال ولري، مېړه ته جايز دي چې د هغې خبره ومني که د ده په غالب گمان هغه صادقه وي.

## شرحه

### په رجعي طلاق د طلاقې شوې ښځې مېړه ته ځان ښودل او سينگار

کومه مېرمن چې په رجعي طلاق طلاقه شوه، هغه کولای شي چې د خپل مېړه لپاره ځان سينگارکړي، ترڅو د مېړه رغبت ورته پيدا شي اومراجعه ورته وکړي او د طلاق له بدو پايلو څخه ځان او خپل مېړه وژغوری او مېړه ته د ښځې ځان جوړول د رجعت لپاره لار جوړوي او مستحب کار دی.

## په رجعت کې له رجعي مطلقې سره د مېړه تعامل

د رجعې مطلقې مېړه ته مستحب ده چې کله د هغې لوري او یا کوټې ته ورځي، اجازه به ترې اخلي اویا به هغه په خپل ورتګ خبروي، ځکه طلاق د ده له لوري واقع شوی او له طلاق څخه څرګندیږي چې دی یې نور له ځان سره ساتل نه غواړي، او که غوښتنې یې نو رجوع به یې ورته کړې وه. نو دی به له هغې سره د پردۍ په توګه تعامل کوي .

## طلاقې شوې ښځې ته د رجوع حکم

لکه څرنګه چې تاسو لوستي دي چې طلاق په درو ډوله دی: رجعي، باین او مغلظ، نو په رجعي طلاق کې سړی په ځانګړې اراده، د ښځې له موافقې پرته هغې ته رجوع کولی شي.

نوي عقد ته یې اړتیا نشته.

په باین طلاق کې که خاوند وغواړي چې ښځه بېرته له ځانه سره وساتي، نو په یواځې توګه رجوع نشي کولای، بلکه د ښځې رضا ته اړتیا شته، له سره به عقد تړل کیږي او ایجاب او قبول به کیږي، بیا ورته روا کیږي.

په مغلظ طلاق کې چې ښځې ته درې طلاقونه اچول شوي وي، په نوي عقد کار نه جوړیږي، بلکې ښځه به پرېږدي چې عدت یې تېر شي، یا مړ شي او عدت یې تېر شي بیا یې بل مېړه په نکاح کړي، کورواله ورسره وکړي، که هغه طلاقه کړه، بیا پخواني مېړه ته له نوي عقد څخه وروسته روا کیږي.

## د حلالې په نیت د نکاح حکم

لومړي مېړه ته د حلالېدو په نیت طلاقه شوی مېرمن په نکاح کول او بېرته طلاقول مکروه تحریمی دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: { لَعَنَ اللّٰهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ } د الله لعنت دې وي په حلالونکي او په هغه چا چې هغه ته یې حلالوي.

## دویم مېړه د پخواني مېړه ټول طلاقونه بیا راژوندي کوي

هر سړی خپلې ښځې ته د درو طلاقونو واک لري، کله چې یو څوک خپلې مېرمنې ته یو یا دوه طلاقه واچوي، که بېرته رجوع ورته وکړي، نو یواځې هغه پاته طلاقونه وراچولی شي، او که وروایې چول او له پخوانو سره یې درې طلاقه پوره شول، ښځه په مغلظ طلاق طلاقه شوه، او بېرته رجوع ورته نشي کولای. خو که طلاقې شوې مېرمنې بل مېړه وکړ، او هغه له یوځای

والي وروسته طلاقه کړه، که پخواني مېړه په نکاح کړه، هغه له ټولو طلاقونو سره راګرځي، که یو طلاق يې ور اچولی وي، که دوه او که درې ټول له منځه ځي.

## پوښتنې

۱- کومه مطلقه مېرمن مېړه ته ځان سینګارولای شي او ولې؟.
۲- په رجعت کې به مېړه له خپلې مطلقې سره څه تعامل کوي؟
۳- خپلې مطلقې ته رجوع څه حکم لري او کومې مطلقې ته مېړه رجوع کولای شي؟ او کومې ته يې نه شي کولای؟ د موضوع تفصیل بیان کړئ.
٤- د حلالې په نیت نکاح څه حکم لري؟
٥- یو مېړه خپلې ښځې ته د څو طلاقونو واک لري؟ دا واك څه وخت ختمیږي او کله بېرته راژوندی کیږي؟ موضوع روښانه کړئ.

## کورنی دنده

ټول زده کوونکي به په خپلو کتابچو کې د پورتني لوست د پوښتنو ځوابونه ولیکي.

# ايلاء

كِتَابُ الْإِيلَاءِ:

(١) إِذَا قَالَ الزَّوْجُ لِامْرَأَتِهِ، وَاللَّهِ لَا أَقْرَبُكِ أَوْ وَاللَّهِ لَا أَقْرَبُكِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ، فَهُوَ مُولٍ.

(٢) فَإِنْ وَطِئَهَا فِي الْأَرْبَعَةِ الْأَشْهُرِ حَنِثَ فِي يَمِينِهِ، وَلَزِمَتْهُ الْكَفَّارَةُ، وَسَقَطَ الْإِيلَاءُ، وَإِنْ لَمْ يَقْرَبْهَا حَتَّى مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ، بَانَتْ مِنْهُ بِتَطْلِيقَةٍ، فَإِنْ كَانَ حَلَفَ عَلَى أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَقَطْ، سَقَطَتِ الْيَمِينُ.

(٣) وَإِنْ حَلَفَ عَلَى الْأَبَدِ، فَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ فَإِنْ عَادَ فَتَزَوَّجَهَا، عَادَ الْإِيلَاءُ، فَإِنْ وَطِئَهَا، لزمته الكفارة وَإِلَّا وَقَعَتْ بِمُضِيِّ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ تَطْلِيقَةٌ أُخْرَى، فَإِنْ تَزَوَّجَهَا، عَادَ الْإِيلَاءُ ووقع بمضي أربعة أشهر تَطْلِيْقَةٌ أُخْرَى فَإِنْ تَزَوَّجَهَا بَعْدَ زَوْجٍ آخَرَ، لَمْ يَقَعْ بِذَلِك الْإِيلَاءِ طَلَاقٌ، وَالْيَمِينُ بَاقِيَةٌ، فَإِنْ وَطِئَهَا كَفَّرَ عَنْ يَمِينِهِ

(٤) فَإِنْ حَلَفَ عَلَى أَقَلَّ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ، لَمْ يَكُنْ مُولِيًا، وَإِنْ حَلَفَ بِحَجٍّ أَوْ صَوْمٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ عِتْقٍ أَوْ طَلَاقٍ فَهُوَ مُولٍ.

(٥) وَإِنْ آلَى مِنْ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ، كَانَ مُولِيًا. وَإِنْ آلَى مِنْ الْبَائِنِ لَا يَكُونُ مُولِيًا.

(٦) وَمُدَّةُ إِيلَاءِ الْأَمَةِ شَهْرَانِ.

(٧) وَإِنْ كَانَ الْمُولِي مَرِيضًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْجِمَاعِ، أَوْ كَانَتْ الْمَرْأَةُ مَرِيضَةً، أَوْ كَانَ بَيْنَهُمَا مَسَافَةٌ لَا يَقْدِرُ أَنْ يَصِلَ إِلَيْهَا فِي مُدَّةِ الْإِيلَاءِ، فَفَيْؤُهُ أَنْ يَقُولَ بِلِسَانِهِ: فِئْتُ إِلَيْهَا، فَإِذَا قَالَ ذَلِكَ سَقَطَ الْإِيلَاءُ.

(٨) وَإِنْ صَحَّ فِي الْمُدَّةِ، بَطَلَ ذَلِكَ الْفَيْءُ، وَصَارَ فَيْؤُهُ الْجِمَاعَ.

(٩) وَإِذَا قَالَ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ عَلَيَّ حَرَامٌ، سُئِلَ عَنْ نِيَّتِهِ، فَإِنْ قَالَ: أَرَدْتُ الْكَذِبَ، فَهُوَ كَمَا قَالَ وَإِنْ قَالَ: نَوَيْتُ الطَّلَاقَ، فَهِيَ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ إِلَّا أَنْ يَنْوِيَ الثَّلَاثَ، وَإِنْ قَالَ

أَرَدْت الظِّهَارَ، فَهُوَ ظِهَارٌ وَإِنْ قَالَ أَرَدْت التَّحْرِيمَ أَوْ لَمْ أُرِدْ بِهِ شَيْئًا فَهُوَ يَمِينٌ يَصِيرُ بِهَا مُولِيًا.

**ژباړه**

**د ایلاء کتاب**

(۱) کله چې میړه میرمنې ته ووایي: قسم په خدای زه به تاته نه نژدې کېږم، اویا زه تا ته څلورمیاشتې نه نژدې کېږم، دی د ایلاء سوګند خوړونکی[۱] ګڼل کیږي.

(۲) که په څلورو میاشتو کې له هغې سره کوروالی وکړي، په خپل قسم کې حانث کیږي، (د قسم) کفاره به ورکوي او ایلاء له منځه ځي، که په څلورومیاشتوکې له هغې سره کوروالی ونه کړي، ښځه بې په یو باین طلاق طلاقیږي، که قسم کې یې څلور میاشتې یادې کړې وي، نو قسم یې ساقطیږي.

(۳) اوکه قسم یې د تل لپاره کړی و، قسم یې باقي دی، که بیا یې په نکاح کړه، ایلاء بیا ورسره راګرځي، که له هغې سره کوروالي وکړي، کفاره وربانديې لازمیږي، او که نه د څلورو میاشتو په تېرېدو بل طلاق واقع کیږي. که بیا یې په نکاح کړه، ایلاء بیا ورسره راګرځي چې د څلورو میاشتو په تېرېدو بیا طلاقیږي، که هغه وروسته د بل میړه له ازدواج څخه بیا په نکاح کړي، بیا په دغه ایلاء طلاق نه واقع کیږي، خو قسم یې باقي دی که کوروالی ورسره وکړي د قسم کفاره به ورکوي.

(٤) که له څلورو میاشتو څخه لږه نیټه په قسم کې یاده کړي، دغه شخص ایلاء کوونکی نه ګڼل کېږي، که قسم په حج، روژې، صدقې، د غلام په آزادولو اویا په طلاق باندې وکړي ایلاء کوونکی بلل کیږي.

(۵) که په رجعي طلاق طلاقې شوې مېرمنې څخه ایلاء وکړي، ایلاء کوونکی دی، که له بایني مطلقې څخه ایلاء وکړي، ایلاء کوونکی نه ګڼل کېږي.

(٦) د وینځې د ایلاء موده دوه میاشتې ده.

(۷) که ایلاء کوونکی داسې ناروغ وي چې کوروالی نشي کولای، او یا مېرمن ناروغه وي، اویا د دواړو ترمنځ دومره مسافه وي چې د ایلاء په موده کې ځان هلته نشي رسولای، وفا رجوع د ده دا ده چې په ژبه باندی ووایي: ما دې ته رجوع وکړه، کله چې همدا خبره وکړي

۱- ایلاء کوونکی ته په عربی کی مول ویل کیږی.

ایلاء ساقطیږي.

(۸) که له ناروغۍ څخه د ایلاء په ټاکلې موده کې روغ شي، بیا دغه د خولې رجوع باطلیږي، او د جماع (کوروالي) په واسطه رجوع صورت مومي.

(۹) که میرمنې ته ووایي: ته په ما باندې حرامه یې د نیت پوښتنه به ورڅخه کیږي، که هغه وویل: درواغ مې ویل: درواغ ګڼل کیږي، که هغه وویل: طلاق مې هدف و، په یو باین طلاق کیږي، خو که د درېیو نیت یې کړی وي، بیا درې دي، که ووایي: مقصد مې ظهار و، ظهاربلل کیږي، که ووایي: مقصد مې حراموالی و، یا مې هیڅ هدف نه و، نو قسم ګڼل کیږي او ایلاء واقع کیږي.

## شرحه

ایلاء په لغت کې قسم ته وایي او د فقهاوو په اصطلاح کې ایلاء دا ده چې څوک داسې سوګند وخوري: زه به ترڅلورو میاشتو اویا له هغوڅخه په زیاته موده کی له خپلې مېرمنې سره کوروالی نه کوم.

## د ایلاء الفاظ

د ایلاء الفاظ په دوه ډوله دي صریح او کنایي.

صریح الفاظ هغه الفاظ دي چې په ښکاره ډول د نه نږدې کېدو او نه کوروالي معنا ورڅخه معلومیږي، او نیت ته کومه اړتیا نلري، لکه خپلې ښځې ته د مېړه دا الفاظ: والله که درنږدې شم، والله که درسره کوروالی وکړم، والله که د جنابت غسل درڅخه وکړم او دې ته ورته نور الفاظ چې قسم پرې منعقدیږي. دا ډول الفاظ که استعمال شي، سمدستې پرته له کومې نیتې ایلاء واقع کیږي.

کنایي الفاظ هغه الفاظ دي چې صراحتا ورڅخه د نه نږدې کېدو معنا نه راوزي بلکه د متکلم نیت او د خبرو سیاق ته کتل کیږي، لکه د مېړه دا الفاظ: تاته نه راځم، تا سره په کټ کې شپه نه کوم، تا سره اړخ نه لګوم، ته په ما باندې حرامه یې، او دې ته ورته نور الفاظ.

## د ایلاء ډولونه

ایلاء په دوه ډوله ده:

۱- **ابدی ایلاء**: هغه ایلاء ده چې مېړه په خپل قسم کې د مودې یادونه و نه کړي.

۲- **موقته ایلاء**: هغه ایلاء ده چې مېړه په قسم کې څلورمیاشتې یا تر دې ډېره موده یاده کړي.

### د ایلاء حکم

د ایلاء د حکم په هکله الله جل جلاله فرمايي: (لِلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَاءُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ، وَإِنْ عَزَمُوا الطَّلَاقَ فَإِنَّ اللهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ)

[البقره ۲۲٦ - ۲۲۷] ژباړه: د هغوکسانو لپاره چې د خپلو ښځو (ځخه) قسم خوري، انتظار دی څلور مياشتي، نو که( د دې مودې دننه) د يو بل سره يو ځای شول، بې شکه الله ښښونکی او مهربان دی. او که د طلاق اراده يې کړې وه، نو بې شکه الله اورېدونکی او ښه پوه دی.

که ایلاء کونکی خاوند د څلورو مياشتو دننه ښځې ته ورنژدې شو، د قسم کفاره[1] به ورکوي.

که څلور مياشتې تيرې شوې او کوروالي يې ورسره ونه کړ، بيا په يو باين طلاق طلاقيږي.

### د ایلاء احکام

۱- که مېړه خپل قسم کې تر څلورو مياشتو څخه لږه موده وټاکي، ايلاء نه شمېرل کيږي.

۲- رجعي مطلقي ته د عدت په لړکې ايلاء صحيح ده، خو باينې ته نه ده صحيح.

۳- که په حج، روژه اويا صدقې باندې قسم وکړي لکه چې ووايي: که له تا سره مې کوروالي(جماع) وکړه، په ما دې حج، لس ورځې روژه، يا دوه زره افغانۍ صدقه وي، دا ټول ايلاء بلل کيږي.

٤- که مېړه ښځې ته په نژدې والي کې ستونزې لري، که دا ستونزې ناروغي وي او يا د مسافې لرې والی، په خوله باندی هم رجوع کول جواز لري.

## پوښتنې

۱- ايلاء څه ته وايی؟

۲- د ايلاء الفاظ په څو ډوله دي په لنډو ټکو کې يې بيان کړئ؟

۳- د ايلاء حکم څه شی دی، بيان يې کړئ؟

٤- د ايلاء له احکامو څخه څلور احکام وليکئ؟

۵- د ايلاء ډولونه څو دي، بيان يې کړئ.

---

۱ - د قسم کفاره لسو مسکينانو ته ډوډی، يا جامې، يا د مريی آزادول دي او که دا يو هم ونه لري بيا به درې روژې نيسي.

# خلع

په طلاق او ايلاء باندې دښځې او مېړه ترمنځ جلا والی راځي، همدا شان نن له يوې بلې فقهي اصطلاح سره اشنا کيږو چې په هغې باندې هم ښځه له مېړه څخه جلا کيږي او هغه خلع ده راځئ چې خلع وپېژنو.

كتاب الخلع:

(١) إذَا تَشاقَّ الزَّوْجانِ، وَخافَا أَنْ لَا يُقِيما حُدُودَ اللَّهِ، فَلَا بَأْسَ أَنْ تَفْتَدِيَ نَفْسَها مِنْهُ بِمالٍ يَخْلَعُها بِهِ فَإذَا فَعلَ ذٰلِكَ وَقَعَ بِالْخُلْعِ تَطْلِيقَةً بائِنَةً وَلزِمَها الْمالُ.

(٢) فَإنْ كانَ النُّشُوزُ مِنْ قِبَلِ الزَّوْجِ ،كُرِهَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنْها عِوَضًا ،وَإنْ كانَ النُّشُوزُ مِنْ قِبَلِها، كُرِهَ لَهُ أَنْ يَأْخُذَ مِنها أكْثَرَ مِمَّا أَعْطاهَا ، فَإنْ فَعلَ ذلِكَ جازَ في الْقَضاءِ.

(٣) وَإِنْ طَلَّقَهَا عَلَى مَالٍ، فَقَبِلَتْ، وَقَعَ الطَّلاقُ وَلَزِمَها الْمالُ، وَكانَ الطَّلاقُ بَائِنًا.

(٤) وَإنْ بطَلَ الْعِوَضُ فِي الْخُلْعِ مِثْلُ أَنْ يُخالِعَ الْمُسلِمَةَ عَلَى خَمْرٍ أَوْ خِنْزِيرٍ أَوْ مَيْتَةٍ، فَلَا شَيْءَ لِلزَّوْجِ وَالْفُرْقَةُ بَائِنَةٌ، وَإنْ بَطَلَ الْعِوَضُ فِي الطَّلَاقِ، كَانَ رَجْعِيًّا، وَمَا جَازَ أَنْ يَكُونَ مَهْرًا، جازَ أَنْ يَكُونَ بَدَلًا فِي الْخُلْعِ .

(٥) وَإِذَا قَالَتْ لَهُ: خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي، فَخَالَعَهَا، وَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ، فَلَا شَيْءَ لَهُ عَلَيْهَا.

(٦) وَإنْ قَالَتْ: خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي مِنْ مَالٍ، فَخَالَعَهَا، وَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ، رَدَّتْ عَلَيْهِ مَهْرَهَا.

(٧) وَإنْ قَالَتْ خَالِعْنِي عَلَى مَا فِي يَدِي مِنْ دَرَاهِمَ أو مِنَ الدَّرَاهِمِ ، فَفَعَلَ، وَلَمْ يَكُنْ فِي يَدِهَا شَيْءٌ، فَلَهُ عَلَيْهَا ثَلَاثَةُ دَرَاهِمَ.

(٨) وَإنْ قَالَتْ: طَلِّقْنِي ثَلَاثًا بِأَلْفٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً، فَعَلَيْهَا ثُلُثُ الأَلْفِ.

(٩) وَإِذَا قَالَتْ: طَلِّقْنِي ثَلَاثًا عَلَى أَلْفٍ فَطَلَّقَهَا وَاحِدَةً، فَلَا شَيْءَ لَهُ عَلَيْهَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(١٠) وَإِنْ قَالَ الزَّوْجُ: طَلِّقِيْ نَفْسَكِ ثَلَاثًا بِأَلْفٍ، أَوْ عَلَى أَلْفٍ، فَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا وَاحِدَةً، لَمْ يَقَعْ عَلَيْهَا شَيْءٌ.

(١١) وَالْمُبَارَأَةُ كَالْخُلْعِ، وَالْخُلْعُ وَالْمُبَارَأَةُ يُسْقِطَانِ كُلَّ حَقٍّ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْ الزَّوْجَيْنِ عَلَى الْآخَرِ مِمَّا يَتَعَلَّقُ بِالنِّكَاحِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ .

**ژباړه:**

**د خلعې کتاب:**

(١) کله چې مېره اومېرمن سره وران شي او پدې ووېرېږي چې د الله احکام به قايم نکړي، بيا مېرمن کولای شي چې خپل نفس د مال په مقابل کی له مېره څخه خلاص کړي، دا کارچې وشي، نو په خلعه باندې يوباين طلاق واقع کيږي او مېرمن به مېړه ته مال ورکوي.

(٢) که نشوز(د بېلتون لاملونه، لکه بد ايسېدل او سرنه ټيټول) د مېره له خوا وي، بيا ده ته مکروه ده چې د خلع په مقابل کې مال ورڅخه واخلي، که نشوز د مېرمنې له خوا وي، بيا مېړه ته مکروه ده چې له ورکړې مال(مهر) زيات ور څخه واخلي، خو که دغه کاروکړي د قضاء پر وړاندې جواز لري.

(٣) که مېرمن د مال په مقابل کې طلاقه کړي، مېرمن هم دغه طلاق قبول کړي، باين طلاق واقع کيږي او پرهغې باندې مال لازميږي.

(٤) که په خلع کې عوض باطل شي، پدې معنی چې مسلمانه مېرمن د شرابو، خنزير يا د مردارې په مقابل کې خلع وکړي، باين فُرقت واقع کيږي، خومېړه ته هېڅ عوض نه ورکول کيږي، که په طلاق کې عوض باطل شي، رجعي طلاق واقع کيږي. هر هغه څه چې مهر واقع کېږي، د خلع بدل هم کېدای شي.

(٥) که مېرمن ووايي: ما سره په هغه څه خلع وکړه چې زما په لاس کې دي، نو مېړه خلع ورسره وکړه اوپه لاس کې يې هېڅ نه وي (خلع واقع کيږي)، خو مېره په ښځه د هېڅ شی حق نه لري.

(٦) که ورته ووايي: ماسره په هغه مال خلع وکړه چې زما په لاس کې دی، هغه ورسره خلع وکړه، خو د هغې په لاس کې هېڅ نه و، خپل مهر به مېړه ته ورکوي.

(٧) که ورته ووايې: ماسره په هغو درهمو خلع وکړه چې زما په لاس کې دي اوهلته هېڅ نه وي، درې درهمه به مېړه ته ورکوي.

(۸) که ووايي: په زرو مې په درې طلاقونو طلاقه کړه، اوهغه يوطلاق ورکړي، د زرو (روپو) دریيمه برخه به ورکوي.

(۹) که ووايي: درې طلاقه په زرو (روپو) راکړه او يوطلاق ورکړي، د امام ابوحنيفه په نزد مېړه د هېڅ شي مستحق نه دی.

(۱۰) که (مېړه) ښځې ته ووايي: خپل نفس د زرو روپو مقابل کې او يا په زرو روپو په درې طلاقو طلاق کړه، هغې ځان ته يو طلاق ورکړ، هېڅ طلاق نه واقع کيږي.

(۱۱) بيزاري (مبارآة) د خلع په څير ده، خلع او بېزاري دواړه د امام ابوحنيفه په نزد د نکاح اړوند ټول حقونه هغه چې د زوجينو تر منځ پر يوه اوبل باندې دي، ساقطوي.

## شرحه

**د خلع تعريف**: خلع په لغت کې ايستلو اولرې کولوته وايې او د فقهې په اصطلاح کې: د مال په بدل کې دخلع په لفظ سره د نکاح له منځه وړل خلع بلل کيږي.

**څه وخت د ښځې او خاوند ترمنځ خلع کيږي؟**:کوم ميره او ميرمن چې په خپل منځ کې داسې اختلاف ولري چې شريک ژوند ته دوام نشي ورکولای، پدې صورت کې هغوی په خپله خوښه کولای شي چې د نکاح ترون ته د پای ټکی کيږدي، هغه پدې معنی چې مېرمن د مال په مقابل کې خپل ځان له مېړه څخه آزاد کړي، دغه ډول خلاصون چې مېړه خپلې ميرمنې ته د مال مقابل کې ورکوي، خلع نومول شوې ده چې ورباندې يو باين طلاق واقع کيږي او په ميرمن مال لازميږي.

**د مېړه نشوز**: نشوز ته په پښتو کې (سر نه ټيټول) ويلای شو، هغه داسې چې په مېړه او مېرمن کې يو داسې وي چې د بل درناوی نه کوي، حق يې نه اداکوي او يا زياتی ورسره کوي، بد يې ايسېږي او ژوند کول ورسره نه خوښوي.

که مېړه نشوز ولري او هغه د خلع لامل شوی وي، بيا ورته مکروه ده چې مېرمن د مال په مقابل کې له ځانه جلاکړي، پدې صورت کې هغه ته دا غوره ده چې له مال څخه پرته ميرمنې ته طلاق ورکړي، ځکه الله جل جلاله ميړه له دې څخه منعه کړی دی، فرمايي: ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَاراً فَلا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئاً أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَاناً وَإِثْماً مُبِيناً﴾ [النساء ۲۰]. که ومو غوښتل يوه ښځه بدله کړئ، د بلې پر ځای او ورکړې مو وي دوی ته (کومه چې خوښې کوئ) ډير مال (مهر کې)، نو هېڅ ترې مه اخلئ، آيا تاسې يې په نا حقه او په ښکاره ګناه سره اخلئ؟.

**د ښځې نشوز**: که نشوز د میرمنې له لورې وي، بیا مېړه ته مکروه ده چې د خلعې مقابل کې له هغه مال څخه اضافه مال واخلې کوم چې ده مېرمنې ته د نکاح پرمهال ورکړې دی، ځکه له مهر څخه ډېر مال ظلم دی باید په ښځه ونه تپل شي.

**د خلعې بدله**: د خلع بدله هر هغه شی واقع کېدای شي کوم چې مهر واقع کېدای شي، نو که د خلعې بدله هغه څه وټاکل شي چې د شریعت له مخې ناروا وي، لکه شراب او یا نورحرام توکي، باین طلاق واقع کېږي، اما میړه د هیڅ شي مستحق نه بلل کیږي، ځکه ښځې د شرعې له نظره مال نه دی یاد کړی او چې څه شی یې یاد کړی هغه شرعا مال نه دی.

**د خلعې واک بل چا ته سپارل**: مېړه دا حق لری چې دخپلې میرمنې خلع بل شخص اویا هم خپلې مېرمنې ته وسپاري، هرڅومره بدله چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ د خلعې لپاره وټاکل شي هماغه اندازه پر مېرمن د خلعې د تنفیذ پرمهال لازمیږي.

**المباراة**: مبارات یو بل بري او ازادګرځولو ته وایي، هغه داسې چې خاوند له ښځې څخه د پیسو په مقابل کې آزادوي، او ښځه هم د مال په منلو ځان له خاوند څخه بیزاروي، خو یو رمزي توپیر یې دا دی، په مبارات کې د امام صاحب ابوحنیفه او امام ابو یوسف په نزد، د ښځې ځنې ثابت حقوق، لکه د تېر وخت نفقه او دې ته ورته نور د مېړه نه ساقطیږي، خو په خلعه کې د ابو یوسف په آند یوازې هغه څه ساقطیږي، چې کوم د خلعې پر مهال ورباندې موافقه وشي.

امام محمد رحمه الله تعالی وایي: په خلعه او مبارات دواړو کې هغومره مال ساقطیږي چې مخکې نومول شوی وي.

## پوښتنې

١- نشوز څه ته وایي؟

٢- خلعه څه ته وای؟

٣- خلعه په کوم هدف ترسره کیږي؟

٤- دطلاق او خلعه ترمنځ کوم توپیرونه شتون لری؟

٥- ایلاء او خلعه څه توپیر لری؟

٦- د خلعې بدله به څه شي وي؟ بیان یې کړئ.

٧- مبارات څه شی دی؟ او له خلعې سره څه توپیر لري.

# ظهار

پدې لوست کې په ظهار باندې په تفصیل سره بحث کیږي،خو هغه مسایل چې د غلامی تر مسایلو پورې تړاو لري، څنګه چې دا زمونږ په عصرکی د خدای په فضل له منځه تللي دي، نو موږ یې پریږدو.

کتاب الظهار:

(١) إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِامْرَأَتِهِ: أَنْتِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي، فَقَدْ حُرِّمَتْ عَلَيْهِ، وَلَا يَحِلُّ لَهُ وَطْؤُهَا وَلَا لَمْسُهَا وَلَا تَقْبِيلُهَا، حَتَّى يُكَفِّرَ عَنْ ظِهَارِهِ.

(٢) فَإِنْ وَطِئَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ اسْتَغْفَرَ اللَّهَ تَعَالَى، وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ غَيْرُ الْكَفَّارَةِ الْأُولَى، وَلَا يَعُودُ حَتَّى يُكَفِّرَ.

(٣) وَالْعَوْدُ الَّذِي يَجِبُ بِهِ الْكَفَّارَةُ، أَنْ يَعْزِمَ عَلَى وَطْئِهَا.

(٤) وَإِذَا قَالَ: أَنْتِ عَلَيَّ كَبَطْنِ أُمِّي أَوْ كَفَخِذِهَا أَوْ كَفَرْجِهَا، فَهُوَ مُظَاهِرٌ، وَكَذَلِكَ إِذَا شَبَّهَهَا بِمَنْ لَا يَحِلُّ لَهُ مُنَاكَحَتُهَا عَلَى التَّأْبِيدِ مِنْ ذَوَاتِ مَحَارِمِهِ مِثْلُ أُخْتِهِ أَوْ عَمَّتِهِ أَوْ أُمِّهِ مِنَ الرَّضَاعَةِ .

(٥) وَكَذَا إِذَا قَالَ: رَأْسُكِ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي أَوْ فَرْجُكِ أَوْ وَجْهُكِ أَوْ رَقَبَتُكِ أَوْ نِصْفُكِ أَوْ ثُلُثُكِ أَوْ عُشْرُكِ كَانَ مُظَاهِرًا.

(٦) وَإِنْ قَالَ :أَنْتِ عَلَيَّ مِثْلُ أُمِّي أَوْ كَأُمِّي رُجِعَ إِلَى نِيَّتِهِ. فَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الْكَرَامَةَ، فَهُوَ كَمَا قَالَ، وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الظِّهَارَ، فَهُوَ ظِهَارٌ، وَإِنْ قَالَ أَرَدْتُ الطَّلَاقَ، فَهُوَ طَلَاقٌ بَائِنٌ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ نِيَّةٌ فَلَيْسَ بِشَيْءٍ

(٧) وَلَا يَكُونُ الظِّهَارُ إِلَّا مِنْ زَوْجَتِهِ، وَإِنْ ظَاهَرَ مِنْ أَمَتِهِ، لَمْ يَكُنْ مُظَاهِرًا.

(٨) وَمَنْ قَالَ لِنِسَائِهِ: أَنْتُنَّ عَلَيَّ كَظَهْرِ أُمِّي، كَانَ مُظَاهِرًا مِنْ جَمِيعِهِنَّ، وَعَلَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ منهن كَفَّارَةٌ.

(٩) وَكَفَّارَةُ الظِّهَارِ: عِتْقُ رَقَبَةٍ. فَإِنْ لَمْ يَجِدْ، صَامَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ. فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَإِطْعَامُ سِتِّينَ مِسْكِينًا، كُلُّ ذَلِكَ قَبْلَ الْمَسِيسِ.

(١٠) وَيُجْزِئُ فِي الْعِتْقِ الرَّقَبَةُ، الْمُسْلِمَةُ وَالْكَافِرَةُ وَالذَّكَرُ وَالْأُنْثَى وَالصَّغِيرُ وَالْكَبِيرُ وَلَا تَجُوزُ الْعَمْيَاءُ وَلَا مَقْطُوعَةُ الْيَدَيْنِ أَوْ الرِّجْلَيْنِ. وَيَجُوزُ الْأَصَمُّ، وَالمَقْطُوْعُ إِحْدَى الْيَدَيْنِ وَإِحْدَى الرِّجْلَيْنِ مِنْ خِلَافٍ، وَلَا يَجُوزُ مَقْطُوعُ إِبْهَامَيْ الْيَدَيْنِ وَلَا الْمَجْنُونُ الَّذِي لَا يَعْقِلُ. وَإِنْ اعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ ثُمَّ جَامَعَ الَّتِى ظَاهَرَ مِنْهَا ثُمَّ اعْتَقَ بَاقِيَتَهُ لَمْ يَجُزْ عِنْدَ ابِى حَنِيفَةَ.

(١١) وَلَا يَجُوزُ عِتْقُ الْمُدَبَّرِ وَأُمِّ الْوَلَدِ وَلَا الْمُكَاتَبُ الَّذِي أَدَّى بَعْضَ الْمَالِ.

(١٢) فَإِنْ أَعْتَقَ مُكَاتَبًا لَمْ يُؤَدِّ شَيْئًا جَازَ، فَإِنْ اشْتَرَى أَبَاهُ أَوِ ابْنَهُ يَنْوِي بِالشِّرَاءِ الْكَفَّارَةَ، جَازَ عَنْهَا، وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدٍ مُشْتَرَكٍ عَنْ الْكَفَّارَةِ وَضَمِنَ قِيمَةَ بَاقِيهِ فَأَعْتَقَهُ، لَمْ يَجُزْ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ عَنْهَا جَازَ وَإِنْ أَعْتَقَ نِصْفَ عَبْدِهِ عَنْ كَفَّارَتِهِ، ثُمَّ جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا، ثُمَّ أَعْتَقَ بَاقِيَهُ، لَمْ يَجُزْ هَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ.

(١٣) وَإِنْ لَمْ يَجِدْ الْمُظَاهِرُ مَا يُعْتِقُ فَكَفَّارَتُهُ، صَوْمُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ، لَيْسَ فِيهِمَا شَهْرُ رَمَضَانَ وَلَا يَوْمُ الْفِطْرِ، وَلَا يَوْمُ النَّحْرِ، وَلَا أَيَّامُ التَّشْرِيقِ

(١٤) فَإِنْ جَامَعَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا فِي خِلَالِ الشَّهْرَيْنِ لَيْلًا عَامِدًا أَوْ نَهَارًا نَاسِيًا، اسْتَأْنَفَ الصَّوْمَ عند أبي حنيفة ومحمد، وَإِنْ أَفْطَرَ فِي يَوْمٍ مِنْهَا لِعُذْرٍ أَوْ لِغَيْرِ عُذْرٍ اسْتَأْنَفَ.

(١٥) وَإِذَا ظَاهَرَ الْعَبْدُ، لَمْ يُجْزِهِ فِي الْكَفَّارَةِ إِلَّا الصَّوْمُ، وَإِنْ أَعْتَقَ الْمَوْلَى عَنْهُ أَوْ أَطْعَمَ عَنْهُ، لَمْ يُجْزِهِ.

(١٦) وَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ الْمُظَاهِرُ الصِّيَامَ، أَطْعَمَ سِتِّينَ مِسْكِينًا، كل مسكين نِصْفُ صَاعٍ مِنْ

بُرٍّ أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ أَوْ شَعِيرٍ أَوْ قِيمَةَ ذَلِكَ فَإِنْ غَدَّاهُمْ وَعَشَّاهُمْ جَازَ قَلِيلًا ما أَكَلُوا أَوْ كَثِيرًا.

(۱۷) وَإِنْ أَطْعَمَ مِسْكِينًا وَاحِدًا سِتِّينَ يَوْمًا أَكْلَتَيْنِ مُشْبِعَتَيْنِ أَجْزَأَهُ وَإِنْ أَعْطَاهُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ طَعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا لَمْ يُجْزِئْهُ إلَّا عَنْ يَوْمِهِ ذَلِكَ فَإِنْ قَرِبَ الَّتِي ظَاهَرَ مِنْهَا فِي خِلَالِ الْإِطْعَامِ لَمْ يَسْتَأْنِفْ.

(۱۸) وَمَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ كَفَّارَتَا ظِهَارٍ، فَأَعْتَقَ رَقَبَتَيْنِ لَا يَنْوِي إحْدَاهُمَا بِعَيْنِهَا جَازَ عَنْهُمَا، وَكَذَلِكَ إنْ صَامَ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ، أَوْ أَطْعَمَ مِائَةً وَعِشْرِينَ مِسْكِينًا جَازَ، وَإِنْ أَعْتَقَ رَقَبَةً وَاحِدَةً وَصَامَ شَهْرَيْنِ جَازَ أَنْ يَجْعَلَ ذَلِكَ عَنْ أَيِّهِمَا شَاءَ.

**ژباړه:**

**د ظهار کتاب:**

(۱) که مېړه مېرمنې ته ووېل: ته راباندې زما د مور د شا په څېر يې، نو رباندې حرامه شوه، ترهغه وخته به هغې سره نه کوروالي کوي، نه به يې لمس او نه به يې مچې کوي، ترڅو چې يې د خپل سوګند کفاره[1] نه وي ورکړې،

(۲) که له هغې سره يې مخکې د کفارې له ورکړې کوروالي وکړه، له خدايه دې ښښنه وغواړي، اوپرته له هغې لومړۍ کفارې بل څه رباندې نشته.

(۳) دا راګرځېدنه (عودت) چې کفاره رباندې وا جبېږي داده، چې له ښځې سره د کوروالي عزم وکړي.

(٤) که مېړه ووايي: ته راباندې زما د مور د خېټې، يا ورانه، يا شرمځای په څېر يې، دی مظاهر (ظهار کوونکی) ګڼل کيږي، په همدې توګه که مېرمن مشابه کړي له هغو محارمو سره چې په ابدي توګه هغوی ته د ده نکاح ناروا ده، لکه خپله خور، عمه او يا رضاعی مور.

(۵) همداسې حکم دی که و وايي: ستا سر پر ما داسې دی، لکه زما د مور شا، شرمګا، مخ

---

۱ - کفاره عربي لفظ دی چې له ګناه څخه د پاکېدو په معنی، د قسم د حانث کيدوله کبله شريعت شخص رباندی مکلفوی.

او غاړه او یا ستا نیمایي او یا ستا دریمه او یا ستا لسمه حصه د هغې د شا په څیرده، نو دا سړی ظهار کوونکی دی.

(٦) که ووایي: ته پرما زما د مور غوندې یې، د نیت پوښتنه به ورڅخه وکړي که مقصد یې احترام و نو هماغسې ده، او که و وایي: زما هدف ظهار وو، بیا ظهاردی، او که و وایي: زما هدف طلاق وو، نو باین طلاق واقع کیږي، که هېڅ نیت یې نه درلوده، بیا نو هېڅ شی نه واقع کیږي.

(٧) ظهار یواځې د خپلې مېرمنی په اړه صحیح کېږي، که څوک د خپلې وینځې څخه ظهار وکړي مظاهر نه بلل کیږي.

(٨) څوک چې خپلو میرمنو ته ووایي: تاسو پرما باندې لکه زما د مور د شا په څېر یاست، د ټولو مېرمنو په اړه مظاهر بلل کېږي، او د هرې یوې لپاره به یوه کفاره ورکوي.

(٩) د ظهارکفاره: د یو مریې آزادول دي، که هغه یې نه درلوده، دوې میاشتې پرله پسې روژه نیول دي، که د دې وسه یې هم نه درلود، نو بیا شپیتو مسکینانو ته خواړه ورکول دي، دا ټول مخکې له کوروالي څخه دي.

(١٠) د کافر او مسلمان، نارینه او ښځینه، واړه او لوی غلام آزادول جایز دي. د ړانده اوهغه غلام چې دواړه لاسونه، اویا دواړه پښې یې پرې وي، دظهار په کفاره کې یې آزادول نه صحیح کیږي. دګونګې اوهغه غلام چې یولاس اویوه پښه یې په مخالف ډول(ښي لاس او چپه پښه) پرې وي، آزادول جایزدي، د هغه مریې چې دواړه غټې ګوتې یې پرې وي، او یا لیونی وي، په هیڅ نه پوهیږي، أزادول نه صحیح کیږی.

(١١) د مدبر(هغه مر یی چې آزادې یې د بادار تر مرګه پوری تړل شوی وي)، ام ولده (هغه وینځه چې له بادار څخه د اولاد لرونکې شي) او مکاتب(هغه مر یی چې د معین مال د پیداکولو او بادار ته ورکولو وروسته به آزادې ترلاسه کوي) چې یوه برخه مال یې اداء کړی وي آزادول نه صحیح کیږي.

(١٢) که داسې مکاتب آزاد کړي، چې هیڅ مال یې نه وي اداء کړی، جواز لري. که خپل پلار او یا زوی پدې نیت واخلي، چې کفاره پرې اداء کړي، دا کار سم دی، که د مشترک مریي نیمایي برخه د کفارې لپاره آزاده کړي، او د پاتې برخې د قیمت ضمانت وکړي او هغه هم

آزاده کړي، د امام ابوحنیفه په نزد نه صحیح کیږي، که د خپل مریي نیمايي له کفارې څخه آزاده کړي، بیا یې پاتې برخه ازاده کړي، صحیح کیږي.

که د خپل مریي نیمايي د کفارې لپاره آزاد کړي، بیا له ظهارکړل شوي مېرمنې سره کوروالي وکړي، او بیا باقی مریی آزاد کړي، د امام ابوحنیفه په نزد نه صحیح کیږي.

(۱۳) که ظهار کوونکي (مېړه) د آزادولو لپاره هېڅ غلام پیدا نه کړ، نو کفاره یې دوې داسې میاشتې پرله پسې روژه نیول دي، چې په منځ کې یې د رمضان، وړوکي اختر، لوی اختر او د تشریق ورځې نه وي.

(۱٤) که د دوو میاشتو په لړ کې له ظهارکړل شوې میرمنې سره د شپې قصدا او یا د ورځې د نسیان له کبله کوروالی وکړي، د امام ابوحنیفه اوامام محمد په نزد به روژې له سره راګرزوي، که د شپیتو ورځو دننه یوه ورځ د عذر او یا بې عذره روژه وخوري، بیا به یې له سره پیل کوي.

(۱۵) که غلام ظهارکړی وي، د هغه کفاره یواځې روژې نیول دي، که د هغه بادار د ده پرځای غلام آزاد کړي، او یا مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي، نه صحیح کیږي.

(۱٦) که ظهار کوونکي سږي روژه نه شوه نیولای، شپیتو مسکینانو ته به ډوډۍ ورکوي، نیمايي پیمانه د غنمو او پوره پیمانه د خرماوو، یا د وربشو او یا به د همدغو شیانو قیمت ورکوي، که د غرمې او ماښام ډوډۍ ورکړي، هغوی لږ ورڅخه وخوري او یا زیاته ورڅخه وخوري، کفاره سمه ده.

(۱۷) داهم صحیح کیږي چې یو مسکین ته شپېته ورځې دوه وخته په مړه ګېډه ډوډۍ ورکړي، او که په یوه ورځ همدې یو ته د شپیتو تنو ډوډۍ ورکړي نه صحیح کیږي، خو یواځې د دغې ورځې لپاره، که له ظهارکړل شوې مېرمنې سره د ډوډۍ د ورکړې په جریان کې کوروالي وکړي، کفاره یې سمه ده، له سره شروع ته اړتیا نه پاتې کیږي.

(۱۸) که پر چا باندې د ظهار دوې کفارې لازمې شوې وي، او بیا دوه غلامان آزاد کړي، او د هرې یوې کفارې لپاره یې مشخص نه کړي، دا کارهم روا بلل کیږي، په همدې توګه که څلورمیاشتې روژه ونیسي، او یا یو سلو شلو مسکینانو ته ډوډۍ د دوو کفارو لپاره ورکړي، روا ده، او که د ظهار د دوه کفارو لپاره یو مریي آزاد کړي، او دوې میاشتې روژه ونیسي، هغه

کولای شي د یوې کفارې لپاره یو او د بلې لپاره بل وټاکي.

### شرحه

### د ظهار تعریف

ظهار په لغت کې شا په شا کیدو ته ویل کیږي، د فقهې په اصطلاح کې خپلې ښځې ټول بدن او یا یې داسې غړی چې د ټول بدن تعبیر ورڅخه کیږي د مور یا نورو ابدي محرماتو د غړو یا ټول جسم سره مشابه کول ظهار بلل کیږي.

### د ظهار الفاظ

هره ټولنه خپل الفاظ لري چې د سیاق او سباق څخه یې مفهوم څرګندیږي. همدا شان د ظهار الفاظ هم دي، نو که یو مسلمان خپلې میرمنې ته ووایي: ستا شا زما د مور د شا په شان ده، دا سړی مظاهر دی، خو که ورته و وایي: ته پر ما باندې داسې یې لکه زما مور، دلته د سړي نیت ته کتل کیږي، که د ظهار نیت یې وي ظهار دی، که د طلاق نیت یې وي باین طلاق دی، که د عزت او کرامت نیت یې وي په همدې حملیږي او که د هیڅ شي نیت یې نه وي، هیڅ نه واقع کیږي.

### د ظهار حکم

هغه میړونه چې خپلې میرمنې له میندو یا ابدي محرماتو سره  تشبیه کوي، تر هغه ښځه ورباندې حرامیږي، څو د خپل ظهارکفاره ورنکړي.

### د ظهار کفاره

د ظهارکفاره د درې لاندې شیانو څخه یوه ده:

۱- د یوغلام آزادول

۲- که غلام یې نه درلود، دوې میاشتې به پرله پسې روژې نیسي.

۳- اوکه دغه کاریې هم نشو کولای شپیتو مسکینانو ته به یوه ورځ ډوډۍ ورکوي او یا به یوه مسکین ته شپیته ورځې  ډوډۍ ورکوي.

### د ظهار مسایل

#### ۱- د کفارې په جریان کې کوروالی

د کفارې له ورکړې او یا د هغې په جریان کې ظهارکونکی میړه مکلف دی چې له خپلې

مېرمنې سره کوروواله ونه کړي، که بې کفاره په روژه اداء کوله او د روژې په جریان کې، له هغې سره د شپې په قصد او د ورځې په هېره کوروالي وکړي، د امام ابو حنیفه او محمد په نزد به کفاره له سره پيل کوي، ځکه پرله پسې والی (تتابع) له منځه لاړ، خو امام ابویوسف وایي: له سره به يې نه پيلوي، ځکه دا هغه کارونه دي چې روژه نه فاسدوي، نو پرله پسې والی هم له منځه نه وړي.

### ۲- تر يوې د ډېرو ښځو سره ظهار

که چېرې خپلو ټولو ښځو ته(که دا دوه...وي) ووايي: تاسې په ما داسې ياست لکه زما د مور شا، دی د ټولو څخه مظاهر دی، که ښځې دوه وې دوه کفارې، که درې وې درې او که څلور وې څلور کفارې به ورکوي.

### ۳- کومې ورځې د روژې پرله پسې والی ماتوي؟

که د ظهار کفاره په روژو نیولو اداء کوي، نو د رمضان د میاشتې فرضي روژه، د واړه او غټ اختر ورځې او د تشریق په ورځو کې به روژه نه نیسي، ځکه پدې سره تتابع له منځه ځي که دغه ورځې پکې راشي له سره به شپېته روژې نیسي.

### ۴- د متعددو ظهارونو کفاره

که ظهارونه متعدد وي، د یوه په کفاره کې روژه ونیسې، د بل په کفاره کې غلام آزاد کړي او په دریم کې شپیتو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي، یا ټول په یو ډول کفاره خلاص کړي، مثلا درې ظهاره په یوسلو اتیا روژو یا درې غلامانو ازادولو اداءکړي جواز لري، تشخیص يې ضرور نه دی.

### ۵- د مرېي د ظهار کفاره

د مرېي د ظهار کفاره پرته له روژو په نورو شیانو نه شي راتلای، که بادار دهغه پر ځای غلام آزاد کړي یا مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي هم نه صحیح کیږي.

## پوښتني

۱- ظهارتعریف کړئ؟

۲- له خپلې ټولنې څخه د ظهار شپږ الفاظ راوکاږئ .

۳- کفاره څه ته وايي او د ظهار په کفاره کې کوم شيان ورکول کيږي؟.

٤- د ظهار د احکامو څخه دري حکمونه په لنډو الفاظو په خپل تعبير وليکئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکی به هغه آیت کریمه چې دظهارپه اړه راغلي، په قرآنکریم کې پیداکړي اوله ژباړې سره یوځای به یې خپلوکتابچوکې وليکي.

# لعان

لعان د فقهې يوه مشهوره اصطلاح ده، په قرأنكريم كې يي هم بيان راغلى دې، پدې لوست كې ورباندې په تفصيل غږيږو.

كتاب اللعان:

(١) إذَا قَذَفَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ بِالزِّنَا، وَهُمَا مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ، وَالْمَرْأَةُ مِمَّنْ يُحَدُّ قَاذِفُهَا أَوْ نَفَى نَسَبَ وَلَدِهَا فَطَالَبَتْهُ بِمُوجِبِ الْقَذْفِ، فَعَلَيْهِ اللِّعَانُ، فَإِنْ امْتَنَعَ، حَبَسَهُ الْحَاكِمُ حَتَّى يُلَاعِنَ أَوْ يُكَذِّبَ نَفْسَهُ فَيُحَدَّ.

(٢) فَإِنْ لَاعَنَ وَجَبَ عَلَيْهَا اللِّعَانُ فَإِنْ امْتَنَعَتْ حَبَسَهَا الْحَاكِمُ حَتَّى تُلَاعِنَ أَوْ تُصَدِّقَهُ.

(٣) وَإِذَا كَانَ الزَّوْجُ عَبْدًا أَوْ كَافِرًا أَوْ مَحْدُودًا فِي قَذْفٍ فَقَذَفَ امْرَأَتَهُ فَعَلَيْهِ الْحَدُّ وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ مِنْ أَهْلِ الشَّهَادَةِ ، وَهِيَ أَمَةٌ أَوْ كَافِرَةٌ أَوْ مَحْدُودَةٌ فِي قَذْفٍ أَوْ كَانَتْ مِمَّنْ لَا يُحَدُّ قَاذِفُهَا بِأَنْ كَانَتْ صَبِيَّةً أَوْ مَجْنُونَةً أَوْ زَانِيَةً فَلَا حَدَّ عَلَيْهِ فِي قَذْفِهَا وَلَا لِعَانَ

(٤) وَصِفَةُ اللِّعَانِ: أَنْ يَبْتَدِئَ الْقَاضِي بِالزَّوْجِ، فَيَشْهَدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاَللَّهِ، فَيَقُول فِي كُلِّ مَرَّةٍ: أَشْهَدُ بِاَللَّهِ أَنِّي لَمِنْ الصَّادِقِينَ فِيمَا رَمَيْتُهَا بِهِ مِنْ الزِّنَا ثُمَّ يَقُول فِي الْخَامِسَةِ: لَعْنَةُ اللهِ عَلَيْهِ إنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِيْنَ فِيمَا رَمَاهَا بِهِ مِنَ الزِّنَا، وَيُشِيرَ إلَيْهَا فِي جَمِيعِ ذَلِكَ، ثُمَّ تَشْهَدُ الْمَرْأَةُ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاَللَّهِ، تَقُولُ فِي كُلِّ مَرَّةٍ: أَشْهَدُ بِاَللَّهِ أَنَّهُ لَمِنْ الْكَاذِبِينَ فِيمَا رَمَانِي بِهِ مِنْ الزِّنَا وَتَقُول فِي الْخَامِسَةِ: { أَنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إنْ كَانَ مِنْ الصَّادِقِينَ }

(٥) فَإِذَا الْتَعَنَا، فَرَّقَ الْحَاكِمُ بَيْنَهُمَا، وَكَانَتْ الْفُرْقَةُ تَطْلِيقَةً بَائِنَةً عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَمُحَمَّدٍ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ تَحْرِيمًا مُؤَبَّدًا

(٦) فَإِنْ كَانَ الْقَذْفُ بِوَلَدٍ، نَفَى الْقَاضِي نَسَبَهُ، وَأَلْحَقَهُ بِأُمِّهِ.
فَإِنْ عَادَ الزَّوْجُ، فَأَكْذَبَ نَفْسَهُ، حُدَّ حَدَّ الْقَذْفِ وَحَلَّ لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَهَا وَكَذَلِكَ إِنْ قَذَفَ غَيْرَهَا فَحُدَّ، وَكَذَلِكَ إِذَا زَنَتْ فَحُدَّتْ.

(٧) وَإِذَا قَذَفَ امْرَأَتَهُ، وَهِيَ صَغِيرَةٌ أَوْ مَجْنُونَةٌ، فَلَا حَدَّ وَلَا لِعَانَ بَيْنَهُمَا، وَقَذْفُ الْأَخْرَسِ لَا يَتَعَلَّقُ بِهِ لِعَانٌ.

(٨) وَإِذَا قَالَ الزَّوْجُ: لَيْسَ حَمْلُكِ مِنِّي، فَلَا لِعَانَ بَيْنَهُمَا. وَعِنْدَهُمَا إِنْ جَاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ فَهُوَ قَاذِفٌ وَيُلَاعِنُ.

(٩) وَإِنْ قَالَ: زَنَيْتِ، وَهَذَا الْحَمْلُ مِنَ الزِّنَا، تَلَاعَنَا، وَلَمْ يَنْفِ الْقَاضِي الْحَمْلَ. وَإِذَا نَفَى الرَّجُلُ وَلَدَ امْرَأَتِهِ عَقِيبَ الْوِلَادَةِ أَو فِي الْحَالِ الَّتِي تُقْبَلُ فِيهَا التَّهْنِئَةُ وَتُبْتَاعُ لَهُ آلَةُ الْوِلَادَةِ صَحَّ نَفْيُهُ وَلَاعَنَ بِهِ، وَإِنْ نَفَاهُ بَعْدَ ذَلِكَ، لَاعَنَ وَثَبَتَ النَّسَبُ. وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ لَهُ أَنْ يَنْفِيَهُ فِي مُدَّةِ النِّفَاسِ.

(١٠) وَإِذَا وَلَدَتْ وَلَدَيْنِ فِي بَطْنٍ وَاحِدٍ فَنَفَى الْأَوَّلَ وَاعْتَرَفَ بِالثَّانِي، ثَبَتَ نَسَبُهُمَا، وَحُدَّ الزَّوْجُ، وَلَا لِعَانَ، وَإِنْ اعْتَرَفَ بِالْأَوَّلِ وَنَفَى الثَّانِيَ ثَبَتَ نَسَبُهُمَا وَلَاعَنَ .

**ژباړه:**

**د لعان کتاب:**

(۱) که مېړه خپله مېرمن په زنا تورنه کړي، دواړه (مېړه اومېرمن) د شهادت اهليت لرونکي وي، مېرمن هم داسې وی چې قاذف (کنځل کوونکی) يې په درو وهل کېږي، او يا خو مېړه د هغې د بچي د نسب نفې وکړه او مېرمن د دغې خبرې د سپيناوي غوښتنه ورڅخه وکړي پر هغه (مېړه) باندې لعان لازمېږي، که يې له لعان څخه انکار وکړ، حاکم به يې تر هغه وخته بندي کوي څو لعان وکړي او يا ځان درواغ جن وبولي نو بيا به د قذف حد ورباندې پلی کېږي.

(۲) که يې لعان وکړ، مېرمن باندې هم لعان واجبېږي، که يې انکار وکړ بندی به شي ترڅو چې لعان وکړي او يا مېړه رېښتونی وبولي.

(۳) که مېړه مريی يا کافر يا د قذف په حد باندې په حد شوی و او خپله ښځه يې تورنه کړه،

حد وربانديې پلی کیږي او که مېرہ د شهادت اهلیت درلوده خو مېرمن یې وینځه یا کافره، یا د قذف حد وربانديې جاري شوی و او یا له هغې ډلې څخه و چې قاذف یی نه په حد کیده، یعنې چې مېرمن وړه ، لېونۍ او یا زناکاره وي، نو بیا یې مېږه په دغه تور لګولو نه په حد کېږي او نه به لعان کوي.

(٤) د لعان صفت داسې دی: قاضي به لعان لومړی د مېرہ نه پيل کوي. مېرہ به څلورځله شاهدي ورکوي. په هرځل به وايي:( شاهدي کوم په الله پاک چې زه رښتیا وایم او د هغې د زنا په تورولو کې ريښتونی يم) په پنځم ځل به وايي: (که زه به د هغې دزنا په اړه دروغ وایم پرما دې د خدای لعنت وي) پدې هرځل ويلو به هغې ته اشاره کوي.

بيا به مېرمن څلورځله شاهدي په لاندې ډول سره وايي:(زه خدای شاهد بولم چې دی په دې خبره کې چې زه يې زانيه وګڼلم دروغ جن دی) په پنځم ځل به وايي:(که هغه په زنا بانديې زما د متهمولوپه اړه رښتونی وي، نو د خدای غضب دې پرما وي).

(٥) کله چې د ښځې او خاوند تر منځ لعان وشو، قاضی به دوی سره جلاکړي دغه جدايي د امام ابوحنيفه اوامام محمد په نزد يو باين طلاق دی،او امام ابويوسف وايي:د تل لپاره ورباندې حراميږي.

(٦) که تور د ماشوم په اړه و، قاضی به د هغه نسب له مېږه څخه نفی کړي او مور پوري به يې وتړي، وروسته که مېږه ځان دروغ جن وباله، د قذف حد به په هغه پلي کړي، او ورته روا ده چې مېرمن بېرته په نکاح کړي، په همدې ډول که پردی مېرمن ته د قذف نسبت وکړي، او دی په حد شي او يا مېرمن زنا وکړي، بيا په حد شي (ورته روا ده چې مېرمن بېرته په نکاح کړي).

(٧) که خپله مېرمن چې صغيره او يا ليونۍ وي، تورنه کړي، د دواړو ترمنځ لعان نشته، د ګونګي په قذف بانديې لعان نه مرتبيږي.

(٨) که مېږه و وايي: ستا حمل له ما څخه نه دی، ترمنځ يې لعان نه پلي کيږي، او که و وايي: زنا دې کړې ده او دغه حمل له زنا څخه دی، دواړه به لعان کوي، او قاضي به حمل نه نفی کوي.

(٩) که مېږه له ولادت وروسته او يا د هغه د مبارکۍ قبلولو پرمهال اويا د ولادت د وسايلو د

اخيستلو پرمهال ماشوم نفی کړي، نفی يې صحيح ده، لعان به کوی. که وروسته لدې کارونو نفی وکړي لعان به کوي خو نسب ثابتيږي.

امام ابويوسف اوامام محمد وايي: د نفاس په موده کې نفی صحيح کيږي.

(۱۰) که مېرمنې يوځل دوه بچيان وزيږول، مېړه اول بچی نفی کړ او دويم يې د ځان وباله، د دواړو نسب ثابتېږي او پر مېړه به د قذف حد پلې کيږي، او لعان به نه کوی که په اول يې اعتراف وکړ، دويم يې نفی کړ، د دواړو نسب ثابتيږي او لعان به کوي.

## شرحه

### لعان څه وخت صورت مومي

د مېړه او مېرمنې ترمنځ لعان هغه وخت پيل کيږی، چې مېړه خپله مېرمن په زنا تورنه کړي، يا د هغې ولد نفې کړي، پداسې حال کې چې د خپلی مدعی لپاره شاهدان ونه لري.

### تعريف

لعان په لغت کې شړلو او لرې کولو ته وايي. او د فقهاوو په اصطلاح کې هغه گواهی چې د ښځې او خاوند تر منځ د غضب او لعنت په ملتيا تر سره کيږي لعان بلل کيږي.

د لعنت کلمه به ميړه وايي او د غضب لفظ به ميرمن استعمالوي.

### اهل شهادت څوک دي؟

د شهادت اهل هغه څوک دی چې عاقل، بالغ، آزاد، مسلمان وي او د قذف په حد باندې په دورو وهل شوی نه وي. نو که په زوجينو کې کوم يو ليونی، غلام، صغير اويا د قذف په حد وهل شوی وي، نو د دوی تر منځ لعان نه واقع کېږي، ځکه اهل شهادت نه دي.

### د لعان کيفيت او مثال

کوثر خپله مېرمن زبيده په زنا باندې تورنه کړه، خو د خپلې دعوا لپاره هېڅ گواه نلری، زبيدې ووېل: زه زناکاره نه يم، او له قاضي څخه يې د مېړه لپاره د قذف د حد غوښتنه وکړه، قاضې به لومړی مېړه ته په هغو الفاظو قسم ورکوي چې په متن کې واضح شول، کوثر چې دغه قسمونه تکرار کړل، بيا به قاضې زبيدې ته هماغه قسمونه ورکړي چې په متن کې يي يادونه شوې ده.

## د لعان حکم

کله چې د ښځې او خاوند تر منځ د قاضي پر وړاندې د متن په ترتیب لعان وشو، قاضې به دواړه سره جلا کړي، امام ابوحنیفه او امام محمد دغه جدا کیدل یو باین طلاق بولي، ځکه دا تفریق د قاضي له لورې راځي او د قاضي تفریق باین طلاق دی، خو امام ابویوسف یي دایمي جدایي ګڼي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: {الْمُتَلَاعِنَانِ لَا يَجْتَمِعَانِ أَبَدًا[1]} لعان کوونکي د تل لپاره سره نه جمع کیږي.

## له لعان څخه انکار

که مېړه له لعان څخه انکار وکړي، قاضي به یې بندي کړي، که یې ځان دروغجن وباله د قذف حد به پرې پلې کړي، ځکه هغه خپله میرمن په ناحقه په زنا تورنه کړې ده.

که میرمن د لعان څخه انکار وکړي، هغه به د قاضي له خوا ترهغه پورې زنداني کیږي، څو لعان و وایي، او یا خو د خپل مېړه خبره تصدیق کړي.

که د مېړه خبره يې تصدیق کړه، د زنا حد وربانديې نه پلی کیږي، ځکه د زنا د حد د پلي کېدو لپاره څلور ځله اقرار شرط دي، او دا یو اقرار دی نو په یو اقرار وربانديې حد نشته، همدا راز د لعان پرېښودل په زنا نه ګواهي ده او نه اقرار، نو غوښتنه يې دا شوه چې د حد ایجاب نه کوي.

## په غبرګولو ماشومانو کې له يوه څخه انکار

که په غبرګولو ماشومانو کې لومړی نفیه کړي، اوپه دویم اعتراف وکړي، د دواړو نسب ثابتیږي، مېړه په حد کیږي او لعان صورت نه مومي، ځکه دا دواړه د یوو اوبو څخه پیدا شوي، او ده په دویم باندې په اعتراف خپل ځان دروغجن وګاڼه، ځکه یو حمل د دوه کسانو نه وي.

که لومړی د ځان بولي او دویم نفي کړي، د دواړو نسب ثابتیږي، خو لعان به کوي، ځکه دا هم د اول په شان یو حمل دی، اول اعتراف د دویم لپاره ثبوت دی، نو نفی پدې خاطر نه صحیح کیږي او لعان به ځکه کوي چې ښځه یې د دویم ماشوم په نفی کولو سره په زنا تورنه کړه.

## لعان د څه شي قایم مقام دی؟

د خاوند په حق کې لعان د قذف د حد قایم مقام دي او د ښځې په حق کې د زنا د حد قایم مقام دی.

---

١ - اخرجه ابوداود فی سننه باب اللعان ٣- ٢٤٢ صححه الالباني.

## پوښتني

١- لعان د لغت او اصطلاح له مخې تعریف کړئ؟
٢- لعان په کوم مهال د کومو اشخاصوترمنځ پېښيږي؟
٣- د لعان حکم څه؟ او څنګه تر سره کيږي؟
٤- د لعان نه په انکار څه اثر مرتبيږي؟
٥- د غبرګولو ماشومانو نه د یوه څخه په انکار څه شی لازميږي؟

## کورنۍ دنده

د لعان په اړه چې کوم آيت کريمه په قرآنکريم کې راغلی، هغه به له ژباړې سره یوځای په کتابچوکې وليکئ.

## عدت

مېرمن چې طلاقه شي، ترکومه به انتظار باسي، بله نکاح به نه کوي؟
که مېړه يې وفات شي تر کومه وخته به ښځه بل مېړه نه کوي؟ دا او دې ته د ورته پوښتنو ځوابونه د دې درس موضوع ده.

كتاب العدة:

(١) إذَا طَلَّقَ الرَّجلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا بَائِنًا أَوْ رَجعِيًّا أَوْ ثَلَاثًا أَوْ وَقَعَتْ الْفُرْقَةُ بَيْنَهُمَا بِغَيْرِ طَلَاقٍ ، وَهِيَ حُرَّةٌ مِمَّنْ تَحِيضُ، فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَقْرَاءٍ.

(٢) وَالْأَقْرَاءُ: الْحِيَضُ.

(٣) وَإِنْ كَانَتْ لَا تَحِيضُ مِنْ صِغَرٍ أَوْ كِبَرٍ فَعِدَّتُهَا ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ، وَإِنْ كَانَتْ حَامِلًا فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا.

(٤) وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً، فَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ وَإِنْ كَانَتْ لَا تَحِيضُ، فَعِدَّتُهَا شَهْرٌ وَنِصْفٌ.

(٥) وَإِذَا مَاتَ الرَّجُلُ عَنْ امْرَأَتِهِ الْحُرَّةِ فَعِدَّتُهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرَةٌ. وَإِنْ كَانَتْ أَمَةً فَعِدَّتُهَا شَهْرَانِ وَخَمْسَةُ أَيَّامٍ وَإِنْ كَانَتْ حَامِلَةً، فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا

(٦) وَإِذَا وَرِثَتِ الْمُطَلَّقَةُ فِي الْمَرَضِ، فَعِدَّتُهَا أَبْعَدُ الْأَجَلَيْنِ.

(٧) وَإِنْ أُعْتِقَتْ الْأَمَةُ فِي عِدَّتِهَا مِنْ طَلَاقٍ رَجْعِيٍّ، انْتَقَلَتْ عِدَّتُهَا إلَى عِدَّةِ الْحَرَائِرِ، وَإِنْ أُعْتِقَتْ، وَهِيَ مَبْتُوتَةٌ أَوْ مُتَوَفًّى عَنْهَا زَوْجُهَا، لَمْ تَنْتَقِلْ عِدَّتُهَا إلَى عِدَّةِ الْحَرَائِرِ.

(٨) وَإِذَا كَانَتْ آيِسَةً، فَاعْتَدَّتْ بِالشُّهُورِ ثُمَّ رَأَتْ الدَّمَ انْتَقَضَ مَا مَضَى مِنْ عِدَّتِهَا وَكَانَ عَلَيْهَا أَنْ تَسْتَأْنِفَ الْعِدَّةَ بِالْحَيْضِ .

(٩) وَالْمَنْكُوحَةُ نِكَاحًا فَاسِدًا وَالْمَوْطُوءَةُ بِشُبْهَةٍ، عِدَّتُهَا الْحَيْضُ فِي الْفُرْقَةِ وَالْمَوْتِ.

(١٠) وَإِذَا مَاتَ مَوْلَى أُمِّ الْوَلَدِ عَنْهَا أَوْ أَعْتَقَهَا، فَعِدَّتُهَا ثَلَاثُ حِيَضٍ.

(١١) وَإِذَا مَاتَ الصَّغِيرُ عَنْ امْرَأَتِهِ وَبِهَا حَمْلٌ، فَعِدَّتُهَا أَنْ تَضَعَ حَمْلَهَا، وَإِنْ حَدَثَ الْحَمْلُ بَعْدَ الْمَوْتِ، فَعِدَّتُهَا أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ. وَلَا يَثْبُتُ نَسَبُهُ فِي الْوَجْهَيْنِ جَمِيعًا.

(١٢) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ فِي حَالِ الْحَيْضِ، لَمْ تَعْتَدَّ بِالْحَيْضَةِ الَّتِي وَقَعَ فِيهَا الطَّلَاقُ

(١٣) وَإِذَا وُطِئَتْ الْمُعْتَدَّةُ بِشُبْهَةٍ فَعَلَيْهَا عِدَّةٌ أُخْرَى وَتَتَدَاخَلُ الْعِدَّتَانِ، فَيَكُونُ مَا تَرَاهُ مِنْ الْحَيْضِ مُحْتَسَبًا بِهِ مِنْهُمَا جَمِيعًا فَإِذَا انْقَضَتْ الْعِدَّةُ مِنَ الْأَوَّلِ وَلَمْ تُكْمِلْ الثَّانِيَةَ، فَإِنَّ عَلَيْهَا تَمَامَ عِدَّةِ الثَّانِي.

(١٤) وَابْتِدَاءُ الْعِدَّةِ فِي الطَّلَاقِ عَقِيبَ الطَّلَاقِ وَفِي الْوَفَاةِ عَقِيبَ الْوَفَاةِ، فَإِنْ لَمْ تَعْلَمْ بِالطَّلَاقِ أَوْ الْوَفَاةِ حَتَّى مَضَتْ الْعِدَّةُ، فَقَدِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا.

(١٥) وَالْعِدَّةُ فِي النِّكَاحِ الْفَاسِدِ، عَقِيبَ التَّفْرِيقِ بَيْنَهُمَا، أَوْ عِنْدَ عَزْمِ الْوَاطِئِ عَلَى تَرْكِ وَطْئِهَا.

**ژباړه:**

**دعدت كتاب**

(١) مېره چې خپله مېرمن په باين، رجعي يا درې طلاقو طلاقه کړه، او يا د دواړو ترمنځ له طلاقه پرته جدايي رامنځ ته شوه، ښځه آزاده او حيض ليدونکې وه، عدت يې درې اقراء(حيضونه) دي.

(٢) (اقراء): حيضونه (مياشتنی ناروغي) دي.

(٣) که ښځه د وړوکوالي اويا لوی والي (د ډېر عمر تېرېدو) له کبله حيض نهويني، عدت يې درې مياشتې دی،که ميرمن حامله وه، عدت يې د حمل زېږول دي.

(٤) که (مېرمن) وينځه وه، عدت يې دوه حيضه دي، اوکه نه حايضه کېده بيا يې عدت يوه نيمه مياشت دی.

(٥) که مېره له اصيلي مېرمنې څخه وفات شي، عدت يې څلورمياشتې اولس ورځې دی، که

وينځه وه نوعدت يې دوې مياشتې اوپنځه ورځې دى، كه اميدواره وه، بيا يې عدت د حمل زيږول دي.

(٦) كه (د ميره) په مرض كې طلاقه شوې مېرمن، د ميراث حق ولري، نو عدت يې د دوو مودو(څلور مياشتې او لس ورځې او د حمل وضع) څخه اوږده موده ده.

(٧) كه وينځه د رجعي طلاق د عدت په لړ كې آزاده شي، عدت يې د اصيلو مېرمنو عدت ته انتقاليږي، او كه په داسې حال كې ازاده كړى شي چې مبتوته ( په باين طلاق طلاقه) وي يا ترې مېړه مړ شوي وي، عدت يې د اصيلو مېرمنو عدت ته نه انتقاليږي.

(٨) كه أيسه (چې مياشتنى ناروغي نلري) وي، نو عدت يې په مياشتو تېر كړ، خو بيا د حيض وينې و وينې، د عدت تېره شوې موده له منځه ځي، او له سره به عدت په حيضونو پوره كوي.

(٩) په فاسده نكاح نكاح شوو، او په اشتباه وطې شوو ميرمنو عدت په جدايي اومرگ كې حيض دى.

(١٠) كه له ام ولدې وينځې څخه بادار مړ شي او يايې آزاده كړي، عدت يې درې حيضه دى.

(١١) كه صغير له خپلې امېدوارې مېرمنې څخه وفات شي، عدت يې د ماشوم زېږول دي، كه حمل وروسته له مرگه ورپيښ شو، بيايې عدت څلورمياشتې اولس ورځې دى، خو په دواړو صورتونو كې نسب نه ثابتيږي.

(١٢) كه مېړه خپله مېرمن د حيض په حالت كې طلاقه كړي، دغه حيض چې طلاق په كې واقع شوى، په عدت كې نه شمېرل كيږي.

(١٣) كه د عدت په حالت كې له مېرمنې سره په اشتباه كوروالى وشي، پدې باندې بل عدت لازميږي، اودواړه عدتونه په يوه اوبل كې تداخل پيدا كوي، كوم حيضونه چې وينې، هغه د دواړو عدتو لپاره گڼل كيږي، كله چې د لومړي عدت موده پوره او د دويم پاتې وه هغه به پوره كوي.

(١٤) د عدت پيل په طلاق كې وروسته له طلاقه دى، په وفات كى وروسته له وفاته،كه له طلاق او يا وفات څخه تر هغه پورې نا خبره وه چې د عدت موده يې تېره شوه (پوره شوه)، نو

عدت يې تېر شمېرل کېږي.

(۱۵) په فاسده نکاح کې عدت د دواړو له جلا کېدو وروسته، یا چې وطې کوونکي د دې د وطې د پرېښودو قصد وکړي، پيل کېږي.

**شرحه**

**تعريف**

عدت په لغت کې شمېرلو ته وايي،او د فقهاوو په اصطلاح کې هغه شرعي مشخص انتظار دی چې مېرمن به يې د خپل رحم د پاکوالي لپاره د مېړه په کور کې باسي او بل واده به نه کوي.

**د عدت حکمت**

مېړه ته د فکر کولو مهلت او ښځې ته د خپل رحم معلومات چې حمل پکې شته او که نه؟ د عدت له حکمتونو څخه ګڼل کېږي.

**د عدت حکم**

له طلاق، جدايي او وفات څخه وروسته د ميرمنې لپاره ټاکلې موده(درې حيضه، درې مياشتې...) تېرول واجب دي.

**د عدت ډولونه**

عدت په درې ډوله دی، عدت په حيضونو، عدت په مياشتو او عدت د ماشوم په زېږولو باندې.

او دا د مېرمنو اوجدايي د کيفيت له مخې ټاکل کېږي چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

**په حيضونو عدت**

کومې مېرمنې چې د خپلو مېړونو له لورې طلاقې، يا يې تر منځ فُرقت راشي او دوی حيض ليدونکې وي، د عدت موده يې درې (حيضه) ده، الله جل جلاله فرمايي: (وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوءٍ) طلاقې شوې مېرمنې به په خپلو ځانونو درې حيضه ځنډ کوي( له بلې نکاح پرته به انتظار باسي).

کله چې درې حيضه پوره شول، هغه بيا کولای شي چې دځان لپاره بل مېړه غوره کړي.

**په مياشتو عدت**

په مياشتو عدت په دوه ډوله مېرمنو کې راتلای شي.

**لومړی**: هغه مېرمنې چې د ماشومتوب اويا لوی والی له کبله حيض نه ويني، د عدت موده يې درې مياشتې ده، الله جل جلاله فرمايي: (وَاللاَّئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِنْ نِسَائِكُمْ إِنِ

ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَاثَةُ أَشْهُرٍ﴾(الطلاق: ٤). كه ستاسو له مېرمنو څخه کومې مېرمنې د حيض له راتلو څخه نا اميده شي، كه (تاسې) د دوی (په عدت کې) شک کوی، نو د دوی عدت درې مياشتې دی.

**دويم**:هغه مېرمنې چې خاوند ترې وفات شي او اميدوارې نه وي، برابره ده چې کوروالي ورسره شوی وي يا نه وي شوی، حيض پرې راځي او که نه پرې راځي، عدت يې څلور مياشتې او لس ورځې دی الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وعشرا﴾ (البقرة: ٢٣٤). او هغه څوک چې له تاسو نه وفات شي او ښځې پرېږدي، (ښځې) به په خپلو ځانونو څلور مياشتې او لس ورځې انتظار کوي.

د عدت مياشتې په قمري مياشتو حسابيږي.

## د حمل په زېږېدلو باندې عدت

كه طلاقه شوې مېرمن حامله وي، د هغې عدت د حمل په زېږون پای ته رسيږي، الله جل جلاله فرمايي: {وَأُولَاتُ الْأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ} [الطلاق: ٤] د اميدوارو مېرمنو عدت دا دی چې حمل و زېږوي.

## په مرض کې د طلاقې شوې ښځې عدت چې مېړه يې مړ شي

كه مېړه خپله مېرمن په مرض موت کې طلاقه کړي او بيا مړ شي، نو که طلاق رجعي و، ښځه به د هغه له مرگ څخه وروسته، عدت په مياشتو تېروي څلور مياشتې او لس ورځې، ځکه په رجعي طلاق کې نکاح په پوره توگه له منځه نه ده تللې.

او که باين طلاق و، او مېړه د عدت له تېرېدو پخوا مړ شو او ښځې ميراث يوړ، نو عدت به يې د طلاق او وفات له عدتونو څخه، کومه چې اوږده وي، همهغه ګڼل کيږي. پدې توگه چې که درې حيضه د څلورو مياشتو او لسو ورځو څخه پخوا پوره شول، نو څلور مياشتې او لس ورځې به پوره کوي او که څلور مياشتې او لس ورځې تېرې شي، خو درې حيضه ونه ويني، دا به تر هغه انتظار باسي تر څو درې حيضه پوره کړي.

## د عدت پيل

د عدت پيل له هغه وخته کېږي چې طلاق، تفريق، او د مېړه مرگ رامنځ ته شي، كه ښځه په دې پېښو خبره وي او که نه ، عدت يې حسابيږي.

كه مېړه خپله مېرمن په حيض کی طلاقه کړي، دغه حيض يی په عدت کی نه شمېرل کيږی،

له دغه حیض نه پرته به درې حیضونه تیروي نو د عدت پیل یې له راتلونکي حیض څخه کیږي.

## پوښتنې

۱- عدت څه ته وایی؟
۲- عدت په څوډوله دی په تفصیل سره یې بیان کړی.
۳- د عدت حکم څه دی؟
٤- دعدت حکمت ووایاست.
٥- قروء د حنفي مذهب له مخې څه معنی لري بیان یې کړئ.
٦- د وینځې عدت د اصیلې له عدت سره څه توپیر لري؟
۷- ابعد الأجلین څه معنا لري؟ او د کومو مېرمنو لپاره عدت دی؟
۸- عدت له کومه وخته پیلیږي؟

# احداد او د عدت ځینې نور احکام

ښځه چې په باین طلاق طلاقه شي او یا یې مېړه ورڅخه مړ شي، د نکاح د نعمت او د مېړه د ور څخه اخیستل کېدو له امله، د شریعت په حکم باید د ناورین یوه موده تېره کړي، دا ناورین او خپګان به په څه شي ښکاره کوي؟ دا او دې ته ورته د عدت نور مسایل به په دې درس کې ولولی.

(١) وَعَلَى الْمَبْتُوتَةِ وَالْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا- إِذَا كَانَتْ بَالِغَةً عَاقِلَةً مُسْلِمَةً- الْإِحْدَادُ.

(٢) وَالْإِحْدَادُ: أَنْ تَتْرُكَ الطِّيبَ وَالزِّينَةَ وَالْكُحْلَ وَالدُّهْنَ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَلَا تَخْتَضِبُ بِالْحِنَّاءِ وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا بِعُصْفُرٍ وَلَا بِزَعْفَرَانٍ.

(٣) وَلَا إِحْدَادَ عَلَى كَافِرَةٍ وَلَا صَغِيرَةٍ. وَعَلَى الْأَمَةِ الْإِحْدَادُ.

(٤) وَلَيْسَ فِي عِدَّةِ النِّكَاحِ الْفَاسِدِ وَلَا فِي عِدَّةِ أُمِّ الْوَلَدِ، إِحْدَادٌ.

(٥) وَلَا يَنْبَغِي أَنْ تُخْطَبَ الْمُعْتَدَّةُ، وَلَا بَأْسَ بِالتَّعْرِيضِ فِي الْخِطْبَةِ.

(٦) وَلَا يَجُوزُ لِلْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ وَالْمَبْتُوتَةِ الْخُرُوجُ مِنْ بَيْتِهَا لَيْلًا وَلَا نَهَارًا.

(٧) وَالْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا، تَخْرُجُ نَهَارًا وَبَعْضَ اللَّيْلِ، وَلَا تَبِيتُ فِي غيرِ مَنْزِلِهَا

(٨) وَعَلَى الْمُعْتَدَّةِ أَنْ تَعْتَدَّ فِي الْمَنْزِلِ الَّذِي يُضَافُ إِلَيْهَا بِالسُّكْنَى حَالَ وُقُوعِ الْفُرْقَةِ وَالْمَوْتِ، وَإِنْ كَانَ نَصِيبُهَا مِنْ دَارِ الْمَيِّتِ يَكْفِيهَا، فَلَيْسَ لَهَا أَنْ تَخْرُجَ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَإِنْ كَانَ نَصِيبُهَا مِنْ دَارِ الْمَيِّتِ لَا يَكْفِيهَا فَأَخْرَجَهَا الْوَرَثَةُ مِنْ نَصِيبِهِمْ انْتَقَلَتْ.

(٩) وَلَا يَجُوزُ أَنْ يُسَافِرَ الزَّوْجُ بِالْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ.

(١٠) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ طَلَاقًا، بَائِنًا ثُمَّ تَزَوَّجَهَا فِي عِدَّتِهَا، ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ الدُّخُولِ، فَعَلَيْهِ مَهْرٌ كَامِلٌ، وَعَلَيْهَا عِدَّةٌ مُسْتَقْبَلَةٌ عِنْدَهُمَا.وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَهَا نِصْفُ الْمَهْرِ وَعَلَيْهَا تَمَامُ الْعِدَّةِ الْأُولَى.

(١١) وَيثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِ الْمُطَلَّقَةِ الرَّجْعِيَّةِ، إِذَا جاءَتْ بِهِ لِسَنَتَيْنِ أَوْ أَكْثَرَ مَا لَمْ تُقِرَّ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِها، فَإِذَا جاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ بَانَتْ مِنْهُ، وَإِنْ جاءَتْ بِهِ لِأَكْثَرَ مِنْ سَنَتَيْنِ ثَبَتَ نَسَبُهُ وَكَانَتْ رِجْعَةً.

(١٢) وَالْمَبْتُوتَةُ يَثْبُتُ نَسَبُ وَلَدِهَا إِذَا جاءَتْ بِهِ لِأَقَلَّ مِنْ سَنَتَيْنِ، وَإِذَا جاءَتْ بِهِ لِتَمامِ سَنَتَيْنِ مِنْ يَوْمِ الْفُرْقَةِ، لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ إِلَّا أَنْ يَدَّعِيَهُ.

(١٣) وَيَثْبُتُ نَسَبُ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا مَا بَيْنَ الْوَفَاةِ وَبَيْنَ سَنَتَيْنِ.

(١٤) وَإِذَا اعْتَرَفَتْ الْمُعْتَدَّةُ بِانْقِضَاءِ عِدَّتِها، ثُمَّ جاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ، ثَبَتَ نَسَبُهُ وَإِنْ جاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ لَمْ يَثْبُتْ نسبه.

(١٥) وَإِذَا وَلَدَتْ الْمُعْتَدَّةُ وَلَدًا، لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ إِلَّا أَنْ يَشْهَدَ بِوِلَادَتِهَا رَجُلَانِ أَوْ رَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ هُنَاكَ حَمْلٌ ظَاهِرٌ أَوْ اعْتِرَافٌ مِنْ قِبَلِ الزَّوْجِ، فَيَثْبُتُ النَّسَبُ مِنْ غَيْرِ شَهَادَةٍ، وَقَالَ أَبُو يُوسُفَ وَمُحَمَّدٌ: يَثْبُتُ فِي الْجَمِيعِ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ.

(١٦) وَإِذَا تَزَوَّجَ امْرَأَةً، فَجاءَتْ بِوَلَدٍ لِأَقَلَّ مِنْ سِتَّةِ أَشْهُرٍ مِنْ يَوْمِ تَزَوَّجِهَا، لَمْ يَثْبُتْ نَسَبُهُ، وَإِنْ جاءَتْ بِهِ لِسِتَّةِ أَشْهُرٍ فَصاعِدًا، ثَبَتَ نَسَبُهُ إِذَا اعْتَرَفَ بِهِ، وَإِنْ جحَدَ الْوِلَادَةَ، ثَبَتَ نَسَبُهُ بِشَهَادَةِ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ تَشْهَدُ بِالْوِلَادَةِ .

(١٧) وَأَكْثَرُ مُدَّةِ الْحَمْلِ سَنَتَانِ، وَأَقَلُّهُ سِتَّةُ أَشْهُرٍ.

(١٨) وَإِذَا طَلَّقَ الذِّمِّيُّ الذِّمِّيَّةَ، فَلَا عِدَّةَ عَلَيْهَا.

(١٩) وَإِذَا تَزَوَّجَتِ الْحَامِلُ مِنْ الزِّنَا، جَازَ النِّكَاحُ، وَلَا يَطؤُهَا حَتَّى تَضَعَ حَمْلَهَا.

**ژباړه:**

(١) په هغه بالغه مسلمانه مېرمن، چې په باين( وروکي باين يا غليظ) طلاق طلاقه شي اويا يې مېړه وفات شي داحداد تېرول دي.

(٢) احداد دا دی چې عطر، ښايست، رانجه او تېل استعمالول پرېږدي مگر چې عذر ولري. نکريزې به نه کاروي په عصفرو(يوقسم بوټی دی چې سوررنگ ترې جوړيږي) او زعفرانو

باندې رنګ شوې جامې به نه اغوندي.

(۳) په کافرې اوصغيرې باندې احداد نشته، اما وينځه به احداد کوي.

(٤) د فاسدې نکاح اوام ولدې په عدت کې احداد نشته.

(٥) مناسبه نه ده چې معتدې (هغه ميرمن چې په عدت کې وي) ته د نکاح وړانديز وشي، خو اشاره کول خواستګارۍ ته پروا نه لري.

(٦) په رجعي اوغير رجعي طلاق باندې طلاقې شوې مېرمنې ته رواه نه دي چې د شپې او يا ورځې له مخې له کوره بهر ووځي.

(۷) خو هغه مېرمن چې مېړه يې مړ شوی وي، د ورځې له مخې او د شپې په ځينو برخو کې کولای شي چې بهرلاړه شي ، خوله خپله کوره به بهرشپه نه تېروي.

(۸) په عدت تېروونکې مېرمنې باندې لازمې ده چې په هماغه کورکې واوسېږي چې د تفريق يا د مړينې پر مهال دې ته د استوګنې لپاره ځانګړی شوی دی، که له وفات شوي مېړه څخه دې ته رسېدلې برخه د دې د استوګنې لپاره بسيا کوي، بيا ورته پرته له عذره وتل نه دي روا، او که ورته بسيا نه کوي، او ورثه يې له خپلو برخو وباسي، بيا بل ځای ته انتقالېدای شي.

(۹) مېړه ته روا نه دي چې خپله رجعي مطلقه سفرته له ځانه سره بوزي.

(۱۰) که سړی خپله مېرمن په باين طلاق طلاقه کړي، بيا په عدت کې ورسره نکاح وکړي، اومخکې له کوروالي يې بيا طلاقه کړي، په مېړه بشپړ مهر او په مېرمن ځانګړې عدت لازمېږي، امام محمد وايي: نيمايي مهر ورلره دی، او د لومړنې عدت پوره کول ورباندې دي.

(۱۱) د رجعي مطلقې د اولاد نسب تر دوو کلو او يا زياتو چې د عدت د پوره کېدو اقرار يې نه وي کړی ثابتېږي، که يې له دوو کلو څخه په لږه موده کې اولاد راوړ، دا له ده څخه جدا (باينه) شوه، او که له دوو کلو څخه په ډېره موده کې اولاد وزېږوي، نسب ثابتېږي او دغه (ولادت) رجعت ګڼل کيږي.

(۱۲) د باينې مطلقې د اولاد نسب له دوو کلونو څخه په کمه موده کې ثابتيږي، اوکه د جدا کېدو له ورځې څخه د دوو کلو له پوره کېدو سره سم پيداشي، نسب نه ثابتيږي، مګر دی يې دعوی وکړي.

(۱۳) د هغې مېرمنې د اولاد نسب چې مېړه يې وفات شوی وي له وفات څخه بيا تر دوه کلو

پورې ثابتېږي.

(۱٤) که معتده مېرمن، د عدت په تېرېدو باندې اعتراف وکړي، او بيا له شپږو مياشتو څخه په لږه موده کې اولاد وزېږوي، نسب يې ثابتيږي، اوکه د شپږو مياشتو د پوره کېدو سره سم يې و زېږاوه نسب يې نه ثابتيږي.

(۱٥) که معتده مېرمن اولاد وزېږوي (او حمل يې خرګند نه وي)، مېړه هم اعتراف نه وي کړی، د امام ابوحنيفه په نزد تر هغه نسب نه ثابتېږي چې دوو نارينه وو او يا يوه نارينه او دوو ښځو شاهدي نه وي ورکړې، خو که خرګند حمل يا مېړه معترف وي، بيا نسب پرته له ګواهی ثابتېږي.امام محمد اوامام ابويوسف وايي: پدې ټولو صورتو کې د يوې مېرمنې په شاهدی(نسب) ثابتيږي.

(۱٦) که (سړی) مېرمن په نکاح کړي، او د واده له ورځې څخه له شپږو مياشتو په لږه موده کې اولاد راوړي، نسب يې نه ثابتېږي، اوکه له شپږو اويا له هغو څخه ډېره موده کی يې وزېږوي، په هغه صورت کې ثابتېږي چې ميړه اعتراف او ياسکوت وکړي، اوکه په ولادت منکر شي، بيا د يوې ښځې په شاهدی سره ثابتېږي، کومه چې په زېږون شاهدي ورکوي.

(۱۷) د حمل ډېره موده دوه کاله او لږه يې شپږ مياشتې ده.

(۱۸) که ذمي ذميه مېرمن طلاقه کړي، عدتورباندې نشته.

(۱۹) که په زنا باندې حامله مېرمن مېړه وکړي، نکاح صحيح ده، تر هغې به ورسره کوروالی نه کوي، چې حمل وضعه کړي.

**شرحه:**

## احداد

له باين طلاق او له وفات څخه د عدت تېرولو په موده کې مېرمنه په احداد هم مکلفه ده، احداد عربي لفظ دی، چې منعې ته وايي، دلته يې معنی هغه ده چې په متن کې ذکر شوې ده، يعنې مېرمن به د عدت په لړی کې داسې کارونه نه کوي چې د نارينه رغبت د هغې نکاح ته پيدا شي.

## په کومه مېرمن احداد نشته

د صغيرې، کافرې،رجعي مطلقې، په فاسده نکاح[1] نکاح شوې او ام ولدې ښځې له عدت

---

۱ - فاسده نکاح هغې نکاح ته ويل کيږي چې د صحت د شروطو څخه يکې کوم نه وي لکه: پرته له ګواهانو نکاح د فاسدې نکاح بيلګه ده.

سره د احداد ملتيا نشته.

## د عدت په لړ کې د نکاح وړاندیز نه ورکول

کومه ښځه چې په عدت کې وي، په ښکاره ټکو کې ورته د نکاح وړاندیز ورکول جواز نه لري، خو په کنایاتو کې ورته ویل جواز لري لکه: زه غواړم ښځه وکړم، ما او تا دې خدای سره یوځای کړي او دې ته ورته نور الفاظ.

## د عدت په بهیر کې له کوره نه وتل

د عدت په موده کې به مېرمن بې له ضرورته له هغه کوره چې پکې اوسېږي نه وځي، ځکه الله جل جلاله په دې هکله فرمايي ﴿لا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلا يَخْرُجْنَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ﴾[الطلاق۱] دوی د دوی(د اوسېدو) له کورونو څخه مه باسئ او (پخپله) دې هم نه وځي، مګر که ښکاره بې حيايي بې وکړه.

د هغې ښځې چې مېړه مړ شوی وي، کولای شي چې ټوله ورځ او د شپې په ځينو برخو کې له کوره ووځي، ځکه نفقه يې نشته، نو له دې امله ضرور ده چې د کار لپاره بهر لاړه شي.

مېړه رجعي مطلقه ځان سره سفر ته نه شي بيولای، ځکه دا هم د ښځې له کور څخه ايستل دي، او په تلاوت شوي ايت کې منعه ورڅخه شوې.

## بايني مطلقې سره د عدت په لړی کې نکاح

که باينه مطلقه د عدت په لړی کې بيا په نکاح شي او له کوروالي وړاندې طلاقه شي، د امام ابوحنيفه او ابويوسف په نزد به مېړه ورته نوی بشپړ مهر ورکوي او ښځه به نوی عدت تېروي، ځکه دا د ده د واک لاندې ده او د تېرې نکاح احکام پاتې دي، کوروالي ورسره شوې ګڼل کيږي بناء په مېړه پوره مهر راځي او مېرمن به بل عدت تېروي.

امام محمد وايي: په مېړه باندې نيم مهر لازمېږي او ښځه به لومړی عدت پوره کوي، ځکه دا له کوروالي څخه وړاندې طلاق دی.

## د عدت په لړی کې د پيدا شوي اولاد نسب مېړه ته ثابتېږي

د نسب د ثبوت لږه موده شپږمياشتې او ډېره موده يې دوه کاله ده. هرهغه ماشوم چې جلا شوې مېرمن يې له دوو کالو په لږه موده کې وزيږوي، نسب يې د مېړه لپاره ثابت دی، خو په هغه صورت کې نه ثابتېږي چې پر خلاف يې نور دلايل وموندل شي، کوم چې په متن کې په تفصيل سره ذکر شوي.

## د معتدې د اولاد نسب څنګه ثابتیږي؟

که معتدې مېرمنې د عدت پر مهال ماشوم راوړ، که حمل څرګند و، اویا هم مېړه د ماشوم په پلارتوب اعتراف وکړ، نو دده اولاد ګڼل کېږي، خو که داسې نه وو، او ښځې وویل: ما د عدت په موده کې زېږولی، اوسړي له دې څخه انکار کاوه، نو د ماشوم نسب د امام صاحب په آند د دوو نارینه شاهدانو یا یو نارینه او دوو ښځینه شاهدانو په شاهدۍ ثابتېږي، ځکه دا په نسب باندې د مېړه ملزم ګرځول دي او بشپړ حجت ته اړتیا لري او بشپړ حجت همدا دی، خو صاحبین وايي: د یوې ښځې پر شاهدۍ هم ثابتېږي، ځکه فراش د عدت په قیام قایم دی، او همدا فراش پر مېړه د نسب الزام راولي، چې مېړه له هغه څخه انکار کوي، دلته یواځې د ماشوم په زېږون او ټاکلو کې اختلاف دی، او د دې اثبات د یوې ښځې په شاهدۍ سرته رسېدای شي.

## پوښتني

۱- احداد څه ته وايي تعریف یې کړئ؟
۲- په کومه مېرمن احداد لازمي دی؟
۳- د اولاد نسب د مېړه لپاره په کوم وخت کې ثابتېږی.
٤- دعدت په موده کې مېرمنې ته د نکاح وړاندیز څه حکم لري؟
٥- آیا په عدت کې مېرمن له کوره بهروتلی شي اوکه نه؟ دغه موضوع توضیح کړئ.
٦- د عدت په لړۍ کې که ښځه ماشوم وزېږوي نسب یې چاته ثابتیږي؟

## کورنۍ دنده

ټول زده کونکی به له خپل چاپېریال څخه د احداد رواجونه د لوست سره وتلي، چې ورسره برابر دي اوکه څنګه ؟ او توپیرونه دي په خپلو کتابچوکې ولیکي.

## نفقه (١)

کِتَابُ النَّفَقَاتِ

(١) النَّفَقَةُ وَاجِبَةٌ لِلزَّوْجَةِ عَلَى زَوْجِهَا مُسْلِمَةً كَانَتْ أَوْ كَافِرَةً، إِذَا سَلَّمَتْ نَفْسَهَا فِي مَنْزِلِهِ، فَعَلَيْهِ نَفَقَتُهَا وَكِسْوَتُهَا وَسُكْنَاهَا، يُعْتَبَرُ ذَلِكَ بِحَالِهِمَا جَمِيعًا، مُوسِرًا كَانَ الزَّوْجُ أَوْ مُعْسِرًا.

(٢) فَإِنِ امْتَنَعَتْ مِنْ تَسْلِيمِ نَفْسِهَا حَتَّى يُوَفِّيَهَا مَهْرَهَا، فَلَهَا النَّفَقَةُ، وَإِنْ نَشَزَتْ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا حَتَّى تَعُودَ إِلَى مَنْزِلِهِ.

(٣) وَإِنْ كَانَتْ صَغِيرَةً لَا يُسْتَمْتَعُ بِهَا، فَلَا نَفَقَةَ لَهَا وَإِنْ سَلَّمَتْ إِلَيْهِ.

(٤) وَإِنْ كَانَ الزَّوْجُ صَغِيرًا لَا يَقْدِرُ عَلَى الْوَطْءِ وَالْمَرْأَةُ كَبِيرَةٌ، فَلَهَا النَّفَقَةُ مِنْ مَالِهِ.

(٥) وَإِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ، فَلَهَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنَى فِي عِدَّتِهَا رَجْعِيًّا كَانَ الطَّلَاقُ أَوْ بَائِنًا وَلَا نَفَقَةَ لِلْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا.

(٦) وَكُلُّ فُرْقَةٍ جَاءَتْ مِنْ قِبَلِ الْمَرْأَةِ بِمَعْصِيَةٍ، فَلَا نَفَقَةَ لَهَا.

(٧) وَإِنْ طَلَّقَهَا ثُمَّ ارْتَدَّتْ سَقَطَتْ نَفَقَتُهَا.

(٨) وَإِنْ مَكَّنَتِ ابْنَ زَوجِهَا مِنْ نَفْسِهَا إِنْ كَانَ بَعْدَ الطَّلَاقِ، فَلَهَا النَّفَقَةُ، وَإِنْ كَانَ قَبْلَ الطَّلَاقِ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا.

(٩) وَإِذَا حُبِسَتِ الْمَرْأَةُ فِي دَيْنٍ أَوْ غَصَبَهَا رَجُلٌ كَرْهًا، فَذَهَبَ بِهَا أَوْ حَجَّتْ مَعَ غَيْرِ مُحَرَّمٍ فَلَا نَفَقَةَ لَهَا وَإِذَا مَرِضَتْ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا فَلَهَا النَّفَقَةُ.

(١٠) وَيُفْرَضُ عَلَى الزَّوْجِ إِذَا كَانَ مُوسِرًا نَفَقَةُ خَادِمِهَا، وَلَا يُفْرَضُ لِأَكْثَرَ مِنْ خَادِمٍ وَاحِدٍ، وَعَلَيْهِ أَنْ يُسْكِنَهَا فِي دَارٍ مُنْفَرِدَةٍ لَيْسَ فِيهَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ تَخْتَارَ ذَلِكَ، وَإِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ مِنْ غَيْرِهَا فَلَيْسَ عَلَيْهَا أَنْ تُسْكِنَهُ مَعَهَا.

(١١) لِلزَّوجِ أَنْ يَمْنَعَ وَالِدَيْهَا وَوَلَدَهَا مِن غَيرِهِ وَ أَهلَهَا الدُّخُولَ عَلَيْهَا، وَلاَ يَمْنَعهُمْ مِنَ

النّظَر اِلَيْهَا وَكَلامِهَا فِي اَيَّ وَقت شئهُ وا.

## ژباړه

## د نفقو کتاب

(١) د مېرمنې نفقه مسلمانه وي که کافره، پر مېړه باندې هغه مهال واجبه ده چې ځان هغه ته د هغه په کور کې تسلیم کړي، مېړه که غریب یا غني وي، نفقه، استوګنځی اوجامې به ورته برابروي، پدې اړه به د دواړو لوریو اقتصادي حالت په پام کې نیول کېږي.

(٢) که هغې ځان ورته لدې کبله نه تسلیماوه چې خپل مهرترلاسه کړي، بیا هم نفقه ورلره شته، اوکه مېرمنې سرغړونه کوله بیا تر هغې د نفقې حقداره نه ده ترڅوچې د خاوندکورته راستنه شي.

(٣) که میرمن صغیره وه، جنسي استفاده ورځخه نه کېده، که څه هم ځان یې تسلیم کړی وي، نفقه ورته نشته.

(٤) که میړه صغیر وي، کوروالی نشي کولای او مېرمن لویه وي د ده په مال کې نفقه ورته لازمېږي.

(٥) که مېړه خپله مېرمن په رجعي یا باین طلاق طلاقه کړه د عدت په موده کې د دې لپاره نفقه او استوګنځای شته.

هغې مېرمنې ته چې مېړه یې وفات شي (په عدت کې یې هم) نفقه نشته

(٦) (او همدا راز) هر هغه جدايي چې د مېرمنې دګناه له کبله راشي، نفقه ورلره نشته.

(٧) که میړه مېرمن طلاقه کړي بیا هغه مرتده شي نفقه یې له منځه ځي.

(٨) هغه مېرمن چې وروسته له طلاقه د مېړه له زوی سره کوروالي وکړي، نفقه يې شته، که مخکې له طلاقه یې دغه کار کړی و نفقه نه لري.

(٩) که مېرمن د قرض له کبله زنداني شي، یا یې په زور څوک غصبه اوله ځان سره بوزي، یا حج ته له غیر محرم سره لاړه شي، نفقه نه ورکول کېږی، که د مېړه په کور کې ناروغه شي نفقه ورلره شته.

(١٠) پر مېړه باندې که غني وي د هغې د خادم نفقه لازمه ده، له یوه خادم څخه د زیاتو خادمانو نفقه نه لازمېږي، پر مېړه باندې لازمه ده چې هغه په ځانته کورکې واوسوی په کوم کې چې د هغه نور خپلوان نه اوسېږي، مګر دې دغه خوښه کړه، که مېړه د بلې میرمنې څخه زوی ولري، نو پرې لازمه نه ده چې له ځان سره یې واوسوي.

(۱۱) مېړه کولای شي د مېرمنې والدين، له بل مېړه څخه د هغې زوی او د دې نور محارم خپلوان دې ته له ورننوتلو منعه کړي، خوهغوی هغې ته له کتلو او ورسره له خبروکولو څخه نه شي منعه کولای، څه وخت چې وغواړې دا ليدلای او خبرې ورسره کولای شي.

## شرحه

**د نفقې تعريف**: نفقه په لغت کې ايستلو او له منځه تللو ته وايي او د فقهاوو په اصطلاح کې خپلې ښځې اوعيال ته خوراک، څښاک، جامه اوهستوګنځی برابرول نفقه بلل کيږي.

**د نفقې د وجوب اسباب**: د نفقې د وجوب اسباب درې دي، زوجيت، نسب او ملک.

۱- **زوجيت**: د ښځې نفقه پر مېړه باندې په هر حالت کې لازمه ده، برابره ده چې مېړه غني وي يا فقير او همدا راز د ښځې په غني والي هم نه ساقطيږي.

۲- **نسب**: په نسب باندې چې کومه نفقه لازمېږي، د حکم له مخې په درې ډوله ده.

ا- د صغيرو اولادونو نفقه په پلار باندې که فقير وي او که غني واجبه ده.

ب- د والدينو نفقه په اولادونو باندې په هغه وخت کې واجبه ده چې والدين نادار او اولادونه غنيان وي، برابره ده که والدين مسلمان او يا نا مسلمان وي.

ج- د فقيرو او مسلمانوخپلوانو نفقه په شتمنو اقاربو باندې لازمه ده.

۳- **د مريي نفقه په بادار باندې واجبه ده.**

## د ميرمنې نفقه څه وخت په مېړه لازمېږي؟

د مېرمنې نفقه هغه وخت پر مېړه باندې لازمه ګرځي چې د مېړه کور ته واده شي او هغه ته ځان تسليم کړي، هغه مېرمن چې د مېړه کور ته نه وي واده شوې او يا د مېړه له کوره پرته بل ځای اوسيږي پر مېړه يې نفقه نه واجبيږي، خو که د مهر د نه ورکولو له کبله يې ځان ورڅخه بېل کړی وي، نو څرنګه چې ملامتيا په مېړه کې ده، نفقه يې ورباندې لازميږي.

**د نفقې اندازه او څرنګوالی**: د نفقې اندازه اوکيفيت د ميره اوميرمنې د اقتصادي حالت سره برابر سنجول کيږي، داسې نشي کېدای چې د معمول خلاف اوله اقتصادي توانه بهرنفقه پرمېړه لازمه شي، داهم سمه نده چې د مېرمنې حالت او حيثيت له پامه وغورځول شي او په لږه اندازه خوراک څښاک پوشاک او استوګنځي منلو مجبوره شي.

## د نفقې د سقوط حالات

۱- که ښځه ناشزه وي: د مېړه له اجازې پرته له کوره وځي، نفقه يې ساقطيږي، خو که غوښتنه يې دا وي چې ځانګړي کور ته مې بوځه چې د نورو خپلوانو څخه دې ګوښه وي،

بیا یې نفقه حق دی.

۲- که ښځه ماشومه وي او د کوروالي کولو طاقت نلري که څه هم واده شوې وي، پر خاوند د نفقې حق نه لري.

که قصور په مېړه کې وي لکه: هومره ماشوم وي چې له ښځې سره کوروالی نه شي کولای، یا ښځه د خپل معجل مهر غوښتنه کوي او مېړه یې نه ورکوي، بیا د ښځې نفقه پر خاوند لازمه ده.

**د عدت په حالت کې نفقه**: پرته له هغې مېرمنې چې مېړه یې وفات شوی وي، نورې هر ډول میرمنې چې دعدت په موده کې وي پرمېړونو باندې یی نفقه لازمه ده، اما هرهغه جدایی چې د مېرمنې د نافرمانی له امله (لکه: د ښځې مرتد والی او دې ته ورته نور) رامنځته شي، د هغې د نفقې حق له منځه وړي.

**د ښځو د اوسېدو د ځای او نفقې څرنګوالی**: دا چې مېړونه به ښځو ته څه ډول د اوسېدو ځای برابروي او څه ډول نفقه به ورکوي؟ پدې هکله تر ټولو لومړی د مېړونو مالي توان په پام کې نیول کېږي، او د خلکو دود او دستور هم په دې هکله معتبر دی، نو نه به مېړونه په دې هکله بخیلي کوي او نه به مېرمنې له دود څخه ډېر څه غواړي.

## پوښتنې

۱- د نفقې لغوي اواصطلاحي معنی څه ده؟

۲- دنفقې د وجوب اسباب کوم دي په لنډ ډول یې بیان کړئ؟

۳- پر خاوند باندې نفقه څه وخت لازمېږي او څه وخت ساقطیږي؟

٤-د نفقی په اندازه اوکیفیت کې د چا اقتصاد باید په پام کې ونیول شی؟

# نفقه (٢)

(١) وَمَنْ أَعْسَرَ بِنفقَةِ زَوْجتِهِ، لَمْ يُفرَّقْ بَيْنَهُما، وَيُقَالُ لَهُ اسْتَدِيني عَلَيْهِ

وَإِذَا غَابَ الرَّجُلُ، وَلَهُ مَالٌ فِي يَدِ رَجُلٍ مُعْتَرِفٍ بِهِ وَبِالزَّوْجِيَّة، فَرَضَ الْقَاضِي فِي ذَلِكَ الْمَالِ نفقَةَ زَوْجَةِ الْغَائِبِ وَأَوْلَادِهِ الصِّغَارِ وَوَالِدِيهِ، وَيَأْخُذُ كَفِيْلاً بِها، وَلَا يَقْضِي بِنفَقَةٍ فِي مَالِ الْغَائِبِ إِلَّا لِهَؤُلَاءِ.

(٢) وَإِذَا قَضى الْقَاضِي لَهَا بِنَفَقَةِ الْإِعْسَارِ، ثُمَّ أَيْسَرَ فَخاصَمَتْهُ إِلَى الْقَاضِي، تَمَّمَ لَهَا نفقة الْمُوسِرِ.

(٣) وَإِذَا مَضَتْ مُدَّةٌ لَمْ يُنْفِقْ عَلَيْهَا الزَّوْجُ فِيهَا وَطَالَبَتْهُ بِذَلِكَ، فَلَا شَيْءَ لَهَا إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْقَاضِي فَرَضَ لَهَا النَّفَقَةَ أَوْ صَالَحَتْ الزَّوْجَ عَلَى مِقْدَارِهَا فَيَقْضِي لَهَا بِنَفَقَةِ مَا مَضَى، وَإِذَا مَاتَ الزَّوْجُ بَعْدَمَا قَضَى عَلَيْهِ بِالنَّفَقَةِ و مَضَتْ شُهُورٌ سَقَطَتِ النَّفَقَةُ.

(٤) وَإِنْ أَسْلَفَهَا نَفَقَةَ سَنَةٍ ثُمَّ مَاتَتْ قَبْلَ مُضِيِّهَا لَمْ يُسْتَرْجَعْ مِنْهَا بِشَيْءٍ، وَقَالَ مُحَمَّدٌ: تُحْسَبُ لَهَا نَفَقَةُ مَا مَضَى وَمَا بَقِيَ لِلزَّوْجِ.

(٥) وَنَفَقَةُ الْأَوْلَادِ الصِّغَارِ عَلَى الْأَبِ لَا يُشَارِكُهُ فِيهَا أَحَدٌ كَمَا لَا يُشَارِكُهُ فِي نَفَقَةِ زَوْجَتِهِ أَحَدٌ.

(٦) وَإِنْ كَانَ الْوَلَدُ رَضِيعًا، فَلَيْسَ عَلَى أُمِّهِ أَنْ تُرْضِعَهُ، وَيَسْتَأْجِرُ الْأَبُ مَنْ يُرْضِعُهُ عِنْدَهَا، فَإِنْ اسْتَأْجَرَهَا، وَهِيَ زَوْجَته أَوْ مُعْتَدَّته، لِتُرْضِعَ وَلَدهَا، لَمْ يَجُزْ، وَإِنِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَافَاسْتَأْجَرَهَا عَلَى إِرْضَاعِهِ جَازَ.

(٧) وَإِنْ قَالَ الْأَبُ لَا أَسْتَأْجِرُهَا، وَجاءَ بِغَيْرِهَا، فَرَضِيَتِ الْأُمُّ بِمِثْلِ أُجْرَةِ الْأَجْنَبِيَّةِ، كَانَتِ الْأُمُّ أَحَقَّ بِهِ وَإِنِ الْتَمَسَتْ زِيَادَةً لَمْ يُجْبَرِ الزَّوْجُ عَلَيْهَا.

(٨) وَتَجِبُ نَفَقَةُ الصَّغِيرِ عَلَى أَبِيهِ وَإِنْ خَالَفَهُ فِي دِينِهِ، كَمَا تَجِبُ نَفَقَةُ الزَّوجَةِ عَلَى الزَّوجِ وَإِنْ خَالَفَتْهُ فِي دِيْنِهِ.

**ژباړه**

(١) څوك چې د مېرمنې د نفقې له ورکړې عاجز شي، ترمنځ يې جدايي نه راوستل کيږي، مېرمنې ته به (د قاضي له لوري) ويل کيږي: په پورې واخله يه دې (ميړه) به وي. که مېړه غايب و، خو د هغه مال د بل سړي په لاس کې و، او هغه (بل سړی) په دې مال او واده معترف و، قاضي به له همدغه مال څخه د غايب مېړه د مېرمنې، کوچنيانو او والدينو لپاره نفقه ټاکي او ورڅخه به ضامن اخلي (که نفقه يې د طلاق يا نشوز له کبله حق نه وه، يا يې پيشکي ورکړې وه، نو بېرته به يې ور څخه اخلي)، غيرله پورتنيو اشخاصو  څخه د بل چا د نفقې لپاره به د غايب د مال د ورکړې پرېکړه نه کيږي.

(٢) که قاضي د مېرمنې لپاره د تنګلاسی د نفقې اندازه فيصله کړې وي، خو بيا مېړه غني شي، مېرمن (د زيادت) دعوا وکړي(قاضي به) ورته د بډای نفقه بشپړه کړي.

(٣) چې څه موده تېره شوه، او مېړه هغې ته نفقه نه وي ورکړې، او دې دا (د تېرې نېټې) نفقه ورڅخه وغوښتله، نو دې لره هېڅ شی نشته، خو که قاضي وړاندې ورته اندازه کړې وه، او يايي له مېړه سره د نفقې د اندازې په اړه مصالحه کړې وي، پدې صورت کې به هغې ته د تېرې نفقې د ورکړې پرېکړه کوي، که مېړه وروسته د نفقې له پرې کړې مړ شو او څو مياشتې تېرې شوې نفقه ساقطيږي.

(٤) او که مېړه د يوه کال نفقه وړاندې ورکړه، بيا ښځه مړه شوه، هېڅ ترې نه شي غوښتلای، امام محمد وايي: حساب به کيږي، کومه موده چې تېره شوې د هغې به ورکول کيږي او پاتې د مېړه ده.

(٥) د کوچنيو اولادو نفقه پر پلار ده، هېڅوك ورسره په کې شريك نه دی، لکه څنګه چې يې د مېرمنې په نفقه کې بل څوك شريك نه دي.

(٦) که کوچنی تي خوری وي، پر مور يې لازمه نده چې شيدې ورکړي، پلار به يو څوك د

شیدو لپاره ورته په اجاره نیسي، ترڅو د هغې تر څنګ ور ته شیدې ورکړي، که په اجاره یې ورته خپله مور ونیوله، د دې لپاره چې خپل بچي ته شیدې ورکړي، پداسې حال کې چې هغه د ده مېرمن او یا معتده وي، دا کار جواز نه لري. او که عدت یې تېر شي بیا یې ماشوم ته د شیدو ورکولو لپاره په اجاره ونیسي، روا دي.

(۷) که د ماشوم پلار ووایي: هغه نه په اجاره کوم، او بله ښځه راولي، او خپله مور یې د پردۍ مېرمنې په بیه راضي شي، مور یې حقداره ده، که(مور) یې د زیاتې اجورې غوښتنه کوله، مېره پرې نه مجبورېږي.

(۸) د ماشوم نفقه پر پلار لازمه ده که څه هم په دین کې ورسره مخالف وي، په همدې ډول د ښځې نفقه پر مېړه لازمه ده و لو که هغه په بل دین باندې وي.

## شرحه

### د مېړه د تنګ لاسۍ پر مهال د ښځې نفقه

که خاوند د خپلې غریبۍ له کبله ښځې ته نفقه نشي ورکولای، د دواړو تر منځ جلا والی نه راځي، خو نفقه وربانديې پورکیږي، تر هغه چې غني شي، لار یې دا ده چې قاضي به ښځې ته اجازه ورکوي چې د خپلې نفقې لپاره پور واخلي ، د دې ګټه دا ده چې داین ته خپل مدیون معلوم شي چې هغه د ښځې خاوند دی او که په خپل سر قرض وکړي بیا به پور ښځه خلاصوي. تفریق ځکه نه راځي چې په هغې کې د سړي حق له منځه ځي، او په پور کې د ښځې حق وروسته کیږي، خو له منځه نه ځي، نظر تفریق ته یې زیان لږ دی.

### د هغې ښځې نفقه چې مېړه یې غایب وي

**غایب**: هغه څوک دی چې محکمې ته یې حاضرېدل ناشوني وي، برابره ده چې لرې وي که نژدې.

که د غایب مېړه ښځه د نفقې غوښتنه وکړي، قاضي به ګوري که څرګند مال یې درلود او د نفقې اخیستل ترې ممکن و، قاضي به ورته د نفقې په اخیستنه پرېکړه کوي اوله ښځې او والدینو څخه به ضامن اخلي.

که د غایب مال د بل چا سره و او هغه په مال او زوجیت معترف و بیا به هم قاضي د ده دښځې، اولادونو، پلار او مور لپاره نفقه ټاکي.

## د غایب په مال کې د نفقې حقدار څوک دي؟

قاضي چې کله د غایب په مال باندې د نفقې پریکړه کوي، دا به د غایب د ښځې، اولادونو او والدینو لپاره کوي. نور محارم لکه: خویندې، ترونه، ترورگانې او داسې نور به پکې نه شاملیږي، ځکه د لومړي ډلې نفقه د قاضي له پریکړې پرته هم په هغه لازمه او د قاضي پریکړه یواځې مرسته ورسره کوي، او د نورو محارمو نفقه یواځې دقاضي په پریکړه په شخص لازمیږي، او په غایب باندې پریکړه جواز نه لري.

## د وخت په تیریدو سره نه اخستل شوې نفقه ساقطیږي

که څه موده تېره شوه، مېړه خپلې ښځې ته نفقه ورنه کړه او ښځه یې غوښتنه وکړي کتلای شي:

که قاضي د ټاکلي مقدار پریکړه پرې کړې وي او یا خاوند ورسره په ټاکلې اندازه جوړ جاړی کړی وي، بیا به د تېرې مودې نفقه هم ورکوي.

که دا یو هم نه وي تر سره شوی، بیا هېڅ ورلره نشته، ځکه د شیخینو په نزد نفقه صله رحمي او نیکي ده، یواځې د احتباس عوض نه دی، نو وجوب یې یواځې د قاضي په پرې کړه او یا هم د سرې په صلحه پیاوړې کېږي او د سړي په ذمه پور گرځي.

که د قاضي پرې کړه او یا د سړي صلحه یې په هکله نه وي، بیا د تېري زمانې د نفقې غوښتنه نشته.

## د نفقې وړاندېوالی

مېرونه کولای شي چې خپلو مېرمنو ته پیشکي نفقه ورکړي، خو که داسې حالات پېښ شي چې د نفقې د سقوط غوښتنه کوي، لکه: د ښځې نافرماني یا له زوجینو څخه د یوه مړینه، نو د شیخینو په نزد مېړه او د مېړه خپلوان هېڅ شی نه شي مستردولای، ځکه نفقه صله او هبه ده، نو چا چې خپلې ښځې او نورو خپلوانو ته څه وښندل، بېرته یې ترې نه شي غوښتلای، خو امام محمد رحمه الله وایي: حساب به کیږي، څومره موده چې د مېړه د

واک لاندې وه هغه به ورته حسابېږي او نوره به خاوند ته مستردېږي، ځکه نفقه په ټاکلې موده کې د احتباس عوض دی، نو څومره موده چې احتباس له منځه لاړ، همغومره عوض يې هم له منځه ځي،نو خاوند حق لري چې د پاتې نېټې پاتې نفقه بېرته مسترده کړي.

## د اولادونو نفقه

د صغيرو اولادونو نفقه چې بې وزلي وي، پر پلار باندې ده، همدا ډول د سترو لونړو، ځکه دوی د کار کولو توان نه لري. او که بې وزلي نه وي (شتمن وي)، بيا يې نفقه په خپل مال کې لازمېږي، نو په پلار لازمه ده چې خپلو اولادونو ته مناسب هستوګنځی، مناسب لباس، مناسب خوراک، څښاک او له خپل وس سره سم د ښوونې او روزنې اسباب برابر کړي، او که پلار دا کار ونه کړي د دوی پر وړاندې يې خپل مسوليت نه دی پوره کړی او ګناهګار ګڼل کېږي.

صغير اولادونه که پلار سره په دين کې مخالف وي، بيا يې هم نفقه پر پلار حق ده لکه څنګه چې د ښځې ورباندې ده که څه هم ورسره ديني اختلاف ولري.

## په ښځه باندې بچې ته شيدې ورکول لازم نه دي

اصل دا دی چې د ماشوم نفقه په پلار لازمه ده که د تې رودونکي ماشوم مور، په خپله خوښه ماشوم ته تی ورکړي، نو ډېره ښه ده او اجر لري، خو که له شيدو ورکولو يې انکار وکړ، تر څو چې د ماشوم ژوند په خطر کې ونه لوېږي، بله مرضعه پيدا کېږي، او يا نورې شيدې پيدا کېږي، مور يې په تي ورکولو مجبورېږي. او که مور يې د اجورې غوښتنه وکړه، نو د نکاح او عدت په موده کې يې غوښتنه نه اوريدل کيږي، او که د پلار د نکاح څخه ووتله بيا خپل ماشوم ته په تي ورکولو د نورو په اندازه د اجورې غوښتنه کولی شي.

## ؟ پوښتني

۱- د میره د تنگ لاسی په حالت کې به د ښځې د نفقې څه صورت حال وي؟ بیان یې کړئ.

۲- هغه ښځې ته به نفقه څنگه ټاکل کیږي چې میړه یې غایب وي؟ .

۳- نه اخیستل شوې نفقه کله ساقطیږي؟

٤- د نفقې د ورانديې والي په هکله خپل معلومات ولیکئ.

٥- د اولادونو نفقه په چا لازمه ده؟ روښانه یې کړئ.

٦- که خپله مور د ماشوم د شیدو نه انکاري شي، څه صورت حال به کیږي، لنده رڼا پرې واچوئ.

# حضانت

حضانت د اجتماعي نظام له مسايلو څخه يوه اساسي برخه جوړوي. په کورني نظام کې حضانت هغه وخت ډېر تر څېړنې لاندې راځي چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ د ازدواج تړون د ځينو عواملو له کبله وشليږي، پدې وخت کې هر لورى کوښښ کوي چې ماشومان د ځان کړي، دا چې ماشوم پدې مرحله کې د چا حق دى، په دې لوست کې همدا موضوع تر څېړنې لاندې نيول شوې ده او يو شمېر اړوند احکام يې ذکر شوي دي.

(١) وَإِذَا وَقَعتْ الْفُرْقَةُ بَيْنَ الزَّوْجَيْنِ، وَبَيْنَهُمَا وَلَدٌ صَغِيرٌ، فَالْأُمُّ أَحَقُّ بِهِ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ أُمٌّ فَأُمُّ الْأُمِّ أَوْلَى مِنْ أُمِّ الْأَبِ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ فَأُمُّ الْأَبِ أَوْلَى مِنْ الْأَخَوات، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ جدَّةٌ فَالْأَخَوات أَوْلَى مِنَ الْعَمَّاتِ وَالْخَالَاتِ، وَتُقدَّمُ الْأُخْتُ مِنَ الْأَبِ وَالْأُمِّ، ثُمَّ الْأُخْتُ مِنْ الْأُمِّ ثُمَّ الْأُخْتُ مِنَ الْأَبِ ثُمَّ الْخَالَاتُ أَوْلَى مِنَ الْعَمَّاتِ وَيَنْزِلْنَ كَمَا تَنْزِلُ الْأَخَوَاتُ، وَكُلُّ مَنْ تَزَوَّجَتْ مِنْ هَؤُلَاءِ سَقَطَ حَقُّهَا إِلَّا الْجَدَّةَ إِذَا كَانَ زَوْجُهَا الْجَدَّ.

(٢) فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لِلصَّبِيِّ امْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِهِ وَاخْتَصَمَ فِيهِ الرِّجَالُ، فَأَوْلَاهُمْ بِهِ أَقْرَبُهُمْ تَعْصِيبًا.

(٣) وَالْأُمُّ وَالْجَدَّةُ أَحَقُّ بِالْغُلَامِ حَتَّى يَأْكُلَ وَحْدَهُ وَيَشْرَبَ وَحْدَهُ وَيَلْبَسَ وَحْدَهُ وَيَسْتَنْجِيَ وَحْدَهُ وَبِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَحِيضَ، وَمَنْ سِوَى الْأُمِّ وَالْجدَّةِ أَحَقُّ بِالْجَارِيَةِ حَتَّى تَبْلُغَ حدًّا تُشْتَهَى

(٤) وَالذِّمِّيَّةُ أَحَقُّ بِوَلَدِهَا مِنْ زَوْجِهَا الْمُسْلِمِ مَا لَمْ يَعْقِلْ الْأَدْيَانَ، اَوْ يُخَافَ عَلَيْهِ أَنْ يَأْلَفَ الْكُفْرَ.

(٥) وَإِذَا أَرَادَتْ الْمُطَلَّقَةُ أَنْ تَخْرُجَ بِوَلَدِهَا مِنْ الْمِصْرِ فَلَيْسَ لَهَا ذَلِكَ إِلَّا أَنْ تُخْرِجَهُ إِلَى وَطَنِهَا وَقَدْ كَانَ الزَّوْجُ تَزَوَّجَهَا فِيهِ.

(٦) وَعَلَى الرَّجُلِ أَنْ يُنْفِقَ عَلَى أَبَوَيْهِ وَأَجْدَادِهِ وَجَدَّاتِهِ، إِذَا كَانُوا فُقَرَاءَ، وَإِنْ خَالَفُوهُ فِي دِينِهِ

(٧) وَلَا تَجِبُ نَفَقَةٌ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّينِ، إِلَّا لِلزَّوْجَةِ وَالْأَبَوَيْنِ وَالْأَجْدَادِ وَالْجَدَّاتِ وَالْوَلَدِ وَوَلَدِ الْوَلَدِ وَلَا يُشَارِكُ الْوَلَدَ فِي نَفَقَةِ أَبَوَيْهِ أَحَدٌ

(٨) وَالنَّفَقَةُ لِكُلِّ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ إِذَا كَانَ صَغِيرًا فَقِيرًا أَوْ كَانَتِ امْرَأَةً بَالِغَةً فَقِيرَةً أَوْ كَانَ ذَكَرًا زَمِنًا أَوْ أَعْمَى فَقِيرًا أَوْ مَجْنُونًا فَقِيرًا، فَيَجِبُ ذَلِكَ عَلَى قَدْرِ الْمِيرَاثِ

(٩) وَتَجِبُ نَفَقَةُ الِابْنِ الزَّمِنِ وَالِابْنَةِ الْبَالِغَةِ عَلَى الْأَبَوَيْنِ اثلاثًا: عَلَى الْأَبِ الثُّلُثَانِ وَعَلَى الْأُمِّ الثُّلُثُ، وَلَا تَجِبُ نَفَقَتُهُمْ مَعَ اخْتِلَافِ الدِّينِ وَلَا تَجِبُ عَلَى الفَقِيرِ.

(١٠) وَإِذَا كَانَ لِلِابْنِ الْغَائِبِ مَالٌ قُضِيَ فِيهِ بِنَفَقَةِ أَبَوَيْهِ. فَإِنْ بَاعَ أَبَوَاهُ مَتَاعَهُ فِي نَفَقَتِهِمَا جَازَ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَإِنْ بَاعَ الْعَقَارَ لَمْ يَجُزْ.

(١١) وَإِذَا كَانَ لِلِابْنِ الْغَائِبِ مَالٌ فِي يَدِ أَبَوَيْهِ فَأَنْفَقَا مِنْهُ لَمْ يَضْمَنَا وإِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ فِي يَدِ أَجْنَبِيٍّ وَأَنْفَقَ عَلَيْهِمَا بِغَيْرِ إِذْنِ الْقَاضِي ضَمِنَ.

(١٢) وَإِذَا قَضَى الْقَاضِي لِلْوَلَدِ وَالْوَالِدَيْنِ وَذَوِي الْأَرْحَامِ بِالنَّفَقَةِ، فَمَضَتْ مُدَّةٌ، سَقَطَتْ إِلَّا أَنْ يَأْذَنَ الْقَاضِي فِي الِاسْتِدَانَةِ عَلَيْهِ

## ژباړه

(١) کله چې د مېړه او مېرمنې ترمنځ جدايي پېښه شوه او دوی صغير اولاد درلود، نو مور يې (د حضانت) مستحقه ګڼل کېږي، که هغه نه وه بيا د مور مور احقه ده، که هغه هم نه وه بيا د خويندو په پرتله د پلار مور حقداره ده، که نيا نه وه بيا خويندی له عمه ګانو او خاله ګانو ښځه غوره دي، مورنی او پلرنی خويندې مخکې وريسې مورنۍ خويندې او بيا پلرنی خويندې دي، له دوی وروسته خاله ګانې غوره دي له عمه ګانو ښځه،(دا لړۍ) همداسې راتېيږي لکه څنګه چې خويندې راتېيږي، پرته له هغې انا چې مېړه يې د ماشوم نيکه وي. هره يوه (له پورتنيو ښځو ښځه) چې نکاح وکړي، (د حضانت) حق يې ساقطيږي.

(٢) که د ماشوم په کورنۍ کې هېڅ مېرمن نه وه او نارينه وو په حضانت کې جنجال درلود،

هغه نارینه مستحق دی چې په عصوبت کې ماشوم ته نژدې دی.

(۳) مور او نیا به تر هغه وخته هلک له ځان سره ساتي ترڅو په خپله خوراک څښاک وکړي، په خپله لباس واغوندي او په خپله استنجا وکړي، نجونې به ترهغه ورسره وی چې حیض ووینی، غیر له مور او نیا څخه نور څوک چې د نجونو په پالنه احق دي، نجونې به تر هغه ساتي چې د شهوت پړاو ته ورسیږي.

(٤) ذمیه د خپل هغه زوی (په پالنه) چې د مسلمان مېړه څخه یې زیږولی وي تر هغه مستحقه ده چې د دین پېژندګلوي نشي کولای او د کافر کېدو خطره یې نه وي.

(٥) طلاقه شوې میرمن د دې حق نلري چې ماشوم له ښار څخه  بهر وباسي، اما خپل هغه هستوګنځي ته یې بیولای شي چې مېړه په هماغه ځای کې په نکاح کړې وي.

(٦) پر نارینه باندې لازمه ده چې د خپلو فقیرانو والدینو، باباګانو او نیاګانو نفقه و لوکه په دین کې ورسره مخالف وي ورکړي.

(۷) ددین په اختلاف باندې د خپلې مېرمنې، والدینو، باباګانو، نیاګانو، د بچي او د بچي د بچي نفقه نه ساقطیږی، له بچي سره د والدینو په نفقه کې هېڅوک نه ورګډیږي.

(۸) نفقه د هر محرم قریب چې فقیر او صغیر وي، یا بالغه ښځه فقیره وي،  یا نارینه دایمي ناروغ وي ، ړانده فقیر اولیوني فقیر لپاره شته، دا نفقه د میراث د برخې په اندازه لازمیږي.

(۹) د دایمي ناروغ زوی او د بالغې لور نفقه په پلار دوه ثلثه او په مور یو ثلث لازمه ده، د دوی نفقه د دین د اختلاف په صورت کې او(همدا راز) په فقیر باندې نه لازمیږي.

(۱۰) که غایب زوی مال درلود، قاضي به له هغه څخه د والدینو د نفقې د ورکړې پرېکړه کوي، که پلار او مور د غایب زوی وسایل د خپلې نفقې لپاره خرڅ کړي، د امام ابوحنیفه په نزد  ورته جایز ده، اما د عقار خرڅول ورته روا نه دي.

(۱۱) که د غایب زوی مال د والدینو په لاس کې وي او والدین یې په نفقه کې مصرف کړي تاوان پرې نشته، او که د بل چا په لاس کې وي، هغه بیا دغه مال د ده پر والدینو د قاضي له پرېکړې پرته مصرف کړي، (اجنبي) د مال ضامن دی.

(۱۲) که قاضي د زوی یا والدینو او یا د نورو محارمو خپلوانو لپاره د نفقې پرېکړه وکړي او څه وخت تېر شي نفقه ساقطیږي، خو که قاضي د قرض کولو اجازه ورکړې وي بیا نه

ساقطیږي.

**شرحه**:

د حضانت اساسي موضوع د نفقې سره کلکې اړیکې لري چې په تېرو لوستونو کې وریاندې خبرې وشوې، ځکه حضانت پرته له خوراك، استوګنځي او لباسه هېڅ معنی نه لري.

## د حضانت تعریف

حضانت په لغت کې غېږ کې نیولو ته وایي او د فقهاوو په اصطلاح کې په ټاکلې موده کې د ماشوم پالنه د هغه چا له لورې چې شرعا یې د پالنې حق لري لکه مور او نیا حضانت بلل کیږي.

## د حضانت د مستحقینو لړۍ

د ماشوم پالنه د شفقت او ورتیا پر بنسټ ده، د چا چې شفقت ډېر وي او د پالنې وس ولري، هغه ته د لومړیتوب حق دی، نو که مېره او مېرمن سره جلا شول، لاندې اشخاص د ماشوم د پالنې حق لري:

۱- مور د ماشوم د حضانت لپاره له پلار څخه احقه ده، ځکه د هغې شفقت ډېر دی، همدا راز یوه ښځه مېړه طلاقه کړې وه، چې بچی یې هم ورځنې واخیست، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې شکایت وکړ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل: (انت احق به مالم تنكحي)[1] تر څو چې مېړه ونکړې ته (د ماشوم د پالنې) حقداره یې.

۲- که د ماشوم خپله مور نه وه بیا د مور مور، بیا د پلار مور، بیا خویندې، خاله ګانې او بیا عمه ګانې په ترتیب سره د ماشوم د پالنې حق لري.

۳- که پورتني اشخاص یو هم نه وي، بیا به نارینه خپلوان د حضانت مسؤلیت د نژدې توب په ترتیب ترلاسه کوي.

## د حضانت سقوط

کله چې د پورتنیو ښځو څخه هره یوه واده شوه او مېړه یې وکړ، د حضانت حق یې ساقطیږي، خو که د نیا مېړه، نیکه و د ماشوم پالنې حق یې پر ځای دی.

## د حضانت موده

۱- ماشوم که هلك وي مور اونیا به تر هغه وخته نوموړې له ځان سره ساتي چې پدې

۱ - د دې حدیث روایت حاکم په مستدرك کې کړی ۲- ۲۲۵ کتاب الطلاق.

وتوانيږي چې جامې خپله واغوندي، خواړه په خپله وخوري او استنجا په خپله وکولای شي.

۲- ماشوم که نجلۍ وي موراونيا به يې ترهغه وخته له ځان سره ساتي چې حيض ووينی(بالغه شي).

۳- غيرله مور او نيا نور اقارب جنکۍ ترهغه وخته له ځانه سره ساتلی شي چې د شهوت پړاو ته ورسيږي.

## د مور، پلار نيا او نيکونو نفقه

د مور، پلار، نيا او نيکونو د نفقې په ورکړه کې فقر اعتبار لري او مزمنه ناروغتيا ورته شرط نه ده، نو د چا چې مور، پلار، نيا او نيکونه فقيران وي که څه هم په دين کې ورڅخه بيل وي نفقه يې په اولادونو لازمه ده.

پلار د غايب زوی مال چې ورسره په لاس کې وي د خپلې نفقې لپاره پلورلای شي، خو که د بل چا په لاس کې وي بيا يې نه شي پلورلای.

## پر سړي د کومو خپلوانو نفقه لازمه ده؟

په پورته خپلوانو سربيره د فقيرو محرمو خپلوانو نفقه په غني[1] شخص لازمه ده، چې تفصيل يې دا دی:

۱- فقير صغير.

۲- بالغه فقيره ښځه.

۳- هغه نارينه چې په دايمي ناروغۍ اخته وي.

٤- ړوند فقير.

## د نفقې تقسيم په خپلوانو باندې

د اړو، مزمنو ناروغو او صغيرو خپلوانو نفقه د ميراث له سهم سره سمه لازميږي. هغه داسې چې غنيان خپلوان د فقير خپل د مرگ په صورت کې چې د هغه له ميراث څخه څومره برخه وړي همغومره برخه به د هغه په نفقه کې هم پرې کوي.

زلمی زوی چې په مزمنې ناروغۍ اخته وي يا د بالغې لور د نفقې دوې برخې په غني پلار او

---

۱ - د امام ابو يوسف رحمه الله په نظر غنی هغه څوك دی چې د نصاب مالك وي (۵۹۵ گرامه سپين زر او يا د دې قيمت ولري)، خو امام محمد رحمه الله وايي: دا غنا د زکات د غنا سره توپير لري ، نو که سړی د خپل اهل او عيال د دوه مياشتو مصارف ولري، په هغه د ښځې او اولادونو پرته د نورو خپلوانو نفقه هم لازمه ده .

يوه برخه په شتمنه مور ده او كه په دوی كې كوم يو فقير و بيا نفقه وربانديې نشته.

## پوښتنې

١- حضانت د لغت او اصطلاح له مخې تعريف كړئ؟

٢- د حضانت د مستحقينو لړی په لنډ ډول روښانه كړئ.

٣- د حضانت موده د سقوط له حالاتو سره په ګوته كړئ؟

٤- په سړي د كومو خپلوانو نفقه لازمه ده؟

٥- د اقاربو په نفقه كې كوم شيان اعتبار لري؟ په لنډ ډول يې بيان كړئ.

٦- د نفقې د تقسيم په هكله څو ژوندي مثالونه وركړئ.

## كورنۍ دنده

هر زده كونكی به د ماشوم د حضانت د ګټو او پايلو په اړه يوه مقاله وليكی چې له يوې صفحې به كمه نه وي.